سال اقبال ۲۰۰۲ء

# اقبال او پښتو شاعري

عبدالرؤف رفيقي

# اقبال او پښتو شاعري

عبدالروف رفیقي

اقبال اکادمي پاکستان لاهور

جملہ حقوق محفوظ

ناشر

محمد سہیل عمر
ناظم
اقبال اکادمی پاکستان
(حکومتِ پاکستان، وزارت ثقافت، سپورٹس و امورِ نوجوانان)
چھٹی منزل، ایوان اقبال، لاہور
Tel: [+92-42] 6314-510
Fax: [+92-42] 631-4496
Email: iqbalacd@lhr.comsats.net.pk
Website: www.allmaiqbal.com

ISBN 969-416-351-X

| | | |
|---|---|---|
| طبع اوّل | : | ۲۰۰۴ء |
| تعداد | : | ۵۰۰ |
| قیمت | : | -/۳۰۰ روپے |
| مطبع | : | شرکت پرنٹنگ پریس، لاہور |

محلِ فروخت: ۱۱۶ میکلوڈ روڈ، لاہور، فون نمبر ۷۳۵۷۲۱۴

ترون

زۀ خپل دغه زيار وخپل نالوستي پلار او

مور ته اهداکوم

(رفيقي)

# فهرست

سر لیک                                                    صفحه نمبر


لومړی خبری ---------------------------------------------- ۱-۸

## لومړی څپرکی (اقبال او پښتو شاعری ------------- ۹-۲۶۲

(الف) (تعمیری عوامل) توحید-رسالت-قرآن-اسلام
انسانیت - آرزو- آذادی-اتحاد-امید-انقلاب-بیخودی -بیداری
تاریخ- تعلیم-تقدیر-ثقافت-جمهوریت- جهاد- حرکت
خودی ژوند-نومیالی-طاقت-عشق او عقل- عمل-
فرداوملت- دفطرت تسخیرفن- قومیت-کامل مرد-افغان
ملت-ملت او خلافت-مرګ-اوپس له مرګه ژوند- وخت
(ب) تخریبی عوامل- ابلیس- د بی همتی او همت فلسفه
تقلید- ویره- سکون- غدار او غداری- غلام او غلامی
فرنګی- مزدور او سرمایه دار
(ج) مکالماتی شاعری
(د) د اقبال څخه ماخوذه پښتو شاعری
(ه) په پښتو شعرکی د اقبال د نامه اثرات

## دویم څپرکی: د اقبالیاتو منظومی پښتو ژباړی --- ۲۶۳-۳۴۹

(الف) اردو آثار- بانګ درا-بال جبریل-ضرب کلیم

ارمغان حجاز۔

(ب) فارسی آثار۔ اسرار خودی۔ رموز بیخودی۔

پیام مشرق۔ زبور عجم۔ جاوید نامہ۔ پس چہ بایدکرد اے

اقوام مشرق مع مسافر

دریم څپرکی: اقبال پیژندونکی پښتانه شاعران۔۔۳۵۰۔۴۱۳

ابوالخیر ځلاند۔ احمد صمیم۔ اسرارالرحمن۔ اسرار دطورو

حافظ خان محمد۔ سراج الاسلام۔ سلطان محمد صابر

سمندرخان سنمدر۔ سیدراحت الله زاخیلی۔

سید رسول رسا۔ سیدعابد شاه عابد۔

سید محمدتقویم الحق کاکاخیل۔ سیده بشریٰ بیگم

شیرعلی خان۔ شیرمحمد مینوش۔ عبدالحلیم اثرافغانی

عبدالروف رفیقی۔ ملا عبدالسلام اخکزی۔ عبدالصمد

بیوس۔عبدالغنی شهاب۔ عبدالاکبرخان اکبر۔ عبدالله جان

اسیر۔فضل احمد غر۔ فضل حق شیدا۔ فضل رحیم ساقی

قیام الدین خادم۔کرامت شاه فولاد۔گل باچا الفت۔

محمد سعید رهبر۔ محمد موسیٰ شفیق۔میررحمان غازی

نقیب احمد فطرت۔

څلور څپرکی: اقبال ته پښتو شعری پیرزوینې۔۔۔۔۔۴۱۴۔۴۹۲

پنځم څپرکی: حوالی او ماخذات۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۴۹۳۔۵۰۵

# لومړی خبری

د انسانی ژوند په اوږدو کی د بیلا بیلو قامونو د شته والی څرک په سترګو کیږی - ددی معنیٰ دانه ده چی بس دغه قامونه وجود لری کوم چی یا خو په اوسنی وخت کی پر پښنو ولاړ دی یا یی د تاریخ په پاڼړو کی ځای موندلی دی ولی دا هم حقیقت دی چی یو شمیر نور هم داسی قامونه وه چی نه یی اوس وجود شته او نه یی د تاریخ په پاڼړو کی ځای موندلی دی۔ ددغه نشتوالی یو شمیر علتونه دی۔ چی د هغه عواملو له کبله هغه قامونه د فنا وکندوته ولویدل۔ خپله علمی سویه یی د ټیټیدلو تر کچی نه کړه پورته د پردویو د ژواک کلچر تراغیزه لاندی راغله د خپلو عنعنو سره یی مینه دلاسه ورکړه۔ خو زما په خیال پرته د یو شمیر عواملو د قامونو د مجموعی فنایو لوی علت د هغه قام خوار ځواکی د شته قوتونو په کار نه راوړل دی۔ چی دا دول یی په رګونو وینه یخه شی۔ د شعور د نور شومان د سستی او کاهلی غفلت او سپتیانی څخه برخه من دغه اولسونه د کار توان دلاسه ورکړی۔ دذهنی عقلی او فکری توان څخه د کار نه اخستلو له کبله بی برخی پاته شی۔ وخپلو دغه ناراستویو ته کله کله قامونه د افرادو په څیر دقسمت تقدیر نصیب پایه بله معنیٰ د کوته بخت نوم ورکړی۔

د ژوندی پاته کیدو د پاره د قسمت روښانه کول د نصیب پورته کول د تقدیر غلامول د کوته بخت رابیداره کول ډیر ضروری

دی داسی لکه د بدن د پاره روح۔ دا هر څه تش په خبرو نه کیږی
دافقط او فقط په عمل پوری اړه لری۔ په تقدیر باندی قناعت خو تش
فرشتو ته منظور وو۔ خو د پروردګارته د تقدیر ساز ضرورت وو ځکه
خویی دانسان په بنړه کی بشر پر مځکه خپل خلیفه وټاکی دا فقط د
انسان اعزاز وو چی په رازیی الهی خبرداره وو۔

د انسانی تبر ته دغه احساس ورسپارل چی ته تقدیر سازی پر
تقدیر غالب یی نه چی د تقدیر نتلی یی دا وظیفه بیا د هغه قامونو د
سترګورو مفکرینو او منورینو کار دی چی په دغه احساس رابیداره
کولو سره قام او ملت د فنا د کندو څخه راوباسی او د بقا تل پاته
عمل ته یی د تل د پاره وسپاری د کوشنی وچوبی د وګړو
باالخصوص او د عالم اسلام بالعموم په رګونوکی وینه سړه شوی وه
بل واکی یی خپل تقدیر ګنلی او د مذهب په باب یی هم عقیده
ړندیدوته رسیدلی وه چی د پروفیسر عبدالشکور رشاد په قول د
سیالانو د کوټ (سیالکوټ) خاوری یو داسی فرزند وزیږ وی چی د
لاهور په تاریخی ماحول کی په سوز ګداز ګلهشو اود روح دساز
ازانګی یی درستی نړی ته واوریدی۔ داعلامه محمداقبال وو چی شرق
دتندی خال دمسلم ملت دطالع فال اودانسانی بدحال دګ دزوال
نجات دهنده ثابت شو۔

د اقبال ددغه تصوراتو برکت وو چی په مسلمانانوکی د
خپل تیر شوی برم احساس غزونی وکړی۔ د بیداریٔ شمال یی له

فکره وموبښت تر څو د نړۍ د مسلمانانو د راهبري په لوری ګامونه اوچت کړی۔ نن الحمدالله د اقبال د خوب تعبیر دی چې د ایټمی قوت له رویه پاکستان د نړۍ د مسلمانانو د شملې حیثیت لری۔ اقبال د یوی سیمی یا قام سره تړل د اقبال د فکره سره نابلدتیا ښنی۔ ددهٔ د ذات توهین او سپکاوی دی۔ دی د خپل سیاسی مرشد سید جمال الدین افغانی پر پله روان د شرق وغرب په دعوه اخته دی د خدای تعالی مخکه ټوله د ځان بولی او یوه ډیره لویه دعوه یی په مخه اخستی ده۔

داقبال دغه عالمګیر فکر وو چې په نړیوالو مغزو کی یی خپل ځای وموندی په ادبیاتو کی یی خپل مقام وټاکی او د نړیوالو ادبیاتو سره سره یی پرسمیزو ژبو باندی هم خپله فکری اغنزه له ورایه ښکاره کړه۔ بیلا بیلو ژبو اقبال په فکری لحاظ سره خپل کړ۔ د نړۍ په بیلو بیلو ژبو کی د اقبال د آثارو ژباړی وشوی۔ او شاعرانو ددهٔ د فکر په تومنه خپل فکرونه وشربل۔

لکه څنګه چې پښتنانه ډیره پخوانی سابقه لری له تاریخه دا جوته ده چې دا قام د آسیا د زړه حیثیت لری نو ځکه خو اقبال ملت افغانیه ته د ایشیاءٔ زړه خطاب ورکړی چې که دا زړه آرام خوشحاله او هوساوی ملت آسیا به آرامه خوشحاله او هوساوی او که دغه زړه نا آرامه لاله هانده او د فساده ډک وو نو به آسیا هم دغه شواخون کالی۔

ځنګه چې ا قبال د پښتنو په اصل او نسل خبر وو نو دغه ډول يې دوی ته هم په هغه درنه سترګه کتل کوم چې ددوی سره ښائيده، هم دغه راز پښتنو هم خپل دغه لوی زيرمه خوارته په سړانه قائل وه۔ ددی ثبوت دادی چې په نړيوالو ژبوکې پښتو هغه يواځنې ژبه ده چې د اقبال د بشپړو آثارو ژباړی پکښنی شوی دی۔ د خوند خبره خو لا داده چې د يوه يوه شعری اثريې په پښتو شعرکې تر درو درو پوری ژباړی شوی دی۔ چې داد پښتنو د اقبال د قدر شناسی يو غوره دليل دی۔

"اقبال او پښتو شاعری" په اصل کښې زما د ايم فل د مقالی"پشتو شاعری پر اقبال کے اثرات" ځنی برخی دی چې ما په پښتو راواړولی ځنی برخی مې ځنی و ايستلی او د موضوع په اړه مې څه نور نوی شيان په ګډ کړه۔

کتاب په پنځو څپرکو کې ويشل شوی دی

لومړی څپرکې يې داقبال او پښتو شاعری په نامه دی چې په بيلا بيلو موضوعاتو سره چې زياتره يې په الفبای ترتيب راوړل شوی دی اړه لری۔ لومړی په لنډه توګه د هغه عنوان پيژندګلوی او وروسته۔ د هغه سرليک په اړه لومړی د اقبال د اردو او فارسی کلام راوړه شوی دی بيا د هغه اشعارو په ښنه ډول د پوهيدلو د پاره هم د هغه اشعارو منظومه پښتو ژباړه راوړل شوی ده ۔ ددی پس بيا پر پښتنو شاعرانو باندی د هغه سرليک په رڼا کې د فکری اغيزی

سپړنه شوی ده۔

ددغو سر لیکونو شمیر تر څلویښتو رسیږی او ورسره په دغه څپرکی کی پر مکالماتی شاعری ،په پښتو شعر کی د اقبال د نامه اثرات او د اقبال څخه پر ما خوذی شاعری باندی څیړنه شوی ده۔

په دویم څپرکی کی د اقبال د شعری آثارو د بیلابیلو پښتو منظومو ژباړو جاج اخستل شوی دی د بیلو بیلو ژباړو د پیژندګلوی په چپه د ژباړی پر څرنګوالی هم رڼا اچول شوی د ه۔

په دریم څپرکی کی پر پښتنو اقبال پیژندونکو شاعرانو باندی څیړنه شوی ده په الفبای ترتیب سره په کتاب کی پردغو پښتنو اقبال پیژندونکو شاعرانو باندی څیړنه شوی ده۔ په الفبا یی ترتیب سره په کتاب کی ددغو پښتنو شاعرانو شمیره تر دیرشو پوری رسیږی۔ د شاعرانو پیژندګلوی او د هغو یو د اقبا لیاتی خدماتو جائزه اخستل شوی ده۔دلته زه د محترم عبدالهادی داوی، عبدالحئی حبیبی ، عبدالله بختانی ، پوهاند عبدالشکور رشاد او محترم آصف صمیم څخه بخښنه غواړم چی مادلته نه دی راوړی۔ دوی زما په بل اثر کی شامل دی۔

په څلرم څپرکی په پښتو شعر کی و اقبال ته وړاندی شوی شعری پیرزوینی سره راغونډی کړل شوی دی ددغو پیرزینو شمیر تر اووه څلویښتو رسیږی۔دا ترتیب د شعرونو پر عنوانو پوری اړه لری۔

زۀ دا منم چی د ما څخه په ځنی اقبال پیژندونکی پښتانه

شاعران پاته شوی وی یا به د هغو اقبالیاتی خدمات راځخه پاته شوی وی ـ یابه د پښتو څه هغه شاعری راځخه پاته شوی وی چی د اقبال فکری اثرات بی منلی وی دا هر څه سره راغونډول د مانده بنده د وس کارنه دی بنده په خپل توان پړدی دغه کړکیچ د څیړنی د لاری لاروی په بنه ډول درک کولای شی ما په خپله په ډیر علمی دیانت سره حتی چی ځنی ځایونه د اقبال په باب یکی یو بیت هم په مخه راغلی دی هغه می هم دلته ځای کړی دی۔

خو یوه خبره بیخی په ډاګه کوم چی په دې څیړنی اسلوب دلته کار کړی دی تر اوسه پوری په خصوصی توګه د حوالو په انداز خپلولو سره ما تر اوسه په پښتوکی نه دی لیدلی۔

لوستونکی دی داو ځان ته نه پیچومی کوی چی دا په هره پانړه کی یو شمیر حسابی شمیری څه دی دا د هغو اشعارو یا حوالو په اړونددی چی د هغو آثارو یاکتابونو شمیره پکی راغلی ده۔ چی د کتاب په پای کی په کتابیاتو کی راغلی ده۔ د مخه د کتاب شمیر ده او د : وروسته د هغه د صفحی نمبره ده۔ د کتاب په پای کی چی د کتابیاتو فهرست دی په هغه کی. په پرله پسی ډول و هر کتاب ته د شمیری نمبر ورکړل شوی دی۔

مثلاً دکتاب په اول څپرکی د قرآن ترسرلیک لاندی یو ځای د اقبال دا بیت راغلی دی۔

دید سے تسکین پاتا ہے دل مہجور بھی
لن ترانی کہہ رہے ہیں یاد یہاں کے طور بھی۱۲۵ : ۴۰

نو دغه ۱۲۵ نومره د کتاب ده چې د اقبال "بانګ درا" دی او ۴۰ یې د صفحې نمبر دی چې دا شعر پکې راغلی دی تر دغه شعر لاندې د اقبال د دغه شعر منظومه پښتو ژباړه راغلې ده۔

بیلتون وهلی زړه هم په دیدن موسی آرام
که هلته هم دی لن ترانی د طور کلام ۲۶:۶۳

دلته ۶۳ د کتاب شمیره ده چې د راحت زاخیلي د "بانګ درا" د منظومې پښتو ژباړه نمبر دی او ۲۶ یې د صفحې نمبر دی۔ په دغه عنوان کې وروسته د ملا قلندر اڅکزی دا شعر راوړل شوی دی۔

که په دریاب د عاشقۍ کې نهنګ راغلی دلا
کښتي د نوح شوه دوه ځا
وار به هلته پر کوم دا شهدو په عصا
پر طور بې واوری موسیٰ
لن ترانی به ا رنی شي قلندره رشتیا
پاته شوم خالي هیولا ۳۶:۳۴

چې دلته ۳۴ د کتاب په پاڼۍ کې د ماخذانو په لاړکې د ملا قلندر ګلدسته ده او ۳۶ یې د صفحې نمبر دی۔

د کتاب په پنځم څپرکې کې د کتاب د لیکلو په وخت کې د استفادې د کتابونو فهرست دی چې په هغو کې ما لومړی ژبې سره

بیلی کړی دی. لومړی د پښتو ادب کتابونه د اقبالیاتو منظومی پښتو ژباړ بیا د فارسی کتابونو د هغه پس د پښتو مجلو وروړسته میګزین او د هغه پس انټرویو بیا مکتوبات راغلی دی.

دکتابیاتو په مرتب کولو کی هم د خیړنی د پرمخ تللی اسلوب څخه کار اخستل شوی دی. چی د لیکوالو الفبایی ترتیب په نظر کی نیول شوی دی. لومړی د لیکوال نوم بیا د هغه کتاب نوم د کوم څخه چی استفاده شوی ده وروړسته د خوریدو د ځای او وخت یادونه شوی دی. د کتاب په دغه چاپ کی زما سره وکومک کوونکو نه کور ودانی وایم په خاصه توګه داقبال اکادمی پاکستان د ډائریکټر زما ګران دوست محمد سهیل عمر شکریه اداکوم چی ددهٔ د پرله پسی زیار له کبله دکتاب دغه چاپ تر سره شو. مذکرشاه خلیل هم دکتاب په کمپوزنګ کی شواخون ګاللی چی شکریه یی اداکوم.

خدای دی وکړی چی زما دغه زیار د ملت په درد وخوری

آمین

عبدالرؤف رفیقی

حبیبی آکادمی

حاجی مدد خان

سپنه چمن ۲۸ مئی ۲۰۰۳

# لومړی څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| توحید | رسالت | قران |
| اسلام | انسانیت | آرزو |
| آزادی | اتحاد | امید |
| انقلاب | بیخودی | بیداری |
| تاریخ | تعلیم | تقدیر |
| ثقافت | جمهوریت | جهاد |
| حرکت | خودی | ژوند |
| نومیالی | طاقت | عشق او عقل |
| عمل | فرد اوملت | دفطرت تسخیر |
| فن | قومیت | کامل مرد |
| افغان ملت | مرګ اوپس له مرګه | وخت |
| ابلیس | ژوند | |
| بی همتی اوهمت | تقلید | ویره |
| فلسفه | | |
| سکون | غدار او غداری- غلام | مزدور او سرمایه دار |
| | او غلامي | فیرنګی |
| مکالماتی شاعری | داقبال څخه ماخوذی | په پښتو شعر کښی د |
| | پښتو شاعری | اقبال د نامه اثرات |

# توحید

توحید د هر مسلمان لومړنی عقیده ده او د اسلام د درختی لومړنی ریښه ده اودغه نور فرائض او نفلونه یی د بناخونو حیثیت لری. او توحید ددے ټولو او امرو د ریښنو بنه لری. که د پروردګار د ارشاداتو او د دواړو جهانو د سردرا حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم. د فرموداتو په وړاندی د یوه مسلمان دتوحید عقیده بشپړه وه نو د هغه نور ټوله عقائد اوعملونه په غوره خوند ور او د پروردګار په بارګاه د قبول وړ وی. که داسی نه وی نو هیڅ هم نه ده په جوړه.

" د توحید مفهوم دادی چی ته به خپل خالق اومالک په ذات او صفاتو کښنی یواځنی او بی مثله بولی. په ذات کښنی بی مثاله په دا ډول چی نه دازله څخه دده په څیر بل خدای شته اونه دے څوک رشته دارزوی لور یا بل څوک لری. غرض دا چی دی مستقله هیمشه او ادبدی یواځنی ذات دے. نه پخپله د چا اولاد دے. او نه دے څه اولاد لری. او دغه راز د تخلیق په کار او د کائناتو په ترتیب تدبیر او تنظیم کښنی نه کوم ملګری لری اونه کومکی".۱۳۸:۲۰

د توحید د عقیدی د همدغه بینادی ارزښت پر بیناد باندی اقبال پر توحید ډیر زور ورکاوه. په خپل کلام کښنی یی ځای پر ځای د پرودګار پر وحدانیت باندی رنړا اچولے او ځنی ځنی ځایونه یی پ کلام کښنی دننه د قرآنی متن په استعمال خپل کلام پسوللی دی.

غرض اقبال د خپلی نړیوالی فلسفی خودي بنیاد پر دغه د توحید پر عقیده باندی ایښنی دی.

خودی کا سر نہاں لا الہ الا اللہ
خودی ہے تیغ فساں لا الہ الا اللہ ۱۲۷ :۱۵

(ژباړه)

د خودی راز نهان لا اله اله الله
د خودي توره او سوان لا اله اله الله ۷:۷۳

سید رسول رسا غه مقصد پر خپل پښتو شعرکښنی داسی په کار راوړی دی

دمسلمان زغره ډال د لا اله کلیمه
دمسلمان جلال جمال د لاالله کلیمه۶۵:۲۱

اقبال دغه نکته د امتونو د جلال وجمال سرچشمه بنوولی ده

نکتہ می گویم از مردان حال
امتاں را "لا" جلال "الہ" جمال۱۳٤ :۱۷

(ژباړه)

یو نکته ده وای دا مردان حال
"لا" جلال دی د امت "الا"جمال۷٤ :۱۹

او اقبال غیر الله خاشاک بللی دی او د دوی د ختمونو خبره کوی

شعلہ بن کر پھونک دے خاشاک غیراللہ کو
خوف باطل کیا کہ ہے غارت گر باطل بھی تو ۱۲۵ : ۱۹۲

(ژباړه)

ځان نه جوړه کړه لمبه د غیرالله خاشاک ایره کړه
له باطل نه څه ده ویره غارت ګر د باطل ته یې
۲۱۲:۶۳

سید رسول رسا

دغیرالله دجادو پاک دموحد ژوندون شي
دشرک اوجهل ظلمت لرشي زړه په خدای مفتون شي
۱۶۱:۲۱

اقبال د فرد او ملت د پاره د توحید ارزښت ته داسې ګوته

نیسي

فرد از توحید لاهوتی شود
ملت از توحید جبروتی شود
بے تجلی نیست آدم راثبات
جلوه ما فرد وملت راحیات
ہر دواز توحید می گیرد کمال
زندگی این راجلال آن راجمال ۱۹۲:۱۳۳

(ژباړه)

فردو ته توحید چې ور حاصل شي لاهوتي شي
ور چې شي ملت سره توحید جبروتي شي

بی دتجلی نه د ادم کله ثبات وی
یو جلوه زما فرد اوملت لره حیات وی
دی دوارو اختسی د توحید ځنی کمال وی
ژوندپه دوی کښنی یو لره جلال بل ته جمال وی
۲۲۶:۷۳

سید رسول رسا په پښتو شعر کښنی دغه حقیقت داسی په ګوته کوی

فرد کښنی پیدا کړی دانائي راز دعرفان و توحیذ
فرد کښنی پیدا کړی سرګرمی رازد عرفان وتوحید
فرد کښنی پیدا کړی حکیمی راز د عرفان وتوحید
فرد کښنی پیدا کړی کلیمی راز عرفان وتوحید
۱۶۱:۲۱

بل ځای داسی وایی

فرد وی قایم په ربط وضبط کښنی دملت په رشته
ملت قایم وی په هر رنګ د نبوت په رشته
نبیؐ تړلی دی ملت بس د وحدت په رشته
یعنی د خدای د لوی حکمت محکم قوت په رشته
۱۴۳:۲۱

اقبال په ملت د یو والی اوپیوستون اساس دغه وحدت بللی دی.

چیست ملت اے کہ گوی لا الہ
با ہزاراں چشم بودن یک نگہ
اہل حق را حجت ودعوی یکے است
خیمہ ہا ماجدا دلہا یکے است ۱۳۳:۱۹۲

(ژباړه)

څه دی ملت ای چی تل په خوله دی لا اله وی
سترګی که زرګونه وی یوه د دوی نګاه وی
یو دحق پرستو وی دعوی اوحجتونه
بیلی مو خیمی دی خودی یو مو سره زړونه
۲۲۷:۷۳

سید رسول رسا

دصالحینو جمعیت برادری د ملت
د وطن حد نه دی اساس ددی مضبوط جمعیت
عرب عجم ترک و تاتار نه دی په یو شان وقعت
دا عالمګیره رورولی د مومنانو رحمت۱۷۳:۲۱

اقبال

لا و الا احتساب کائنات
لا والا فتح باب کائنات۱۳۴:۱۷

(ژباړه)

لا والا کائنات راتېنګوی

لا و الا دروازی بیرته کوی۱٦:٧٤

سیر رحمان غازی په دی باب وای

دا طلب د نیغو لارو د صحیح فطرت چلن دی

په تنظم اوپه مقصد کېنی کائنات سره وحدت دی

۱۸۲:٧٥

اقبال

روح ملت را وجود از انجمن

روح ملت نیست محتاج بدن ۱۹۳:۱۳۳

(ژباړه)

روح راشی ملت کېنی له تولنی انجمنه

روک د ملت نه راپیداکیږی له بدنه ۳۲٧:٧۳

سیر رحمن غازی

دحیات دائری لره مرکز وحدت دی

پریشانی کېنی د حیات شان دوحدت دی

۱۸۲:۵٧

اقبال

فرد ازحق ملت ازوے زنده است

از شعاع مهر او تابنده است

کثرت هم مدعا وحدت شود
پختہ چون وحدت شو د ملت شود
زندہ ہر کثرت زبند وحدت است
وحدت مسلم زدین فطرت است ۱۰۲:۱۳۰

(ژباړه)

پلو شو ددغه نمر ته مونږه بریښنو ځلندی یو
پیداویښت دیو الله وو ده راغونډه کړو نو ژوندی یو
د یوی مدعا ګنړه په یوه لاره وحدت شو
دا یو والی لکه غر شو غر ولاړ نوم یی ملت شو
د یو والی نه موندلی هر ګنړی و ژوندون دی
دفطرت له دین اسلامه دمسلم مسلم تړون دی
۴۹:۷۰

میررحمن غازی

یو نغمه د جادواں حیات غګیږی
هر ذری کښی دغه ساز د شریعت دی
۱۸۲:۵۷

اقبال چی کله د توحید صدا پورته کوی نو وایی چی د لااله نقش که په کانی کښی هم پیدا شی نو هغه کانی به هم زړه جوړ شی. که دغه زړه ددغه درد د سوز څخه ډک نه شی. نو بیا به خاوری جوړی شی. ددغه توحید شغله زمونږ په رګونو کښی د لا اله په ډول

خرخی راخرخی د توحید ددغه داغ په چپه سوړ هیڅ ډول نوره شتمنی نه لرو.

نقش اوگر سنگ گیرد دل شود
دل گر ازیادش نه سوز د گل شود
چوں دل از سوز غمش افروختم
خرمن امکان ز آیے سوختم
شعله اش چون لا له در رگهائے ما
نیست غیر از داغ او کالائے ما۱۳۰: ۹۲

(ژباړه)

داکه لیک شي په شین کانړي کښې به شي لکه زړه بناد
هغه زړه شو تور ی خاوری چي وه نه شوه ددی یاد
چي ددی د غم له اوره دا خپل زړونه کړل روښان سوړ
په یو اف د جهان درمن د ابرو کولو ډیران سوړ
دریدی غوندی چي سوړ شونګ سره ددی له اوره
بی له دغه یوه داغه پنګه نشته زموږ نوره۲٦:۷۰

د دغه بیقراری دموندلو دپاره دافغانستان پخوانی صدر اعظم شهید محمد موسی شفیق د پروردګار دوجهان په دربار کښې داسی مناجات کوی.

آئینه چې د جهان په ننداره شي
دا یو موتې دردمند زړه سې جام د جم را
د توحید لمبې سې سرې لره سینه کښې
له بوتانو نه خالي د زړه حرم راه۲۳:۵

اقبال توحید د محمدی امت د پاره روح بللی ده

ملت بیضا تن وجاں لااله
ساز ما راپرده گرداں لا اله
لااله سرمایه اسرار ما
رشته اش شیرازه افکار ما
حرفش ازلب چوں بدل آید ہمے
زندگی راقوت افزاید ہمے۱۳۰: ۹۲

(ژباړه)

دا ملت لکه یو تن دی په کښې ساه د الاله ده
ددې ساز پرده خیړونکې زخمه دا دلااله ده
لا اله سې د رازونو خزانه هم در وازه ده
په دی تار زموږ ګنډلې د فکرونو شیرازه ده
دغه توری دی په خوله کښې چې لږ شي ورښکته زړه ته
یو په شل نه یو په سل کړی قوتونه ژوندانه ته
۲۵:۷۰

دغه خبرې پښتني اقبال شناسي شاعرې س.ب.ب. صاحبه

کړی دی. د توحید د پرجوشه نغمه خوان د پاره داسی دعا کوی.

په ګلو دتوحید چی څوک په شوق نغمه خوانی کړی
سدام شیرین سخن ددی ګلشن طوطیان دی وی
٥٣:٢٤

# رسالت

دحضرت علامه په شاعری کښی رسالت ته هم دومره اهمیت حاصل دے. څومره ارزښت چی رسالت ته په شعائر اسلام کښی حاصل دے. ځکه چی د توحید پس رسالت دایمان شرط دی. نو هم ځکه اقبال د ملت اسلامیه په اساسی ارکانو کښی رسالت دویم رکن بولی او د رسالت اسرار او رموز موږ ته راسپړی. ١٣٠-١١٢

د رسول ﷺ د اتباع تر دی څه ارزښت کیدے شی. چی دددی بغیر خو د څښتن تعالی سره د عشق بشپړتوب امکان نه لری. د پررودګار درضا د حاصلولو د پاره دغه دلیل کافی دی چی قران کریم پخپله وایی چی

"قل ان کُنتم تحبون الله فا تبعونی یحببکم الله ویغفر لکم ذنوبکم والله غفور رحیم(آل عمران (٣١) ١:٦٨

" ولی چی اقبال یو رشتیونی او مخلص مرد مومن وو ځکه د اقبال کلام د سره څخه ترپایه د رسول الله صلي الله علیه وسلم د عشق نتیجه ده. اقبال که دملت اسلامیه پري مرکز توب اوبنکی

څخوی نو فقط ددې د پاره چی د خپل محبوب مینان د بیلتون او جلا والی په حالت کښی نه شی لیدے. د یورپ فلاسفران ګوته په غابن د ی چی د شرق دغه دومره لوی انسان څنګه دخپلو نظر یو تائید په عربو کښنی نه شی موندلے. دوی څه خبر دی اقبال د عربستان تږی او د عشق رسول پتنګ دی" ۱۳۹: ٦٨٤

کله چی مونږ په پښتو شاعری باندی د رسالت په اړه د اقبالیاتی اثراتو څیړنه کو و نو دا په ډاګه کیږی چی اقبال چی کله په خپل کلام کښنی د رسالت یا آنحضرت صلی الله علیه وسلم د نامه تذکره کوی. نو اقبال خپل نعتیه کلام ته هم یو نوی رنګ او خوند ورسپاری. رسالت هم د ملت د قوم د وحدت خودي او د کائناتو د تسخیر په حواله بیانوی.

اپنی ملت پر قیاس اقوام مغرب سے نہ کر
خاص ہے ترکیب میں قوم رسول ہاشمی۱۲۵ :۲۴۸

(ژباړه)

خپل امت چری قیاس نه کړی په قامونو دمغرب
په یوخاص ترکیب دی جوړ قام د رسول عربی
۲۷۹:٦۳

یا که داووایو چی اقبال د معراج د واقعی څخه کوم. فکری تومنه اخلی نو دپښتو شاعری مزاج بیخی دهغه څخه تراوسه پوری نا اشنا دی

سبق ملا ہے یہ معراج مصطفیٰ سے مجھے
کہ عالم بشریت کی ضد میں ہے گردوں ۱۲۶ : ۲۷

(ژباړه)

له معراج د مصطفی نه دا سبق موندلی ما دی
انسانی چی کوم عالم دی په ضد کښی یی گردون۶۵:٤٤

لیکن وبلی خوا ته اوسنی پښتو نعتیه شاعری لا تراوسه پوری په هغه پخوانی مداررروانه ده. چی په کوم کښی صرف د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دنیا ته راتګ او نور صفات بیان شوی دی. داقبال په پورته بیت کښی دمعراج و واقعه نه په بیخی نوی نظرکتل شوی دی چی کائنات د عالم بشریت ماتحت دی.

صاحبزاده حمیدالله په پښتو کښی په دے ډول معراج د واقعی یادونه کوی

په معراج سره الله ته مشرف کړی
ستا مقام قاب قوسین او ادنی ۳:۶

اقبال وائی

تیرا جوہر ہے نوری پاک ہے تو
فروغ دیدہ افلاک ہے تو۱۲۶:۸۴

(ژباړه)

ستا جوهر دی روغ له نوره پاک یی ته
هم رستر گو نور ددی افلاک یی ته۶۵:۱۱۹

صاحبزاده حمیدالله دغه مطلب په دی ډول بیان کړی دی.

وارد مخه کی خالق ستا نور پیدا
بیا نو وروسته یی پیدا کړه دا دنیا
مقدم تر کائنات ستا نور موجود وو
موخر پیدا شوی تر ټولو انبیا۳:٦

اقبال چی کله د لولاک ذکر کوی نو هم په خپل مخصوص انداز اودنظریه همت او جرات په رنړا کښی دفطرت و تسخیر ته اشاره کوی.

تیرے صید زبوں فرشتہ وحور
کہ شاہیں شہ لولاک ہے تو ۱۲۶:۸۴

(ژباړه)

فرشتی حوارنی ستا ورو‌کـــی ښکار دی
چی شاهین دشهنشاه دلولاک یی ته
۱۱۹:٦٥

صاحبزاده حمیدالله صاحب بیا لولاک دحضور آکرم صلی الله علیه وسلم اعزاز بولی.

ته الله بی په لولاک معزز کړی
نه به وایی بی تا دنیا ومافیها ۳:٦
امتیاز و اعزاز تاله داغه بس دی
حق تعالی چی وایی لولاک لما٦:٤

حضرت علامه وایی

کمال راز کن و اماج دریاب
زحرفم نکته معراج دریاب
مجو مطلق دریں دیر مکافات
که مطلق نیست جز نورالسموات ۱۳۲:۱۵۴

(ژباړه)

لینده دی راکاږه اماج اوموه
نکته په دی کښنی دمعراج اوموه
نشته مطلق په دی دیر مکافات
صفا مطلق دی یو نور سموات۷۲:۱۵۵

ملا عبد السلام اچکزی مرحوم دغه واقعی ته داقبال په ډول په څه نوی انداز کتلی دی. او په خپله تجزیه کښنی یی د انساني فکر د نیمګړتیا او دنظر دکوتاهی اظهار یی په ورین تندی کړیدی.

په ناپایه بی ساحل بحر کښنی نه ځی
کاغذی کشتی د عقل پر داخوا
لکه طفل هیڅ رموز و یلای نه شم
ماچی وکوت سبحان الذی اسریٰ۳۵:۵

د رسالت تفهیم فلسفه او مقاصد اقبال خورا په فصاحت او بلاغت په ګوته کړی دی.

حرف بے صوت اندریں عالم بدیم
از رسالت مصرع موزوں شدیم
از رسالت درجهاں تکوین ما
از رسالت دین ما آئین ما
از رسالت صد هزار مایک است
جزو ما ازجز و مالا ینفک است
آں که شان اوست یهدی من یرید
از رسالت حلقه گرد ماکشید
حلقه ما ملت محیط افزاستے
مرکز او وادی بطحا ستے
ماز حکم نسبت او ملتیم
اهل عالم راپیام رحمیتم۱۳۰:۱۰۱

(ژباړه)

وو دنیا کښنې خواره توری نه ملطب نه آوازونه
رسالت داسې یو ځائے کړو لکه وی مصرع موزونه
یو وجود شو په جهان کښنی دا تکوین له رسالته
زمونږ دین له رسالته هم آیین له رسالته
رسالت کړو لکه موتی صد هزار ووکه بی شمار وو
کړو یې مونږه پرله پوری که بیل بیل ووکه تار تارو

هغه ذات چې میزبان دی یهدی من یرید یې شان دی
کړه ویره درسالت یې له مونږ تاوچې نهګبان وی
دغه غونډه د ملت تل غزوی دا ګڼړه خپله
دی مرکزي په مکه کښې نه بیلیږی له بورجله ٤٦:٧٠

ددغو پورتنیو اشعار و څومره اثر داقبال پښتون مفسر سید رسول رسا قبول کړی دی تاسو پخپله وګوری.

دخدای پیغام تر. بنیادمو رسالت رسوی
دخدای رسول او انبیا یې په همت رسوی
دکفر زور او فریب مات کړی دوی وحدت رسوی
د دوی تعلیم دخدای تعلیم دی اورحمت رسوی
علم حکمت د رسولانو خداوندی حکمت وی
دانسان عقل اوچت د أسمانی حکمت وی١٦٢:٢١

بیا رسا صاحب داسی وایی

دجهان کار د رسالت بغیر سمون نه نیسی
دحیات راز دژوند مقصد و حق مضمون نه نیسی
دانسان عقل د خدای لاره خوار زبون نه نیسی
عبث خواری وه هیڅ معنی داځیګرخون نه نیسی
دحیات جسم کښې د روح مشعل قیام د رسول
په دی آئین کښې د حیات مشعل دوام د رسول
١٦٢:٢١

اقبال

زندگی قوم از دم او یافت است
این سحر از آفتابش تافت است
از رسالت هم نوا گشتم ما
هم نفس هم مدعا گشتم ما
کثرت هم مدعا وحدت شود
پخته چون وحدت شو دملت شود
زنده هر کثرت زبند وحدت است
وحدت مسلم زدین فطرت است ۱۳۰:۱۰۲

(ژباړه)

قام موندلی که ژوندن دی دا را وړی پیغمبر دی
که څه تود زمونږ سحر دی نو دا تاوود دغه نمر دی
یوه خوله شو په یو زړه شو چا اوچت کړو رسالت کړو
بس یوه مې مدعا شوه چا د پت کړو رسالت کړو
د یوی مدعا ګنړه په یو لاره وحدت شو
دا یو والی لکه غر شو غر ولاړ نوم یې ملت شو
د یو والی نه موندلی هر ګنړی و ژوند ون دی
د فطرت له دین اسلامه د مسلم مسلم تړون دی
٧٠:٤٩

ددین مقصد د ژوند تکمیل دی دانسان د ژوندون
دین فطرت دین اسلام د مسلمان دژوندون
یو مسلمان څه دغه دین دی دجهان دژوندون
هم د زمیں او هم دستورو داسمان د ژوندون
دین فطرت په هر زمان کښې هر رسول راوړی
خو محمدؐ کامل اکمل موږ ته قبول راوړی ۱۶۲:۲۱

اقبال

پس خدا برما شریعت ختم کرد
بر رسول ما رسالت ختم کرد
رونق ازما محفل ایام را
او رسل راختم وما اقوام را
لانبی بعدی زحسان خداست
پرده ناموس دین مصطفیٰ است
قوم راسرمایه قوت ازو
حفظ سرو حدت ملت ارزو ۱۳۰:۱۰۲

(ژباړه)

زموږ غونډه امت خدای کړ خو ښې شریعت یې پرتمام کړو
هر چې دی زموږ رسول نو رسالت یې پر تمام کړو

خوندور د وخت محفل دی دا زمونږه له جامونو
هغه ختم د نبیانو مونږه ختم د قامونو
ګله "لانبی بعدی" داد پاك الله احسان دی
بس چی ختم نبوت دی دا دولت د قام قوت دی
د ملت یو والی راز دی د راز دغه حفاظت دی ٤٩:٧٠

سید رسول رسا

په محمدؐ باندی بی شکه رسالت ختم شو
په محمدؐ باندی د دین همه حکمت ختم شو
په محمدؐ باندی کامل شو شریعت ختم شو
په محمدؐ باندی دایم دین فطرت ختم شو
یعنی کامل شو د الله د دین آئین دحیات
درس د نجات اولوی مقصد په دی زمین د حیات
١٦٣:٢١

# قران

د قران کریم ارزښت ضرورت او شان وشوکت منل شوی دی. ځکه چی قزان کریم د نوع انسانی په نوم د پروردګاردوجهان وروستی پیغام اوالهدی یعنی بشرږه او تل پاته هدایت نامه ده.

" دقران په لفظونو کی برکت دی دده په تلاوت کی زړه سکون دی په معنی کی بی هدایت دی اوپر قران شریف باندی په عمل کولو سره دانسان نیکمرغی ترلی ده. قران کریم دانسانانو

ذهنونو ته خلا وربخښلي ده. انسانيت يې د شرافت وكرامت ته ورساوه. او د قران ښتنانو ته يې ددين او دنيا قوتونه وروبخښنله"۱٤۳:ج.

اقبال يو رشتيوني مسلمان او د قران كريم يو لوی عاشق وو. داځنګه كيدے شوه چې دی د پروردګار ددغه وروستی كتاب چې پر خپل نازولی پيغمبر رسول الله صلی الله عليه وسلم يې راليږلی وو څخه غافله شي. دده پر شاعری باندی د قران كريمِ خوراجوره اغيزه شوی ده. دقرانی ښوونو دومره جوره اغيزه چې په ځنو ځايونو كښی يې د قران كريمِ متن د اشعارور په باريكو رديفونو او خوند ورو بحرونو كښی په قافيو كښی خورا په استادانه طريقه په كار راوړی دی.

دقران موضوع انسان دی. اواقبال دغه فريضه خوار په غوره انداز تر سره كړی ده. چی انسانان دالهی پيغام سره اشنا كړی . دغه پيغام ور ورسوی داسی وايي

نوع انسان راپیام اخرین
حامل او رحمتہ اللعالمین ۱۲۹: ۱۲۲

(ژباړه)

د انسان نوعی ته راغلو دا پيغام چی اخرين دی
دا راوړونكی شان يې ګوره چی رحمت العالمين دی
۹۳:٦۹

دنوع انسانی د پاره دا ضروری خبره ده چی د وروستی کتاب له کبله به د قران شریف په اوامرو احکاماتو او ارشاداتو به په بشپړه توګه عمل کوی ځکه چی د مسلمان د پاره دا لومړی شرطونه دی.

گر تو میخواہی مسلمان زیستن

نیست ممکن جزبہ قران زیستن ۱۲۹:۱۲۳

اے وګړی که غواړی چی دته مسلمان ژوی

څه امکان بی اډو نشته چی به بی له قران ژوی

۹٦:٦۹

نامتو پښتون اقباس شناس شاعر میاں سید رسول رسا د اقبال د افکارو ډیر عمیقه مطالعه کړی وه. دده پر خپله شاعری باندی اقبال د افکارو ډیر جور اثرات مرتب شوی دی.

په پښتو ژبه به دده شعری اثر "د قران پیغام" عین په پشتو کښی د اقبال د فارسی او اردو د اشعارو منظوم تفسیر دی ددغه کتاب چی ٤٧٣ بنده دی. او په مسدس کښی لیکل شوی دی. د پیل څخه ترپایه په فکری لحاظ د اقبال د افکارو خوندور اثر معلومیږی.

اقبال

گر شتربانی جہانبانی کنی

زیب سر تاج سلیمانی کنی

تا جہاں باشد جہان . آرا شوی

تاجدار ملک لا یبلی شوی

نائب حق درجہان بودن خوش است
بر عناصر حکمراں بودن خوش است
نائب حق ہمچو جان عالم است
ہستی او ظل اسم اعظم است ۱۲۹:۴۴
ذات ما آئینہ ذات حق است
ہستی مسلم ز آیات حق است ۱۲۹:۷۵
آیتے ہمناز آیات مبین
تاشود اعناق اعدا خاضعین۱۲۹:۷۶

(ژباړه)

که دی زده کو او ښه توب نو به ته واخلی له جهان باج
ستا په سر باندی به خوند کړی ښاسته د سلیمان تاج
تل به ته جهان ښائسته یی چی تر خوآباد جهان وی
شی تاجدار دداسی ملک به چی به تل په امن امان وی
په دنیا د خدای نائب شه دا رشتونی ښاد منی دی
عناصر باندی غالب شه دا رشتونی ښادمنی دی
دا دنیا د خاورو تن وی اود خدای نائب یی ساه ده
دی د اسم اعظم سیوری داسی ساه نه چی هوا دی
۱۳۹:۱۳۸:۶۹

دا زمونږ ذات چی وینی آئینه د خدای د ذات ده
مسلمان په ښښانوکی ښښانه دخدای دذات ده۲۳۶:۶۹

داسې نخښې راښکاره کړه د آسمان له برجهته
چې زموږ د دښمنانو شي سرونه ورته ښکته
۲۲۸:۶۹

سيدرسول رسا د قران په ژبه داسې ګويا دی

ستورې زما په ګريوان ښکارې زه اسمان د علم
نمر اوسپوږمې مې خدمتګار دي په جهان د علم
مړي زما په دم ژوندي شي په حيوان دعلم
څه به وقعت وي زما په وړاندې د انسان د علم
د حق اواز د طاقت توري خوشحالي د جهان
زه په رښتيا د جهان امن زه ضامن دا نسان
زه يم واقف ددې مکان او لامکان درازه
زه يم واقف ددې زمين او د اسمان درازه
زه يم واقف ددې جهان او د زمان درازه
زه يم واقف ددې چمن اود بوستان درازه
لکه مې چې که ته اوس واې چې سند څه ته وايي
زه درته وايم چې دانه دې او ده ته وايي
۲۷:۲۶

اقبال

آں خدائے لم یزل را آیتے
داشت دردل آرزوے ملتے

جوئے اشک از چشم بخواش چکید
تا پیام طهر ابیتی شنید
بهر ماویرانہ آباد کرد
طائفان راخانہ بنیاد کرد
تانهال تب علینا غنچه بست
صورت کار بہار ما نشست۱۳۰:۱۰۰

(ژباړه)

خدای به تل وی دا خلیل بې یوه نخښنه د قدرت ده
او ارمان دده په زړه کښې د یو ښه پتمن ملت ده
دواړه سترګې بې تل روني نه بې خوب نه یې آرام وه
چې طهرا بیتي راغلود الله څنې پیغام وه
دا زموږ د خیر دپاره ورانه شاړه کړه ابا ده
ده طواف ته د قامونو د خدای خو ښه کړه بیناده
چې اخر د تب علینا بوټي شولو سترګې سترګې
بیا زموږ د سپرلي با دکړو باغ د ګلو سترګې سترګې

٤٥—٤٤:٧٠

سید رسول رسا

زه یم کتاب د حق پیغام د حق قران د الله
زه یم خبردحق نظر د حق لسان د الله

زه یم رنړا زه یم رضا زه یم نښان د الله
زه یم منشا زه یم قانون زه یم فرمان د الله
ما دنجات پیغام دنیا ته مجلا راوړی
ما دالله علم جهان ته رهنما راوړی۲۱:۲۵

اقبال

آں که در قران خدا اوراستود
آں که حفظ جان او موعود بود
دشمناں بے دست وپا از هیبتش
لرزه برتن ازشکوه فطر تش
پس چرا از مسکن آبا گریخت
توگمان داری که از اعدا گریخت ۱۳۰:۱۱٤

(ژباړه)

هغه ذات چې په قران کښې خدای کوی دکوم صفت
چې الله یې ژمنه کړی ده د سرد حفاظت
دښمنان یې له هیبته غړی مړه اوساه نیولی
شان شوکت یې د ګولی توره ډال یې غورځولی
هغه ولی وطن پرېښود نغری وو د نیکانو
ګڼې و تښتیدله ویرې چې وه زور د دښمنانو۷۰:۷۵

سید رسول رسا

دمسلمان وینه امینه امانت وو د رب

رعب وجلال ورعنائی وو متانت وو د رب

په لاس یی توره دالله په سمې طاقت وو د رب

غالب په زمکه مسلمان وو شجاعت وو د رب

بستری جوړ په خارستان کړ د صحرا په لمن

د غازی لمونځ به وو د تورو د شرنګا په لمن

۳۱:۲۱

اقبال

برخور از قرآن اگر خواهی ثبات

در ضمیراش دیده ام آب حیات

می دهد مارا پیام لا تخف

می رساند بر مقام لاتخف

قوت سلطان ومیراز لا اله

هیبت مرد فقیر از لااله

تا دوتیغ لا و اله داشتیم

ما سوا الله رانشان نگذاشتیم

دارم اندر سینه نور لااله

درشراب من سرور لااله

فکر من گردوں میسراز فیض اوست
جوئے ساحل ناپزیر از فیض اوست
پس بگیر از بادہ من یک دو جام
تادر خشی مثل تیغ بے نیام۱۳۴:۸۶

ژباړه

دقران میوه خوره غواړی که ثبات
چی یی وینم زړه کښنی زه اب حیات
راکوی راته پیغام د لاتحف
رسوی سی تر مقام د لاتحف
دا میر بادشاه قوت دی لا اله
د فقیر شان اوهیبت دی لااله
چی مو دواړی توری وی لا او الا
پری مونه شوی علامی د ماسوا
په سینه کښنی سی دی نور د لا اله
په شرابو کښنی سرور د لااله
له دی فیضه سی خیال پورته ګرځوی
اوچینه سی کناری نه قبلوی
له دی میو نه سی واخله څوپیالی
چی په شان دوستي توری پړق وهی
٤٤–٤٣:٧٤

فضل رحیم ساقی په دغه حقله داسی ویناکوی.

لکه خنګه چی مفهوم دی د قران
ترجمه یی راته وکړه هغه شان
د مریض تشخص حکیم ته بنه معلوم دی
دا نسخه یی تجویز کړی ده په ځان
په سړی یی خپل خپل ځان پسی راکاږی
ځنګه ورځ په ورځ پریوزی رنځوران
که علاج یی د قرآن په منشا اوشی
زر تر زه به اوچت شی مسلمان
ساقی خم حجازی پرانزه سی راکړه
چارچارپیر درته ولاړ دی میخواران۱۵۵:۴۷

نقیب احمد فطرت

لویه خدایه راته پوهه د قران را
راته فکر د خپل دین زړه ملسمان را
د صهیب په شانی مینه راته راکړه
دبلال په شانی عشق سوز دسلمان را
۳۲:۶۰

اقبال ځای په ځای په خپل کلام کښی د قرانی متن استعمال خورا په زړه پوری انداز کړی دی.

دید سے تسکین پاتا ہے دل مہجور بھی
لن ترانی کہہ رہے ہیں یاد یہاں کے طور بھی ۱۲۵ : ۴۰

صدائے لن ترانی سن کے اے اقبال میں چپ ہوں
تقاضوں کی کہاں طاقت ہے مجھ فرقت کے مارے میں
۱۳۸ : ۱۲۵

(ژباړه)

بیلتون وهلی زړه هم په دیدن سوسی ارام
که هلته هم دی لن ترانی د طور کلام۲۶:٦۳

په اواز د لن ترانی اقبال چپ دی څه نه غواړی
طاقت کوم دی ماغوښ شوی د هجران په کتاره کښنی
۱٤۷:٦۳

ملاعبدالسلام اځکزی

په درنه ډبره نه ځم له دی دره
لیږی لیږی کوسی ولی لن ترانی
۱٤:۳٦

ملا قلندر یوه خاصه تلمیح په کار راوړی او د لن ترانی د استعمال داسی کوی.

که په دریاب دعاشقی کښنی نهنګ راغلی د"لا"
کښنتی د نوح شوه دوه ځا

وار به هلته په کوم د اشهدو په عصا
پر طور یې وا وری موسیٰ
"لن ترانی" په "ارنی" شی قلندره رشتیا
پاته شوم خالی هیولا۳٦:۳٤

اقبال

"ارنی" میں بھی کہہ رہا ہوں مگر
یہ حدیث کلیم و طور نہیں۱۲٦:۴۳

ژباړه:

"ارنی" زما په ژبه هم راځی خو
دابیان سی دکلیم اودطورنه دی
٦٦:٦٥

ملا عبدالسلام اچکزی

"ارنی لاتقنطو" ساحل راوبنوو
"لن ترانی" ما وتاله اله سمندر شو
٥:۳٥

اقبال

وہ زمانے میں معزز تھے مسلماں ہو کر
اور تم خوار ہوئے تارک قرآں ہو کر
۲۰۴:۱۲۵

(ژباړه)

عزتمن هغوی دنیا کښې وو چې وو مسلمانان
تاسو سپک شولې هم خوار شوی چې مو پریښنو د قران
۲۲۷:۲۳

میا خیرالحق گوهر کاکا خیل

ستا د مشرانو یاد دنیا ته تول کارونه دی
پاتې په یورپ کښې د دوی ښکلې یادګارونه دی
ډک یې کارنامونه د تاریخ تول کتابونه دی
هر خوا په دنیا کښې د عمل یې تعریفونه دی
ته ذلیل او خوارشوی تول عمل دی په تاوان کښې دی
راز د ترقي دی مسلمانه پر قران کښې دی۱۱:۹۵

# اسلام

حضرت علامه اقبال د اسلام او ملت اسلامیه سره ډیر جور ذهنی او احساساتي تړون درلود. هغه اسلام او د اسلام د ژوندانه کړن لاره د نړی د تولو سیاسی ستونزو او تولنیز ژوندانه د ماتو ګړوپو یواځنی حل باله. اود سیاسی عقیدی په توګه یې هر هغه لادیني نظام که د هغه اړه په شرق پوری وی یا په غرب پوری تړلی وی. د انسانی تولنیز ژوندانه د پاره تاوان باله. په سرمایه دارانه او غیر سرمایه دارانه نظامونو کښې دملوکیت جمیوریت اشتراکیت او اشتمالیت تولو شخه دده د بیزارئ سوب همدغه وو. چې په هغو

کښني خو د بدن د لوړی او تندی پوره پوره غم خوړل شوی دی. لیکن روح یې وږی تږی پریښني ده. اقبال په دا عقیده وو چې د ژوندانه د پاره یو داسې پیغام یا د سیاست د پاره یو داسې نظام ضرورت دی چې په هغه کښني د دین او دنیا او بدن او روح دپاره د بقا او پرمختګ ضمانت په کښني وی. د ټولې انساني ټولنې د پاره د زړه هوسائی اود فکر اسانیتا نه شي په کښني موجوده کیدے. دغه نکته نظر که څه هم د اقبال د شخصي نظر او فکری وجدان سره سمون درلود خو بیابې هم ر ییښني په دلائلو او حقیقتونو پوری تړلی وی. ۳٤۱:۱٤۸

نو له همدی کبله اقبال د پروردګار په دربار کښني لاس په دعا دی چې

یا رب دل مسلم کو وہ زندہ تمنا دے
جو قلب کو گرما دے جو روح کو تڑپا دے
۲۱۲:۱۲۵

خدایه زړه د مسلمان ته ورکړه هغه تمنا
چې زړګی پری باندی ګرم کړی او روح کړی په تړپا
۲۳۷:٦۳

محترمه س ب ب صاحبه د خپل یو نظم کښني د پروردګار څخه دغه خواست داسې کوی.

الهی نوم دمسلم بیا را ژوندی که
بیا زمونږ اواز په پورته که احیا۲۷:۲٤

اقبال د مسلمان د زړه د پاره د ژوندی تمنا خواست کوی چی

تر ابده دده په زړه کښنی هغه د شوق تماشا او د عرفان تقاضا

نشته پاته چی روح ته گرمی وسپاری.

سید رسول رسا دغه کیفیت کښې مښې داسی تمثیلوی

د مسلمان زړه کښنی گرمی د ایمان پاتی نه شوه

د ایرو ډیر شو شراره د جهان پاتی نه شوه

په مزکه بند شو تیاره د جهان پاتی نه شوه

نخښنه ددین مبین د خدای دفرمان پاتی نه شوه

آذان خو شته حبشی سوز بلال نشان نشته دی

دملاشته خودغازی دسوز آذان نشته دی ۳۵:۲۱

اقبال د جهاد په اړه دهلال خنجر خپل ملی نخښنه بللی دی

تیغوں کے سائے میں ہم پل کر جوان ہوئے ہیں

خنجر ہلال کا ہے قومی نشان ہمارا ۱۲۵: ۱۵۹

مونږ د تورو سوری لاندی یو لوی شوی ځوانان شوی

د خنجر او هلال دی جوړ زمونږ قومی نشان

۱۷۲:۶۳

س ب ب

شهید جعفر چی کړه په زخمی لاسو جنډه پورته

بیا پورته په دنیا دا هلال نشان دی وی۵۳:۲٤

دمحترمی س ب ب پر نظم د "مسلمان ترانه" باندی د اقبال دافکارو عمومی او د اقبال د "ترانه ملی" خصوصی اثرات ډیر له ورایه خرګندیږیز لږ ورته ځیر شی.

اقبال

ع : توحید کی امانت سینوں میں ہے ہمارے ۱۲۵: ۱۵۹

ژباره: پروت زموږ په سینو کښې امانت دی د توحید ۱۷۲:٦٣

س ب ب: د رب قرآن په سینه کی امانت دی زما ٥٤:٦٣

اقبال :ع۔ مغرب کی وادیوں میں گونجی آذاں ہماری ۱۲۵: ۱۵۹

س ب ب: ع: په نوم د خدای په کفرستان کښې می اواز ته پورته کړه ٥٤:٢٤

اقبال: ع: سالار کارواں ہے میر حجاز اپنا ۱۲۵: ۱۵۹

ژباره: هغه دی میر حجاز چی سالار می د کاروان ١٧٢:٦٣

س ب ب: ع: په نوم می بیا هغه نشان د شاه حجاز پورته کړه ٥٤:٢٤

اقبال

باطل سے دبنے والے اے اسماں نہیں ہم
سوبار کرچکا ہے تو امتحان ہمارا ۱۲۵: ۱۵۹

ژباره:

ای اسمانه چری سر خو مو باطل ته نه دی ایښی
په سل ځله تااخستی دی زمونږه امتحان ١٧٢:٦٣

س ب ب

فرمان دخدای کله بدلیږی که بدل نه شم زه
که دالله د دښمنانو سره مل نه شم زه
دی سی یقین په امتحان کښې به خجل نه شم زهٔ

٥٤:٢٤

اقبال ع :اے گلستان اندلس وہ دن ہے یاد تجھ کو ۱۲۵ : ۱۵۹

ژپاړه: وایه اے د اندلس باغه هغه ورځې دی وی یا دی ١٧٢:٦٣

س ب ب ع: په دی اندلس کی یاد زما دتوری شرنګ تراوسه

٥٤:٢٤

اقبال

تیرے سینے میں ہے پوشیدہ راز زندگی کہہ دے
مسلمان سے حدیث سوز وساز زندگی کہہ دے

۲۶۹ : ۱۲۵

ژباړه:

پټ سینه کښې چې دی وی نو دژوندون هغه رازویه
مسلمان لره قصې دژوند دسوزاو دساز وایه٣٠٦:٦٣

س ب ب

ته په سینه کښې چې لری نور د پاک رب مسلمه
بل دی سردار وینم اقا فخرعرب مسلمه٩٦:٢٤

اقبال

نسل اگر مسلم کی مذہب پر مقدم ہوگی
اڑ گیا دنیا سے تو مانند خاک رہگذر۱۲۵:۲٦۵

په مذهب د مسلمان بانِدی که نسل مقدم شو
ددنیا نه ورک شوی خاوره وی دپښو د مسافر
٣٠٢:٦٣

س ب ب

که د لوی خصلت پیدا کړی شی بدلوی په جهان
بلندی نشته په حسب وپه نسب مسلمه ٩٦:٢٤

اقبال

برنسب نازاں شدن نادانی است
حکم او اندر تن وتن فانی است۱۳۰:۹۳

(ژباړه)

ناپوهی ده ناپوهی ده په نسب به فخر ویاړ لاځه دی
چی نسب خودی له تنه تن تن وی اوصانه وی ٢٨:٧

اقبال په خپل نظم "خطاب به نوجوانان اسلام" کښی د اسلام د لوسړی دور یو ډیر خوندور او په زړه پوری تصویر وړاندی کړی دی.

گدای میں بھی وہ اللہ والے تھے غیور اتنے
کہ منعم کو گدا کے ڈر سے بخشش کا نہ تھا یارا۱۲۵:۱۸۰

فقیری کښنی هم دخدای بندګان دومره غیرتمند وو
چی فقیر نه هم بخشش کښنی ویریدل به اغنیا
۱۹۸:٦۳

شیر علی خان چی پر شعر او فن یی د اقبال د فکر وفن ډیر ژور اثرات پراته دی په دی حقله داسی وایی.

اسلام چی راغلی خود غرضی ورکه شوه
ددی دنیا بت پرستی ورکه شوه
دولت د فقر یی محکوم کړو وهسی
هر یو امیر شو غریبی ورکه شوه۲۴۷:۲٦

اقبال مومن دخدای خلیفه بنولی دی اود رسته نړی یی دمومن تاتوبی بنودلی دی. هغه دمومن د لوړ شان په بیخی ډومره زیاتو حوالو ستاینه کړی ده. چی په هغو کښنی یوه حواله د مومن افاقیت دی.

ع : *ہر ملک ماست کہ ملک خدا ماست* ۱۲۹:۱۳۱

ع : هر ملک خو زما ملک دی چی دی ملک د رب زما۷۱:۱۵۰

سیدرسول رسا وایی

راز دکلیم او دخلیل د مسلمان زړه کښنی عیان
دمسلمان د جهان حد نشته دخدای په جهان
دمسلمان مقام اوچت د عرش کرشی لامکان
دخدای غازی دی په زمین اوپه اسمان دی سلطان ٦٥:٢١

اقبال

یہ ایک سجدہ جسے تو گراں سمجھتا ہے
دیتا ہے آدمی کو ھزاروں سجدوں سے نجات

سید رسول رسا

اسلام انسان د بل انسان د غلامی کړو آزاد
اسلام انسان د بل انسان د سلامی کړو آزاد
اسلام انسان د بل انسان دمحکومی کړو آزاد
اسلام انسان دظلم زور او مجبوری کړو آزاد
۱۲٤:۲۱

اقبال

ایک ہی صف میں کھڑے ہوگئے محمود و ایاز
نہ کوئی بندہ رہا نہ کوئی بندہ نواز۱۲۵:۱۶۵

برابر به په صف کښې خنګ په خنګ محمود و ایاز شو
د بنده سره به یو شان ستا په دربنده نواز شو۶۳:۱۸۰

سید رسول رسا

اسلام بنده او اقا دواړه په یو صف در وی
اسلام محمود و ایاز دواړه کف په کف دروی
۱۲٥:۲۱

اقبال

اپنی ملت پر قیاس اقوام مغرب سے نہ کر
خاص ہے ترکیب میں قوم رسول ہاشمی ۱۲۵ : ۲۴۸

خپل امت چرې قیاس نه کړې په قامونو د مغرب
په یو خاص ترکیب دی جوړ قام درسول عربي
۲۷۹:٦۳

سید رسول رسا

اسلام کې تور او سپین عرب عجم قیمت نه لري
مال او نسب او ذات وملک دین کې وقعت نه لري
مسلم د هر مسلم یو رور دی فضلیت نه لري
اسلام کې مال او خاندان هیڅ شرافت نه لري
اسلام افضل هغه ته وایې چې دیندار وي رشتیا
اسلام کې هغه لوېي شریف چې ایماندار وي رشتیا
۱۲٦:۲۱

اقبال

کافر کی یہ پہچان کہ آفاق میں گم ہے
مومن کی یہ پہچان کہ گم اس میں ہیں آفاق ۱۲۷ : ۴۴

(ژباړه)

کافر ورک شی د افاقو په وسعت کښې
تل ورک شوی په مومن کښې دی افاق٤٤:٦٦

بس دومره تفاوت دی دمومن او دکافر
یو لاس کښي د تقدیر دی بل لاسوکښي دتقدیر
۱۷:۸۸

# اقبال-خطاب به نوجوانان اسلام

کبھی اے نو جواں مسلم تدبر بھی کیا تو نے
وہ کیا گردوں تھا تو جس کا ہے اک ٹوٹا ہوا تارا
مجھے اس قوم نے پالا ہے اغوش محبت میں
کچل ڈالا تھا جس نے پاوں میں تاج سردارا
گنوادی ہم نے جو اسلاف سے میراث پائی تھی
ثریا سے زمیں پر اسماں نے ہم کو دے مارا
مگر وہ علم کے موتی کتابیں اپنے آبا کے
جو دیکھیں ان کو یورپ میں تودل ہو تا ہے سیپارا
۱۸۰:۱۲۵

چري فکر دی دے کړی اے زلمیه مسلمانه
هغه څرنګې اسمان ووچې یې ته وی ستارا
ته خو داسي قام پاللی یې په غیږ د محبت کښي
چې په پښو کښي یې موږلی تاج د سروو د دارا
چې دخپلو مشرانو میراث موږ تاله ترغه کړو
نو په زمکه باندی اویشتو اسمان له ثریا

خو دعلم سلغلری کتابونه دنیکونو
چی یی او گورو یورپ کښنی زړه مو شی اره ارا
۱۹۸:۶۳–۱۹۹

میاں خیر الحق کاکاخیل

یاد دی ستا مسلمه چری ته د اسمان ستوری وی
خور چی په جهان دی هغه ته دالله سیوری وی
ستا د تکبیر چغه دمشرق نه مغرب پوری وی
ستا د نشان مخکښنی سرنگونه جنډی نوری وی
ستا د مشرانو باد دنیا ته ټول کارونه دی
پاتی په یورپ کی ددی ښکلی یادگارونه دی
ډک په کارناموبی د تاریخ ټول کتابونه دی
هرخوا په دنیا کښنی د عمل یی تعریفونه دی
۱۱:۹۵

# انسانیت

داقبال د فکری پراختیا او ودی اساس دین الهی دی. د کوم څیز څیړنه چی کوی نو دکتلو ځیریی د یوه زبردسته عالم اود یوه رسیدلی پاخه مسلمان دی. ځکه چی اسلام دی چی انسان ته یی د غوره والی پسول سپارلی دی.

"انسانی غوره والی تردی زیات نور څه کیدے شی. چی ددهٔ فطرت د الهی دین په ډول دی. "فطرة الله فطره لناس علیها" نورو

تهذیبونو او مذهبونو چی انسان خوسره خوار او ذلیل ګڼړل دی. اسلام هم هغه هومره دده ربته اوچته ګڼړلی ده. او ده ته بی واک سپارل دی. چی په خپل فکر او علم سره په حالاتو او حقیقتونو کښی بدلون راوله. کوم څه چی موجود دی هغه هغهٔ شان جوړ کړه. کوم چی په کار وی. اسلام وانسان ته خورا پراخ تصوردددی پاره ورکړچی په خپله خوښه په آزاده توګه درنګ ویو. دعالم څخه ماوار په چمن اوځاله کښی دده رازدان جوړ شی" ۱۶۰:۱۴۳

د قران شریف خپله مووضع هم انسان ده. د همدی مقصد په خاطر حضرت علامه انسان ته د انسانیت د اعلی مقام وربښودلو او هغه ته د رسیدلو د پاره خپله نړیواله مشهوره فلسفه خودی وړندی کړه. دقران د ښودلو تکو سره سم یی په خپله دغه فلسفه کښی انسانی فکر ته څلاو بخښنله.

خدا نے آج تک اس قوم کی حال نہیں بدلی
نہ ہو جس کو خیال اپنے آپ حالت بدلنے کا

خدای بخښنلی فضل احمد غر ګښه مته دغه مطلب په پښتو شعر کښی داسی اداکوی.

خدای هم نه بدلوی حال د هغی قوم
چی څوک نه بدلوی خپل حال پخپله
۴۳:۴۳

دغر صاحب شعر د اقبال د پورتنی شعر منظومه ژباړه بللے

شو خو غر صاحب د اقبال هیڅ حواله هم نه ده ورکړی. رسا صاحب هم دغه شعر یو ځای داسی رانقل کړی دی.

خدای هم نه بدلوی حال دهغی قوم
چی ځوک نه بدلوی خپل حالت پخپله۲۱:ش الف

ولی چی رسا صاحب داقبال پښتو شارح او مفسر دے نو کیدے شی چی دغه شعر دی رساصاحب ویلی وی. د غر صاحب پورتنی شعر دلوستلو د مخه ما دغه ویاړ رسا صاحب ته درکاو چی داقبال مقصدی خورا په خوند ور ډول په پښتو کښی بیان کړی دی. لیکن کله چی می د غر صاحب دشاعری د مطالعی په وخت د غه بیت مخی ته راغلی نو پوهه شوم چی غرصاحب خود رسا صاحب څخه لا ډیر پخوا د اقبال څخه فکری تومنه اخستی ده. اوپر شعری د اقبال د فکر زور اثرات مرتب شوی دی. اقبال

زندگی خودرا بخویش آراستن
بروجود خود شهادت خواستن
شاید اول شعور خویشتن
خویشتن را دیدن بنور خویشتن
شاهد ثانی شعور دیگرے
خویشتن را دیدن بنور دیگرے
شاهد ثالث شعور ذات حق
خویشتن رادیدن بنور ذات حق۱۳۳:۱۹

څه دی ژوند ځان سنګارول له ځانه
بیا شهادت په ځان غوښتل له ځانه
ړومبی ګواه دی خپل شعور واخله
د ځان کتل د ځای په نور واخله
دویم ګواه دی بل شعور واخله
د ځان کتل دبل په نور واخله
دریم ګواه شعور د ذات واخله
د ځان کتل دنور د ذات واخله۷۳:۱۳۔۱۴

ګل باچا الفت

د عشق پنجونه نهٔ خلاصیږی د لښکرو په زور
د ایاز مینه کښی اسیر شنشاهان وګنړه
د لیلی یو اشارت بس دی د عاقل دپاره
د عشق سودا کښی لیونی ډیر هوښیاران وګنړه
د عشق او مینی په حرم کښی زه لوی شوی یمه
څوک چی بی مینی ژوند کوی هغه حیوان وګنړه
چی دجمال ډیوه شوه بله پتنګان شوه پیدا
لوړی پتنګ ددغه شمعی ته انسان وګنړه۵۱:۱۰۱

” اقبال په رموز بیخودی کښی فطرت د نظر د ښښتنانو دپاره د زدکړی تخته بللی ده. د کوم له کبله چی د انسان د پرکاری اوذوفنونی بشپړتوب تر سره کیږی. د انسانی روح تقاضی چی

خومره شدیدی وی فطرت په هغه کجه خپل پرله پسی رازونه پرده باندی راسپړی"۲۱۵:۱٤۵

کوه و صحرا دشت و دریا بحر و بر
تختهٔ تعلیم ارباب نظر
خیزد واکن دیده مخمور را
دوں مخوان این عالم مجبور را
تاز تسخیر قوائے ایں نظام
ذوفنو یہائے تو گرد د تمام۱۳۰:۱۴۲

(ژباړه)

سمه غر په لونده وچه د دنیا په هره برخه
ګوری نه چی عالمانو د تعلیم کړه پورته بخښنه
پاڅه وغړوه سترګی په نشو کښنی یی غم لړلی
بدپر هیچری مه وایه عالم تاته دی تړلی
چی ته ځان په هر هنر کښنی تر دی حده پوری پاس کړی
دعالم په دی نظام کښنی قوتونه تول ترلاس کړی ۱٦۰:۷۰

سید رسول رسا د اقبال ددغه انسان کامل دتصور په وړاندی چی دالهی په نظر د هستی کتنه کوی داسی وایی.

ښه ښنائسته رشتیا تکړه معنی کښنی یودی
دا څلورتو که دسلک په څوان کښنی یودی

کامل عشق اوکامل عقل کامل حسن
هم کامل شعور کامل انسان کبنی یودی۲۰:٤٧١

اقبال

مشکلات حضرت انسان ازوست
آدمیت راغم پنہان ازوست ۱۳۴: ۴۳

په مشکل یی اخته کړی دی انسان
اوله ده بنیادم توب دی پریشان
٥٦:٧٤

شیرعلی خان

اوګوره انسان ته انسان نه پرېږدی
ما خه په قلاره جهان نه پرېږدی ۱۳۷:۲٦

فضل حق شیدا

تاوان یمه یزدانه په تا تړوله تاوان
انسان یمه انسان یمه انسان۲۳۲:٤٤

امیر حمزه شنواری

د عالم نظام چی جوړ دی له اضدادو
ځکه ته چا سره جوړ چا سره وران شی
لا خواهش د ناممکنو ستا فطرت دی
که انسان یی دجذبی لاندی حیوان شی
١٩٦:٥

اقبال انسان د حیات د تقویم سر بللی دی.

از دورن کار گاه ممکنات
بر کشیدم سر تقویم حیات۱۲۹:۱۱

(ژباړه)

د امکان دغه دنیا چی ما په مثل د کارګاه کړه
د بقا د راز خبره په مشکله ما پیدا کړه ٤۹:٦۹

میر رحمان غازی هم دغه مطلب داسی بیان کړی چی انسان یی دخالق داحسن التقویم شاهکار اودخودي نامتو مقصد بللی دی.

ته شاهکار یی دخالق احسن تقویم یی
ته مالک یی دخودی مقصد عظیم یی
۲۰۳:٥۷

اقبال

از تمنائے بجام آمد حیات
گرم خیزد وتیز گام آمد حیات
زندگی مضمون تسخیر است وبس
آرزو افسون تسخیر است وبس ۱۲۹:۳٤

(ژباړه)

دژوند جام ته سره شراب وی تمنا وراچولی
هر څه هر څه په نشه کښی توند په وراندی زکه زملی

په کتاب دژوندانه کښې يو مضمون دی دتسخير بس
تمنا چې ورته وايي دا افسون دی دتسخير بس
۱۱۱:٦٩

فضل حق شيدا

په تولو بتکدو کښې توحيد د لفظ زه
برهان يمه برهان يمه برهان٤٤:٢٣٢

امير حمزه شنواری

تخيل دی آئينه د جستجو کړه
ستافطرت به شی لاځلند چې حيران شی
حيرانيتا دی لانبنان د ماشومتوب ده
خپل جوهر به هله ووينې چې ځوان شی
۱۹٦:٥

انسان پر دغه زمکه د خدای خليفه دی. اقبال وائی

نائب حق درجهان بودن خوش است
برعناصر حکمران بودن خوش است۱۲۹:۴۴

(ژباړه)

په دنيا د خدای نائب شه دار شتونی بنادمنی دی
عناصر باندی غالب شه دا رشتونی بنادمنی دی
۱۳۸:٦٩

سیر رحمان غازی

ته امین یې خود مختاري دفطرت
ته معدن يې د هر يو كمال صفت
۲۰۳:۵۷

گل باچا الفت

دا ټول نقشونه د جهان او مختلف رنگونه
زما په ذوق او ارادې پسې روان وګنه
په كائناتو باندې زه هر قسم لوبې كووم
بحره فضا مې د يوې منډې ميدان وګنه
۱۰۱:۵۱

شیر علی خان

د خاورو ختمې یې انسان پیدا کړو
خاوند د عقل دشعور کړواللہ
د عقله پس يې ورعطا كړو علم
په خلافت يې خپل مامور كړواللہ۹۷:۲۶

اقبال

نہ تو زمیں کے لیے ہے نہ آسماں کے لیے
جہاں ہے تیرے لیے تو نہیں جہاں کے لیے
یہ عقل وہ دل ہیں شرر شعلہ محبت کے
وہ خاروخس کے لیے ہے یہ نیستاں کے لیے

مقام پر ورش آہ ونالہ ہے یہ چمن
نہ سیر گل کے لیے ہے نہ آشیاں کے لیے ۱۲۶ : ۴۹

ژباړه:

نه ته زمکی له پیدایې نه دپاره د سما
تا دپاره دا جهان دی ورله ته نهٔ یې پیدا
عقل زره دواړه بخری د شعلی د محبت دی
په یو خاروخس سوځیږی بل اوربل کا په دنیا
داچمن ځای دپالنی د فریادو اسویلو دی
نه دی سیل له دګلو اونه جالو لره پیدا۶۵:۷۳

شیر علی خان

انسانه ته نه یې جهان د پاره
نه دزمین نه د زمان د پاره
ستا دتخلیق دخیاله پس شو ظهور
زمکه اسمان شود انسان د پاره
ستا په خدمت کېښی دی مصروف شب و روز
ګردش کوی ناطق حیوان د پاره۲۶:۱۰۲

اقبال

براہمی نظر پیدا مگر مشکل سے ہوتی ہے
ہوس چھپ چھپ کے سینوں میں بنا لیتی ہے تصویریں
۱۲۵ : ۲۷۱

ژباړه:

خو نظر د ابراهیم راپیدا کیږی ډیر په ګرانه
غلی غلی جوړ وی هوس سنیو کښنی تصویرونه
۳۰۹:۶۳

ہوس نے کر دیا ٹکڑے ٹکڑے نوع انسان کو
اخوت کا بیان ہو جا محبت کی زبان ہو جا ۱۲۵: ۲۷۳

ژباړه:

بنیادم ټکړی ټکړی کړو ههوسونو د دنیا نن
ته بیان د روولی شه او دمینی خوږ زبان شه
۳۱۲:۶۳

شیر علی خان

درب دحکمه شه انسان شویاغی
وینم یی زه د خواهشاتو قتیل
شو دجهانه نهٔ د ځانه خبر
پروت دهوس په بیماری دی علیل ۱۹۱:۲۶

امیرحمزه شنواری

چی احساس په هرانسان کښنی دقبول دی
بس تکمیل د سرپیتوب ته داصول دی
دفطرت په لاره تلل انسانیت دی
دشهوت په لاره تلل دزړونو نول دی ۲۰۹:۵

# آرزو

آرزو د یوې هغه پټې ولولې نوم دے. دکومې دحاصلولو دپاره چې انسان سرترپایه د عمل توته جوړه شي اوپه پرله پسې هڅو کښې مصروف وي. آرزو هغه انځور دی دکوم د حاصلولو دپاره د رنګ څه د کائناتو په تصویر کښې بښکلا او ځلا ترلاسه کیږي. اوددغې آرزو په سوب دژوندانه ښکلا وی اوداخرت بریالیتوبو نه د خاورین انسان په برخه کیږي . ځکه خو اقبال د آرزو په اړه وایي.

مرتا ہوں خامشی پر یہ آرزو ہے میری
دامن میں کوہ کے ایک چھوٹا سا جھونپڑا ہو
آزاد فکر سے ہو عزلت میں دن گزاروں
دنیا کے غم کا دل سے کانٹا نکل گیا ہو ۵
۱۲:۴۷

ژباړه:

خاموشي پسې مړکیږم دا ارمان مې دی په زړه کښې
چې د غره څرته لمن کښې مې جونګړه جوړه کړلې
اوسیدی یکی یواځې فکر هیڅ راسره نه وی
د دنیا د غم ازغې مې د زړګې نه دی ایستلی۳۵:۶۳

زما په خیال د امیر حمزه شنواری دغه نظم "راځه چې یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کښې" هم دغه د اقبال د آرزو یو خوندور تصویر دے. یا ودی شي چې توار د فکروی وی خو خیر

محمد موسی شفیق هم د آرزو تر سر خط لاندی داسی طلب اوجستجو لری.

هغوتړو کښنی له بدو سترګو لیرے
دواړه ناست وی دیو شرندخوړ په غاړه
یو په بل کښنی محویت وو بیخود کړی
رانه هیر شوی دا مادی کائنات واړه ٥٩:٥٥

اقبال

نہیں جنس ثواب آخرت کی آرزو مجھ کو
وہ سوداگر ہوں میں نے نفع دیکھا ہے خسارے میں
۱۳۸:۱۲۵

ژباړه:

دثواب د اخرت می څه امید او ارمان نشته
زه خو داسی سوداګر یم نفع وینم خساره کښنی
١٤٧:٦٣

س ب ب

آرزو دجنت نه کړو نه جنت غواړوله خدایه
نصیب پر هر زاهد ته دجنت حورو دی وی
١٤٧:٦٣

اقبال

یا رب دل مسلم کو وہ زندہ تمنا دے
جو قلب کو گرما دے جو روح کوتڑپا دے
۲۱۲:۱۲۵

ژباړه:

خدایه زړه د مسلمان ته ورکړه هغه تمنا
چې زړګی پری باندی ګرم کړی او روح کړی په تړپا
۲۳۷:٦۳

س ب ب

لکه مجنون سر په څنګلو دلیلی په طلب
اسلامی سینه مو لیل ونهار کړی ربه ۲۸:۲٤
الهی په زړه کښنی ستامحبت را
یوه قطره آب له دریاب د رحمت را
۲۹:۲٤

اقبال

ماکه دربان حصار ملیتم
کافراز ترک شعار ملیتم
ساقی دیرینه را ساغر شکست
بزم رندان حجازی برشکست۱۲۹:٦۹

ژباړه:

د ملت یو والی کوټ دی په وره مونږ ودریدلی
دیووال په پریښولوله ایمان شو لاس ونځلی
د زاړه ساقي پیالی وه هغه نمیګړی تار په تار شوه
د حجاز د مستو غونډه خوره بیله بیله یی لار شوه

۲۰۹:۶۹-۲۱۰

ع : بچا کے دامن بتوں سے اپنا غبار راہ حجاز ہو جا ۱۲۵ : ۱۳۰

سیدرسو رسا

زه هم دمغرب د سروګلونونه ویزار یم
بس یو سازش دی د پاک دین اُمروت برخلاف
دهغه قوم قسمت کښنی تل وی محکومی مظلومی
چا چې پخپله د خودی سره اونه کړو انصاف ۸٥:٦۷

اقبال

از سوال اشفتہ اجزائے خودی
بے تجلی نخل سینائے خودی
وائے بر منت پزیر خوان غیر
گردنش خم گشتہ احسان غیر
چون حباب ازغیرت مردانہ باش
ہم بہ بحر اندر نگون پیمانہ باش۱۲۹: ۲۴

(ژباړه)

غریب توب لویه خواری ده دا په سوال نوره ډیریږی
ګدا ګر چی ګدا کړی له ډیر والی هم تیریږی
د هغه په حال ژړا ده چی د بل شکوری په سر دی
ملاکږه اوخت یی مات دی چی دبل احسان پرغر دی
برېبوکړغوندی تل اوسه یا د دخپل غیرت له شوره
که په بحر کښی د ژوندوی هم کونډی ساته نسکوره

٨٤–٨٣:٦٩

محمد موسی شفیق

د زړه کور کښی سی د مینی مشال بل کړه
لیونی غوندی سر خوده طبعیت را
د ثری نه چی تر عرشه په کښی ځائی شی
د هدف په دائره کښی ها وسعت را۵۵:۳۱

سید رسول رسا

فرعونی علم نور څه دی خود بنوزلمو فتیل
وایم دا علم لاهو کړی په ګرداب د رودنیل
چې بنایيلو ی اسماعیل ته فرزندانه ادب د پلار
خبر نه یم هغه څه شو هغه علم د خلیل ۳۵۸:۲۰

قبال

عشق کی گرمی سے ہے معرکہ کائنات
علم مقام صفات عشق تماشائے ذات
عشق سکون وثبات عشق حیات وممات
علم ہے پیدا سوال عشق ہے پنہاں جواب
شرع محبت میں ہے عشرت منزل حرام
شورش طوفان حلال لذت ساحل حرام
عشق پہ بجلی حلال عشق پہ حاصل حرام
علم ہے ابن الکتاب عشق ہے ام الکتاب ۱۲۷ : ۲۱

باره:

مینی ګرمه کړي ده معرکه د کائنات
علم مقام صفات علم تماشا بی ذات
مینه سکون و ثبات مینه حیات و ممات
علم پوهه څرګند تپوس مینه پټه خوله ځواب

فضل رحیم ساقی

هر چې اوپیژنی ځان خپل
وبه پیژنی سبحان خپل
په دنیا عقبا چې پوهه شی
سلامت به کړی ایمان خپل۵۵:٧٥

اقبال

بڑھے جا یہ کوہ گراں توڑ کر
طلسم زمان ومکان توڑ کر
جہان اور بھی ہیں ابھی بے نمود
کہ خالی نہیں ہے ضمیر وجود
ہراک منتظر تیری یلغار کا
تری شوخی فکرو کردار کا۱۲۶:۱۲۸

ژباړه:

دا غر اوشلوه په وړاندې ورځه دورسه
د زمان ومکان د سحر پریکړه لوسه
جهانونه نور لاهم شته بې نمود
چې لا زړه نه دی تش شوی د وجود
ستا چپاو وته همه په انتظار دی
وشوخی ته ستا د فکر او کردار دی۱٧٤:٦٥

ڈھونڈنے والا ستاروں کی گذر گاہوں کا
اپنے افکار کی دنیا میں سفر کر نہ سکا
اپنی حکمت کے خم و پیچ میں الجھا ایسا
آج تک فیصلہ نفع ضرر کر نہ سکا۱۲۷: ۶۹

نہ با ملا نہ باصوفی نشینم
تومیدانی کہ من انم نہ ایںنم۱۳۵: ۴۸

ژباړه:

چې د اوچتو ستورو لارې مزلونه لټي
خوبښ یې د فکر د دنیا نه سفرنه کړی شو
داسې راګیر شو د حکمت په تاروو پیچ وخم کښې
چې هیڅ بیلتون یې د خپل خیر وضرر نه کړی شو
چا چې راقید کړی د لمر خورې ورې پلوشې
د خپل ژوندون نور ماخوستن یې سحر نه کړی شو۶۶: ۶۷

ګل باچا الفت

بصیرت او علم نشته په کتاب کښې
که څه نه وی د مغزو په پیچ وتاب کښې
علم او پوهه بل شی نه دی بنیایی ده
زاهدناست وی پټې سترګې په محراب کښې
۱۰۸: ۵۱

اقبال د نوی کهول څخه ډیر زیات هیله من دی او د پروردګار

بد ترین غلام هغه دی چی خودی کړی خپله ورکه
آزادی که دی په کار وی دخودئ خپلی غلام شه
۹۸:۵۳

اقبال

خودی کو کر بلند اتنا کہ ہر تقدیر سے پہلے
خدا بندے سے خود پوچھے بتا تیری رضا کیا ہے

د اقبال ددغه شعر مجموعی اثرات پر پښتو شاعری خوارا‌غیزه کړې ده. دخودی دغه معنی که موږ د پښتو په معنی کښنی واخلو نو هم به بی ځایه نه وی. ځکه چی خودی پښتنواله ده او پښتنواله خودی ده. لږ فکر وکړی د ایوب صابر مرحوم و نظم د فکر تال ته.

دغه تال دومره خبر کړم
اوس بی دومره سترګور کړم
چی په تش لاس هم غنی یم
له دنیا نه هیڅ نه غواړم
چی خودی کړی ځوک اوچته
هغه سوال کولی نه شی
سوال به زه ولی کومه
ځان به ولی سپکوومه

ژباړه:

شکایت مې دی یا ربه د مکتب له خاوندانو
خاکبازي سبق کښښي بنایي دوبچو ته د بازانو
٥٠:٦

فضل حق شیدا

ما وییل چې نابینا په پرې بنا شي
دی تعلیم خو سترګور راله ړانده کړه
دی دلمر د ا خاصیت چې لانده وچ کړي
حرارت وو عجیبه اوچ یې لانده کړه٧١:٥٣

اقبال

مکتب و ملاسخنها ساختند
مومنان این نکته رانشنا ختند۱۳۴:۳۲

ژباړه:

څه مکتب او ملا جوړې قصې
بې خبره مومنان له دې نکتې شوی٧٤:٤١

فضل حق شیدا

د اسلام په خوږ خوږمن همیش نرې وی
او ملا صاحب دی ورځ په ورځ غمیږی
٧١:٥٣

اقبال

بیا بر خویش پیچیدن بیا موز
بنا خن سینہ کا ویدن بیا موز
اگر خواہی خدا را فاش بینی
خودی رافاش تر دیدن بیا موز۱۳۵:۱۰۹

(ژباړه)

راشه د خپل ځان سره وهل پر زول زده کړه
ته په خپلو نوکو د سینې ګرول زده کړه
لیدل که په پرانستو سترګو ته غواړې د خدایه
راشه نو په ډاګه د خودی دی لیدل زده کړه
١٥٤:٦٨

عبدالصمد بیوس

په خودی کښې خدا بین او جهان بین یمه زه
ما په خپل ځان کښې بشپړ کړی دی نصاب دخودی
٢:١٢٤

اقبال

ازہمہ کس کنارہ گیر صحبت اشنا طلب
ہم زخداخودی طلب ہم زخودی خدا طلب ۱۳۲ : ۱۱۵

اقبال

ترا وجود سراپا تجلی افرنگ
کہ تو وہاں کے عمارت گروں کی ہے تعمیر
مگر یہ پیکر خاکی خودی سے ہے خالی
فقط نیام ہے تو زرنگار وبے شمشیر ۱۲۷: ۳۳

ژباړه:

ستا وجود یو پلو شه د فیرنګیانو
چې د هغه معمارانو په تعمیری
داد خاورو ختو بت له خودي تش دی
یو د سرو زرو نیام یی بې شمشیر یی
۲۸: ۶۶

جعفر حسین

د انګریزی تعلم اثر وګوره
مسلمانان شو تباه له هر لوره
تول لباس یی د انګریزانو شو
په عادتونو سوا حمر ګوره۳:۲۱

اقبال

جوہر میں ہو لاالہ توکیا خوف
تعلیم ہو گو فرنگیانہ ۱۲۷: ۸۷

ژباړه:

په چا پسې تاویږي راته وایه ګوري څوک
هغه څو سم څرګند وي څو ته نه یې هویدا
که ګوري ته هغه څه به اونه ویني بې ځانه
تکل که دې دځان اوکړو نو موسی به اشنا
۵۱:۷۱

عبدالصمدبیوس

خودي روح د روح د پاره
لکه روح د تن لپاره
د خودي ګلان وي ښکلي
وي د تن وطن لپاره۲:۱۲۴

# ژوند

اقبال د ژونده سره مینه لرله. هغه میل او امید د ژوند د نخښنو د پرمختګ د پاره وقف سپاري. دده د افکارو او ښووونو منځي خیال هم هغه ژوند وو هغه ژوند د خوشحاله ارام اوهوسا جوړولو د پاره د ټول بشر د تل پاته خوشحالي او همشیني پرمختګ هیله من وو. هر چاته یې د ژوندي پاته کیدلو زیرمه کوله. ځکه چې ددغه جهان ټولي هوساي او اسائشونه ټوله د انساني فکر ایجادونه او مقصدونه په هم دغه ژوندانه پوري تړلي دي.

دمادم رواں ہے یم زندگی
ہر اک شے سے پیدا رم زندگی
اسی سے ہوئی ہے بدن کی نمود
کہ شعلے میں پوشیدہ ہے موج دود
یہ ثابت بھی ہے اور سیار بھی
عناصر کے پھندوں سے بیزار بھی
یہ وحدت ہے کثرت میں ہر دم اسیر
مگر ہر کہیں بے چگوں بے نظیر۱۲۶:۱۲۵

ژباړه:

د بادب دریاب روان دی د ژوند
له هر ځیر پیدا جولان دی د ژوند
هم له دی پیدا نمود دی د بدن
په شغله کښې پټ لوګی بنکاری موجزن
هم ثابت دی دا او هم دی داسیار
له پړکو د عناصرو هم بیزار
په کثرت کښې دا وحدت هر دم اسیردی
خوهر ځان کښې بې مثاله بې نظیر دی
١٧٠:٦٥

حیات د سرپیتوب او د خودی د ارتقا
حیات د اعتما د او د یقین په بنه قلا
حیات د سیل په وړاندی لکه غر دی خخیدل
حیات دی شان د صبرو توکل او درضا
حیات د بل د پاره کړیدل او زغمیدل دی
په زغل اوتگ ودو کښی لری گرمه تماشا
تسخیر د نوی ژوند او بل عالم ده تقاضا
رګونو د حیات کښی گرمه وینه دحیات
بی ذوقه تیغ زړګو لره دی مرگ دمفاجات
۱۸٤:٥٧

اقبال

برتراز اندیشہ سود وزیاں ہے زندگی
ہے کبھی جاں اور کبھی تسلیم جاں ہے زندگی
تو اسے پیمانہ امروز و فردا سے نہ ناپ
جادوان پیہم روان ہر دم جواں ہے زندگی
اپنی دنیا آپ پیدا کر اگر زندوں میں ہے
سر آدم ہے ضمیر کن فکاں ہے زندگی
زندگانی کی حقیقت کوہکن کے دل سے پوچھ
جوئے شیر و تشیہ وسنگ گراں ہے زندگی ۱۲۵:۲۵۹

ژباړه:

ډیر په پورته له فکرونو نه د سود اوزیان دی ژوند
دې دی کله ځان اوکله قربان د ځان دی ژوند
ته په تله د صبا او نن یې چرې مه تله
دی دا یم په زغل یونیب او هر وخت ځوان دی ژوند
که ژوندو کښې یې نو ځان نه دنیا خپله راپیدا کړه
د ادم د فطرت روح دی راز د کن فکان دی ژوند
له کوهکن له زړه او پوښنته چې معنی څه ده د ژوند
ددروندکانړی دتیشی اونهردهریوشان دی ژوند
۲۹۳:۶۳

امیر حمزه شنیواری

ژوند یو مسافر دی چې فطرت کښې یې سفر دی
پټ دی هم په دغه کښې سکون دی مضطر دی
ژوند دی هغه غږ چې د جرس په سرور دی
تل اوسی دننه په ظاهر کښې که بهر دی
ژوند په سلسله قهقه روان دی خاندی
پوی دی پری هغه چې له فطرته یې زړه سواندی
۱۸٤:٥

اقبال

یقین محکم عمل پیہم محبت فاتح عالم
جہاد زندگانی میں ہیں یہ مردوں کی شمشیریں
۲۷۲:۱۲۵

ژباړه:

کلک یقین یو نیک عمل او محبت برې سوندونکی
ترانو د ژوندون غزا کښې دی هسې ډالونه ۳۱۰:۶۳

محمدموسی شفیق

د ژوند د رهبانیت نه سی وساته
د عمل په خرخ سی تارد ژوندارټ را
چې صحنه د اجتماع واړه توده کړی
هسې ګرمو جزبو له سینه بټ را۴۸:۵۵

اقبال

جس میں نہ ہو انقلاب موت ہے وہ زندگی
روح امم کی حیات کشمکش انقلاب۱۲۶:۱۰۰

ژباړه:

چې پکښې انقلاب نه وی هغه ژوند په مرګ حساب د ی
د قومونو د روح ژوند دی کشمکش د انقلاب ۱۳۶:۶۵

اسیرحمزه شنواری

ژوند ته اوگوره څه دی همه کار دی
هغه ژوند په مرگ حساب دی په دنیا کښې چې اورگار دی
۱۳٦:۵

اقبال

علم وفن از پیش خیزان حیات
علم وفن از خانه زادان حیات

امیر حمزه شینواری

د کامیاب ژوندون تفسیر خو په دوه حرفه کښې کیدے شی
د خواصو جمعیت دی د کامل علم دولت دی۵۱:۵۳

# نومیالی

حضرت علامه په خپله شاعری کښې وبیلا بیلو نومیالیو ته د شعر په ژبه پیروزینې وړاندی کړی دی. د هغه نومیالو څخه به یې هیلی لرلی. او د دوی د مړانی ستاینه به یې کوله. په پښتو شعر کښې هم د اقبال و هغو نومیالیو ته پیرزوینې وړاندی شوی دی. په دغو نومیالیو کښې احمد شاه ابدای محمود غزنوی' شیرشاه سوری' خوشحال خان خټک' سید جمال الدین افغانی' منصور حلاج' طارق بن زیاد' صلاح الدین ایوبی' زاغلول پاشاه' غازی امان الله خان' نادر شاه' اعلحضرت محمد ظاهر شاه او داسې نور شامل وه. پر دغو تولو نومیالیو باندی د اقبال پیرزوینه او په پښتو شعر کښې د هغه د

اثراتو په باب په تفصیل سره ږغا په رشیتا هم خبره ډیره او بی ځایه اوږده کړی. لهذا په لنډه توګه به دلته د اعلحضرت محمد نادر شاه په باب د اقبال د شعر اثر پر فضل احمد غر وګورو. اقبال

خوش بیا اے نکته سنج خاوری
اے که می زیبد ترا حرف دری
محرم راز یم باما راز گوے
آنچه میدانی زایران بازگوے ۱۳۳:۱۷۳

ژباړه:

ستړی مه شی ای چی نکته سنج بی خاوری بی
تا سره پارسی بنایی چی پوهه په دری بی
ای زموږ د راز محرمه راز راته عیان کړه
حال که در معلوم وی دا خرګندی دایران کړه
۲۰۳:۷۳

فضل احمد غر

چی دی نوم بادشاه نادر بلند اقبال دی
شخصیت دی په مخلوق کبنی بی مثال دی
چی ممدوح بی ته زما عظیم المقدره
بنه مضمون تړل په شعر کبنی څه محال دی
۷:٤٣

اقبال

نادر افغان شه درویش خو
رحمت حق برروان پاک او
کارملت محکم از تدبیر او
حافظ دین مبین شمشیر او۱۳۴:۵۵

ژباړه:

نادر شاه پښتون بادشاه درویش صفت
ورنده دده په ګور د خدای رحمت
د ملت کاری محکم کړه په تدبیر
د خدای دین یې او ساتلو په شمشیر۳:۷٤

فضل احمد غر

کامیابی د ارادی نه زیاته مومی
خوش بختی ته دی دښمن په زړه ملال دی
سیاست کښنی ته په ټول جهان غالب شوی
تاشلولی د دښمن د مکر جال دي٦:٤٣

اقبال

فقرو شاہی واردات مصطفیٰ است
این تجلہائے ذات مصطفیٰ است
فقر سوز ووردو د اغ و آرزو ست
فقررا درخون تپیدن آبروست

فقر نادر آخر اندر خون تپید
آفرین بر فقر آں مرد شہید۱۳۴:۵۵

ژباړه:

شاهي فقروار ذات د مصطفی دی
جلوی دواړه د یو ذات د مصطفی دی
فقر سوز او درد وداغ دی او آرزو
فقر موږی په سرو وینو کښنی آبرو
آفرین په فقیری شه د نادر
فقری ځان په وینو سور کړلو آخر٤:٧٤

فضل احمد غر

د غریب سره وړه په وړه ځی ته
ځنګ ساده خوی دی په دی جاه وجلال دی
٦:٤٣

# طاقت

علامه اقبال د انساني شخصیت قوت یا د"انا" د توان په بشپړه توګه په کار اچولو باندی ډیر زیات ټنګارکړی دی او په خپلو خیالاتو کښنی یی ځایی پر ځایی ددغه نکتو د څرګندلو په اړه زیاته هڅه په کار اچولی ده. چی په خپلو شخصی هیڅو پرله پسې کوښښ اوځکښناری سره د دنیا څه چی د کائناتو تر هر څه ګران او مشکل کارو نه هم د انسان په توان کښنی راتلایی شی. ضرورت

فقط ددی خبری دی چی انسان باید په پیل کښښی و دغه ستونز وته غاړی نه واچوی. بلکه په زیات نه زیات جوش همت او مړانه سره ګامونه مخ په وړاندی پورته کړی. پر دغه امر دی پشپړه باور ولری. چی بریالیتوب به ددهٔ مقدر جوړیږی. خښتن تعالی چی د انسان وشخصیت یا خودی ته کوم توان وربخښلی دی دومره فضل بی پر کړی دی چی که موږ دغه په کار واچو نو دخپل کورنی خپل هیواد څه چی د درستی نړي قسمت وربدلولی شو.۱۸۷:۱٤۲

میاں رابزم برساحل که آنجا
نوائے زندگانی زرم خیز است
بدر یا غلط وباموجش در آویز
حیات جاودان اندر ستیز است۱۳۱:۴۵

ژباړه:

چیری چی په ساحل دی ګرم نه کړی محفلونه
کمزوری دغه ځای ده د ژوندون توله غوغا
په جنګ سه د موجونو سره دا نکه سمندر ته
کوشش دی ذریعه ده که ته غواړی تل بقا ٤۱:۷۱

تنگی ات پنہا پذیر د درجهان
کارتو اندام گیرد در جهان
دست رنگین کن زخون کو سهار
جوئے آب گوهر از دریا برآر

جستجو را محکم از تدبیر کن
انفس و افاق را تسخیر کن۱۳۰: ۱۴۳

(ژباړه)

څومره څومره چې تنګتا ستاځې اوغړیږی په دنیا کې
هومره هومره به ستا کار نوښنه .خوړیږی په دنیا کې
ستې ونغاړه آرام شه غرونه واړوه په بله
د ګوهر د ځل واله نن له سیندرا واله ای ګله
د لټون چاره مضبوطه په تا بیا او په تدبیر کړه
بې له خدایه پاتې هر څه په مړدی وله تسخیر کړه
۱٤۲:۷۰

فضل رحم ساقي

دنمانځه نه دی دعا کړله درازه
لاس دی پورته دی نیولی اوخوله وازه
که لاس کښنته کړی هر څه کښنته پراته دی
د کار خلق توقع کړی له کار سازه۹۹:٤٥

اقبال

مي کش بار دوعالم دوش او
بحر وبر پرورده آغوش او
بر یخو تندر مدام افگنده گوش
برق اگر ریزد گیرد بدوش

نا چیز جہان مہ و پروین ترے آگے
وہ عالم مجبور ہے تو عالم آزاد
شاہیں کبھی پرواز سے تھک کر نہیں گرتا
پردم ہے اگر تو تو نہیں خطرہ افتاد ۱۲۷ : ۷۲

ژباړه:

ستا ترمخه د سپوږمۍ ستورو دنیا څه
د مجبورو دنیا را اوته آزاد
څوان شاهین په الوتونه ستړی کیږی
که مضبوط یی خطر نشته د افتاد ۶۷: ۷۰

از عمل آہن عصب می ساز دت
جائے خوبے در جہان انداز دت
خستہ باشی استوارت می کند
پختہ مثل کو سارت می کند ۱۳۰: ۱۲۸

(ژباړه)

له علمه یی ستا په تن کښی پلی دا اوسپنی کولی
څنګه یی ته په دې جهان کښی په درانه ځای کښنولی
کمزورتیا د لری باسی مضبوطوالی ډیروی ستا
له اوچتو دنګو غرونو هم کلکوالی تیر وی ستا
۱۰۶: ۷۰ – ۱۰۷

فضل رحیم ساقی

هومره هیله تری کوه چې خومره کار کسي
لاس په لاس چې مدام ناست دی ځان به خوار کسي
ستا په ښکار باندې به ګوډ او شل سړیږی
شه مزری د ولګې مری د نته ښار کسي ۹۹:۴۵

اقبال

چو موج مست خودی باش وسربطوفان کش
ترا که گفت که بنشین وپابدامان کش
بقصد صید پلنگ از چمن سرابر خیز
بکوه رخت کشاخیمه دربیابان کش
به مهرو ماه کمند گلوفشار انداز
ستاره راز فلک گیرد درگریبان کش ۱۳۲: ۷۲

ژباړه:

دا درته چا اوويې چې پښنې اوغزوه کښېنه
مسته شنه چپه شه له خپل ځانه طوفان جوړ کړه
پاسه له چمنه د پړانګانو په ښکار لاړ شه
غرله خمیو ډک کړه له صحرا ګلستان جوړ کړه
پورته شه دا نمر سپوږمي په خپل کمند کښې ګیر کړه
ستوری کړه رامات اوپری رونق ډګریوان جوړ کړه
۷۳:۷۲

سیده بشری بیګم

ته پخپله بندی په قفس شان د پرواز دی کوم دی
پرپړده د زړګو خیال په دی نظر د باز دی کوم دی
په سمندر د عاشقي ګوری ورګله چی نه شی
ستا دهمت لامبو رهبر توکل جهاز دی کوم دی

۹۷:۷۲

اقبال فقط او فقط طاقت د ژوندانه د تیرولو پیلامه ګڼي

تقدیر کے قاضی کا یہ فتوی ہے ازل سے
ہے جرم ضعیفی کی سزا مرگ مفاجات ۱۲۶ : ۱۵۷

ژباړه:

د تقدیر د قاضی ګوره د ازل نه دا فتوی ده
دګناه دکمزورتیا له سزا مرګ مفاجات

۲۱۰:۶۵

سید محمد همایون

څوک چی د بل په ویسا پایی بائیدلی نه دی
زیست اوپابنت دی په دینا د مټ او سوتی
طاقتور پای په دنیا د کم طاقت په غوبنو
خوراک د باز تارو تیتر او بی وسه سپی ۲۵:۹۲

# عشق او عقل

داقبال په اصطلاح کښې د عشق بغیر هیڅ هم نشته. ایمان هم د عشقه وجود مومی یا عشق د ایمان ساری دی. اوعقل د فکری اعمالو د لاربنوونې او ځان اچونې له رویه د ژوندانه مرکزی اړتیا وی بشپړ وی. ددغه مرام په خاطر د عقل پرختګ وشو.

اقبال وعشق ته د عقل په مقابله کښې ارزښت وربخښې. ددی له کبله چې په عشق سره د څیزونو بشپړه علم اوپوهه تر لاسه کیږی. بیا وبلی خوا ته چې په انساني ژوندانه کښې د عشق څومره اثر وجود لری عقل د هغه په نسبه لانه دی. د ژوندانه هنګامه د عشق له رویه پیداده. اوکه زړه هم د عقل په څیر فرزانه وایې بیا به د ژوند مزه خړه وایي. ٤٩:١٤٥

اقبال

بے خطر کود پڑا آتش نمرود میں عشق
عقل ہے محو تماشائے لب بام ابھی ١٢٥ : ٢٧٨

ژباړه:

بې خطره په ډاډه زړه توپ کړ عشق د نمرود اور ته
حق حیران په تماه دی ورته عقل په بام لا٦٣:٣١٨

سیده بشری بیګم

عقل حیران د بام پر سر په تعجب ولاړ دی
عشق داور لمبوته غیږی دخلیل ورکوی ٢١:٢٤

اقبال

زیر کی از عشق گردد حق شناس
کا ر عشق از زیر کی محکم اساس
عشق چون با زیر کی ہمبر شود
نقشبند عالم دیگر شود
خیز و نقش عالم دگر بنہ
عشق را با زیر کی آمیز دہ۱۳۳:۶۵

ژباړه:

چې ملګرې دغه عشق د زیرکۍ سره کوم دم شي
راپیدا ددغو دواړو یو بل نوی عالم شي
پا څه پاڅه د بل نوي جهان جوړ کړه بنیادونه
ته دعشق او زیرکۍ په امتزاج کوه کارونه۷۱:۷۳

امیر حمزه شنواری

اتحاد د زړه او عقل سره بنه دی
چې باچا اووزیریوشي کار اسان شي۴۲:۵۳

سید رسول رسا

امامت د عشق چې غواړې عشق په عقل سرمنه شي
زړه کښې حب اول پیدا کړه پس له هغه پیش امام شه
۱۹:۵۳

اقبال

چہ می پرسی میاں سینہ دل چست
فرد چوں سوز پیدا کرد دل شد
دل از ذوق تپش دل بود لیکن
چویک دم از تپش افتاد گل شد۱۳۱: ۳۷

ژباړه:

چي زړه سینه کي شي څه دي پوښتني یې څه حالونه
چي مل د عقل سوز د محبت شه نو شه دل
په سوز د محبت سره زړګي ګوره زړګي دي
ددی نه بینوا چي شه کوم وختي بیا دي ګل۷۱: ۳۰

سید رسول رسا

عقل څه خو انتهایي حیرانتیا شي
انتها د عشق هم دا بي انتها شي
فقیري قلندري لا بل مقام دی
انتها د فقیر څه خو سم الله شي۲۱: ۲٤

اقبال

تو ہنوز شناسی کہ شوق بمیرد ز وصل
چیست حیات دوام سوختن ناتمام

فضل حق شیدا

په وصال کښې طمع قطع خواهش مړشی
هرطالب دخپل مطلوب نه جدا ښه دی

۸۸:۵۳

سید رسول رسا

ته تراوسه په دی پوهه نه شوی وصال مینی لره مرګ دی
که دعشق حیات دی غواړې دهجران په سرولمبوشه

۸۹:۵۳

عشق د خدایه داسی غواړه چې یو سوز ناتمام درکړی
چې سحری چرته نه وی د هجران هغه ماښام شه۹۹:۵۳

اقبال

سن اے طلبگار درد پہلو میں ناز ہوں تو نیاز ہو جا
میں غزنوی سومنات دل کا ہوں تو سراپا ایاز ہو جا
نہیں ہے وابستہ زیر گردوں کمال شان سکندری سے
تمام ساماں ہے تیرے سینے میں تو بھی آئینہ ساز ہو جا
غرض ہے پیکار زندگی سے کمال پائے ہلال تیرا
جہاں کا فرض قدیم ہے تو ادا مثال نماز ہو جا

۱۲۵: ۱۲۹۔۱۳۰

ژباړه:

اے د زړه د درد طالبه چې زه نازيم ته نياز شه
غزنوی د زړه سومنات ته يم ته سرترپښنو آيازشه
دا کمالِ يواځې سر د سکندرپوری خونه دی
ټول سامان دی ستا سينه کښې ولی ته همِ آئينه سازشه
د ژوند د جنګ نه دا غرض دی چې کامل شی ستا هلال
پخوانی فرض د جهان يی ته ادا لکه نماز شه ۶۳:۱۳۷-۱۳۸

سيدرسول رسا

زاهدان دی تلاش کاندی په نماز کښې
عاشقان دی لټوی ديار په ناز کښې
که موسی ته جلوه ريز په کوه طور شوی
غزنوی لره په زلفو د اياز کښې۲۰:۳۸۰

اقبال

ہے ابد کے نسخۂ دیرینہ کی تمہید عشق
عقل انسانی ہے فانی زندہ جاوید عشق
عشق کے خورشید سے شامِ اجل شرمندہ ہے
عشق سوز زندگی ہے تا ابد پائندہ ہے۱۲۵:۱۵۶

ژباړه:

محبت خودی تمهيد د ابدی ژوند د کتاب
دانسان عقل فانی دی عشق ژوندی وی په دی باب

پلوشو د نمرٓ دعشق نه داجل مابنام شرمیږی
سینه سوز د زندګی دی ترابده چی پاتیږی۱۶۹:۶۳

عشق کی گرمی سے ہے معرکہ کائنات
علم مقام صفات عشق تماشائے ذات
عشق سکوں وثبات عشق حیات وممات
علم ہے پیدا سوال عشق ہے پنہاں جواب
علم نے مجھ سے کہا عشق ہے دیوانہ پن
عشق نے مجھ سے کہا علم ہے تخمین وظن
بندہ تخمین وظن کرم کتابی نہ بن
عشق سراپا حضور علم سراپا حجاب۲۱:۱۲۷

ژباړه:

سینی ګرمه کړے ده معرکه د کائنات
علم مقام صفات سینه تماشائے ذات
سینه سکون وثبات سینه حیات وممات
علم یو څرګند تپوس سینه پټه خوله جواب
مه شه د کتاب چینجی اے د شک ګمان بنده
سینه سراسر حضور علم سراسر حجاب۱۳:۶۷

عبدالاکبر خان اکبر

چرته چی عشق رسی هلته عقل رسیدی نه شی
دا سترګی شکموری دی نابینادی څه لیدی نه شی

عشق له زمان او له مکانه بر پرواز کوی
عقل له حدود دی پاس په بره الوتی نه شی
د عشق د خطرو اندیښنو څه پروانه لری
بی له اندیښنو عقل په بل څه پائیدلی نه شی
عشق ابتدا او انتها د کائناتو شه
عقل له دی علمه ترقیامته اوزګاریدی نه شی
۱۳:۸۸

اقبال

عقل ہم عشق است واز ذوق نگہ بیگانہ نیست
لیکن ایں بیچارہ را آن جرات رندانہ نیست
باچین زور جنون پاس گریباں دا شتم
درجنون ازخود نہ رفتن کار ہر دیوانہ نیست ۱۳۲: ۲٦

ژباړه:

عقل هم عشق دی اوله ذوقه بی خبره نه دی
خو داغریب. لا په دی سینه تیرله سره نه دی
ما په دادومره لیونتوب کښی ګریوان اوساتلو
هرلیونی داسی له ځانه باخبره نه دی۲۳:۷۲
سید رسول رسول
په عقل سرته چا رسولی د عشق کارونه
د دی میدانه هوښیار لرګه دیوانه په کار دی

د عشق داور نه الامان د دوزخ اورهم غواړی
عاشق دعشق سوزان جهان ته سردانه په کار دی

٤٧٨:٢٠

عشق دم جبریل عشق دل مصطفیٰ
عشق خدا کا رسول عشق خدا کا کلام
عشق کی مستی سے پیکر گل تابناک
عشق ہے صہبائے خام عشق ہے کاس الکرام
عشق فقیہہ حرم عشق امیر جنود
عشق ہے ابن السبیل اس کے ہزاروں مقام١٢٦ : ٩٥

ژباړه:

عشق روح د جبریل دعا شق زړه د مصطفی دی
داد د پاک الله رسول دی داد پاک الله کلام
په مستی د عشق تابناکه غوندی د بنکلی ده
عشق یو خام غوندی شراب دی عشق کاسه ده دکرام
عشق فقیه ددی حرم دی عشق سالار دی د لښکرو
عشق د لاری لاروی دی په هرځان په هر مقام١٢٨:٦٥

سید رسول رسا

د الله عشق د خدای رسول د خدای کلام وګڼه
د الله عشق دم جبریل د خدای پیغام وګڼه

د الله عشق رواں دواں په هر مقام وګڼه
د الله عشق د مسلمان ژوندون دوام وګڼه۲۱:٦٤

# عمل

د اقبال کلام د بشپړه انسانیت د پاره د عمل چغه ده. او دی د عمل په ترغیب سره و انسان ته د بریالیتوب زیری ورکوی. او د ډاکټر صاحب یوسف حسین خان په قول

"د اقبال دتمدن په فلسفه کښې دانسان د شخصی اومِلی توان د پارولو زدکړه مور ځای په ځای ونیو.دعلم بغیرهدفونه که هرڅومره لوړ وی.هیڅ معنی نه لری ژوندخپل هر څه دعمل په وړاندی دلاسه ورکوی. او په عمل کښې هغه ترټولو ګړندی دی چی دانسان دداخلی ژوندانه سره اړه لری.په خارجی عمل سره په عالم کښې تصرف پیدا کیږی او په داخلی عمل سره دانسانی ژوندانه بشپړتوب تر سره کیږی"۱٤٥:۱٤٦

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جنہم بھی
یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری ہے ۱۲۵ : ۲۷۴

ژباړه:

په عمل باندی جوړیږی ژوند جنت او دوزخ هم
نه نوری اونه ناری والی دخاکی بدن فطرت دی٦٣:۳۱۳

سید رسول رسا

خاکی انسان په خپل وجود کښې نه ناری نه نوری
جنت دوزخ په خپل عمل دی بی عمله به مری
عمل چی ځوک کوی سیوې د جنتونو به خوری
عمل کونجی ده د جنت عمل یو راز د بری۲۱:۷۷

علم بی شکه په جهان مشکل کشاه ویمنه
عمل بی شکه چی رحمت د پاک الله ویمنه
عمل حیات عمل ژوندون عمل بقا ویمنه
عمل درمان عمل دارو د هربلا ویمنه
عمل دتخت او بخت ضامن په درست جهان دی بنکاره
عمل طاقت عمل قوت په هر میدان دی بنکاره ۲۱:۷۸

اقبال

گلہ از سختی ایام بگذر
کہ سختی ناکشیدہ کم عیار است۱۳۵:۱۰۹

سید رسول رسا

عمل تقدیر عمل تدبیر عمل شمشیر وینمه
عمل د هر افت په زړه کښې ښنخ یو تیر ویمنه
عمل دولت د مومنانو د فقیر وینمه
عمل چی کړی هغه په دین دنیا امیر وینمه

بې عملۍ په دين دنيا باندې لعنت دی رشتيا
بې عملی ملت او فرد ته يوافت دی رشتيا

۷۸:۲۱

اقبال

مجاہدانہ حرارت رہی نہ صوفی میں
بہانہ بے عملی کا بنی شراب الست
فقیہہ شہر بھی رہبانیت پہ ہے مجبور
کہ معرکے ہیں شریعت کے جنگ دست بدست
گریز کشمکش زندگی سے مردوں کی
اگر شکست نہیں ہے اور کیا ہے شکست ۱۲۷:۳۹

ژباړه:

صوفي کښې پاته د جهاد ګرمي پخپله نه شوه
بې عملۍ ته يې بانه کړلو شراب الست
فقهيه د ښار لکه راهب په ګوښينو مجبور شو
چې معرکه د شريعت وی جنګ د ست بدست
ځوانان چې ځان راټولوی له کشمکشه د ژوند
که داشکست نه وی نو ته اووايه څه دی شکست

۱۲۸:٦۷

اوسنی مسلمان اسلام قران کتب بینی ته وایی
د عملی سترګی پټوی دین تن اسانی ته وایی
بی عملی ته مجبوری تقدیر قسمت ته وایی
بی همتی ته د الله رضا اونیت ته وایی۷۹:۲۱

# فرد او ملت

فرد او ملت د اقبال یو بله مشهوره موضوع ده. د اقبال په خیال د فرد ملت سره تړون یوه داسی ذریعه ده د کوم له کبله چی په خزان ځپلی چمن کښی د بهار اسید ته وده کولائے شی.

ڈالی گئی جو فصل خزاں میں شجر سے ٹوٹ
ممکن نہیں ھری ہو سحاب بہار سے
ہے لا زوال عہد خزاں اس کے واسطے
کچھ واسطہ نہیں ہے اسے برگ و بار سے
ہے تیرے گلستان میں بھی فصل خزان کا دور
خالی ہے جیب گلزار کامل عیار سے
جو نغمہ زن تھے خلوت اوراق میں طیور
رخصت ہوئے ترے شجر سایہ دار سے
شاخ بریدہ سے سبق اندوز ہو کہ تو
نا آشنا ہے قاعدہ روزگار سے

ملت کے ساتھ رابطہ استوار رکھ
پیوستہ رہ شجر سے امید بہار رکھ۱۲۵:۲۴۹

ژباړه:

کومه څانګه چې د اونې نه راماته شي خزان کېښي
ناممکنه ده چې شنه شي په وريځو د بهار
دغه عمر د خزان به پرې هيڅرې نه تيرېږي
دا خبره به اونه شي چې به والي چرې بار
ستا په باغ باندې راغلي هم دوَان دي د خزان
جيب خالي له سوچه زرو نه د ګل دي په بهار
کوم مارغان چې به د پاڼړو په خلوت کېښي په نغمو وو
ستا له ګنړې ګورې اونې نه رخصت شو وار په وار
دغه شان له قاعدو او طريقو نه د روزګار
د ملت سره مضبوط د رابطې او ساته تار
اونې پورې نبښتې اوسه په اميد کېښې د بهار۶۳:۲۸۰

ګل باچا الفت دغه موضوع داغه دباغ او ونو په تشبيهاتو لږ څه په بيل ډول بيانوي خو بهر حال پر دغه شعر د اقبال اثر له ورايه څرګنديږي.

په يوه باغ کېښې دي ولاړې ډيرې ونې
هره پاڼړه يې لايقه د ستاينې

خوا په خوا غاړه په غاړه خوله په خوله دی
له یوې خاورې پیدا د یوه کاله دی
له یوې ویالې اوبه ورته راغلې
په یوه هوا کښې تولې اوسیدلې
ددې تولو یو خزان او یو بهار وو
بنه وبدې وو شریک یو بې واکداروو
څنې جګې څنې ټیټې کوز و پاس دی
لکه ګوتې د یوه وجود دلاس دی
یو له بله بې په هر حال کښې شرکت وو
په تمامه معنی یو صحیح ملت وو
لکه باغ یو مملکت وګړه ورو ره
پکې هر قسم ګلونه بوټې ګوره
ونې ډیرې خو باغ یو دی که پوهیږې
که کوې بل رنګه فکر ډیر غولیږې
دوه سکه وروڼه لرې بیل بیل نومونه
بیل رنګونه بیل غږونه بیل خویونه
مګر دواړه اوسیدونکې دیوه کور دی
دیوې سترګې په کور کښې سپین اوتور دی۱٥:٣٤

اقبال

فرد را ربط جماعت رحمت است
جوہر اورا کمال از ملت است
تاتوانی با جماعت یار باش
رونق ہنگامہ احرار باش
فرد می گیرد زملت احترام
ملت از افراد می یابد نظام۱۳۰ ۸۶:

(ژباړه)

که یو تن لره رحمت دی نو ګڼون د جماعت دی
دِ جوهر یې کمال موسی څوک چې غړی د ملت دی
یو دخدای بنه چې توانیږی جماعت سره مل اوسه
که اصرار دی غبنتې پرې په دا پرې کبنې ول اوسه
په ملت کبنې چې ورګډ شی میړه موسی احترام
له میړونو غونډېدلو ملت ومومی نظام۷۰ ۱۰:

امیر حمزه شنواری

دافرادو اتحاد په افرادو شی حاکم
اتحاد لری طاقت دی طاقت حکمرانی ۴۲:۵۳

ګل باچاالفت

په اسلام کبنې فرد تابع د جمعیت دی
د ملت اجماع قانون د شریعت دی

پس د خدای او د رسول له امرونهی
د ښنو بد ومعیار فکر د ملت دی۱۰۸:۵۱

اقبال

فرد قائم ربط ملت سے ہے تنہا کچھ نہیں
موج ہے دریا میں اوبیرون دریا کچھ نہیں ۱۲۵ : ۱۹۰

(ژباړه)

فردملت باندی قایم دی او یواځی هیڅ هم نه دی
موج دسیند کښنی دی بهرګوری بیدیا کښنی هیڅ هم نه دی
۲۱۰:۳۶

امیر حمزه شنواری

یو فرد لکه دځاځکی نه پری لوند نه پری خړوبه
سرسبزه شی چی جل وهلی مرکز بارانی شی
۱۷۱:۵

ګل باچا الفت

په زرګونو کلو ژوند کړی ملتونه
په قرنو قرنو ځلمی وی اولسونه
د افرادو د عروج هسی مثال دی
لکی وی چی دریابونو کښنی موجونه۱۰۸:۵۱

شیرعلی خان

پروت یی ناخبره مسلمانه څه خبر نه یی
پاڅه اوچته خپله کړه داتحاد جنډه
کله چې مومن شی متحد او په ځان پوهه شی
نه ده ګرانه ریخی ریخی به کړی دصیاد جنډه
۱۹۹:۲۶

اقبال

فرد وقوم آئینه یک دیگراند
سلک وگوهر کهکشاں و اختراند
فرد تا اندر جماعت گم شود
قطره وسعت طلب قلزم شود
دردلش ذوق نمود از ملت است
احتساب کار اواز ملت است۱۳۰:۸۶

ژباړه:

د یو بل دوه آئینې دی فرد او قام څه نه دی لری
لکه ستوری آسمان لار دی لا دی تار او ملغلری
که یو تن په کښې ځان ورک کا دملت غونډ ته ورشی
په طلب د لوئیدو کښې دی څاڅکی سمندر شی
زړه کښې یی شوق د ډیر یدلو خوریدلو له ملته
د عمل حساب یی کیږی د ملت له برکته۷۰:۱۰-۱۱

په باغ کښې بوټی باغ وی بې له باغه پخپل نوم دی
بیلتون له جمیعته وچوبی پریشانی شی
ولې رسی سیندونو ته سیندونه سمندر شی
اخر خور سیده شی خو پیدا چې روانی شی
ملت شو هغه کس چې ځان بې ورک کړی په ملت کښې
یو سیند شی سمندر په سمندر کښې چې فانی شی۱۷۱:۵

# د فطرت تسخیر

" داقبال په وړاندی د فطرت کار فقط دادی چې هغه دانسان د خودی د بشپړتوب په لاره کښې خنډونه جوړ کړی. دانسان غوره والی په دی کښې دی چې هغه پر دغو خنډونو بر لاسی شی او حیات را تسخیر کړی. د انسان دغه هڅې تخلیقی بڼه لری. فطرت چې د دغه هڅو مخ نیوی کوی انسان ددغه مخ نیوی له کبله خپل ذهنی توان څرګند وی. اودغه د خپل شخصیت او حساس په رنګ رنګوی. دی په دغه لار کښې د ژوندانه ټول نهام قوتونه رابیدار وی او د ژوندانه بشپړتوب تر سره کوی. ددغه تخلیق او تسخیر په یون کښې انسان ته د عشق جذبه ډیر زیات کومک ورکوی. او د عشق تکی اقبال په ډیره فراخه معنی کښې په کار راوړی دی. چې پر مجاز او حقیقت دواړو باندی حاوی دی او د خودی د ټینګولو یواځنی ذریعه ده"۴۴:۱۴۵

گرم خوں انسان زداغ آرزو
آتش ایں خاک از چراغ آرزو
از تمنائے بجام آمد حیات
گرم خیزو تیز گام آمد حیات
زندگی مضمون تسخیر است وبس
آرزو افسون تسخیر است وبس۱۲۹:۳۴

ژباړه:

د انسان وینه توده ده تل له داغ د آرزوګانو
دا د خاورو کندو وړن دی له چراغ د آرزوګانو
د ژوند جام ته سره .شراب دی تمنا وراچولی
هر څه هر څه په نشه کښې توند په وړاندی ځکه زغلی
په کتاب د ژوندانه کښې یو مضمون دی دتسخیر بس
تمنا چې ورته وای په دا افسون دی دتسخیر بس
۱۱۱:۶۹

شیر علی خان

څومره سیاری دی دنیا ګانی دی خبر نه یم
تول بی ملکیت دی که دورن دی که بیرون بنکاری
څومره مخلوقات دی کائنات کښې دی ژوندی اوسی
ستادوه روزه ژوندون همه واړه ممنون بنکاری
۲۰۲:۲۶

اقبال

گرفتم این کہ جہان خاک وماکف خاکیم
بہ ذرہ ذرہ مادر جستجوز کجاست
نگاہ ما بگیر یبان کھکشان اغتد
جنون ماز کجا شور ہائے وہوز کجاست ۱۳۵:

شیر علی خان

ستا دحکمتونو خزانی چرته لیدی شی ثوک
چا ته چی څه اوبنایی بیا خلقو ته مجنون ښنکاری
شیره مه یه شمیره زه قربان د لیونوی شم
تورو تورو شپو کښنی سرگردانه په لټون ښنکاری
۲۰۲:۲٦

فصل رحیم ساقی

چی ځلمی پری ملاتړ اوکړی
ناممکن چاری ممکن شی
په تیشه غرونه سوری کړی
چی فرهاد غونډې کوهکن شی
ډیری وی ورانی ویجاړی
ډیری لوړی اوجوری
په کوشش د ښنو مړونو
ځای د ناستې شی گلبڼ شی۷۳:٤٥

# فن

داقبال د فن نظریه ډیر واضح ده. دے هغه فنون خوبنوی چی د تولنی په درد وخوری. ددغو فنونو په ذریعه اقبال په وګړو کښی د خودي د جذبې پیدا کولو په هڅه دی چی دا ډول د یوه غښتلی مرد مومن و اوچتِ مقام ته ځان ورسوی نو له هم دي کبله دده په وړاندی یو غوره فن هغه دی چی په انسان کښی خودی راوپار وی. او دخودی په بشپړتوب کښی کومکې ثابت شی. چی د جذبو اصلاح وکړی او انسانان پاکبازه او پاک نګاه جوړ کړی.

سرود وشعرو سیاست کتاب و دین وہنر
گہریں ان کی گرہ میں تمام یک دانہ
ضمیر بندہ خاکی سے ہے نمود اس کی
بلند تر ہے ستاروں سے ان کا کاشانہ
اگر خودی کی حفاظت کریں تو عین حیات
نہ کرسکیں تو سراپا فسوں وافسانہ
ہوئی ہے زیر فلک امتوں کی رسوائی
خودی سے جب ادب ودیں ہوئے ہیں بیگانہ ۷ ۱۲ : ۱۰۰

ژباړه:

سرود د شعرو سیاست کتاب دعلم وهنر
ګوهر ددوی په لړی کښی دی تمامی یک دانه

راښکاره کیږی د خاوروین بنده له پاک ضمیره
چی ده له ستورو ځنی هم پورته د ده کاشانه
که دخودی حفاظت اوکړی نو هم دا ژوندون دی
اوکه اونه کړی شی نو سرترپښنو افسون افسانه
شی د آسمان لاندی هغه امتونه رسوا
چی د خودئ نه بی دین او ادب شی بیگانه
۹۸:٦۷

سیدرسول رسا

په غلامی کښی موسیقی مصوری زده کوی
یا سینما په نوی رنگ کښی آذری زده کوی
فضول گوی لغوگوئی او شاعری زده کوی
تاسو نامردو په هر رنگ کښی کافری زده کوی
دمسلمان تعمیری فن دآزاد مرد تعمیر
دمسلمان په لاس د خدای د آزادی وو شمشیر
۱۲۷:۲۱

اقبال

عشق و مستی کا جنازہ ہے تخیل ان کا
ان کے اندیشہ تاریک میں قوموں کے مزار
موت کی نقش گری ان کے صنم خانوں میں
زندگی سے ہنر ان برہمنوں کا بیزار

چشم آدم سے چھپاتے ہیں مقامات بلند
کرتے ہیں روح کو خوابیدہ بدن کو بیدار
ہند کے شاعرو صورت گر وافسانہ نویس
آہ بیچاروں کے اعصاب پہ عورت ہے سوار ۱۲۷ : ۱۲۹

ژباړه:

د دوی خیال د مستي مني جنازه ده
دقومو نوی فکرونو کښې مزار
بتخانه کښې یې نقشونه وی د مرګ
د بامبړ هنر د ژوند ځنې بیزار
د آدم د سترګو پټې بلندي کړی
روح وده کړی او بدن کاندی بیدار
آه د هند شاعر لیکوال او مصور
سوره ښځه په اعصابو ده د خوار۶۷:۱۲۸

سید رسول رسا

دی تاسو خیال دی چې په دین کښې قوالی فرض ده
مصوری او موسیقی ضم ګری فرض ده
د غر او ورسخن سازی اوشاعری فرض ده
د عریاني لطیف فنون او فن کاری فرض ده
ستاسو په زړه دماغ او خیال هوس کاری خوره ده
په هزار رنګ کښې بت سازی اوآذری خوره ده۱۲۷:۲۱

اقبال

خویش را آدم اگر خاکی شمرد
نور یزدان در ضمیر او بمرد
چون کلیمے شد بروں از خوشتین
دست او تاریک و چوب او رسن
زندگی بے قوت اعجاز نیست
ہر کسے د اننده این راز نیست۱۳۲:۱۸۸

ژباړه:

ځان چې آدم کله خاکي وشمیري
د یزدان نور د ده په زړه کښنې او مري
چې له خپل ځانه بهر دا موسی شي
لاسونه بې نور شي او رسې عصا شي
د ژوند قوت بې له اعجازه نه دی
خو څوک خبر له دغه رازه نه دی۱۹۷:۷۲

سید رسول رسا

اسلام په هر رنګ کښنې د خوب او خیال جهان ورانوی
د نشې زړه د نشو چمن بوستان ورانوی
د بې عملو وبې کارو ګلستان ورانوی
د خواب آورو مشغلو ساز او هم سامان ورانوی

اسلام کښنی ژوند سخت حقیقت ورنه ګریز سنع دی
ژوند به تیری لکه ژوندی د ژوندِ پرهیز سنع دی۱۲۷:۲۱

# قومیت

د اقبال په وړاندی قومیت او وطنیت چی سرچشمه یی د یورپ خاوره ده د شرک او بت پرستي څخه کم نه دی . ده په اسلام او قوم پرستی کښنی ښکاره توپیر لیدی. دی دغه قومیت د دین د پاره تاواني او ددی رخت د مذهب کفن ګنی په دغه لړ کښنی د اقبال ذهن بیخی صفا دے بی اسلام د قومیت او وطنیت قائل نه دی.

اقبال چی خپل مشهور نظم وطنیت لیکلی دی هغه کښنی دده نظریه ډیره په ډاګه ده

اس دور میں مے اور ہے جم اور
ساقی نے بنا کی روش لطف ستم اور
مسلم نے پھر تعمیر کیا اپنا حرم اور
تہذیب کے آذر نے تراشوائے صنم اور
ان تازہ خداوں میں بڑا سب سے وطن ہے
جو پیرہن اسکا ہے وہ مذہب کا کفن ہے
یہ بت کہ تراشیدہ تہذیب نوی ہے
غارت گر کا شانہ دین نبویؐ ہے
بازو ترا توحید کی قوت سے قوی ہے
اسلام تیرا دیس ہے تو مصطفوی ہے

نظارہ دیرینہ زمانے کو دکھا دے
اے مصطفوی خاک میں اس بت کو ملا دے
ہو قید مقامی تو نتیجہ ہے تباہی
رہ بحرت میں آزاد وطن صورت ماہی
ہے ترک وطن سنت محبوب الٰہی
دے تو بھی نبوت کی صداقت پہ گواہی
گفتار سیاست میں وطن اور ہی کچھ ہے
ارشاد نبوت میں وطن اور ہی کچھ ہے
اقوام جہاں میں ہے رقابت تو اسی سے
تسخیر ہے مقصود تجارت تو اسی سے
خالی ہے صداقت سے سیاست تو اسی سے
کمزور کا گھر ہوتا ہے غارت تو اسی سے
اقوام میں مخلوق خدا بٹتی ہے اس سے
قومیت اسلام کی جڑ کٹتی ہے اس سے ۱۲۵ : ۱۶۱

(ژباړه)

په دې دور کښې شراب نور دی او جام بل دی او جم بل
بنا کړی دی ساقي قانون د لطف او ستم بل
مسلمان هم دې جوړ کړی ځان ته نوی حرم بل
د تهذیب آذر تراشلي دي دې دور کښې صنم بل

او په دې تازه خدايانو کښې لوی تولو نه وطن دی
د وطن چې کوم ځادر دی د مذهب هغه کفن دی
دا بتان چې دی تراشلی درته نن نوی تهذيب
لوټ کونکی سود کور دی د پاک دين د پاک حبيب
ستا په مټو کښې طاقت خود توحيد دی ستا نصيب
نو اسلام دی دی وطن ته مصطفی ته يې قريب
ننداره دی پخواني ښکاره کړه اے مصطفوی
دغه بت خاوره کښې خاوری کړه چې تل به خاوره وی
يو مقام کښې که راګير شوی نتيجه ده تباهی
د وطن پرښوول سنت دی د محبوب الهی
ورکړه ته د نبوت په صداقت هم ګواهی
په ګفتار د سياست کښې وطن نوم دی د بل څيز
په ارشاد د نبوب کښې وطن نوم دی د بل څيز
په قامونو د جهان کښې رقابت دی هم له دې نه
اخستل د ملک مقصود د تجارت دی هم له دې نه
که خالی د صداقت نه سياست دی هم له دې نه
د کمزروی په کور باندی که غارت دی هم له دې نه
د خدای يو شان مخلوق که قام قام کيږی هم له دې نه
داسلام دقوميت جرړی پريکږی هم له دې نه ٦٣-١٧٤

هم دغه افکار اسیر حمزه شنواری په خپل نظم قومیت او مذهب کښې په کار راوړی دی

په دنیا کښې انسان دی د یو ذات
دی اقوام یې مختلف لکه صفات
چې وجود د ګنډهیر زغملی نه شی
حقیقت منلی نه شی د نبات
اختلاف خود هستی روح روان دی
ارتقا ساتی ژوندی اختلافات
دی مجرم د ارتقاد بندولو
چې کوم قام فنا کړی خپل امتیازات
چا چې خپل خصوصیت پربنود فنا شو
څوک یې نه ګوری چې زنګ واخلی میرات
په خپل رنګ کښې ځان ساتل د امن روح ده
قبلوی د پردی درنګ دی فسادات
بیا دا ټول دی ضابطه کښې دمذهب وی
په ژوندون اجتماعی کښې مساوات۵:۲۰۲

اقبال

هر که آب از زمزم ملت نخورد
شعله های نغمه درعودش فسرد

فرد تنہا از مقاصد غافل است
قوتش آشفتگی را مائل است۱۳۰:۸٦

ژباړه:

د ملت اوبه زمزم چې د مرې نه خکته نه شي
د هغه د ساز په غږ کې د لبنو تاونه سړه شي
فرد یواځې بې مقصد دی نه د تلو نه دریدو دی
شته قوت یې شته په ئن کښې ولې مخ په خوریدو دی

میر رحمان غازی

کوم یو قوم چې ځان له ډله جوړه کړي جدا شي
سخت قانون په هغو راشي زرفنا شي ١٦٥:٥٨

# کامل مرد

داقبال د کامل انسان تصور دده د خلافت الیه د اسلامی تصور سره تړون لري. ددې نه په چپه ده د ځنو نورو اسلامی مفکرانو د ذهني روایاتو دشتمني څخه هم ګټه تر لاسه کړی ده. په کومو کښې چې محی الدین ابن عربی اور عبدالکریم جیلی شامل دی. دغه راز اقبال ددغو نومیالیو مفکرانو په استفاده سره په دغه نوی دور کښې د کامل مرد تصور وړاندی کړ. او وی ویل چې په خپل نفس کښې د فطرت د ټولو قوتونو رایو ځای کول په میړنی سومن کښې د عناصرو د تسخیر یو نا ولده صلاحیت پیداکوی. د کوم له کبله چې دی خپل ځان دنیا بت الهی قابل ثابتوالی شي. دده یو نظر د وګړو په

فکرونو کښې زلزلې راولې او د قومونو په تقدير کښې انقلاب راپا روی.

چون عناں گیرد بدست آں شہسوار
تیز تر گرد سمند روزگار
خشک سازد ہیبت اونیل را
می برد از مصر اسرائیل را
ذات او توجیہ ذات عالم است
از جلال او نجات عالم است۱۲۹:۴۵

(ژباړه)

شهسوار نائب چې واخلي پخپل لاس کښې دوخت ولينې
خشمناک شي دده لاندې دغه اس په تريو وينې
له هيبته که يې خبر شي نو وچ کړس درياب د نيل کړي
د فرعون له قيده خلاص دې و اولاد د اسرائيل کړي
حقيقت د دے عالم ته ده توجيه د نائب ذات
د بزرګۍ له برکته يې عام وسوندو نجات۱٤۲:۱٤۱:٦۹

فضل رحيم ساقي

چې په جنګ کښې درسره وې همر کابه
ويره نه کوی له اوره له دريابه
د هغې ځوانانو قدروقيمت بويه
هغه وخت چې دوی الله کړی فتحيابه ٤٥:٩٥

سنگ رہ گردد فسان تیغ عزم
قطع منزل امتحاں تیغ عزم
مثل حیواں خوردن آسودن چہ سود
گر بخود محکم نہ بودن چہ سود
گر فنا خواہی زخود آزاد شو
گر بقا خواہی بخود آباد شو
از خودی اندیش و مرد کار شو
مرد حق حامل اسرار شو۱۲۹:۵۳

(ژباړه)

د لارکاڼي خو برجوشی د نیت تیغ تیره کولو
امتحان د تیری توری شی د لار په غسولو
د څاروی ژوندون د ورک شی ډکیدو د تشیدو دی
چې خودی مضبوطه نه وی نوغ خیر دپاتیدو دی
که دی خوبنه وی چې ورک شي له خودی ځنی آزاد شی
که وی زړه غواړی چې شه شي له خودی ځنی آزاد شه
د خودی په لار روان شه کاروکونکی ځوان د ځای شه
نه راوړنکی د رازونو سیړنی بنده د خدای شه
۱٦۷:۱٦٦:٦۹

فضل رحیم ساقی

بنه مړونه خوری ګټلی د خپل لاس
خپل لاس نه خوبنوی لاندی د بل لاس
تر هغی بی په قلاره باندی نه ګرځی
چی ترخو ورله بنده نه کړی داجل لاس ۹۹:٤٥

اقبال

کوئی اندازہ کر سکتا ہے اس کے زور بازو کا
نگاہ مرد مومن سے بدل جاتی ہیں تقدیریں ۱۲۵ :۲۷۱

(ژباړه)

څوک کولی اندازه شی د هغه د سټ زور لا
دمومن سړی نظر باندی بدلیږی تقدیرونه ۳۰۹:٦۳

سید رسول رسا

ذوق دعمل دبیداری اوحرکت پیدا کړی
دا دوزخی ژوندون دخپل عمل جنت پیدا کړی
مسلم خو ورور دی دمسلم دا اخوت پیداکړی
بیا دپخوا په شان دیوبل محبت پیدا کړی
بیا هغه شوق زړه کښی رشتیا د شهادت پیدا کړی
یعنی یوځان شی په جهان کښی یوملت پیدا کړی
۱۲۹:۲۱

اقبال

اے سوار اشهب دروال بیا
اے فروغ دیده امکان بیا
رونق هنگامه ایجاد شو
در سواد دیده آباد شو
شورش اقوام را خاموش کن
نغمه خود رابهشت گوش کن
نوع انسان مزرع وتو حاصلی
کاروان زندگی رامنزلی۱۲۹:۴۶

(ژباړه)

د دوران د نیلي سوره انتظار کښنی ناست یو راشه
د دنیا د سترګو توره ستا په لار کښنی ناست یو راشه
د جهان د هنګامی ته رونق راشه بنه یی آباد کړه
د میشتنی په نیت راشه سوړ د سترګو دا هیواد کړه
د قامونو شور کړه غلی د بنادی غوندی پر راشه
په غوږ غوږ کښنی جنت جوړ کړه په سندرو لکه وراشه
د انسان نوغی پټی دی ته ددې پټی حاصل یی
قافله د ژوند روانه او هم ته ددی منزل یی ۱٤٥:٦٩:١٤٦

اې مسلمه ددی دور سردار ته یې
په تمام عالم کښې یو جهاندار ته یې
ته پابندوې د حکمونو د الله
په دنیا منلی شوی کردار ته یې
ستا سینه ډکه د علم د رڼرا ده
توری شپې د جهالت ته انوار ته یې
چې ترپښوی لاندی کړی کل جهان وو
واوره هغه د دنیا شهوار ته یې٤٥:٢٤

اقبال

مصاف زندگی میں سیرت فولاد پیدا کر
شبستان محبت میں حریرو پرنیاں ہو جا
گذر جا بن کے سیل تندرو کوہ وبیاباں سے
گلستان راہ میں آئے تو جوئے نغمہ خواں ہو جا۱۲۵ : ۲۷۴

ژباړه:

د ژوندون د جنګ میدان کښې د فولاد خوی راپیدا کړه
د ریښمو غوندی یوست د محبت په شبستان شه
تیز او تند سیلاب شه تیر شه ته له سمی غره نه تیر شه
ګلستان که راغی مخکښې نولبنتی شه نغمه څوان شه
٣١٢:٦٣

د ممکن کار د کیدو هیڅ هنر نه دی
هر چې وی نا ممکن هغه کیدل زده که
له تکلیف نه جاروتل ځوانمردی نه ده
درد و غم په خوشحالی تیریدل زده که
د بی خونده زندګی نه مرګ بهتر دی
په دنیا کښې په عزت اوسیدل زده که۲٤:۱۰۱

اقبال

نائب حق ہمچو جان عالم است
ہستی او ظل اسم اعظم است
نائب حق در جہان بودن خوش است
بر عناصر حکمران بودن خوش است
از رموز جزو کل آگہ بود
درجہان قایم بہ امر اللہ بود
مدعائے علم الاسما ستے
سر سبحان الذی اسراستے۱۲۹:۴۵

(ژباړه)

په دنیا د خدای نائب شه داد ریښتونی بنادسنی دی
عناصر باندی غالب شه دا ریښتونی بنادسنی دی

دا دنيا د خاورو تن دی او دخدای نائب یی ساه ده
دی اسم اعظم سیوری داسی ساه نه چی هوا ده
ټول د جز او کل رمزونه چی څه وی دے تر خبر وی
د خدای امر کړی دنيا ته په له دے ور دبرنه بروی
مدعا په دی دنيا کښنی وی دعلم الاسماء دی
اوهم راز په دی نړئ د سمان الذی اسرای وی
۱٤۰:۱۳۹:٦۹

سید رسول رسا

پخپل شکل یی روغ کړودانسان به څوک اعلی شی
هم ده سره رازباز کړی هم له ده یی مشغولا شی
په ده کښنی عکس ښکاری والله د صفتونو
انسان چی شی انسان نو په صفاتو د الله شی۲۰:٤٦۷

سید نصرالله جان

دی په ذات انسان د رب ښکلی مظهر
په خلافت یی کم مامور لکه نوکر
ټول نظام د دنیاګی ورله سپارلی
مهتمم دی د جهان د بحرو بر
نور مخلوق که حیوانات دی یا جنات
په رتبه کښنی دی انسان ته واړه لر۸۵:۲۵

يو بل ځای سيد نصرالله جان دغه مفهوم په لږ څه بيل انداز داسی بيانوی

قابل د انتظام دی په دنيا کښی بنه انسان
د رب تعالی دی بنه منظور
الله دی پيدا کړی کائنات که مخلوقات
ستوری سياري شمس قمر او سماوات
مزکه سمندر غرونه ځنګلی نباتات
مارغان و ځناور او ملائک او هم جنات
پيدای کړلو انسان بنه مزين په بنه صفات
بيا يی غوره کړو په ټولو کښی دی هم وای قرآن
په مزه که شه مامور٦:٩٢

# افغان ملت

اقبال چی د مرد کامل 'مرد مومن' صاحب خود آګاه ' صاحب بيخودی کوم کردارونه تراشی. دغه ټوله صفتونه په ملت افاغنه کښی پريوه ځای باندی وينی. له هم دي کبله اقبال د افغانانو ښخه يو شمير هيلی تړلی وی. د همدغه هيلو په وجه په خپله شاعری کښی ځان پر ځای و افغانانو ته مخاطب وی. کله د "اوغافل افغان جاګ" غږ پورته کوی. کله خو ياد "خطاب به ملت کوهساران' په ذريعه وافغانانو ته خپل تيرشوی برم په ياد ورولی ځای پر ځای د افغانستان نوميالیو ته لکه احمدشاه بابا، سلطان محمود غزنوی،

غازی امان الله خان، حکیم سنائی ، نادرشاه افغان اواعلی حضرت ظاهر شاه وغیره ته پیرزوینی وړاندی کوی.

آسیا یک پیکر آب وگل است
ملت افغان دراں پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
در کشاد او کشاد آسیا۱۳۳:۱۷۸

ملک د ایشیا که یوقالب دآب وګل دی
دادپښتنو ملت په دې قالب کښی دل دی
دې کښی که فساد راشی فسادی د ایشیا دی
دې کښی که وفراخه نو کشادهی دایشیا دی
۲۰۸:۷٤

سلطان محمد صابر

ساری نه لری پښتون په آسیاکښی
شک یی نشته په نسب د آریا کښی
د غیرت په مټو مست قام دی صابره
تل ژوندی دی ددی غرونو په فضاکښی۱۲:۳۳

خدای بخښلی سید شمس الدین مجروح هم د افغانستان خاوره د آسیا د سرتاج بللی ده.

چی دی خاوره د سرتاج د ایشیا ده
دجنت په شان دی زمکه نورانی

دآریه نژاد ځانګو هم غیره ستا ده
د زاړه تمدن ته یې ودانی۲۳:۳٦

دافغانستان مترقي شاعر سلمیان لائق هم افغانستان ته د آسیا تاج وایی

ای دآسیا تاجه د لرغونو عظمتو کوره
ګران افغانستانه د زړه سره پښتو ګوره۱۵:۲

امیر حمزه شنیواری

نور همه غمونه زه زغملی شم چی څه دی
بس خو یو غمونه د افغان مه راکوه۵۳:۲٤

اقبال

تیری بے علمی نے رکھ لی بے علموں کی لاج
عالم فاضل بیچ رہے ہیں اپنا دین ایمان
اپنی خودی پہچان اوغافل افغان ۱۲۷:۱۲۹

ژباړه:

ستا بی علمي او ساته عزت د بی علمانو
خرڅ کړو عالمانو فاضلانو دین ایمان
خپله خودی اوپیژنه اوغافل افغان٦۷:۱۷۲

محمد موسی شفیق

کاشکی سړوی چی می هیڅ نه وی لیدلی
داده ستا په مرګ حساب ژوندون افغانه

نه شرمیږی تول قومونه سره یو شول
ته شلیدلی تنہي پروت یی پریشانه۲۱:٥٤

اقبال

یہ نکتہ خوب کہا شیرشاہ سوری نے
کہ امتیاز قبائل تمام تر خواری
عزیز ہے انہیں نام وزیری و محسود
ابھی یہ خلعت افغانیت سے ہے عاری
ہزارو پارہ ہے کہسار کی مسلمانی
کہ ہر قبیلہ ہے اپنے بتوں کا زناری۱۲۷:۱۷۷

ژباړه:

ښه نکته راوستی ده شیرشاه سوری
جدای د قبائلو ده خواری
خوش لری د وزیر محسود په نوم
د خودی پښتونولي نه انکاری
زرتکړي ده د کهسار مسلمانی
هره ډله ده دخپل بت زناری۶۷:۱۸۰

محمد موسی شفیق

دهاتی غوږ کښنی اوده یی بی انصافه
فلک ګرځی داسمان په کنارو کښنی

ته لاوایي الف بې دتربګنیو
دنفاق اوجهالت په سهپارو کښنې ٦٨:٥٥

اقبال

رومی بدلے شامی بدلے بدلا ہندوستان
تو بھی اے فرزند کہستان اپنی خودی پہچان
اپنی خودی پہچان او غافل افغان ١٢٧: ١٦٨

ژباړه:

روم بدل شو شام بدل بدل شو هندوستان
خپله خودی اوپیژنه مرد کهستان
خپله خودی اوپیژنه او غافل افغان١٧١:٦٧

عبدالمالک فدا

قومونه ویښ شو سپین صبا دی تاله خوب راغی
پښتونه ویښ سه په دینا کښنې انقلاب راغی
٦:٤١

سیده بشری بیګم

دغفلت دخوبه پاڅه بې همته
سرتبه دی شوه دتوله دینا بنکته
سترګی رونړی که داخه کیږی دنیا کښنې
کشتي بچ کړه دګرداب دهلاکته ١٠٥:٢٤

داقبال د نظم او غافل افغان مجموعی اثر تخمینا د پښتو پر

بشپړه شاعری باندی لویدلی دی. د افغانستان څخه د روسی افواجو د شکست پس د افغانانو په نصیب یو ځل بیا نړیوال ویاړ شو. افغان ملت د شلمی صدی اتل ثابت شو ځکه چی د پیړۍ پیل کښنی یی د هغه وخت د دنیا یاغر قام انګلیس ته ځان خوړونکی ماتی ورکړه. او نړي یی د تل د پاره دده د ستم څخه خلاصه کړه او د شلمی صدي په پای کی یی نړي د روسی جبرا وادستعدادڅخه دتل د پاره خلاصه کړه اوس چی د یوشتمی صدی پیل دی او امریکای ځواک بیا په بریتو لاس وهی او دخدای دعوای کړی ده یو ځل یی بیا دغه د محترم عبدالحی حبیبی پرچم د ځوزانو ګوله په خوله کړه ګوره چی تاریخ بیا د یوشتمی صدی د پیل ویاړ چا ته سپاری بغداد ته که کابل ته؟

سیده بشری بیګم

ښائسته ډیوه په لاس د علم واخله

قوم بهر کړه د تیروله جهالته ۲۴:۱۰۵

اقبال

وہی حرم ہے وہی اعتبار لات ومنات

خدا نصیب کرے تجھ کو ضربت کاری ۷ ۱۲۷ : ۷ ۷ ۱

امیر حمزه شنیواری

ولی په سیند کښنی دغموڼو ډوبیدل غواړی ته

رسم ورواج پرېږده که بیا اوچتدل غواړی ته

افسوس افسوس داغ دی په زړه دجهالت ولګید
مرض دستا په هستي څکه دحسرت ولګید
رنګ دتهمت دی په لمن هم دغیرت ولګید
په فضولیاتو دی دپلار نیکه دولت ولګید
وکړه تعلم که له دی رنځه رغیدل غواړی ته
رسم ورواج پریږده که بیا اوچتیدل غواړی ته
۱۳۳:۵

# ملت او خلافت

"حکومت او سروری د اقبال په خیال د چوپړ وهلو دویم نوم دی. لیکن په انسان کښی د ریشتونی او بے غرضه خدمت ماده تر هغو نه شي پیدا کیدلے تر څو چې د دواړه چارو بنسټ پر عشق نه کیښنوول شی. او په واړه امورو کښی د یقین او ایمان د مشعله څخه رڼرا ترلاسه نه شي. یا په بله معنی د درویشی او سلطانی تړون یو په بل کښی بیخی ضروری دی"۱۳۹: ۶۰

سروری در دین ما خدمت گری است
عدل فاروقی فقر حیدری است
در ہجوم کار ہائے ملک ودین
بادل خود یک نفس خلوت گزین
آن مسلمانان کہ میری کردہ اند
در شہنشاہی فقیری کردہ اند

ہر کہ عشق مصطفیٰ سامان اوست
بحر و بر در گوشہ دامان اوست
روح راجز عشق او آرام نیست
عشق اوروز سیت کورا شام نیست ۲۱:۱۳۱

ژباړه:

زموږ په دين کښې خادمی ده سرداری
فاروقی عدل دی فقر حيدری
خدمتونو کښې ددين اودملت
د زړګی سره کوه پټ مصلحت
سرداری کړله ، هغی مسلمانانو
چې شاهی کښې يې وو خوی د فقيرانو
چې سامان شه د چا عشق د مصطفیٰ
په پلو کښې د لمن يې شوه دنيا
د بنی ميه دی روح لره آرام
ددې مينی ورځ له نشته دی مابنام ۸:۷۱

ګل باچا الفت

بې له پوهی بې له عدله له رحمه
په چا باندی روا کله حکومت دی
د يوه شخص نوکری خو غلامی ده
لوی عزت د خپل وطن او قام خدمت دی

چې خپل ځان ګڼي خادم د خادمانو
په دې راز پوهیدلی نن الفت دی۱۰۳:۵۱

اقبال

تانه رمز لااله آید بدست
بند غیر الله نتوان شکست
نقطهٔ ادوار عالم لااله
انتهائے کار عالم لااله
غیر حق چون ناهی و آمر شود
زورور بر ناتوان قاهر شود
زیر گردوں آمری از قاهری است
امری از ما سوا الله کافری است۱۳۳:۷۱

ژباړه:

بغیر د حق نه څوک چې شي حاکم په انسانانو
جاري شي ظلم زور د زور ورو په خوارانو
د دې فلک نه لاندې امرې خو قاهري ده
د خدای نه ما سوا چې امري وي کافري ده۷۳:۴۷

امیر حمزه شینواری

نن د ملت دې منتشره شیرازه وینمه
تل زوړند سردې د سود خور پر دروازه وینمه

در په در شپه ورځ دی مشغول په درویزه ویمنه
بې اندازی دی په هر کار کښنی اندازه وینمه۴۳:۵۳

اقبال

ڈالی گئی جو فصل خزاں میں شجر سے ٹوٹ
ممکن نہیں ہری ہو سحاب بہار سے
ہے لازوال عہد خزاں اس کے واسطے
کچھ واسطہ نہیں ہے اسے برگ وبار سے ۱۲۵ : ۲۴۸

ژباړه:

کومه څانګه چې د اونی نه راماته شی خزان کښنی
ناممکنه ده چې شنه شی په وریځو د بهار
دغه عمر د خزان به پری هیچری نه تیریږی
دا خبره به اونه شی چې به واخلی چری بار۶۳:۲۸۰

فضل حق شیدا

چې تنه پری کړی نو تول بناخونه وچ شی
چې زړه خوږ شی نو په توله بدن کښنی شوردی
دغه ونه ده چې کوم ځای کښنی ولاړه
داچې سیوری یی په تول عالم کښنی خور دی ٦٤:٥٣

# مرګ او د مرګه پس ژوند

مرګ هغه پیدائشي حق دی د کوم څخه چې دهر انسان په چپه هر د روح څښتن هم ونه‌ه تر لاسه کوی. د مرګ د پاره هیڅ ټاکلی وخت نشته چې د دومره وخت پس یاد دومره تقویمی عمر وروسته به مرګ راځي. ځنې خلق دنیا ته د راتګ سره خپل دغه حق تر لاسه کړی اود مرګ پر ناولده لار رهی شی. لیکن ځنې خلق بیا ډیر اوږد انتظار کوی.

اسلام په لوړی ځل فرد په دنیا کښنې اذاد کړی او دده ارزښت یې د اخلاقو په معیار پوری وټاکی. هغه تعلیم چې دانفرادی ارزښتونو یو داسی تینګ احساس ولری. لکه چې اسلام یې غواړی . هغه د فرد پربیځی فناکیدلو څه ډول یقین کولے شی؟ او وبلی خواته هغه تعلیم چې اسلام و فرد ته په دنیا کښنې د ودی اوارتقارد لوړو پړاونو د تیرلو د پاره ورکړی دی ددغه ارزښتناکه څیز چې د انسانی خودی یا شخصیت یا روح د پاره دی ولوړو ته ورسیږی او هغه د تل د پاره فناکول به د فطرت ستم ظریفی وی. او فطرت چې د کوم څه دتل پاته د ژغونی غم خوړلی دی او پر کومو باندی چې په دغوکولو سړی حیران پاته شی. هغه دی څنګه ختمولے شی.

وہ عشق جس کی شمع بجھادے اجل کی پھونک
اس میں مزا نہیں تپش و انتظار کا
میری بساط کیا ہے تب وتاب یک نفس

شعلہ سے بے محل ہے الجھنا شرار کا
کر پہلے مجھ کو زندگی جاوداں عطا
پھر ذوق و شوق دیکھ دل بے قرار کا
کانٹا وہ دے کہ جس کی کھٹک لازوال ہو
یارب وہ درد جس کی کسک لازوال ہو ۱۲۶ : ۹

هغه مینه چې مشال یې په پوکې د اجل مړ شي
هیڅ مزه نه وی هغې کښې د زړه سوی او انتظار
څه به زه څه به سې توان وی تاوګرسې دیو ساعت یم
دشعلو سره چې نښلي د بڅرو څه دی کار
اول اوبخښښنه وساته هغه ژوند چې تل ترتل وی
تماشا دذوق وشوق کړه بیا بیا ددې زړه بې قرار
ازغې هغه راته راکړه چې څرخیږی تل ترتله
داسې خوږ راکړی یا ربه چې دردیږی تل تر تله
۱۲:٦٥

شیر علی خان

زه دوختونو قیدوبند نه منم
دشمار ورځو دغه ژوند نه منم
مرګ که دیوال دی زه یې سم نړوم
هر څه چې نه شي راڅرګند نه منم

دوخت دقیده آزادی غواړمه
چې زه یې نه شمه خورسند نه سنم
۷٦:۲٦

اقبال

موت تجدید مذاق زندگی کا نام ہے
خواب کے پردے میں بیداری کا ایک پیغام ہے
خوگر پرواز کو پرواز میں ڈر کچھ نہیں
موت اس گلشن میں جز سنجیدن پر کچھ نہیں۱۲۵: ۲۳۴

ژباړه:

دغه مرګ چې ورته وایې د ژوند خوند نوی کیدل دی
په پرده دخوب پیغام د بیدارۍ ور سیدل دی
الوتونکو ته خطر د الوتو نه نه وی هیڅ
دی ګلشن کښې مرګې یې وزروتلولونه نه وی هیڅ
۲٦۳-۲٦۲:٦۳

فضل رحیم ساقی

مرګی څه دی د سرسترګې پټول دی
تصور کښې د جانان غیږې ته تلل دی
دمرګې مرګې له ویرې خلاصیدل دی
تلوسې اندښنې شاته غورځول دی
۲٥:٤٥

سید رسول رسا

سرګ په حقیقت کښې ژوند ته نوی نوی رنګ ورکوی
نوی شکل ورکوی نوی آهنګ او نوی چنګ ورکوی

۱۱۱:۵۳

اقبال

برتراز اندیشه سود وزیاں ہے زندگی
ہے کبھی جاں اور کبھی تسلیم جاں ہے زندگی

۲۵۸:۱۲۵

ژباړه:

ډیر په پورته له فکرونو نه د سود اوزیان دی ژوند
دے وی کله ځان او کله قربان د ځان دی ژوند

۲۹۲:۶۳

امیر حمزه شینواری

سرګ چې ورته وای دهغه نوی لباس دی
ویره د فنا د حوادثو یو وسواس دی
سرګ خاتمه ده د ژوندون ژوندون دوام وګڼه
د ژوند قایم دایم د سرو شرابو جام وګڼه۳۷:۵

اقبال

دل من راز دان جسم وجان است
نه پنداری اجل برمن گران است

چہ غم گر یک جہاں گم شد ز چشم
ہنوز اندر ضمیرم صد جہان است۱۳۱: ۶۲

ژباړه:

زما زړه یي بنه پوهه دي په راز د تن او ځان
چي دا ګمان اونه کړي ګني مرګ دي په ما ګران
که پټ سي یو جهان شه د چشمانو نه غم نشته
سوونه جهانونه سي ضمیر کښني دي پنهان
٦٧:٧١

سید رسول رسا

زه یم جاودان پیم روان همیش زلمی ژوندون
زه د مرګ تیارو کښني لکه لعل رنړغمی ژوندون
زه په سخه ځمه دتکمیل په لور روان یمه
خوک وایي چي زه د مرګ په بند کښني بیدیوان یمه
١١١:٥٣

اقبال

الجھ کر سلجھنے میں لذت اسے
تڑپنے پھڑکنے میں راحت اسے
اتر کر جہان مکافات میں
رہی زندگی موت کی گھات میں

گل اس شاخ سے ٹوٹتے بھی رہے
اسی شاخ سے پھوٹتے بھی رہے
سمجھتے ہیں ناداں اسے بے ثبات
ابھرتا ہے مٹ مٹ کے نقش حیات۱۲۶ : ۱۲۷

ژباړه:

له نښتلو پس جوړښت کښې ی لذت دی
ترپیدو و پرقیدو کښې ی راحت دی
پس جهان د مکافات ته ښکته راغی
ژوند د مرګ په خوکښې ناست خوله ته راغی
ډیر ګلونه له دې ښاخه رژیدل هم
بیا له دې ښاخه څه ګلونه توکیدل هم
نادانان دی چې ګڼړی دا بې ثبات
جګ شی پس د ورانیدو نقش د حیات۶۵:۱۷۲

اسیرحمزه شنواری

ژوند له مرګه پیدا کیږی مرګ له ژونده
د کلی چې زړګی اوچوی بوی خور شی
د پسرلی له زوره بوټی ځی په پورته
سیوه دارشی نوو مزکی ته نسکور شی
مرګی څه دی خو ژوند لری شی د حس نه
لکه جوړ چې شی له سینده فنا شور شی

دغم زره له پیدا او فنا چاودی
چې هر څومره فنا موسی هومره نور شی
ژوند د جنس سره شمول بویه مرګ نه دی
قالب هلته سکون مومی چې به ګور شی
۱٦۲:۵

اقبال

زندگی انسان کی ہے مانند مرغ خوش نوا
شاخ پر بیٹھا کوئی دم چہچہایا اڑ گیا
آہ کیا آئے ریاض دہر میں ہم کیا گئے
زندگی کی شاخ سے پھوٹے کھلے مرجا گئے
اے ہوس خوں رو کہ ہے یہ زندگی بے اعتبار
یہ شرارے کا تبسم دیکھ یہ خس آتش سوار
۱۵۱:۱۲۵
موت ہے ہنگامہ آرا قلزم خاموش میں
ڈوب جاتے ہیں سفینے موج کی آغوش میں
۲۳۰:۱۲۵

ژباړه:

د انسان ژوندون په مثل د مارغه دی خوش اواز
راغی کښېناسته په ښانګه او چغید لاړه په پرواز

آه چمن د دنیا ګی ته موږ څه راغلو او څه ځوترې
دژوند بڼاخ باندی غوټی شو او بیا ګل شو مړاوی شوپرې
اې هوسه ژاړه ژاړه په دی ژوند نشته اعتبار
ژوند مسکا ده د بڅری یا خسنړی په انکار۱۶۳:۶۳
دغه مرګ دی چی جوړ کړی شی غوبل دی په قلزم
چی کشتی بیړی ډوبیږی دموجونو غیږ کښنی هم
۲۵۸:۶۳

سلیمان لائق

څو غوټی ورته خندله بهار تیر شو
لامکان یی کړی نه وو چی وار تیر شو
دشیبو دتیریدو په هنګامه کښنی
ژوندون سترګی خلاصولی قطار تیر شو
۹۶:۱٤

*اقبال*

بندہ حق ضیغم وآہو ست مرگ
یک مقام از صد مقام اوست مرگ
ہر زمان میر دغلام از بیم مرگ
زندگی او راحرام از بیم مرگ
بندہ آزاد راشانے دگر
مرگ اورامیدہد جانے دگر۱۳۳:۱۸۵

ژباړه:

مړګ لکه هوسي پنده د حق زمري هوښياره
مړګ له سل مقامو د يو مقام دده په لاره
هرګړی مري چې وی غلام د مړګ له ويری
ژوند په دی دنيا وی پری حرام د مړګ له ويری
کوم يو چې آزاد بنده د حق دی شان يې نور دی
نوی ژوندون ورکړی جوړ په مړګ باندی يې پور دی
۲۱۷:۷۳۷

سيدرسول رسا

چې په ژوند کښی ځوک د مړګ نه نه ويرېږی
مړګ قابو کړی مړګ ته هر وخت هوسيږی
هغه ژوند د سړ د لاندی قابو کړی
د ژوندو په شان جهان کښی به اوسيږی
٤٦٢:٢٠

# وخت

د اسلام په تاريخ کښی اقبال هغه لومړی پوهاند دی چا چې د ابن خلدون په ډول نه يواځی د زمان حقيقت محسوس کړ. بلکه د برګسون ځخه لا يو ګام زيات ددغی مسئلی پرمعروضی او موضوعی دواړو اړخونو باندی رڼړا واچوله. آو خورا په بريالتيوب سره يې د غه اړه الهياتی کلاوه خلاصه کړه. د اقبال د شاعری په

کتنه سره په ډیره اسانه سره دا اندزه کیداسی شي. چې د زمان د حقیقت احساس دده پر شاعری باندی څومره ، ژوره اغیزه کړې ده.

سلسلہ روز وشب نقش گر حادثات
سلسلہ روز وشب اصل حیات وممات
سلسلہ روز وشب تار حریر دو رنگ
جس سے بناتی ہے ذات اپنی بقائے صفات
سلسلہ روز و شب ساز ازل کی فغاں
جس سے دیکھاتی ہے ذات زیروبم ممکنات
تجھ کو پرکھتا ہے یہ مجھ کو پرکھتا ہے یہ
سلسلہ روز و شب صیرفی کائنات
توہواگرکم عیارمیں ہوں اگر کم عیار
موت ہے تیری برات موت ہے میری برات
تیرے شب وروز کی اور حقیقت ہے کیا
ایک زمانے کی روجس میں نہ دن ہے نہ رات

۹۳:۱۲٦

ژباړه:

سلسله د ورځو شپو ده حادثې چې رغوی
سلسله د ورځو شپو ده مونځ د ژوند او مرګی
سلسله د ورځو شپو ده لکه تار ریښمن دوه رنګ
ترې صفاتو قبا ځان له ذات لګیا دی جوړ وی

سلسله د شپو او ورځو د ازل ساز فغان دی
ذات په دی کښی زیروبم د ممکناتو ښکار وی
کوی ستا کره کتنه هم زما کره کتنه
سلسله د ورځو شپو ده کائنات چی تینګوی
که ناقص او کوته ته یی که ناقص او کوته زه یم
تا به هم مرګی فنا کړی او ما هم به ورکوی
ستا د شپو او ستا د ورځو وایه نور حقیقت څه دی
یوحرکت دزمانی دی شپه اوورځ چی نه لری
۱۲۷:۶۵

امیر حمزه شنیواری

ژوند یو مسافر دی چی فطرت کښی په سفر دی
پټ هم په دغه کښی سکون دی چی مضطردی
ژوند لکه د عکس په آئینه کښی د امکان دی
ژوند چی څنی لاړ شی مکان شته دی خو حیران دی
ژوند دی چی دا زمکه هم اسمان تری سرګردان دی
دی چی وی په مزکه هغه مزکه هم اسمان دی
ده هغه سلګي چی شی نما په څنکدن کښی
هم شی یو سبب د حرکت د مړه په تن کښی
واړه تغیر د عناصرو یی په لاس دی
کن په آئینه کښی د خالق یو انعکاس دی

ژوند دی په جامه کښې د فنا چې تل باقي دی
بس په میخانه کښې د هستي دغه ساقي دی۱۸٤:۵

# ابلیس

د انسان دپاره د شر په ماهیت باندی پوهیدل او په هستي کښې د شر د مقام ټاکنه دوسره ضروری ده. لکه د خیر د ماهیت پوهنه چې څوسره ضروری وی. ځکه چې خیر او شر یو د بل په توپیر سره سرې پویهدل شي. په شرق او غرب کښې ځنو پیشنیو صوفیانو حکماو او شاعرانو د ابلیس څخه د المیه یو زور ور کردار جوړ کړی دی.

په "ارمغان حجاز" کښې د اقبال مشهوره نظم د ابلیس مجلس شوری شامله دی . ددغه نظر په اثر کښې خدای بخښلی حافظ خان مرحوم هم په خپله دیوان کښې یو نظم " شیطانانو په لویه جرګه کښې د غزازیل فرمان" شامل کړی دی. چې د اقبال فکر زور اثرات یې قبول کړی دی مثلا ابلیس په خپله مجلس شوری کښې و خپلو صلاح کارانو ته وایي.

میں نے ناداروں کو سکھلایا سبق تقدیر کا
میں نے منعم کو دیا سرمایہ داری کا جنوں۱۲۸ : ۵

ژباړه:

مادی نادارانو ته سبق دتقدیر ورکړو
هم شتمن ته ما د سرمای وکړو جنون
۲۱٤:٦۸

حافظ خان محمد

امیران یی په عشرت داسی اخته کړه
چی یی هیر شی خوږ ملت وخوږ ایمان۸:۱۰۳

اقبال

کس کی نومیدی پہ حجت ہے یہ فرماں جدید
ہے جہاد اس دور میں مرد مسلماں پر حرام ۱۲۸ : ۷

ژباړه:

دانوی فرمان ·په نا امیدی دچا حجت دی
دے دی زمانه کښنی په مسلم جهادحرام ٦۸: ۲۱٦

حافظ خان محمد

ایتونه د جهاد تول ځنی هیر که
وای کارمه کړی د ژوند دادی نقصان۸:۱۰۳

# د بې همتۍ او همت فلسفه

د اقبال کلام د بې همتيي په ضد د هڅو او کوښښ غږ پورته کوی. دده د کلام مقصد د بې همتي وهم د خلقو د زړونو څخه ورکول دی. دده د کلام هغه برخه د ستايني وړ ده. په کومه کښنی چی ده د

هڅې او کوښښ بلنه ورکړې ده. او ویلي یې دي چې مصیبتونه او تکلیفونه تش اعتبارات دي. بلکه که په ځیر ورته وکتل شي نو دغه هغه توکونه دي چې د انسان د بښپړتوب او تل پاته کیدو سوب جوړیږي.

میا رابزم بر ساحل که آنجا
نوائے زندگانی نرم خیز است
بدریا غلط وباموجش در آویز
حیات جاودان اندر ستیز است۱۳۱: ۴۵

ژباړه:

چرې چې په ساحل دي ګرم نه کړي مجلسونه
کمزورې دغه ځان ده د ژوندون توله غوغا
په جنګ شه د موجونو سره دانګه سمندر ته
کوشش دي ذریعه ده که ته غواړې تل بقا
٤١:٧١

فضل احمد غر

نامردان د وخت راتلو ته کړي کتل
ځوانان خپله جوړ وي وختونه خپل
چا چې ځان د طوفان رحم باندې پرښو
داسې ډوب شولو چې بیا ونه ختل٤٣: ١٠

اقبال دبی همتي په ضد د پرله پسی هڅی زیرمه کوی

مصاف زندگی میں سیرت فولاد پیدا کر
شبستانِ محبت میں حریرو پرنیاں ہو جا۱۲۵:۲۷۳

ژباړه:

د ژوندون د جنګ میدان کښې د فولاد خوی راپیدا کړه
درېیښمو غوندی پوست دمحبت په شبستان شه
۳۱۲:۶۳

فضل احمد غر

د دنیا په داسی کور کښې استوګن شه
چې بنائسته دی دستورو پړقیدل۱۰:۴۳

اقبال

گذر جا بن کے سیل تندرو کوہ وبیاباں سے
گلستاں راہ میں آئے تو جوئے نغمہ خواں ہو جا۱۲۵:۲۷۴

ژباړه:

تیز او تند سیلاب شه تیر شه ته له سمی غره نه تیر شه
ګلستان که راغی مخکښې نولښتی شه نغمه خوان شه
۳۱۲:۲۶۳

میر رحمان غازی

اے کو هکنه د خواهش غرونه هوار که
ما سیوا د زړه عمل نه دی بهار که۲۰:۵۷

اقبال

محروم رہا دولت دریا سے وہ غواص
کرتا نہیں جو صحبت ساحل سے کنارا۱۲۸:۱۶

ژباړه:

پاتې شو دولت دسیند دهغه مرجونړا نه
کوم څوک چې دصحبت نه دساحل نه ساتي ځان
۲۳۰:٦۸

فضل احمد غر

ددریاب هره څپه وای چې پاڅه
خو ځول به دې د لاسو پورې باسي
په تدبیر که دې د وخت سورې بند نه کړه
دا تقدیر دې چې هغه کوټه په ځاځي٦٥:٤٣

اقبال یو ځای وای چې په ویره او د وهم په اندیښنه سره اسانه کار ورانیږي او همت او استقلال سره هر ګران کار ډیر اسانه جوړیږي.

دل بیباک راضرغام رنگ است
دل ترسنده را آہو پلنگ است
اگر بیمے نداری بحر صحرا است
اگر ترسی بہر موجش نهنگ است۱۳۱:۵۷

ژباړه:

که زړه دی شه بیخوفه نو زمری دی ګوری رنګ
که دی شه یریدونکی نو هوسي به شی پلنګ
که خوف دی چیری نه وو نو بیدیا دی لکه بحر
چی یره دی پیدا شوه دی هر موج که هی نهنګ
۵۹:۷۱

فضل احمد غر

د همت آس له دی پونده ورکړه مرده
په دریاب ورشه راوزه له دی ګرده
د ژوندون ګوری مزه وی هم په دی کښی
ځان اشنا که د دنیا که هره درده۱۴:۴۳

اقبال

تیرے دریا میں طوفان کیوں نہیں ہے
خودی تیری مسلمان کیوں نہیں ہے
عبث ہے شکوۂ تقدیر یزداں
تو خود تقدیر یزداں کیوں نہیں ہے۱۲۸:۳۲

ژباړه:

ولی ستا په سینه کښی طوفان نشته طوفان نه یی
ولی د خودی په حقله ته مسلمان نه یی

ستا داد تقدير نه د يزدان ګيله عبث ده
ولي واته  خپله تقدير د يزدان نه يي٢٥٤:٦٨

گله از سختی ایام بگذار
که سختی نا کشیده کم عیار است
نمی دانی که آب جوئبا ران
اگر برسنگ غلط د خوشگوار است١٣٥:١٠٩

ژباړه:

مه کوه ګيله ته د سختي نه د وختونو
څو چي سختي اونه زغمي هغه کم عيار دی
تا به دولو داوبو تګ خوری ليدلی
رغړی چي په کانو باندی څنګه خوشګوار دی
١٥٤:٦٨

شيرعلي خان

زه ديو کس نه ګيله نه کومه
نه دالله نه د تقديره ګيله
زماګيله دخپل همته کيږی
په کار ده بنه دخپل تقصيره ګيله
حوصلے لوړی بدلوی وختونه
چير ته کوی د فلک پيره ګيله١٤٣:٢٦

اقبال

تو اگر تقدیر نو خوای رواست
زانکه تقدیرات حق لا انتہا است
شبنمی افتندگی تقدیر تست
قلزمی پایندگی تقدیر تست۱۴۴:۱۰۸

ژباړه:

بل نوی تقدیر که تری نه اوغواړی روا دی
ځکه تقدیرونه خود حق بے انهتا دی
ته که شولی پرخه په تقدیر دی پر یو تل دی
ځان دی که دریاب کړو پاتیدل دی تل تر تل دی
۱۲۳:۷۳

شیر علی خان

زه به دا وخت او خپل قسمت بدلوم
په حوصله به خپل همت بدلوم
وختونه دی نا موافقه ولی
زه به یی اوس په هر قیمت بدلوم
هر یو ګذار سی دی شلونکی د غره
ګوره چی خنګه دا ساعت بدلوم۸۲:۲۶

اقبال

مدعا راز بقائے زندگی
اجمع سیماب قوائے زندگی
چون حیات از مقصد محرم شود
ضابطه اسباب این عالم شود
گردش خونے که در گھائے مماست
تیز از سعی حصول مدعا است
مدی مضراب ساز همت است
مرکزے کو جاذب ہر قوت است

شیرعلی خان

راشه همتونه دی ډالي که
کله همتونه مردان نه پرېږدی
ستا په همتونو دنیا جوړه ده
اوګوره اوس خلق اسمان نه پرېږی
دل شو همتونه چې چا پرېښنول
دی هغه مومن چې ایمان نه پرېږدی
۱۳۸:۲۶

اقبال

یاس کے عنصر سے ہے آزاد میرا روزگار
فتح کامل کے خبر دیتا ہے خوش کارزار

فضل احمد غر

همت اوکړه چې دې مخه شي رڼړا
مصیبت کمیږي کله په ژړا
موتی کلک کړه چې دنیا عقبا دې خپل شي
ستا په لاس کېږي ده ستا خپله مدعا۱۳:٤٥

اقبال

نہ ہو نومید نومیدی زوال علم و عرفان ہے
امید مرد مومن ہے خدا کے راز دانوں میں ۱۲٦ : ۱۲۰

ژباړه:

مایوس مه شه مایوسي خوعلم پوهي له زوال دی
دمومن سړی امید دی دراز دان د رب درجو کېږي
۱٦۲:٦٥

فضل رحیم ساقی

نه کار اوکړه خپل همت دی که بنکاره
نتیجه یې پاک الله ته ور سپاره
نه الله مداخلت کړه ستا په کار کېږي
نه دده په کار کېږي ستا شته دی واره
۱٥:٤٥

اقبال

یہ غازی یہ تیرے پر اسرار بندے
جنہیں تو نے بخشا ہے ذوق خدائی۱۲۶:۱۰۵

ژباړه:

داغازیان داناليدلي پراسراره بندګان ستا
دخدای دذوق چې ایښي په کښي تادي قوتونه
١٤٢:٦٥

سید رسول رسا

دا خاکي چې په نامه باندی انسان دی
د همت په علو زیات ترشین اسمان دی
د دروند پیټي امانتٔ پر سر ایښي
که په تن ضعیف کمزوری او ناتوان دی
٤٦٣:٢٠

اقبال

میا رابزم بر ساحل کہ آنجا
نوائے زندگانی نرم خیز است
بدریا غلط وباموجش در آویز
حیات جاوداں اندر ستیز است۱۳۱:۴۵

ژباړه:

چرې چې په ساحل دې ګرم نه کړي مجلسونه
کمزوري دغه ځان دې ده د ژوندون ټوله غوغا
په جنګ شه د موجونو سره د انګه سمندر ته
کو شش دې ذريعه ده که ته غواړې تل بقا
٤١:٧١

سيد رسول رسا

ژوند د پيهم جهد او جنګ او جفا نوم وګڼړه
دا د ژوندون رخت او زيور دې په دې ځوان ګرموه
دژوند جهاد دهنګامې پيدا کولو نوم دے
خيال دشکست اوفتح مه کوه ميدان ګرموه
٤٧٨:٢٠

رزين تاجه

دهمت توره په لاس دې
دمنزل په لور سفر کړه
چې دبل په طمع نه شې
ټول هموار ځنګل وغر کړه
همتناک شاهجانې کړه
داسمان برابرې کړه١٧:٩٣

# تقلید

په کوم ژوندانه کښې چې د ژوندانه لوړې مقصدونه یعنې د حق لټون اوپلټنه او د حق پیروی نه وی هغه ته څنګه ژوندون ویلی شی. او چې کله تقلید کوونکی سړنې چې د ریښتونی کړن لاری. یعنی د حق د لټون د حق د اتباع او د حق د اعلان څخه محروم شو نو ایا دده نیستی کیدل به دده در دغه هستی غوره نه دی. د علامه اقبال د فرمودې په وړاندی تقلید کونکی دهستی پیغور او د کائناتو سپکاوی دی. د اعتقاد او عمل په وړاندی د انسانیت د لوړ او غوره مقام تذلیل او سپکاوی وکړ"۲۲۹:۱۳۸

دیکھے تو زمانے کو اگر اپنی نظر سے
افلاک منور ہوں تیرے نور سحر سے
خورشید کرے کسب ضیا تیرے شرر سے
ظاہر تیری تقدیر ہو سیمائے قمر سے
دریا متلاطم ہوں تیری موج گہر سے
شرمندہ ہو فطرت تیرے اعجاز ہنر سے
اغیار کے افکارو تخیل کی گدائی
کیا تجھ کو نہیں اپنی خودی تک بھی رسائی ۱۲۲:۱۲۷

ژباړه:

اوګوری که ته دا زمانه په خپل نظر
نو به اسمانونه شی په نور دی د سحر

نور به ستا بخروته په سوال او غواړی نمر
ستا ښکلی تقدیر به شی روښانه په قمر
دریاب به په چپو اوسی په موج دی د ګوهر
فطرت به شرمنده شی په اعجاز دی دهنر
دنورو د تخیل او د افکارو یی ګدای
اے نه شی کړلی ته خپلی خودی ته رسائی
۱۲۱:٦٧

تراش از تیشهٔ خود جادهٔ خویش
براه دیگران رفتن عذاب است
گر از دست تو کار نادر آید
گنا ہے ہم اگر باشد ثواب است ۱۳۱:۵۹

ژباړه:

دځان دپاره لاره په تیشی خپلی که جوړه
دبل په جوړه لاره باندی یون دی یو عذاب
که هر چری دلاسه دی یو کار اوشه څه لوی
که وو هډو ناکاره دی په ښنو باندی حساب
٦٢:٧١

فضل رحیم ساقی

د آئینې غوندی عکس د نورو د جمال نه شې ته
ړوند به شې کوڼ به شې روان د بل په خیال نه شې ته

خپل وزر پرانیزه سیلونه نه د جهان وکړه ته
پورته کیدی داغیار په پر وبال نه شي ته۳۸:٤٥

اقبال

محکمی ہا از یقین محکم است
وائے من شاخ یقینم بے نم است
از محبت جذبہ ہا گردد بلند
ارج میگرد د ازو نا ارجمند
بے محبت زندگی ماتم ہمہ
کاروبارش زشت ونا محکم ہمہ
عشق بر صیقل می زند فرہنگ را
جوہر آئینہ بخشد سنگ را۱۳۲:۱۹۴

ژباړه:

بې له یقینه زړه محکم نشته دی
د یقین څانګو کښې مې نم نشته دی
دمحبته جذبې پورته خیژی
ناکامیابانی پر کامیابی اخلی
بې محبته ژوند ماتم دی او بس
کاری ناکاره نا محکم دی او بس
محبت عقل ته صیقل ورکوی
مینه له کانی ائینه جوړ وی۲۰۷:۷۲

د تقلید زولنی ماتی کړه زمونږ نه
د عمل جذبو کښنی ذوق د ابتکار را
فریادونه روسول بارګاه د عرش ته
آه د زړه ته می اسمانه لویه لار را ۳۷:۵۵

# ویره

اقبال ویره نه منل بلکه ده خو خطر د بریالی ژوندانه زینه بلله

ع : *اگر خواہی حیات اندر خطر زی*

" د انسانی لائحه عمل او مراسونو او کړونو څخه د خطر خوند وباسه نو بیا وګوره چی پرحواسو او قواو باندی څه ډول مرګني پریکړون خپریږی. پر زړه او دماغ باندی دخواشنی او غم څه ډول توری او منحوسی وریځی راتاویږی. په روحی نسبت به هم د خطر نستي او د هوس خواهش لږ تر لږه اثرات داوی چی په زړه کښنی به د اسید او یقین یوه خلاهم پاته نشی. د آرزو جذبی به سړی شی هر خلاند شی به تاریک په نظر راځی. حواس به مغلوبه او خوار پاته شی او په نا وړه حالاتو کښنی به د مقاومت قوت دلاسه ورکوی". ۴۶۶:۱۳۸

*گریز کشمکش زندگی سے مردوں کی*
*اگر شکست نہیں ہے تو اور کیا ہے شکست*

اسویلی د ناکامي سی دی ترلی
زولنه د لیونتوب او د وحشت ده
د انسان په بزګی که انسان پو ه شی
یوه ژبه ترجمانه د فطرت ده۵:۱۵۰

# سکون

د اقبال په وړاندی سکون د مرګ نوم دی. معنی دا چی انسان باید پریوه حال پاته نه شی ځکه چی د کائناتو په دغه چمن زار کښنی د مستقبل امکانات اوس نو رهم موجودی.

" لکه څنګه چی تر څو سوج پاته وی په پیچ وتاب به اخته وی. او چی د سوج د ژوند څخه پیچ وتاب وباسی نو موج موج نه پاتیږی. معلومه شوه چی دپیچ وتاب او بیقراری نوم پخپله سوج دی. دغه ډول دانسان حیات او تګ وتاز د سکون څخه په ناولدتیا کښنی دی. نه چی په راحت طلبی او تن اسانی کښنی"۱۲۲:۱۳۸

دمادم نقشهائے تازه ریزد
بیک صورت قرار زندگی نیست
اگر امروز تو تصویر دوش است
بخاک تو شرار زندگی نیست

هم خوشحال د کائنات روان جیحون دی
تغیر په هر زمان محال سکون دی
په دی حال که امروشی د قیامت
دعاجزو ومظلومانو حال زبون دی۳ :۱۰۷

# غدار او غداری

اقبال د غداراو غداری څخه بیخی زیاته کرکه کوله. دغه فعل او فاعل یی د آذادي د ترلاسه کیدو په لاره کښنی لوی خنډونه گڼل. هغه به د میر جعفر او میر صادق وارو ځانونه چی د غداري نخښنی جوړی شوی دی خومره په کرکه کتل.

جعفر از بنگال و صادق از دکن
ننگ آدم ننگ دیں ننگ وطن

دغه راز یو بل ځای وایی

ایں چنیں کارے نمی آید زمرگ
جان غدارے نباساید زمرگ۱۳۳:۱۴۶
ایں جہان بے ابتدا بے انتہا است
بندہ غدار را مولا کجا ست۱۳۳:۱۴۷
مومن و پیش کساں بستن نطاق
مومن و غداری وفقر و نفاق

باپشیرے دیں وملت رافروخت
هم متاع خانه وهم خانه سوخت۱۳۳:۲۰۰

ژباړه:

توان د مرګی نشته چی به هسی رنګه کار کا
روح چی د راحت سره اشنا د یو غدار کا
۱۷۱:۷۳

دا همه جهان بې ابتدا بې انتها دی
اووای چی څوک دیو غدار بنده مولا دی
۱۷۲:۷۳

حیف دی چی مومن او کمر کش د غیر په وړاندی
دی له غداری فقرو نفاق هر یو یی لاندی
خرڅ یی په یوه کاسیره خپل دین او ملت کړو
وی سیزلو کور هم یی سامان دکورلت پټ کړو
۲۳،٤:۷۳

سید جعفر حسین

د پیسی لالچ دی دومره کړی بی حسه
نه پوهیږی د دښمن په تودو تخی
خپل مطلب یاره د ځان وته نژدی کړی
کار پوره هندو غره بیا وکړلی چخی

د ایمان بنړی یی واړه ورته پرېږ کړې
اوس لګیا دی لوړ وی د اسلام پخی ۱۲۷:۳

# غلام او غلامی

د نوع انساني په یوه ډله یا پر یوه قام باندی د غلامی لعنت هغه وخت تپل کیږی چی کله یو بل قام د زمکی د نیولو یا په نو آبادیاتی هوس یا د تجارت د ودی د آرزو څخه بیتابه شی او په بیلا بیلو حیلو اوبهانو د آدم دا ولادخپل دغه فطری حق آذادی غصب کړی.

" مسلمانان او غلامی د اجتماع الضدین حکم لری. چی هیڅ ډول امکان نه لری. څنګه چی اور او اوبه ، نوراوتیاره، شپه او ورځ ، حق او ناحقی، خیر او شر، تقوی او فسق، توحید او شرک، رشتیا او دورغ ، عدل او ظلم، نیکی او بدی محبت او نفرت په یوه ځای کښنی نه شی موجودید لایی. عین دغه ډول د مومن او غلامئ د یو ځای والی امر هم محال دی.۳٦۷:۱۳۸

خاکدانے بافروغ وبے فراغ
چیرہ او از غلامی داغ داغ
آدم او صورت ماہی بہ شست
آدمے یزدان کشے آدم پرست
در فضائے نیلگون او رابهل
رشتۂ ما نوریاں ازوے گسل

یا مرا از خدمت او واگذار
یاز خاکش آدم دیگر بیار۱۳۲:۱۸۰

ژباړه:

دا رنړی خاوری چی یی ورک فراغ دی
دغلامی نه یی مخ داغ په داغ دی
بنیادمان یی جال کښی نښتی ماهی
چی یزادان وژنی او آدم ښکلوی
داپه شنه فضا کښی تار په تار کړه
اوسوړ نوریان ددی نه ژر اورګار کړه
یامی له دې خدمته ژر رها کړه
یاله دی خاورو بل ادم پیدا کړه ۱۸۸:۷۲

عبدالمالک فدا

ته سپین بازی تور وزر د زاغ بدل کړه
غلامی دی پر مخ داغ ده داغ بدل کړه
که اسمان ته رسیدل غواړی پښتونه
زړه بدل کړه خیال بدل دماغ بدل کړه
۲۰۰:٤۱

اقبال

از غلامی دل بمیرد در بدن
از غلامی روح گردد بارتن

از غلامی ضعف پیری در شباب
از غلامی شیر غاب افگنده ناب
از غلامی بزم ملت فرد فرد
این و آں با ایں و آن اندر نبرد
از غلامی مرد حق زنار بند
از غلامی گوهرش نا ارجمند ۱۳۲: ۱۸۰

ژباړه:

د غلامۍ نه زړه بدن کښې اوسري
په غلامۍ کښې روح په جسم بار شي
د غلامۍ نه ځوان زلمي بوډا شي
د شین زمري بې وخته غابښ پریوزي
په غلامۍ کښې ملت تار په تار شي
دی له هغه هغه له ده بیزارشي
د حقې سل زلمي زنار وتړي
یکتا ګوهري له قیمته پریوزي
۱۸۹-۱۸۸:۷۲

سیده بشری بیگم

غلامي چې خدای پیدا کړه په سل غمه مبتلا شوه
څه تکلیف که مصیبت وو ورنه ورک هره بلا شوه

د فطرت دا تقاضا وه چي آذاد بنده دی اوسی

د حسین په پاکو وینو زمکه سره د کربلا شوه:۱۸۲

اقبال

در غلامی عشق ومذهب را فراق

انگبین زندگانی بد مذاق

در غلامی عشق جز گفتار نیست

کارما گفتار مارا یار نیست

دین و دانش را غلام ازراں دہد

تابدن را زنده دارد جان دہد

گرچه برلب ہائے او نام خداست

قلبه اوطاقت فرمازوا است ۱۳۲:۱۹۰

ژباړه:

د غلامی مینه مذهب جدا وی

د ژوند ګبین یی بې مزې سخا وی

د غلام مینه بس د خولی خبری

د خولې خبری اوله کاره لیری

دین و دانش غلام ارزان ورکوی

بدن ژوندی ساتی او ځان ورکوی

که څه پر شونډ وي د خدای نامه ده

فرمان روا طاقت دده قبله ده ۷۲:۲۰۰

دغلامانو بندګی او مذهب کار دکفر
دغلامانو خدای په هر رنګ کښې سرکار دکفر
دغلامانو لام کلام اوکاروبار دکفر
دغلامانو دین مذهب همه روزګار دکفر
دحق مردان په غلامی کښې پاتیدلی نه شی
غیرته په عجز سلامی کښې پاتیدلی نه شی
۱۲۶:۲۱

اقبال

مسلمان از خودی مرد تمام است
بخاکش تا خودی میر د غلام است
اگر خود رامتاع خوش دانی
نگه راجزبخود بستن حرام است ۱۳۵:٦۷

ژباړه:

ډکه چې له خودئ وی مسلمان مرد تمام دی
ورکه یې خودی که شوه د خاورو نه غلام ړی
ته که وی متاع د ځان خپل ځان ګنړی خبر شه
بې له خپله ځانه په بل چا نظر حرام دے ۹۲:٦۸

سید رسول رسا

طمع او خوف حسب نسب فخر سوال غلامی
داد خودی د پاره سرگ دی د خودی بې دسی
نااميدی او غم او رنج دی د خودی په کمی
بې نیازی قلندری د خودی ژوند سرگرمی ۱۷۱:۲۱

اقبال

من که رمز شهر یاری با غلامان گفته ام
بنده تقصیر دارم پیش سلطانم برید ۱۳۲:۸۹

ژباړه:

ماغلامانو ته بنیلو د شاهی رازونه
ډیر گنهگاریمه داعذر می سلطان ته یوسی
۸۹:۷۲

ملاعبدالسلام اچکزی

زه عبدالسلام بیخی په تاسی پرېیم
چی کاوئ په لنگو میږوکښنی آذان ما ۱۲:۳۵

اقبال

بنده حق بے نیاز از ہر مقام
نے غلام او رانه اوکس راغلام
بنده حق مرد آزاد ست وبس
ملک وآئینش خداداد است وبس ۱۳۳:۷۱

ژباړه:

د حق چي ځوک بنده وی بې پرواه د هر مقام وی
نه ځوک دده غلام وی نه هغه د چا غلام وی
بنده چي ځوک دحق وی ځوانمردی لره آزادوی
که ملک وی که آئین وی دهغه نو خداداوی
۷۸:۷۳

سیدرسول رسا

مومن به نه د چا غلام شي نه غلام به کړی ځوک
نه لاس په نام به شي مومن نه لاس په نام به کړی ځوک
نه خپله ګیر به شي په دام نه ګیر په دام به کړی ځوک
نه خپله شي د کفر ښکی نه سی اشام به کړی ځوک
چي مومنان شي هغه هیڅکله مریان به نه شي
چي ځوک مری بی هغه چیری مسلمان به نه شي
۱۲۲:۲۱

# فرنګی

اقبال که څه هم د فرنګیانو استادانو څخه زدکړی کړی وی اود فرنګی تهذیب د خم څخه بی په کلوکلو تنده ماته کړی وه لیکن دا د مشرق د لوړو د فیض اثرات وو یا که دده ازلی بنیګړی یا بختوره ورځ وه دده چي ځومره داروپایی افکارو او خیالاتو مطالعه کوله دومره دده په ذهنی نړۍ کی دغربی انداز فکر په ضد یو غورځنګ

زیرېدی. دغر بی سیاست .بنکاره آکتساب او تجرباتی ادراک اقبال په دغه لومه کبنی د بندولو ښخه خوندی پاته کړ. ځکه یی یورپی تهذیب ته په داسی سترګه کتل.

یورپ میں بہت روشنی علم وہنر ہے
حق یہ ہے کہ بے چشمہ حیواں ہے ظلمات
یہ علم یہ حکمت یہ تدبر یہ حکومت
پیتے ہیں لہو دیتے ہیں تعلیم مساوات
بیکاری وعریانی ومیخواری وافلاس
کیا کم ہیں فرنگی مدنیت کے فتوحات١٢٦ : ١٠٨

ژباړه:

ده یورپ کښی د علمونو هنرونو رنړا ډیره
خو چینه د حیوان نشته دی تیارو کښی یا غفار
وی حکمت تدبر علم حکومت یی وینه ښښونکی
په ظاهر د مساواتو معلومیږی روا دار
بیکاری شراب خوری ته عریانی افلاس ته ګوره
دابدی لا د فرنګ د تمدن نه دی بیسار١٤٦:٦٥

حافظ خان محمد

اسلامی تهذیب دی سرترپایه خیر
د یورپ تهذیب دی شرو بدتخریب

د زنانو عریانو شراب اوریس
سنیما زنا اوډانس برباد تهذیب۸:۱٦٧

اقبال

لیکن مجھے ڈر ہے کہ یہ آوازہ تجدید
مشرق میں ہے تقلید فرنگی کا بہانہ ۱۲۷ : ۱٦۸

ژباړه:

خو زما سره خطره ده د تجرید نوی آواز هم
ده مشرق کښې دتقلید د فرنګی یو بهانه۷۳ : ۱۷۰

سیده بشره بیګم

توجه دجنګو به کله شی په دې طرف
دمغرب تهذیب اثربه په دی کړی لا نور تر څو
٤۸:۲٤

اقبال

لیکن از تہذیب لا دینے گریز
زاں کہ او با اہل دل دارد ستیز
فتنہ ہا ایں فتنہ پرداز آورد
لات وعزی در حرم باز آورد
از فسونش دیدہ دل نابصیر
روح از بے آبی او تشنہ میر

لذت بے تابی از دل می برد
بلکہ دل زیں پیکر گل می برد
کهنہ وزدے غارت اوبر ملاست
لالہ می نالد کہ داغ من کجاست۱۳۴:۸۴

ژباړه:

خو تهذیب لا دینی نه څه په ځنګ
ددی وی داهل حقه سره جنګ
رنګا رنګ فتنې خوری کړی دی شیطان
په حرم ورننباسی بیا بتان
د جادو ددی شی سترګی نابینا
روح تری مری له ډیره تندی په ژړا
وی له زړه دیتابی لزت او خوند
لکه پری کړی د بدن او زړه پیوند
زوړ غلګی تل په خرګنده کول غلا
لالهِ ژاړی چی تور داغ څه شو زما٤١:٧٤

نقیب احمد فطرت

د مغرب تهذیب عریانه معاشره ده
مشرقیانو ورسره هم شړی لنګ کړه
٩٨:٦٠

اقبال

مصطفیٰ کواز تجدد می سرود
گفت نقش کهنہ را باید زدود
نوںگردد کعبہ را رخت حیات
گرز افرنگ آیدش لات و منات
ترک را آہنگ نودرچنگ نیست
تازہ اش جز کہنہ افرنگ نیست
سینہ اورا دمے دیگر نبود
در ضمیرش عالمے دیگر نبود
لاجرم باعالم موجود ساخت
مثل موم از سوز ایں عالم گداخت۱۳۳:۶۶

ژباړه:

تېږ د مصطفی د تجد دسی اوریدلی
چی وای دا زاړه نقشونه بنه بنکاری وینځلی
په دې به نوی نه شی د کعبې رخت وحیات
که راشی د فرنګ نه ورته نور لات ومنات
دترکو په رباب کښې چرته پاتی نوی تنګ دی
دا نوی چی ګنړی دا خو زوړ شوی د فرنګ دی
معلومه شوه نورپاتی په سینه کښې یې دم نه وو
په ده کښې د ضمیر یې چرته نوی عالم نه وو

هم دا یی وو سبب د زمانی سره سی ساز شو
ددی تهذیب له تازه لکه سوم هستی گداز شو
۷۲:۷۳

اقبال پورتنی اشعار دترکي د مصطفی کمال د پاره ویيلی وو. او وبلی خواته امیر حمزه شینواری هم پښتانه مخاطب کړی او داسی یی وئیلی وو.

پښتونه مسلمانه د یورپ په رنګ کی رنګه
تهذیب دی مغربی شو ذهنیت دی بدل نه شو
کارغه چی اختیار د زرکی تله که خپل یی هیر شو
تابع شوی د مغرب ولی غیرت دی بدل شو۲۰۷:۵

اقبال

فرنگ اگر چه زافکارتو گره بکشاد
بجرعه دگرے نشه ترا افزود۱۳۲:۱۱۸

ژباړه:

فیرنګی ستا د فکر خو غوټی خو پرانستلی
اوس دی دبل رنګی نشی په سرو جامونو ګوری
۱۱۵:۷۲

سید رسول رسا

توری ته شا مسلم قلم غواړی
ناول یی خوښ خو قرآن کم غواړی

د سنیما او د ریډیو د لداده
کله لوی د پاک حرم غواړی۲۰:۴٦۹

# مزدور او سرمایه دار

داقبال د بصیرت څخه ډکه یوه داسی شاعری ده چی دده څخه د ژوندانه یو اړخ هم نه دی پاته شوی چی پر هغه دی ده د خپل درانه فکر ژور اثرات نه وی ښندلی. د مزدور او سرمایه دار پرپیښنه باندی هم دده ژور فلسفیانه نه افکار وجود لری. دده د دغه شاعری د مطالعی څخه ډیر په اسانه نه معلومیږی چی "اقبال دمزدور خواخوږی دی. د سرمایی دلاسه څخه د پیښو سوناخوالو ستونزواو کړوبیان یی ډیر په خوندور انداز باندی کړی' قسمت نامه مزدور وسرمایه دار و مزدور او خضرراه په بندکی چی چری د مزدور سرمایه دار د نوبت د ښناح ذکردی هلته یی په ډیر ګړندی انداز سره دمزدور د محکوسی او مجبوریٔ اظهار کړی دی چی د سړی به دا خیال شی چی اقبال یو سوشلسټ دی. لیکن اقبال چی لکه څنګه په نور خیالاتو کښی ځان ته یوه ټاکلی لاره لرله همدغه رازی په دی لړ کښی هم تولی ستونزی پر یوه خصوصی بنسټ ترله تیرولی.
۷۰:۱۳۹

بندہ مزدور کو جا کر مرا پیغام دے
خضر کا پیغام کیا ہے یہ پیام کائنات

اے کہ تجھ کو کھا گیا سرمایہ دار حیلہ گر
شاخ آہو پر رہی صدیوں تلک تیری برات
دست دولت آفرین کو مزدیوں ملتی رہی
اہل ثروت جیسے دیتے ہیں غریبوں کو زکات ۱۲۵ : ۲۶۲

ژباړه

لاړشه یوسه ته زما مزدور بنده ته دا پیغام
دا پیغام د حضر خه دا دے پیغام د کائنات
اے چې اوخوړه ستا ښته چلولی سرمایه دار
تر صدیو پوری ستا وو د هوسئ ښکر کښې برات
مزدروی د ګټندوی ورکوی شوه په دا شان
لکه ورکاندی شتمن چې غریبانو ته ذکات ۲۹۷:۶۳

نقیب احمد فطرت

ښښيي ابله بربند لغړه او سرتور مزدوره
درنه قربان اوړ يه نهره سويه سکور مزدوره
ستا ددې زبخيلی رنګ اووچو شونډونه زار
يمه حيران ته ی تور دار په کوم يو تور مزدروه
ته يې مجبور د چا د عيش او د عشرت د پاره
ستا مرګ رواګنړی دخپل ځان دراحت دپاره
۷۱:۶۰

شیر علی خان

بی اتحاده ته مزدروه شوی سپک
دبختورو په بستی کښی یی ورک
نه دی حق شته نه یی غوښتی شی د چا
نه دی نامه شته نه دی لږ ښنی درک
مقابله په څنګه اوکړی د زور
ترڅو چی نه شی ته په زړه باندی کلک
۲۳۶:۲٦

د ښاغلی شیر علی خان پر توله شاعری باندی د اقبال د فکروفن اثرات له ورایه څرګندیږیٔ لیکن په موضوعاتی لحاظ سره د مزدور او سرمایه موضوع تر توله له ورایه ښکاری ددی خبری په خپل پښتوکتاب کښی هغسی په اردو رانقل کړی دی.

اٹھو مری دنیا کے غریبوں کو جگا دو
کاخ امرا کے درو دیوار ہلادو
جس کھیت سے دیہقان کو میسر نہیں روزی
اس کھیت کے ہر خوشۂ گندم کو جلادو۲۶ : ۵

ددغه شعر څه یی تومنه ترلاسه کړی او وای

هسی د ظلمه خلاصیدی نه شی ته
زمکه ده کلکه لری هم دی فلک

چی متحد نه شی همت نه کوی
د آزادي ته لیدی نه شی جهلک۲۳٦:۲٦

نقیب احمد فطرت

راځه چی دواړه دا د ظلم ډک نظام ختم کړو
راځه تمیز چی د آقا او د غلام ختم کړو
راځه چی دواړه خوشحالوله د یو نوی سحر
دغه دردناک او غم زپلی رنګ ماښام ختم کړو
راځه جنهړی چی دروری او اخوت پورته کړو
راځه چی بیا یو مسته چغه د غیرت پورته کړو
۷۲:٦۰

سید رسول رسا

د سرمایه تهذیب د کفر لرکول دی په کار
د حق شهباز او د باطل ډنیک جنګول دی په کار
غریبانان له دولتمندو خلاصول دی په کار
زمیندار خوار ته د خدای زمکه ورکول دی په کار
پاڅه مسلمه حق حقدار ته په تلوار اورسو
د حق پیغام ګمراه کفاروته په جار اورسو۹۲:۲۱۵

اقبال

کارخانے کا ہے مالک مردک ناکردہ کار
عیش کا پتلا ہے محنت ہے اسے ناسازگار

حکیم حق ہے لیس للانسان الا ما سعیٰ
کھائے کیوں مزدور کی محنت کا پھل سرمایہ دار ۱۲۵: ۲۹۱

ژباړه:

یو سړی د کارخانې مالک دی هیڅ نه کوی کار
په عیشونو کښې تل ډوب دی له محنت نه دی ویزار
چې د خدای حکم دی لیس للانسان الاماسعی
دمزدور دمحنت ولې خوری میوه سرمایه دار۶۳:۳۳۵

شیرعلي خان

لکه مئین شپه ورځ چلیږی همیش
مزدور په خپله غلامی خفه دی
مزدور محنت کوی خونه سړیږی
نشتهٔ توده په ما خاسی خفه دی
حرص د مال یی چرته نه کمیږی
مالک په خپله بی اراسی خفه دی۲۶:۱۱۸

اقبال

تمیز بندہ و آقا فساد آدمیت ہے
حذر اے چیرہ دستاں سخت ہیں فطرت کی تعزیریں ۱۲۵: ۲۷۱

ژباړه:

دمرئ اوداقاتمیز فساد د سړتیوب دی
او ویریږی ظالمانو دحق سخت دی تعز یرونه ۶۳:۳۰۹

شیر علی خان

نه بی نظر لګی نه وینی جهان
ګنړی دولت د خواهشا توکفیل
غریب پیدای غلامی له کړو رب
د شرافت یی د دولت وینم د لیل۱۹۲:۲٦

سید رسول رسا

جنګ دمزدور سرمایه دار به دنیا فوفنا کړی
دحق دلاری سم روان کړه چی فسادته شاکړی
۹۲:۲۱

نقیب احمد فطرت

زه فکرمند یم دانسان خو تا انسان نه ګنړی
ته بی مزدور دا مسلمان تا مسلمان نه ګنړی
ته خبر نه بی خو ای مزدروه خبروم دی ګوری
چی سامراجی نظام دځان دپله ځان نه ګنړی۷۱:٦۰

محمد موسی شفیق

دی دنیا کښی چی هر څه زموږه نه دی
واک د بل ژبه د بل اوکار د بل دی
مال زموږ دی ملک زموږ دی خواری موږ کړو
عیش د بل عشرت د بل اختیار د بل دی
٦۸:۵۵

اقبال په "پیام مشرق" کښې د" نوائے مزدور" ترسرخط لاندې یو دلچسپ نظم کښلی دی خو بشرې بیګم هم په خپل کتاب "زیرۍ" کښې د مزدرو په عنوان یو نظم لیکلی دی چې د اقبال د نظم په اثر کښې معلومیږي۔

زمرد بندہ کرباس پوش و محنت کش
نصیب خواجه ناکردہ کار رخت حریر ۱۳۱: ۲۱۲

ژباړه:

په خون دمزدوررانو ساده پوښنو خوارې کښنو
لباس نادان مالک یې دی اغوستی د حریر
۲۵۷:۷۱

سیده بشرې بیګم

دمزدور په پښنو و لاړه لړ خو فکر ورته وکړه
دمزدور د زړګی وینې شوی حنا ستا د لاسونو ۹۳:۲٤

اقبال

زخوے فشانی من لعل خاتم والی
زاشک کودک من گوہر ستام امیر
خرابه رشک گلستان زگریه سحرم
شباب لاله وگل از طراوت جگرم ۱۳۱: ۲۱٦

ژباړه:

د والي د لاس غمي ګنړ زما د خولو څاڅکي
او اوښکي مې لعلونه دي د ملوني داسير
دا ښاړې مې باغونه په ژړا کړل د سحر
ګلونه يې تازه زما په نم دي دځيګر۲۵۷:۷۱

سيده بشره بيګم

دمزدور په مټو جوړه دا دنيا جنت نظير شوه
د مزدور اولاد محروم دی د دنيا د نعمتونو
۹۳:۲٤

اقبال

جهاں تست در دست خسے چند
کساں اوبہ بند نا کسے چند
ہنر ور درمیاں کار گارہاں
کشد خود رابہ عیش گر کسے چند

سيده بشری بيګم

مزدور موړ په خيټه نه شو همېشه بربنړ په تن وی
احتياج دده د پاره شه يو طوق د لعنتونو
ای د عيش ارام خاونده څه جواب به ورکړې خدای ته
د قيامت په لويه ورځ چې شي حساب د مخلوقونو

ستاخوراک ځبناک پوښناک دمزدور د تن خولې دی
د مزدور وینې اوچیږی د غرمې په سرو لمرونو۹۳:۲٤

سید رسول رسا

موږ د هاړ غرمو کښې سیزو په یخنې کښې ټول کړیږو
ته او ستا اولاد مزې کړې موږ ګله په هاې سوران یو
سر سرتور په پښنو ابله بال اوبچ زموږ نهر دی
ستا موټر بنګله په خیر شه موږ دی قتل کړو خواران یو
۱۰۳:۵۳

اقبال په نظم "شان د هقان" کښې د مزدوران نو اچانک بیداری د سرمایه دارانو د زوال سوب بولی.

شعلہ بن کر پھونک دے خاشاک غیراللہ کو
خوف باطل کیا کہ ہے غارت گر باطل بھی تو
بے خبر تو جوہر آئینہ ایام ہے
تو زمانے میں خدا کا اخری پیغام ہے۱۲۵:۱۹۲

ژباړه:

ځان نه جوړه کړه لمبه د غیرالله خاشاک ایره کړه
له باطل نه څه دویره غارت ګردباطل ته یې
بې خبره له جوهر د آئینې ددې دنیا یې
اخرې پیغام د خدای ته زمانه کښې دبقا یې
۲۱۳:۶۳

سیده بشری بیگم

رحم وکړه رحم اوکړه رحم رحم په خوارنو
چری آه د مزدور نه شی ستاسو تندر د سرونو ۹۳:۲۴

اقبال د باغی مرید په ژبه وایه

ہم کو تو میسر نہیں مٹی کا دیا بھی
گھر پیر کا بجلی کے چراغوں سے ہے روشن۱۲۶:۱۶۶

ژباړه: ګوره موږ کره د خاورو یو ډیوه قدر هم نشته
بل خوا کور دپیرصاحب په بجلی باندی روښانی
۲۱۹:۶۵

سید رسول رسا نظم کښلی دی "باغی زمیندار"

د شرشم ډیوه هم نشته زما په کور کښی تل تیاره وی
ته زموږ وینی بجلی کړی تل بی سیزی څراغان یو
۱۰۳:۵۳

# مکالماتی شاعری

د اقبال د شعر تر اثر لاندی د راغلو پښتو شاعرانو په چپه که موږ د پښتو شعر و مکالیاتی اړخ ته وګورو نو د بیخی لږو شاعرانو په کلام کښی موږ مکالماتی شاعری وینو. البته پر کومو پښتو شاعرانو چی د اقبال د فکر اثرات شوی دی. د هغو په کلام کښی کټ مټ د اقبال په خیر مکالمی وینو. مثلا اقبال چی په مثنوی ګلشن راز جدید کښی کومی مکالمی کښلی دی. په همدغه طرز

باندی د عبدالروف رفیقی مکالمی په نظم د "عالم ارواح سیل" کښنی وینو چی دده په لوسړی شعری ټولکه د "څرک په څار" کښنی د جلاالدین بلخي روسی سید جمال الدین افغان او پخپله د علامه شرق محمد اقبال لاهوری سره خبری شوی دی. او دده په دویمه شوی ټولکه "له سپوږمي سره خواله" کښنی دسلطان محمودغزنوی احمد شاه ابدالی او غازی امان الله خان سره مکالمی شوی دی. دغه راز سلطان محمد صابر صاحب هم په عالم بالا کښنی د سید جمال الدین افغان او ډاکټر عبدالرحمن محمودی تر منیځ ملاقات په یوه خوندرو مکالمه کښنی خوندی کړ دی.۱۳۶:۱٤۸

د صابر صاحب په دغه نظم د اقبال ډیر ژور اثرات مرتب شوی دی

افغانی

څه شو افغانان د افغانانو شجاعت څه شو
هغه د اسلام او د اسلام هغه قربت څه شو

محمودی

خرخ کړلو اسلام په سروغجرو کابلی وزیر
ګوره چی هیوا د باندی رادروسی د الحاد بهیر
دین و دنیاکي سی بربادیږی څه تدبیر وکه
هله یوه چغه زما پر زلمی خود تکبیر وکه
۱۷:۹۷

خو چې په زلموکښې د اسلام مینه پیدا نه شي
دادغلامی اوظلمت شپې به صبا نه شي۱۷:۹۷

د فضل حق شیدا مکالمې په دې ډول دي

۱. خدای او شیطان ۲۷:۴۴

۲. شاعر په دوزخ کښې او خدای۱۶۷:۴۴

عبدالله جان اسیر هم یوه مکالمه لیکلې ده

زمیندار او سرمایه دار ۸۱:۴۰

سید رسول رسا چې پر خپل شعري ترهر چا زیات د اقبال اثرات منلي دي. له هم دې کبله دده د نوري درستې عمومي شاعرۍ په خیربې تر هر پښتنانه شاعر زیاتې مکالمې لیکلې دي. چې شمیرې دیرشو ته رسیږي. په دغو مکالموکښې ځنې په دې ډول دي.

۱. شیطان او انسان ۸:۱۹

۲. موسی او فرعون ۹۵:۱۹

۳. دمرګ شپه او دژوند شمع ۹۵:۱۹

۴. یو زلمی اوسقراط۳۹۵:۲۰

۵. اور او اوبه ۳۸٦:۲۰

٦. روح او ګیډه ٦۸:۱۹

د پښتو پیاوړے شاعر اشرف مفتون هم ځنې مکالمې کښلې دي

۱. د شاعر او عارف مکالمه ۱٦:۲

۲. د ملا او شیطان مکالمه ۲:۱۰۹

۳. د شاعر او فلسفی مکالمه ۲:۵۷

## د اقبال څخه ماخوذه پښتو شاعری

په پښتو شاعری کښې مونږ ځای پر ځای د اقبال څخه ماخوذه برخه هم وینو. په کومو کښې چې په څنو ځایونو کښې څنو شاعرانو د اقبال څخه هنری اخذ کړی او د څنو بیا موضوعی اثرات څنې خپل کړی دی. څنې ځایونه خو مونږ پښتو شعر کښې داسې بیلګې هم وینو چې په هنری او اسلوب اعتبار دواړو سره یې د اقبال څخه اخذات کړی دی. او موضوعاتی کړه وړه یې هم د اقبال په څیر وی. لیکن متاسفانه نه خود ماخوذ اونه خود اقبال څخه د ماخوذ حواله په ځان کښې لری. په اول ذکر شوی ټولنی کښې دفضل حق شیدا نظم افغان د شیر محمد مینوش اشارات د عبدالاکبر خان اکبر شعرونه او د سید منظور حسین منظور نظم ''دوزخ'' شامل دی.

عبدالله جان اسیر په ډیرو ځایونو کښې د ماخوذ په نوشتې سره د اقبال څخه اخذات کړی دی. په اسلوب او موضوعاتی اخذات کوونکو کښې عبدالله جان اسیر میررحمان غازی، عبدالروف رفیقی، سیدایم مرناض نصرالله حافظ، سیده بشری بیګم، ګل رحیم جوهر، خیرالحق، ګوهر کاکا خیل، سیدرسول رسا او امیرحمزه شینواری شامل دی. چې تفصیل به یې مخ ته په جدول کښې راشی.

## په پښتو شعر کښې د اقبال د نامه اثرات

دحضرت علامه اقبال پر ادبی اسمان باندی د ځلا د مخه چری هم په پشتو شاعری کی نه خو د اقبال په نامه اونه د اقبال په تخلص یکی یو شاعر هم شته. تر دی ځای چی دیوه شاعر په نامه کښې داقبال یادونه لانشته. البته د اقبال شاه په نوم په موږ یو اولسی شاعر پیژندل شوی دی چی په افغانستان کښې د ننګرهار اوسیدونکی وو.۷:۱۱

د حضرت علامه پس د ډیرو شاعرانو د اقبال نوم یا خو تخلص شو یا یې د نامه برخه. تفصیل یې په دی ډول دی.

ډاکټر اقبال نسیم خټک کرک  د پیښور پوهنتون د پښتو استاد

| | | |
|---|---|---|
| اقبال حسین افکار | مردان | ۶۵:۱۳۷ |
| محمد اقبال نابناد | لکی مروت | ۱۲۳:۱۳۷ |
| اقبال وهی | بنوں | ۴۹:۴۷ |
| جاوید اقبال افکار خټک | چهب کلي ضلع اټک | ۶۷:۴۷ |
| محمداقبال شاهین | ملاکنډ ایجنسی ډیر الله ډنډ | ۲۳۸:۱۰ |
| محمد اقبال شاکر | بټ خیله صوبه سرحد | ۲۸۳:۱۰ |
| محمد اقبال اقبال | ملاکنډ ایجنسی | ۱۹۹:۱۰ |
| محمد اقبال اقبال | سیدو شریف سوات | ۲۶۲:۱۰ |

# دویم څپرکی

د اقبالیاتو منظومې پښتو ژباړې

## (الف) اردو آثار

۱. بانگ درا

۲. بال جبریل

۳. ضرب کلیم

٤. ارمغان حجاز

## (ب) فارسي آثار

۱. اسرار خودی

۲. رموز بیخودی

۳. پیام مشرق

٤. زبور عجم

٥. جاوید نامه

٦. پس چه باید کرد اے اقوام شرق مع مسافر

# بانګ درا

بانګ درا د اقبال مشهور اردو شعري اثر دی چې په دوو برخو ویشل شوی دی. د لومړۍ برخې اشعار یې د ۱۹۰۵ء پورې وئیلي دویمه برخه یې د ۱۹۰۵ء څخه تر ۱۹۰۸ء پورې او دریمه برخه یې د ۱۹۰۸ء څخه پلیږي. دغه کتاب لومړی ځل په کښې چاپ شو او تراوسه یې یو شمیر اډشنیونه راوتلي چې د نسخو شمیرې په زور دی. په هره برخه کښې یې په پیل کښې نظمونه او په پای کښې غزلې راغلي دي.

په لومړۍ برخه کښې یې مشهور نظمونه شمع، عشق او مرګ، د درد تصویر ، شمع او ماشوم دراوی په غاړه. او دمسافر سوال شامل دي.

په دویمه برخه کښې بیا دحسن حقیقت، ستوری او سپوږمي، نمیګرۍ کوشش وغیره راغلي دي. او په دریمه برخه کښې یې فکر د ارتقایي پړاونو د لوړو او جورو سره اشنا شوی او خپل نړیوال شهرت لرونکي نظمونه یې تخلیق کړي دي. په دغو نظمونو کښې ځنې په‌ډېې ډول دي. شاهي ګورستان. د غم فلسفه، شکوه، شپه او شاعر، شمع او شاعر، د شکوی جواب ، فاطمه بنت عبدالله، د مور په یاد کښې. خضرراه، او طلوع اسلام وغیره.

زما په مخ کښې داوخت د بانګ درا د پښتو منظومه ژباړه پرته ده چې سید راحت الله زاخیلي کړې ده. دغه ژباړه په لومړي

ځل په جنوری ۱۹۶۳ء کښې د اقبال اکادمي کراچي له خوا د پښتو اکادمي پېښور يونيورسټي په وساطت چاپ شوه.

راحت صاحب د بانګ درا په بشپړه توګه په پښتو نظم کښې ژباړه کړې ده. مولانا عبدالقادر صاحب چې د بانګ درا د پښتو ژباړه پېژندګلوي کړې ده د دغې ژباړې او ژباړونکي په باب داسې ليکي

" ددې پېژندګلو دليک په موقع چې زه د پښتو مترجم سيد راحت زاخيلي پورې راورسيدم نو ناڅاپه مې دا خيال راولاړ شو چې دا څه عجيبه اتفاق دے چې د پښتو ژبې په ژوندو اديبانو کښې د ټولو نه مشر اديب راحت دے. علامه اقبال او راحت زاخيلي که همزولي نه دي نو نزدې ضرورې دي. راحت ډير زوړ اديب هم دے. شاعر هم دی افسانه، ناول نګار او ډرامه ليکونکي هم دی او خوشنوس هم او دی د شعر په ميدان کښې لکه د علامه اقبال سره سره تګ کوونکي ښکاري. ده لکه څنګه چې غلام محمد خان پوپلزی د چارسدې دمسدس حالي پښتو ترجمه کړې ده چې پښتون رابيدار کړې دغه رنګ راحت صاحب هم د ټولونه اولني سړی وو چې څه وخت شکوه او جواب شکوه شائع شوه نو ده يې پښتو کښې ترجمه اوکړه دا هغه وخت ووچې اقبال هم زلمی وواو راحت هم زلمی وو. او ظاهره ده چې راحت زاخيلي باندې د اقبال د کلام اثر ده دومره ژور وو چې د اقبال څه غزل يا نظم به چاپ شو نو ده به د

هغې ترجمه پښتو ژبه کښې اوکړه"٦٣:ح

راحت صاحب به ولې د اقبال منظومې ژباړه په خپله مورنۍ ژبې کښې نه کولې. ځکه چې په قول دمولانا عبدالقادر صاحب "راحت صاحب څه چې د هندوستان د هر کوټ مسلمان شاعر ته به چې داقبال کلام په اخبار یا رساله کښې اورسیده نو سمدستې به یې د هغې ترجمه په خپله خپله ژبه اوکړه داکیفیت نن هم عام دے خیر هر څه چې وو خو راحت د اقبال د ژوند د هر دور سره خپل تعلق ساتلې دې په مشرانو پښتنو ادیبانو کښې راحت یکې یو سړے دے چا چې خپل ټول عمر د پښتو ادب او شعر په خدمت کښې تیر کړو. ده خپل اوږ د عمر په زښت ډیر تکلیف کښې تیر کړے دې. ولې پښتو ی نه ده پریښې. بیا داقبال د افکارو د اثر خو یوازې په ده څه چې په هر چا تردې حده شوې دې چې آکثر شاعران او ادیبان څه لیکې نو سند تر ډیره حده داقبال نه اخلې. راحت اقبال پښتون کړې دې. د ښې ترجمې مادې نه یې ښه غټه برخه موندې ده. بیا د پنځوسو شپیتو کالو پرله پسې مشق خوده له په دې میدان کښې د ټوله نه لوړ ځاے ورکړې وو. لنډه دا چې اقبال د بانګ درا د پښتو ترجمې داکار راحتؔ هغه زمانې راسې شروع کړې وو په کومه زمانه کښې چې اقبال په ړومبي ځل د شعر شاعرې میدا ته راڅکه شوې وو. د داسې مترجم نه زیات مستند مترجم به سړې له کوم ځایه راپیدا کړې".

راحت صاحب د کوم دولتي امر یا کوم پروجکیټ په وړاندې دغه د بانګ درا منظومه پښتو ژباړه نه ده کړې. بلکه وخت په وخت یې سم دلاسه د اقبال دکلام په لیدلو اقبال سره د ذهني او فکري یو والی

له کبله د اقبال اشعار په پښتو شعر ژباړل یو وار بیا مولانا عبدالقادر صاحب ددې خبرې ګواه ورکوی. "د بانګ درا د پښتو کولو دا درونډ کار په راحت صاحب سپک شوی غوندې وو. ده د پنځوسو شپیتو کالو راسې د بانګ درا اشعارو ترجمه وخت پې وخته کړې او د څه لږ لاندې باندې نه پس یې ترې یوه مسوده شان جوړ کړه او ماته یې راوسپارله. راحت لاشکر دې ژوند دې ولې ډیر ضعیف شوی دې. نظری کم شوی دې اود زړه ارمان یې دادې چې د بانګ درا د پښتو دا ترجمه چا پ شي. او پښتون ته اورسې او ده کښې لاساه غړیږی.٦٣:ی

د دغې ژباړه ١٢ مخه د مولاناعبدالقادر پیژندګلو ده . د اردو بانګ درا دیباچه چې شیخ عبدالقادر، بیرسټر ایټ لا د " مخزن" پخواني مدیر لیکلې وه مشتاق احمد مشتاق په ١٥ مخه کښې ژباړلې . ددغو پاڼو په چپه ددغه کتاب د پاته پاڼو شمیر ٣٣٢ دی.

کله چې موږ دغه ژباړه وایو نو ځای په ځای خودسرې داخیال شي چې ژباړه نه بلکه طبع زاد تخلیق دی. لږ ځیر شي د شکوې دغو مصرعوته.

ہم سے پہلے تھا عجب تیرے جہان کا منظر
کہیں مسجود تھے پتھر کہیں معبود شجر
خو گر پیکر محسوس تھی انسان کی نظر
مانتا پھر کرتی ان دیکھے خدا کو کیونکیر
تجھ کو معلوم ہے لیتا تھا کوئی نام ترا
قوت بازو ئے مسلم نے کیا کام ترا
بس رہے تھے یہیں سلجوق بھی تورانی بھی
اہل چین چین میں ایران میں ساسانی بھی
اسی معمور ے میں آباد تھے یو نانی بھی
اسی دنیامیں یہودی بھی تھے نصرانی بھی
پر ترے نام پہ تلوار اٹھائی کس نے
بات جو بگڑی ہوئی تھی وہ بنائی کس نے ۱۲۵ : ۱۶۴

ژباړه:

مونږ نه وړاندې عجبه دې ننداره ددې جهان
چرته کاڼو ته سجدې وې چرته بوټي ووخدايان
اموخته په بنکاره بت باندې نظرو د انسان
بيا به څنګه ناليدلي چا منه رحم رحمان
دا خو تا ته بنه معلومه ده چا نوم ستا اخستلو
دا وو زور دمسلمان د مټ ستا کارې اوسيتلو

هم په دی زمکه آباد وو سلجوقیان هم تورانیان هم
دچین خلق وو په چین کښې په ایران کښې ساسانیان هم
هم دی زمکی د پاسه استوګنې وو یونانیان هم
سیشته دلته یهودیان وو وو هم دلته نصرانیان هم
ولی ستا په نامه توره راته وایه چا کړه پورته
هغه ورانه چی خبره وه چا جوړه کړه هر لور ته۶۳:۱۷۸

تو ہی کہہ دے کہ اکھاڑا در خیبر کس نے
شہر قیصر کا جو تھا اس کو کیا سر کس نے
توڑے مخلوق خداوندوں کے پیکر کس نے
کاٹ کر رکھ دیے کفار کے لشکر کس نے
کس نے ٹھنڈا کیا آتشکدہ ایران کو
کس نے پھر زندہ کیا تذکرہ یزدان کو۱۲۵: ۱۶۵

ژباړه:

وایه اوویسته د بیخه دروازه د خیبر چا
ته اووایه چی کړه فتحه هغه ښار د قیصر چا
د کفارو بتان وایه زیر مریز کړل کسکر چا
یخه پخه ایره چا اتشکده کړه د ایران
چا ژوندی کړله له سره تذکره بیا د یزدان
۶۳:۱۸۰

کله کله زورکښې هم اردو توری پښتو کړل شوی لکه په دعا

کښنی د تړپا توری

یا رب دل مسلم کو وہ زندہ تمنا دے
جو قلب کو گرما دے جو روح کو تڑپا دے ۱۲۵ : ۲۱۲

ژباړه:

خدایه زړه دمسلمان ته ورکړه هغه تمنا
چې زړګی پری باندی ګرم کړی او روح کړی په تړپا
۲۳۷:۶۳

کشاکش زم وگرماتپ وتراش وخراش
زخاک تیره دروں تابہ شیشۂ حلبی ۱۲۵ : ۲۲۳

ژباړه:

کشاکش دی دتاو روغ تراش خراش ساړه ملاغه
توری خاوری نه یې راواخله بنی پوری دحلب
۲۴۹:۶۳

د بانګ درا د دغی مستقلی منظومی پښتو ژباړی په چپه ځای په ځای موږ د بانګ درا منظومی ژباړې د بیلو بیلو شاعرانو په شعرونو کښنی هم لیدلے شو.

د یونیورسټی بک ایجنسی پیښور له خوا په مشخصه توګه شکوه او جواب شکوه جدا چاپ شوی د خیړونو د اصول په وړاندی دغه نسخه دچاپ . دوی غتی نمیګیړتیاوی لری. یوه دا چې د ژباړونکی نوم یې نشته او بله دا چې پخپله د اقبال د نامه هیڅ ډول

یاودنه نه ده شوی. بله دا چې د چاپ سن یې هم نشته. البته که ځوک دغه ''شکوه او جواب شکوه پښتو منظومه ترجمه'' ووینې نو پوه دې شي چې ددې شکوې اوجواب لیکونکی اقبال او پښتو ژباړونکی يې سید راحت الله زاخیلی دے.

د خانوزی عبدالغني شهاب هم په ځانګړی توګه د اقبال دشکوې او جواب شکوې پښتو منظومې ژباړې کړې دی. اوتراوسه یې نه یو ځای یادونه راغلی او نه تراوسه چاپ شوی خو ماته پخپله شهاب صاحب ددغی ژباړې یو نقل رالیږلی دی.

ددې علاوه د عبدالمالک فدا په دیوان کښې پر ٤٦ مخ چې کوم نظم راغلی پر دغه باندی هم د اقبال د شکوه او جواب شکوه ژور اثرات پراته دی.

عبدالله جان اسیر د ''زړه قطرې'' کښې ګیله او جواب لیکلی ص٥٣-٦٤

د میر رحمان غازی د غازی په سندره کښې د امید سبا نظم ص. ١٤٣.١٦٣ تر دغو اثراتو لاندی راغلی دی.دغه راز د سید ایم مرتاض سوال وجواب (اباسین کراچی ستمبر ١٩٦١ء ص ٦١) باندی هم د اقبال ددغوشاهکار نظمونو اثرات شوی.

وبلی خواته پر بیلو بیلو پښتنو شاعرانو د بانګ درا د اشعارو او نظمونو تخلیقی او فکری اثرات شوی چې دلته یې لنډه یادونه ضروری ګڼم.

"بانگ درا ص ۱۲٦ گل باچا الفت انسان د زړه وینا ص ۱۰۱

تعلیم اور اس کے نتائج ، جدید تعلیم( بانگ درا ص ۲۴۲.۲۰۹

فضل حق شیدا موجوده تعلیم اسویلی ص ۵۱

نقیب احمد فطرت مکتب کشمالي ص ۱۲۲

حقیقت حسن جلوه حسن ، بانگ درا ص ۱۲۷.۱۱۲

فضل حق شیدا حسن اسویلی ص ۲۰

دعا ، بانگ درا ص ۲۱۲

سیده بشری بیگم التجا زیری ۳۱، ٤٤

سیدرسول رسا دعا دبیدیا گلونه ص ۹

دل بانگ درا ص ٦١ سیده بشری بیگم زړه زیری ص ۲۸

شکوه او جواب شکوه بانگ درا ص ۱۹۹.۱٦۳

سید عابد شاه عابد هنداره، اولس کوئیته ۱۹۷۳ء مختلفی شماري

شاعربانگ درا ص ٦١، ۲۱۰، سیده بشری بیگم شاعر . زیری ص ۱۲۲

فضل حق شیدا ، شاعر اسویلی ص ۲٦

طلوع اسلام، بانگ درا ص ۲٦۷

همیش گل منتظر ، مسلمان ته اباسین کراچی مئی ۱۹۵۷ء،ص ۳٤

لعل زاده ناظر شنواری ، مسلمان اباسین کراچی فروری ۱۹۵۵ء

محمد دین مقید د وطن زلمی ته اباسین کراچی ستمبر ۱۹٦۲ء ،
ص ۱۹

د بانگ درا څخه ماخوذ د پښتو شاعری یادونه .

پرندے کی فریاد بانگ درا ص ۳۷

سید رسول رسا د پنجرے د مارغه فریاد، باغ وراغ ، ص ۱۳۳

نصرالله حافظ د پنجرے فریاد تاتری ص ۱۱

عبدالروف رفیقی، مرغي خوارکی الریحان کوئیته ۱۹۸٦ء، ص ۱۰٦

اقبال په بانگ دراکښې ونانک ته خراج وړاندی کړی ص ۲۳۹ د اقبال شیدائی فضل حق شیدا هم نانک ستایلی اسویلی ص ۷۱. دغه راز اقبال سر سیداحمد خان ته تحسین پیش کړو - فضل حق شیدا هم په اسویلی کښې (ص ۷۸) د سرسید احمد خان ستاینه کړی.

د سید راحت زاخیلی ددغی ژباړه پرهنری بنکلا باندی ادبی نقد ډیر اوږ دیږی. په لنډه توګه دا وئیلے شم چی د اقبال د درا دغه بانگ به جرۀ پښتو ژبه بي له راحته چا داسی خوږه وللا شوه. د راحت روح دی ښادوی چی د اقبال د درا بانگ ئي له آموتر آباسینه له سالنګه تر خیبر وکوږ که په درست پښتنانه قام واویدی. د بانگ درا یو بله پښتو منظومه ژباړه شیر محمد مینوش کړی وه چی تراوسه نه دی چاپ شوی.٦۲: ٤٥٠.

# بال جبریل

د اقبال د اردو په کلیاتو کښې بال جبریل دده دویمه شعری تولګه ده چې لومړی ځل د اقبال په ژوند کښې په جنوری ۱۹۳۵ء کښې د چاپ څخه راووته.

بال جبریل داقبال د لوړو ادبی شاهکارونو څخه یو دی. په دغه کتاب کښې دضرب کلیم غوندی روحانی تسکین موندل کیږی. لوړ شاعرانه افکاری د لوستونکو ذهنونه منور کوی. د بال جبریل د شعری او فکری ارزښتناکیو په باب خورالو ړولوړو عالمانو او فاضلانو خورا ارزښتناکه لیکنی کړی. دلته فقط زموږ غرض ددغه کتاب د پښتو ژباړی معرفی ده.

دبال جبریل لومړی باقاعده پشتو شعری ژباړه عبدالله جان اسیر کړی ده. که څه هم د عبدالله جانؒ اسیر پر مجموعی شاعری باندی داقبال ژور فکری اثرات خواره واره دی چې یو شمیر بیلګی یی موږ دده په کتاب " د زړه قطرې" کښې وینو چې د یونیورسټی بک ایجنسی له خوا په لومړی ځل په ۱۹۵۶ء کښې چاپ شوی ده.

خو د بال جبریلؒ دغی ژباړی نوم چې عبدالله جان اسیر کړی ده. "پلوشه" دے چې د فضل ودود کاتب له خوا کتابت شوې او په انجمن پریس کراچی کښې چاپ شوی ۲۲۶ مخونه لری د چاپ کال پر لیکل شوی خونه دی. لیکن اسیری تر ترون لاندی لومړی نوسبر ۱۹۵۹ء نیټه لیکلې ودی شی چې په همدغه کال دی چاپ شوی وی.

ځکه چې زما په سخ کښې چې د"پلوشی" کومه نسخه پرته ده دا پخپله د عبدالله جان اسیر له خوا د پښتو ونومیالی لیکوال فضل احمد غازی ته په لسم فروری ۱۹۶۰ء وړاندی شوې ده. او ماته د ګران ملګری ډاکټر صاحب عبدالبصیر جان اڅکزی د کتابتون څخه په لاس راغلی. دغه ژباړه د اقبال د اصل کتاب په څیر هیڅ ډول پیژندګلو، دیباچه یا سریزه نه لری. نه خود ژباړونکی .لخوا د تړون په چپه څه ډول لیک لری.

اسیر د (بال جبریل) یو سل ویوشپیته سره غزلی په پښتو شعر ژباړلی پس له هغه یی د اقبال په غزلی کښی لیکلی " افکارپریشان " ترجمه کړی چې د غزلو شمیره یی یو شپته ته رسیږی. دغه غزلی اقبال په غزنی لندن کابل قرطبه ارو پا او فرانس کښی لیکل دی.

ددې وروسته یی دولس څلوریځی پرله پسی ژباړلی یولس نوری د لومړنیو پنځلسو غزلو په پایی کښی ځای پرځای راوستلی دی. پاته څلورئیځی او قطعې یی دبیلا بیلو نظمونو پای کښی خوند کړی دی.

په پیر او مرید کښی یی د اقبال ویلی شوی ویناوی خو ژباړلي لیکن دروسی خبری یی هم هغسی په فارسی راوړی دی.

ماته پخپله د عبدالله جان اسیر ژباړه ډیر خوند راکوی. ځکه چې اسیر په اقبال کښی غرق شوی بیا یې د ژباړی ګوهر ترلاسه کړی.

اقبال وایی

ترى دنیا جهان مرغ وماهی
مری دنیا فغان صبحگاهی
تیری دنیا میں میں محکوم ومجبور
مری دنیا میں تیری پادشاهی١٢٦:٨٦

ژباړه:

ستا دنیا د آب وخاک
زما په برخه سینه چاک
ستا دنیا کښې زه مجبور
زه تمام یم ستا په واک١٤:٦٤

عبدالله جان اسیر د اقبال د مشهورې اصطلاح خودی ژباړه "پښنتو" کوی گویا اسیر پخپله خودی پښنتو گڼي چې ځای په ځای د معنویت په لحاظ ډیر خوند کړی دی.

اقبال

خودی کی جلوتوں میں مصطفائی
خودی کی خلوتوں میں کبریای
زمیں وآسمان وکرسی وعرش
خودی کی زد میں ہے ساری خدای١٢٦:٨٣

ژباړه:

دپښتو مجلس کښې دی پیغمبری شان
د پښتو خلوت کښې شان دی د رحمان
خدای تړوله د پښتو دصفت ډکه
عرش کرسی ده یا که مزکه یا آسمان٦٤: ١١٨

د بال جبریل دویمه باقاعده منظومه پښتو ژباړه قاضی عبدالحلیم اثر صاحب کړی چې دمولانا عبدالقادر صاحب د قوله " په دې ترجمه کښې ګڼړو ادیبانو شاعرانو او فاضلانو همکاری او

ملګرتیا کړې ده. او تړون یې په دوی کښې د یوکس سره کول په تر ډیره حده د بل په حصه بلوسه کول وی. ددې میدان سواره قاضی عبدالحلیم اثر، محمد نواز طائر، مشتاق احمد مشتاق او مراد شینواری وو. دا روستی دری فاضلان د اکیډیمی سره تعلق لرونکی وو او فاضل عبدالحلیم اثر پکښې د بهر نه وو" ١٦٥: ٨

دغه ژباړه لومړی ځل په نومبر ١٩٦٧ء کښې د اقبال اکادمی کراچې له خوا د پښتو اکیډیمی پیښور یونیورسټی په وساطت په ٢٢٤ مخونو چاپ شوه. نهه مخو نه یې ددې علاوه مولانا عبدالقادر صاحب پیژندګلوی ده.

لومړی په کښې شپاړس غزلې ژباړل شوی . وروسته د "افکار پریشان" د برخې یوشپته غزلې ژباړل شوی. البته په

ځلوریځو کښنی اتلس دانی نه وی ژباړل شوی.

ګویا د عبدالله جان اسیر ژباړې ته دا اعزاز حاصل دی چې بشپړی ځلوریځی په کښنی ژباړل شوی دی. ددغه چاپي کتاب ۱۲۱ او ۱۲۲ مخونه سپین پاته دی که دپیسټنګ غلطي وی نو هم د ځلورو په حساب اته ځلوریځی جوړیږی. او په لوی سر کښنی اتلس ځلوریځی مانده دی. زه د چا د ژباړی د مبالغې ترحده د ستایلو شوقی نه یم البته د ذوق وشوق د زیار اوولولي رنګ خوند د زورکی جبری او سرسری غوندی ژباړی څخه بیل وی. دلته په لنډه توګه د اقبال دری غزلی د عبدالله جان اسیر او د آکیډیمی دچاپ د ژباړل شوی (د ژباړونکی شخص نوم یی نشته) څکه یی لیکلائی نه شو مولانا عبدالقادر دګڼو کسانو زیار بللی) سره راوړم چې تاسو یی پخپله سره مقایسه کړی چې د اسیر ژباړه قوی ده او که د آکیډیمی ژباړونکی.

دگرگوں ہے جہاں تاروں کی گردش تیز ہے ساقی
دل ہر ذرہ میں غوغائے رستا خیز ہے ساقی
متاع دین ودانش لٹ گئی اللہ والوں کی
یہ کس کافرادا کا غمزہ خون ریز ہے ساقی
وہی دیرینہ بیماری وہی نامحکمی دل کی
علاج اس کا وہی آپ نشاط انگیز ہے ساقی

حرم کے دل میں سوز آرزو پیدا نہیں ہوتا
کہ پیدائی تری اب تک حجاب آمیز ہے ساقی
نہ اٹھا پھر کوئی رومی عجم کے لالہ زاروں سے
وہی آب و گل ایران وہی تبریز ہے ساقی
نہیں ہے نا امید اقبال اپنی کشت ویراں سے
ذرا نم ہو تو یہ مٹی بہت زرخیز ہے ساقی
فقیر راہ کو بخشے گئے اسرار سلطانی
بہا میری نوا کی دولت پرویز ہے ساقی۱۲۶:۱۱

عبدالله جان اسیر ژباړه

ستا جهان دی ګڼه وه شوی ستوری هم دی تیز رفتاره
هر یو خیز تبدیلی غواړی خپل حالت کښې ناقلاره
چا د مخ نه رنړا ورځ کښې دی نقاب برسیره کړی
خاوندان د عقل ودین یی ګرفتار کړل ګرفتاره
هغه زړو مرض د زړه سی کمزوری چی پخوانی ده
دا په بل څه به بنه نه شی بی له میو د شراره
د حرم په زړه کښې شوق هم پیدا نه شو څه به وایم
ستا جلوه پټه پردو کښې لا تراوسه د اسراره
د عجم په ټول وطن کښې بل رومی یو پیدا نه شو
که تبریز ایران موجود دی زه بی څه کړم کردګاره

اقبال نه دی نا امیده له دی خپل سپیره پټی نه
که لږاو تر په کښنی اوشی فصل اوبه کړی بسیاره
دا زما واړه اشعار دی یو ګنج د جواهر
دکوخو فقیربه تاکړی دباچا غوندی زرداره
۱۵:۶٤-۱٦

د اکیډمی ژباړه

تیز ګردش د ستورو دی بل شاه دنیا ساقی
زړه کښنی د ذری ذری حشر په غوغا ساقی
پنګه د دنیا او دین لوټ د بزرګانو شوه
کړی دا خونی غمزه کوم کافر ادا ساقی
زنځ هم هغه زوړ دی هغه ناټنګیتا د زړه
ورکړه آدخوند اوبه جوړ به شی پری دا ساقی
زړه کښنی د حرم ځکه سوز د آرزو نشته دی
پټ چی په پردو کښنی دی شته تر اوسه ستا ساقی
بیا د عجم لاله زار بل روسی پیدا نه کړو
خاوره د تبریز ایران ده هم هغه لا ساقی
نه دی نا امید اقبال خپل سیزلی کښنت ځنی
دی خاوره کښنی نو که وی ده بنیرازه بلا ساقی
وری سلطانی اسرار کړل فقیر د لاری ته
ده می د پرویز دولت بیعه د نوا ساقی۱۵:٦۵:۱٦

اقبال

لا پھر اک بار وہی بادہ وجام اے ساقی
ہاتھ آجائے مجھے میرا مقام اے ساقی
تین سو سال سے ہیں ہند کے میخانے بند
اب مناسب ہے ترا فیض ہو عام اے ساقی
مری مینائے غزل میں تھی ذراسی باقی
شیخ کہتا ہے کہ ہے یہ بھی حرام اے ساقی
شیر مردوں سے ہوا بیشۂ تحقیق تہی
رہ گئے صوفی وملا کے غلام اے ساقی
عشق کی تیغ جگر دار اڑالی کس نے
علم کے ہاتھ میں خالی ہے نیام اے ساقی
سینہ روشن ہو تو ہے سوز سخن عین حیات
ہو نہ روشن تو سخن مرگ دوام اے ساقی
تو مری رات کو مہتاب سے محروم نہ رکھ
ترے پیمانے میں ہے ماہ تمام اے ساقی

۱۲۶ : ۱۲

داسیر ژباړه

ساقي پورته شه بیا راکړه یو ډک جام
په مجلس کښېنې راله راکړه خپل مقام

سیخانې د هند د دریو صدو بند دی
سی باید چې ستا بخشش خوشی اوس عام
زما جام کښنی د غزل لږ شان باقی وو
ملا دې ته هم ویلی دی حرام
د مزرو غوندی ځوانان اوس پاتی نه دی
پاتی قوم دی د صوفی ملا غلام
د عشق توره تری نه چاده پټه کړی
علم لاس کښنی اوچت کړی خالی نیام
شاعری د صفا زړه حقیقی ژوند دی
بې له دې نه شاعری مرګ د دوام
پیمانه کښنی دی زه عکس د سپوږمی وینم
پری روښانه کړه زما تورتم ماښام١٨:١٧:٦٤

د آکادمی ژباړه

راوړه هم بیا هغه شراب هغه جام اې ساقی
چې راشی لاس ته می زما آمقام اې ساقی
دری سوه کاله راسی بندی میخانی دی د هند
اوس مناسبه دی چې خپل فیض دی شی عام اې ساقی
لږ غوندی پاتی په مینا کښنی د غزل وو زما
شیخ راته وایی چې دا هم د ی حرام اې ساقی

بنړ د خیږنی شو خالی د شنو زمریانو ځنی
تش دصوفی او ملا پاتے غلام اې ساقی
زیګرورتیغ د عشق پوهه نه یم چاپټ کړو
لاس کښنی د علم شو تش پاتی نیام اې ساقی
وی چی روښانه سینه سوز د ژبی عین حیات
وی که تیاره نو کلام مرګ د دوام اې ساقی
چی توره شپه سی د سپوږمی ځنی محرومه نه کړی
کامله میاشت دی ده راګیره په جام اې ساقی
۱۸–۱۷:٦٥

د اکادمی نسخه زیاتره په ژباړه کښنی هم هغه د اقبال د اصل متن قافیې په کار راچولی. زیاتره ردیفونه او قافیې یې کټ مټ هم هغه د اقبال د اردو اشعارو څخه اخستل شوی او حال داد اسیر معامله ددې څخه علاوه ده. د اکیډیمی په نسخه کښنی ځنی ځایونه د اقبال تراکیب هغه په هغه استعمال شوی که لږ څه نوره خواری په ختلې وای داقبال دتراکیبو او قافیو و ردیفو پر ځای دپښتو ډیر غوره ټکی موجود وه.

د بال جبریل دمستقله ژباړه په چپه موږ په خوره وره پښتنو شاعری کښنی هم د بال جبریل د نظمونو اوافکارو اثرات وینو.

ابلیس کہ عرضداشت بال جبریل ص ۲۔۱٦
فضل حق شیدا، شیطان اسویلی ص ۲۷

جاوید کے نام، بال جبریل ص ۱۱۵. ۱۴۷

فضل حق شیدا، خپل زوی تہ اسویلی ص ۶۵

خودی بال جبریل ص ۱۶۰

اسیر حمزه شنواری ، پښتون ته، غزونی ص ۱۳۳

محمد نادرشاه، بال جبریل ص ۲۲

فضل احمد غر، محمد نادرشاه ، د غره ګلونه ص ٥

فضل حق شیدا محمد نادرشاه اسویلی ص ۲۲

اسیر حمزه شنواری محمد نادرشاه غزونی ص ۲۰۱

خوشحال خان خټک ، بال جبریل ص ١٥٤

فضل حق شیدا خوشحال خان خټک اسویلی ص ٤١

سید رسول رسا خوشحال خان خټک ، د بیدیا ګلونه ص ۳۸

عبدالله جان اسیر خوشحال خان خټک ، د زړه قطرې ص ۳۸

میر رحمان غازی خوشحال خان خټک، د غازی سندره ص ٢٦

د بال جبریل دریمه پښتو شعری ژباړه شیرمحمد منیوش هم کړی ده چی تراوسه لا نه ده چاپ شوی.۶۲:٤٥٠

# ضرب کلیم

داقبال په اردو کلیاتو کښې ضرب کلیم دریم شعر اثر دی چی پر بیلا بیلو د قیقو موضوعاتو باندی د حضرت علامه خورا درانه عالمانه او فلسفیانه افکار لری. ودغه موضوعاتو ته یی خو را ښکلی

شعری بنړه ور اغوستې ده چی په ښکلی هنری پسول پسوللې ده.

زما وسخ ته دا وخت د ضرب کلیم دوی منظومی پښتو ژباړئ پروتی دی دا د پښتو ژبی خوش قسمتی اود پښتنو شاعرانو د اقبال سره مینه ده چی د ځنی مجموعو د یوې ځخه زیاتی منظومی ژباړی شوی دی. لکه د بال جبریل دوې چای شوی منظومی ژباړی او همدغه راز د ضرب کلیم دوې چاپ شوی ژباړی د ضرب کلیم یوه ژباړه سید محمد تقویم الحق کاکا خیل کړی چی اقبال اکادمی د پښنیور د پښتو اکادمی په وساطت چاپ کړی ده. دغه نسخه لوسړی وار په دسمبر ۱۹۶۷ء کښنی پر ۱۸۲ مخونو چاپ شوې په پیل کښنی یی د پښتو ژبی د محسن او داقبال مئین مولانا عبدالقادر صاحب پر ۲۶ مخونو مشتمله خورادرنه عالمانه پیژندګلو ده چی د اقبالیاتي ادب د لوستونکو د پاره د ضرب کلیم دمفاهمو د پوهیدلو په لړ کښنی ډیر اهمیت لری.

دویمه ژباړاه د اقبال یو مئین شیر محمد مینوش کړی ده چی د یونیورسټی بک ایجنسی پیښنور څوا پریو نیم سل مخه چاپ شوې ده.

کله چی موږ ددغو دواړو ژباړو پرهنری ځنډو پام را اړوو نو وینو چی ځنی ځایونه خو په دواړو ژباړو کښنی داقبال آهنګ هم په هغه انداز ژباړل شوی لکه د اقبال اصل متن چی وو هم هغه ردیف او هم هغه قافیه

خودی کا سر نہاں لا الہ الا اللہ
خودی ہے تیغ فساں لا الہ الا اللہ
یہ دور اپنے ابراہیم کی تلاش میں ہے
صنم کدہ ہے جہان لا الہ الا اللہ
کیا ہے تونے متاع غرور کا سودا
فریب سود وزیاں لا الہ الا اللہ
یہ مال ودولت دنیا یہ رشتہ وپیوند
بتان وہم وگمان لا الہ الا اللہ
خرد ہوئی ہے زماں و مکاں کی زناری
نہ ہے زمان نہ مکان لاالہ الا اللہ
یہ نغمہ فصل گل ولالہ کا نہیں پابند
بہار ہو کہ خزاں لا الہ الا اللہ
اگرچہ بت ہیں جماعت کی آستینوں میں
مجھے ہے حکم اذاں لا الہ الا اللہ ۷ ۱۲ : ۱۵-۱۶

دمینوش ژباړه

دخودی رمز پنهان لا اله الا الله
دخودی د تیغ فسان لا اله الا الله
په تلاش کښې دخلیل بیا ده ځکه زمانه
بتخانه شوله جهان لا اله الا الله

چې قبوله کړله تا دغه پنګه د غرور
دی فریب د سود او زیان لا اله الا الله
خپلولی د زمانی دغه مال دغه دولت
دوهمو نودی بتان لا اله الا الله
عقل ځنګه واچوه د زماں مکان زنار
نه زماں شته نه مکاں لا اله الا الله
د موسم نه ده پابند هیڅ چیری دغه نغمه
که بهاروی که خزان لا اله الا الله.
په ترخونو کی د قوم پټ دننه دی بتان
ماته حکم د اذان لااله الا الله ۶۶:۸-۹

د تقویم الحق کاکاخیل ژباړه

دخودئ راز نهاں لا اله الا الله
خودی توره وسوان لا اله الا الله
دغه دور ځان د پاره لټوی یو ابراهیم
بت کده ده دا جهان لا اله اله الله
تا په دی دنیا کښې کړی دکوټه سامان سودا ده
دا فریب د سود او زیان لا اله الا الله
د دینا مال دولت دا ریشتې دا پیوندونه
د وهمونو دا بتان لا اله الا الله

عقل خپله کړو تر غاړی د زمان ومکان ترګ
نه زمان شته نه مکان لا اله الا الله
دا نغمه نه ده پابنده د لاله او دګلونو
که سپرلی وی که خزان لااله اله الله
د ملګرو په تر خونو کښنی پټ وینمه بتان
ماته حکم دی اذان لا اله اله الله۶۷:۷-۸

د ضرب کلیم دموضوعاتو پر عموسی پښتو شاعری باندی جور اثرات پریوتلی دی چی ځنی بی په ذی ډول دی
آذادی ضرب کلیم ص ۶۱ ګل باچا الفت ، آذادی د زړه وینا ص ۲٤
خودی، ضرب کلیم ص ۲۷۶.۱۵۰،
محمد موسی شفیق، دخودی پیغام ص ۳۰
علم وعشق ضرب کلیم ص ۲۰
سید رسول رسا، قطعات، باغ وراغ ، ص ٤٦٢
محراب ګل افغان ، ضرب کلیم ص ١٦٤
فضل حق شیدا افغان اسویلی ص ۱۵
سلطان محمد صابر پښتون ته . د زړه غبار ص ۳۳
میر رحمان غازی، افغان مجاید ، د سپرلی نغمه ص ٤٥
سید شمس الدین مجروح، زمور هیواده ، منتخب شعرونه ص ٤٦
عبدالله جان اسیر ، مدوجزر.د زړه قطری ص ۱۱۲
کافرو مومن ضرب کلیم ص ٤٣

شیر محمد مینوش، اشارات ،اباسین کراچی آکتوبر ۱۹۶۱ء ص ٤١

دضرب کلیم د دوارو پښتو منظومو ژباړو څخه څنې نمونې مخ په مخ راوړل کیږي چې خوارږه لوستونکي یې توپیری مقایسه وکړي.

مسلمان کا زوال

اگر چہ زر بھی جہان میں ہے قاضی الحاجات
جو فقر سے ہے میسر تو نگری سے نہیں
اگر جواں ہوں مری توقع کے جسور وغیور
قلندری مری کچھ کم سکندری سے نہیں
سبب کچھ اور ہے تو جس کو خود سمجھتا ہے
زوال بندۂ مومن کا بے زری سے نہیں
اگر جہاں میں مرا جوھر آشکار ہو
قلندری سے ہوا ہے تونگری سے نہیں ۷ ۱۲ : ۲۰

د مینوش ژباړه

منم شی زر به د حاجاتو اکتفا ګنړلی
خو نفع شته په فقیری کښنی توانګری کښنی نه ده
که شی ځوانان زما د قوم چری بیدار او زړو ور
قلندری کښنی ګټه شته سکندری کښنی نه ده
سبب څه بل څه دی پخپله پری پوهیږی ته بنه
ستا د لیلی څه مسلمانه بی زری کښنی نه ده

په زماني کښې که ظاهر چرې جوهر شو زما
په فقیری کښې یې ده وجه سروري کښې نه ده ٤:٦٦ !

د تقویم الحق کاکا خیل ژباړه

زر سرادونه پورته کې څو څخه مزه چې چاته
له فقیری په لاس ورغلی توانګری نه نه ده
که وی ځوانان زما د قوم بهادران ننګیالی
کمه زما قلندری سکندری نه نه ده
سبب یې بل دی چې پری ته پخپله ښه پوهیږی
د مومنانو دا پستی د بې زری نه نه ده
که په دنیا کښې څه بریښنانه سی دجوهر ښکاره ده
قلندری نه ده ښکاره توان ګری نه نه ده١٢:٦٧

اقبال

زندہ قوت تھی جہاں میں یہی توحید کبھی
آج کیا ہے فقط اک مسئلہ علم کلام
روشن اس ضو سے اگر ظلمت کردار نہ ہو
خود مسلمان سے ہے پوشیدہ مسلمان کا مقام
میں نے اے میر سپہ تیری سپہ دیکھی ہے
قل ھواللہ کہ شمشیر سے خالی ہیں نیام
آہ اس راز سے واقف ہے نہ ملا نہ فقیہ
وحدت افکار کی بے وحدت کردار ہے خام

قوم کیا چیز ہے قوموں کی امامت کیا ہے
اس کو کیا سمجھیں یہ بیچارے دو رکعت کے امام ۷ ۱۲ : ۲۵

دسینوش ژباړه

توحید چرې ژوندی موندی قوت وو په دنیا کښې
خو نن ده مسله فقط د علم د کلام
روښانه چې بې نور دغه تیاره دعمل نه کړه
نو خود نه دی واقف لا مسلمان په خپل مقام
لیدلی می لښکر ددی سالاره د فوځونو
د توری د قل هوځنې خالی دی هر نیام
ملا دی که د فقهې هډو واقف څه په دی نه دی
وحدت چې د عمل نه وی وحدت د فکر خام
چې قوم دی لا څه شی څه امامت دی د قومونو
اګاه دی څه په دی د دو رکعاتو دا امام۱۹:۶۶

د تقویم الحق کاکا خیل ژباړه

ژوندی طاقت وو پخوا په دی دنیا کښې توحید
نن صبا څه پاته دی یو مسله دکلام
که رڼا نه شی په دی دکردار توری تیری
دی له مسله هم پټ د مسلمان مقام
ای د لښکر مشره ما ستا لښکر لیدلی
توره د قل هو الله نتشه د دوی په نیام

آه په دی راز خبر شو نه یو ملا نه فقیر
بی دکردار د وحدت وحدت د فکر دی خام
ژوندی قوسونه څه دی اوامامت څه دی
څه به پری پوهی شی غریبٔ د دو رکعتو امام

۱۸:٦۷

بہار و قافلۂ لالہ ہائے صحرائی
شباب و مستی و ذوق و سرور ورعنائی
اندھیری رات میں یہ چشمکیں ستاروں کی
یہ بحر یہ فلک نیلگوں کی پہنائی
سفر عروس قمر کا عماری شب میں
طلوع مہرو سکوت سپہر مینائی
نگاہ ہو تو بہائے نظارہ کچھ بھی نہیں
کہ بیچتی فطرت جمال و زیبائی ۱۲۷ : ۱۰۴

شیر محمد منیوش ژباړه

سپرلی او کاروانو نه دا ګلونه صحرائی
ځوانی ده خوشحالی مزه مستی او رعنائی
د شپې دغه تیاره کښنې ددی ستورو وهل سترګی
دا بحروینه هم د شین اسمان دا صفائی
د ناوی د سپوږمی تله د تیری د غنډولی کښنې
سکوت دا د اسمان د نمر ختلو رڼا یی

دی مفتی تماشی که دی په سترګو کښې نظر وی
فطرت نه خرڅوی چیری جمال او زیبائی۸۷:۶۶

د تقویم الحق کاکا خیل ژباړه

سپرلی او کاروانونه د لاله صحرائی
مستی مسته څوانی وخت د سرور او رعنائی
په توره شپه د سپنو ستورو سترګی نه نیول
دا سیند او دا د خور اسمان شخنی او پنهائی
د شپی ډولی کښی رورو د سپوږمی ناوی روانه
دنمردا راختل غلی سپهر مینائی
نظر که دی خپل وی د نظاری څه بها نشته
قدرت خرڅوی نه په چا بنائست زبیائی۶۷:۱۰۲

☆☆☆
☆

# ارمغان حجاز

ارمغان حجاز دحضرت علامه هغه شعری اثر دے چی جور دینی او مذهبی افکار په کښی بیان شوی دی. دحضرت علامه دپیغمبر اسلام شاه دوجهان آنخصرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره د غرقی مینی خوندور بیلګی په کښې دی. داقبال ددغه اثر متفرق افکار په فارسی او اردو دواړو ژبو کښی راغلی دی. داردو کلیاتو په پایی کښی هم د ارمغان حجاز برخه شته او په فارسی

کلیاتو کښې هم پا يې کښې د ارمغان حجاز بیله برخه راغلې ده.

د دغو دواړو برخو په پښتو شعر ژباړونکي د پښتو غزل بابا امیر حمزه شینواري وو دواړي برخې يې يو ځای په لومړي ځل په نومبر ۱۹٦٤ء کښې د پښتو آکیډیمي پښتور په وساطت د اقبال اکادمي کراچي له خوا چاپ شوی کتاب دوه سوه اتیا مخونه لري لومړي يو لس مخه يې دمولانا عبدالقادر د ارمغان حجاز او د هغه د پښتو ژباړي په با ب پیژندګلو لري. د ستر حمزه د روح په اجازه که دا ووایم چې د ارمغان حجاز د اردو برخه و بیا ژباړلو ته اړتیا لري نو بې ځایه به نه وي. لکه څنګه چې د کوشني وچوبې(برصغیر) د نامتو شاعر رابندر ناتھ ټاګور هغه شعري اثر چې نړلواله ادبي نوبل جائزه يې ګټلې وه هغه په لومړي ځل په پښتو کښې عبدالروف بینوا و ژباړله ددغې ژباړي خوند او رنګ دواړو په خپل ځایې ارزښت درلود. خو ددغه "ګیتانجلي" ددغې پښتو منظومه ژباړه چې په تیرو کلونو کښې د پښتو ناز کخیال شاعر محمد صدیق پسرلي کړی. د هغې ژباړي خوند بیا بیل دی. پسرلي د بیرته ژباړلو ضرورت محسوساه. چې دغه کاري تر سره کړ. همدغه ډول زه هم د ارمغان حجاز د پښتو شعري ژباړي يو وار بیا ضرورت محسوسوم ګورو چې د اقبال کوم عاشق به دغه کار تر سره کړي. لیکن د فارسي برخې د پښتو منظومې ژباړي ستاینه نه کول به سراسر نا انصافي وي.

گہے شعر عراقی را بخوانم
گہے جامی زند آتش بجانم
ندانم گرچہ آہنگ عرب را
شریک نغمہ ہائے ساربانم

ژباړه:

کله مې اشعار د عراقي په ژبان
کله د جامي ونیاسي اروبل کړي په ځان
څوکه د عربو له آهنګه خبر نه یم
بیا هم زه شریک یم په نغمه کښې د ساروان

غم راہی نشاط امیز تر کن
فغانش راجنون انگیز تر کن
بگیر اے سا ربان راہ درازے
مرا سوز جدائی تیز تر کن

ژباړه:

غم د لاروي سره خوښي کړه ګڼه ډیره
چغه د فریاد دې د جنون نه کړه ورتیره
واوره ای ساروانه په اوږده لاره روان شه
سوی د جدای مې لا سوا کړه رابر سیره

بیا اے ہم نفس باہم بنالیم
من وتو کشتہ ٔ شان جمالیم

دو حرفے بر مراد دل بگویم
بپائے خواجه چشمان رابمالیم

ژباړه:

راشه یاره سوړ چې سره او ژاړو زار زار
دواړه یو وژلی یو جلوی د یوه یار
راشه چې دوه دوه د زړه خبری سره اوکړو
او مښو بیا سترګی په پښو باندی د بادار

حکیماں رابها کمتر نهادند
بناداں جلوهٔ مستانه دادند
چه خوش بختے چه خرم روزگارے
در سلطان به درویشے کشادند

ژباړه:

کمه مقرر د حکیمانو شو بها
کړه یې ونادان ته مستانه جلوه عطا
څومره خوش بختی ده څنګه ښکلی زندګی ده
کړه یې یو درویش ته دروازه د سلطان وا

جهان چارسو اندر بر من
هوائے لامکان اندر سر من
چو بگر شتم ازیں بام بلندے
چو گرد افتاد پرواز از پر من

ژباړه:

دا همه جهان چې دی د تن په لر او بر کښې
شته دی هم هیوا د لامکان زما په سر کښې
زه چې کوم ساعت ددغه لوړه بامه تیر شوم
پریوت لکه ګرد چې می الوت وو په وزر کښې

درین وادی زمانی جاودانی
زخاکش بے صور روید معانی
حکیمان پر کلیمان دوش بردوش
که این جاکس نگوید او لن ترانی۱۳۵ : ۲۸ـ۳۰

ژباړه:

ښکاری دی کسي کښې زمانی جاودان
خیژی یې له خاورو بې صورته مغانی
دلته خوا په خوا دی حکمیان او کلیمان
ځکه چې څوک نه وایې بیخی لن ترانی
۳۸:٦۸

د فارسی د ژباړی په وخت خوستر حمزه بیخی ډوب شوی د معنویت د بحره څخه یې داسی ګوهر را برسیره کړی چې د سړی د ژباړی خیال نه بلکه د طبعزادی شاعری خیال پروشی. هغه د پښتو د سوچه تورو استعمال هغه هنری ښکلا لکه د حمزه په خپلو شعرونو کښې چې موجوده ده لږ ورته ځیر شی. "بحق دل بندو راه مصطفی رو"

"خدای پوری زړه اوتړه په لار د مصطفی ځه"

بمنزل کوش مانند مه نو
دریں نیلی فضا هر دوم فزون شو
مقام خویش اگر خواهی دریں دیر
بحق دل بند وراه مصطفیٰ رو

ژباړه:

پاځه په منزل کښې د هلال غوندې صفا ځه
ورو په ورو غټیږه په فضا کښې په ځلا ځه
غواړې خپل مقام که ته په دغه بتخانه کښې
خدای پورې زړه اوتړه په لار د مصطفی ځه

چون موج از بحر خود بالیده ام من
بخود مثل گهر پیچیده ام من
ازاں نمرود بامن سرگراں است
به تعمیر حرم کوشیده ام من

ژباړه:

موج غوندې پیدایمه له خپله سمندره
ځان کښې پیچیده یم لکه وی چې مرغلره
ځکه خو نمرود راته په دا هسې په غصه وی
کومه د حرم دجوړ وو خواری له سره

بیا ساقی بگرداں ساتگیں را
بیفشاں بردو گتی استین را
حقیقت را بہ رندی فاش کردند
کہ ملا کم شناسد رمزدیں را

ژباړه:

راشه ساقي راشه په ګردش دی کړه جامونه
کړه خواره لستوني دی په دواړه جهانونه
راز دحقیقت بی ظاهر کړی په رندانو
ځکه چې ملا پیژني کم د دین رازونه
بیا ساقی نقاب ازرخ برافگن
چکیداز چشم من خوں دل من
بہ آں لحنے کہ نے شرقی نہ غربی است
نواے ازمقام لاتخف زن ۱۳۵: ۶۵۔۶۶

ژباړه:

راشه ساقي راشه کړه نقاب دمخ نه لرې
او څخیدی وینی سی له سترګو نه نادری
اوسی په هغه غاړه چې شرقي ده نه غربي ده
وایه د مقام د لاتخف راته سندری۶۸: ۹۱

داردو په ارمغان حجاز کښي زیاتره هغه داقبال پر ردیفونو او قافیوں باندی په لږ بدلون سره ژباړی شوی دی.

آہ یہ مرگ دوام آہ یہ رزم حیات
ختم بھی ہوگی کبھی کشمکش کائنات
عقل کو ملتی نہیں اپنے بتوں سے نجات
عارف وعامی تمام بندۂ لات ومنات
خوار ہوا کس قدر آدم یزداں صفات
قلب و نظر پر گراں اپنے جہان کا ثبات ۱۲۸ : ۲۲

ژباړه:

اف دا مدامي مرینه او دا جنګ دحیات
خلاص به چرې هم شي کشمکش د کائنات
نشته دی خرد خپلو نباتوته نجات
عام دی که عارف هغه بنده د لات منات
خوار شو څه ادم چې یې لرل دحق صفات
زړه نظر ته ګران بنکاری ددی جهان ثبات
۲۳۹:٦۸

دملازاره ضیغم لولابي کشمیري بیاض نو بیخي کښ مټ د
اقبال اصل کلام څرګندیږي

پانی ترے چشموں کا تڑپتا ہوا سیماب
مرغان سحر تیری فضاؤں میں ہیں بیتاب
اے وادی لولاب

ژباړه:

آب و چنو ستا په رپا سر لکه سيماب
ستا په فضاګانو کښې مارغان همه بې ثبات
اے وادی لولاب

گرصاحب ہنگامہ نہ ہو منبرو محراب
دیں بندہ مومن کے لئے موت ہے یا خواب
اےوادی لولاب

ژباړه:

ډوک له شور چې نه دی که منبر وی که محراب
دين به د مومن د پاره مرګ وی اویاخواب
اے وادی لولاب

ہیں ساز پہ موقوف نواہائے جگر سوز
ڈھیلے ہوں اگر تار تو بے کار ہے مضراب
اےوادی لولاب

ژباړه:

بې سازه نغمې چرته جليا چې کړي ځيګر
سست چې وی تارونه نوبيکاره وی مضراب
اے وادی لولاب

ملا کی نظر نور فراست سے ہے خالی
بے سوز ہے میخانہ صوفی کی مے ناب
اے وادی لولاب

ژباړه:

تش دی دملا نظر دنور د فراست نه
بی تاوه د صوفی د میخانی دی سے ناب
اے وادی لولاب
بیدار ہوں دل جس کی فغان سحری سے
اس قوم میں مدت سے وہ درویش ہے نایاب
اے وادی لولاب ۱۲۸ : ۳۵

ژباړه:

زړونه رابیدار چی په فردی د سحر شی
دی قام کښی پخوا نه دی دوریش هستی نایاب
اے وادی ولاب ٦٨:٢٥٧
نکل کر خانقاہوں سے ادا کر رسم شبیری
کہ فقر خانقاہی ہے فقط اندوہ و دلگیری
ترے دین وادب سے آرہی ہے بوئے رہبانی
یہی ہے مرنے والی امتوں کا عالم پیری
شیاطین ملوکیت کی انکھوں میں ہے وہ جادو
کہ خود نخچر کے دل میں ہو پیدا ذوق نخچیری

چہ بے پرواگذشتند از نوائے صبحگاہ من
کہ برد آں شور و مستی از سیہ چشمان کشمیری
۳۸:۱۲۸

ژباړه:

را اوځه له خانقاه اختیار کړه رسم شبیری
دا فکر د خانقا خودی یو غم او دلګیری
ځی بوئی د رهبانی د ستا ددین او د ادب
هم داد مړی کیدونکو استونو ده پیری
جلوه داسی لیمو کښی د شاهی د شیاطینو
دښکار په زړه کښی شوق دښکار کیدو کاندی جاری
څه تیر شول بے پرواسی د نوا د صبائی نه
چا اولوټلی توری مستی سترګی کشمیری۲۶۳:۶۸

په" ارمغان حجاز" کښی اقبال د" ابلیس کی مجلس" شوری نظم لیکل دی حافظ خان محمد هم په دغه اسلوب کښی " دشیطانانو لویه جرګه" (دیوان خان محمد ص ۱۰۳) او هم دغه ارز فضل حق شیدا د شیطان لمسون (اسویلی ص ۱۶۰) کښلی دی چی د اقبال د زور اثراتو ښکارندوی دی.

# اسرار خودی

اسرار خودی د اقبال د نړیوال نظرړ خودی هغه په زړه پوری فارسی شعری اثر دے چی داقبال د افکارو او نظریاتو د ځوړولو د پاره

یې لوړنۍ تیزه کیښنوه. او هسې هم اسرار خودي د اقبال لوړنۍ شعرګې اثر دے. چې د خودي اصطلاح یې نړیوالو ادبیاتو ته وړاندې کړه. خودي چې په انګریزۍ کښې د EGO په عربۍ کښې دمن یا انا په معنی کښې راځي اود پښتو اصطلاح یې ځان پیژندنه جوړیږي. د معنویت په لحاظ خورا درانه او دقیق مطالب په ځان کښې لري. پر اسرار خودي باندي څه ویل یا دخودي پر نظریه باندي رڼا اچول زما رنګه لوستونکي دپاره ډیره درنه خبره ده. او زما د محدو دي علمي سوېې د وس خبره نه ده. دلته فقط د اسرار خودي د پښتو منظومې ژباړې خبره راخلو.

دغه ژباړه ملک الشعرا سمند ر خان سمندر کړې ده چې لوړی ځل د پاکستان پبلکیشنز کراچي له خوا په هیرالډ پریس کراچي کښې چاپ شوې پر کتاب د چاپ کال نه دی چاپ شوی په پای کښې ۱۹۵٤ء. ۱۳۷۳ھ ق راغلي چې د سمندر صاحب د ژباړې د بشپړتوب کال دی که دکتاب د چاپ کال . خو زما د محترم استاد ډاکټر صاحب رفیع الدین هاشمي یادښت ګي پرخنډ لیکل شوي دي چې ۹ نومبر ۱۹۷۵ء دے څرګند شوه چې د دغې نیټې د مخه چاپ شوی دی. کتاب ۲۳۷ مخونه لري د علامه اقبال او سمندر خان سمندر د عکسونو علاوه د سمندر صاحب یو دیرش مخیزه درنه علمي او خوندوره ادبي دیباچه چاپ شوې ده. دخودي اسرار او رموز په کښې خپرل شوي دغه راز یې د خپلې دغه ژباړې په

باب ښرګندونې کړې دي.

د سمندر صاحب په ژباړه کښې دنورو ژباړو ښخه بیل ماته یو جدا خوند اوکیفیت محسوسیږي. هغه داسې چې دا تنشه لفظي ژباړه نه ده بلکه فکري او معنوي ښکلایې پرهنري ښکلا غالبه شوې ده. دغه بدلون په دغه ښکلا کښې دومره اضافه کړې چې ژباړه نه ایسې . بلکه یو طبع زاد شعري اثربریښي. په دې هم چې د اقبال درانه او ژور نظریات دخودی د نکتو د سپړلو په باب د فکري یون په دغه کړاوکې د بیلا بیلو کړلیچونو ښخه تیر شوی دی. زما په خیال دا به مبالغه نه وي نه به دبې ځایه ستاینې په لیکه کښې راځي. بلکه دا به د سمندر خان صاحب د صلاحیتونو اعتراف وي که زه دا ووایم چې د سمندر په چپه به ګورو چې چا دغه ژباړي ته دومره خوندور پسول سپارلې وای اقبال اسرار خودی په لنډ مثنوي بحر کښې کښلې خو سمندر خان ولي چې په پښتو شاعري کښې د عروضو استاد ګڼل شوی دی دده همدغه غښتلې وصف له کبله یې خورا په ماهرانه انداز په اوږده بحر کښې په معري انداز باندې ژباړه سرته رسولې ده.

پیکر هستی ز آثار خودی است
هر چه می بینی زاسرار خودی است
خویشتن را چون خودی بیدار کرد
آشکارا عالم پندار کرد

صد جهاں پوشیدہ اندر ذات او
غیر او پیداست از اثبات او
در جهان تخم خصومت کاشت است
خویشتن را غیر خود پنداشت است
سازد از خود پیکر اغیار را
تا فزاید لذت پیکار را
میکشد از قوت بازوے خویش
تا شود آگاہ از نیروے خویش
خود فریبی ہاے او عین حیات
ہمچو گل از خون وضو عین حیات
بہر یک گل خون صد گلشن کند
از پے یک نغمہ صد شیون کند
یک فلک را صد ہلال آوردہ است
بہر حرفے صد مقال آوردہ است
عذر ایں اسراف وایں سنگین دلی
خلق و تکمیل جمال معنوی
حسن شیریں عذر درد کوہکن
نافہ عذر صد آہوے ختن ۱۲۹ : ۱۳

ژباړه:

ورته ګوره د خودی نه ددنیا ګرم بازار دی

د خودی رازونه سپړی ترجمان د ساز هر تار دی

چې خودی شوه رابیدار اودې وکړی غزونې

رابنکاره بې یو جهان کړو د پوهنې ځان ښنینې

جهانونه جهانونه پټ پراته ددې په ذات کښې

دا ډیر څه راپیدا کړی جل بې شته دی په اثبات کښې

دې جهان په دشمینو بس په دې چل وه لړلو

چې له ځانه بې ځان بیل او یو پردی څیزوه ګنړلو

دا پخپله له خپل ځانه د پردو وجود پیدا کړی

چې جنګ تودشی خوندی واخلی اوسړه داخپله خوا کړی

کله دا په زور د مټو وژلل کاندی له دې نیته

چې ځان وه تلی خبر شی له خپل زور اوله قوته

د خودی ژوندن له څه دی بس د ځان له تیرباسلو

ژوند هغه چې لکه ګل وی بس د وینو په کښنلو

چې یو ګل ددې ارمان وی سل چمنه څکه وران کړی

د یوې نغمې د پاره روا سل ژړا فغان کړی

یواسمان لره بنائست کړی سل سپوږمی او بلا ستوری

سل بحثونه کړی دپاره دیوه مطلب دتوری

ډیر زیاتی اوبی خوږتیا دی داددی کښله کیږی

معنوی جمال یی شوق دی چی تکمیل ورته رسیږی

دشیرینی ښائست ګوره تریخ فرهاد لره ژوندون کړو

سل هوسی یوی نافی یوړ هم یی ژوند په میړتون کړو ۵۵:۶۹

سمندر خان سمندر د خپلی دغی ژباړی دفکری او معنوی ارزښته ډک دغه اسلوب ترپایه په پرله پسې انداز جاری ساتلی دی. خو ځای پر ځای چی یی ضرورت محسوس کړی نو دکوم بیت لاندی یی لفظی ترجمه هم کړی مثلا

چشم اهل ذوق رامردم شوم

چون صدا درگوش عالم گم شوم۱۲۹:۸

پښتو ژباړه داسی کوی

چی ذوق دخاندانو دزړه سر دسترګو تورشم

چی یوغږشم درازونو ددنیا په غوږکی خورشم

۴۲:۶۹

د پورتنی فارسی بیت د لاندینی معنوی او فکری ژباړی علاوه لفظی ژپاړه داسی کوی

چی په نوی جستجو کښنی په مخ تګ وی توندر ساشم

چی د نوی آرزوګانو سره څه لکه اشنا شم۴۲:۶۹

اقبال ځای په ځای د خپلو بیتونو د وضاحت اوسپیناوی دپاره اشاره هم لیکلی خو ډیر لږ ځایونه او په خوار مختصر انداز. د سمندر خان د ژباړی یوه ښیګړی داده چی د اقبال د ځنو شعرونو

دوضاحت د پاره د ژباړن په چپه ګویا حاشیه هم لیکلې ده. لکه اقبال یو ځایي د آنحضرت صلی الله علیه اله وسلم په مدحه کښې وای.

من چه گویم از تو لایش که چیست
خشک چوبے در فراق او گریست۱۲۹:۲۱

سمندر دغه ژباړه داسې کوی

دهغه سینه کوم څیز دی درته څه وایم ګلو
دهغه په بیلتانه کښې وچ لرګی هم ژړیدلو
۷٦:٦۹

سمندر لاندې داسې لیکی چې " وایې چې د جماعت د کوټې یوه د لرګې ستن وه هغې ته به دوست د خدای صلي الله علیه وسلم تکیه لګوله. یوه ورځ هغه ستن بدلولې کیده ناساپه هغه ستنې فریادو کړو"(٦٦:۱۲۹) دغه راز یو بل ځایي اقبال داسې وائ.

پنجه او پنجۂ حق می شود
ماه از انگشت اوشق می شود

لاندې فقط دابنې چې تلمیح ده د شق القمرو معجزې ته

سمندر د دغه بیت ژباړه داسې کوی

که لاسونه دبنده وی داقوت یې لاس دخدای کړی
بیادګتې اشارت یې داسمان سپوږمې دوځای کړی
۸۸:٦۹

لیکن سمندر خان یې تشریح په تفصیل کوی

”کله چې به دخدای خوښنه شوه او د وخت پیغمبر به داسی کار وکړو. چې بل چا به کوے نه شو. او کفار به عاجز شول. داسی کارته قرآن معجزه وایی. دوست دخدایے محمدصلي الله علیه وسلم هم ډیری معجزې ښیلي دی . او یوه دا هم ده چې سپوږمی ته یې په خپله ګته اشاره وکړه نو هغه په منځ نیمه شوه. او ټولو ولیده خوازلی کفارو بیا هم‌ووی چې جادو ګردی جاد وی وکړو. دې معجزی د شق القمر ته اقبال صاحب په دی شعر کښې اشاره کړی ده“۸۸:۶۹

سمندر خان ډیر مفصله تشریح هم کړی دی. لکه ، معجزه رجعت خورشید،ص ٤٨ . تفصیل چې ده پر ص ۱۵۰ اویاپر ص ۱۵۱ ورکړی دی د لوستونکو د پاره ډیر فایده مند ثابتیږی. ځای په ځای یې دلچسپه سوانحي تفصیلات ورکړی لکه د سید ابوالحسن علی لنډه سوانح ، ص ۱۶۱ سمندر خان یو بل خوند ورابتکار داکړی چې د ژباړه په وخت یې ځنی ډیر ښه ټکی په کار راوړه. ددې د پاره چې خلق ښه په وپوهیږی. د هغه توری پرسری عام فهم ټکی لیکلی دی. مثلا ځنی ټکی په هغو کښې د خپل عمومی معني سره په دی ډول دی.

روږدی(عادت) خنګه خو(کیف وکم) توری (حروف) جونډیو(بللو) ډنګر (ضعیف) او تیر (سراب) نمرو (لباس) ښه مرغه

(خوشی قسمتی) مخاسته (نقش پا) کوره (انګوره) د کولو قوتونه (ممکنات) وغیره.

راشدؔ چې دلته د اسرار خودی د پاره د دعا نظم پر ځنو بیتونو دغه لنډه بحث پای ته ورسوو

اے چوں جان اندرو جود عالمی
جان ماباشی واز مامی رمی
نغمہ از فیض تو درعود حیات
موت در راہ تو محسود حیات
باز تسکین دل ناشاد شو
باز اندر سینہ ھا آباد شو
باز ازما خواہ ننگ ونام را
پختہ ترکن عاشقان خام را
از مقدر شکوہ با درا یم ما
نرخ تو بالاو نادرا یم ما
از تہید ستان رخ زیبا مپوش
عشق سلمانؓ وبلالؓ ازراں فروش
چشم بیخواب ودل بیتاب دہ
باز ما رافطرت سیماب دہ
آیتے بنماز آیات مبین
تاشود دا عناق اعداخاضعین۱۲۹:۲ے

ژباړه:

اے هغه چې په وجود کښې د دنیا لکه د ساه یې
هم زموږه د زړه سرې هم په تبنته په بل خوای
ستاله فیضه دی موندلې د ژوند ساز نغمې د خوند
مرګ چې ستا په لار کښې نوم وړکړی حسد ورسره ژوند
یوزل راشه د ناښادو زړونو خونې کړه بیا ښادې
بیامیشته شه په سینو کښې دا میرې کړه بیا آبادې
اي زمونږ څنې وغواړه بیا دننګ او نوم خبرې
ښه پاخه دا عاشقان کړه بیا تر واخله چارې نرې
له نصیبه ګیله مں یو اسویلې مو څې برٖاس دی
ستا د حسن نرخ اوچت دی او زمونږ ورته تش لاس دی
پلو لرې کړه له مخه خوشحال مونږ غریبانان کړه
د بلال اوسلمان عشق خو راشه بیا یو ځل ارزان کړه
بیا بې خوبه سترګې راکړه بیا دزړونو ترارې را
بیا په موږه سینه وکړه ته فطرت بیا د پارې را
داسې نخښې راښکاره کړه د اسمان له برجهته
چې زموں د دښمانو شی سرونه ورته ښکته۲۲۸:٦٩

# رموز بیخودی

د اسرار خودی پس د اقبال د لوړو عالی افکارو ښکارندویه فارسی شعری ټولګه "رموز بیخودی" ده چې لوسړی منظومه پښتو ژباړه یې سمندر خان په ۱۹۵۲ء کښې کړی ده.اولوسړی ځل دپاکستان پبلکیشنز کراچی له خوا ۲۰۲ پر مخونو باندی چاپ شوې ده. په پیل کښې یې دسمندر صاحب یوکم څلویښت مخه عالمانه اوفاضلانه دیباچه چاپ شوې چې درموز بیخودی په باب یې فلسفیانه څیړنه کړی ده.

د سمندر خان سمندر ددغې ژباړی اسلوب هم هغه د اسرار خودی اسلوب دیې زما په خیال هغه ټولې ښیګړې په اسرار خودی کښې په ګوته شوې . کومې چې د ژباړی په خوندورو ځانګړتیاو کښې راتلې. د هغو بیا بیانول به د تکرار علاوه هیڅ معنی اونه لری.

ځکه سمد لاسه د رموز بیخودی د اصل متن او د سمندر خان دمنظومې پښتو ژباړه څه نمونې وړاندی کوم چې تاسو پخپله هم ددغه طبع زادی ژباړه څخه خوند واخلی.

تارک آفل براهیم خلیل
انبیا رانقش پائے او دلیل
آن خدائے لم یزل را آیتے
داشت در دل آرزوئے ملتے
جوئے اشک از چشم پیخوابش چکید

تا پیام طہرا بیتی شنید
بہر ما ویرانہ آباد کرد
طائفاں راخانہ بنیاد کرد
تا نہال تب علینا غنچہ بست
صورت کار بھار مانشست
حق تعالی پیکر ما آفرید
وز رسالت در تن ما جاں ومید
حرفے بے صورت اندرین عالم بدیم
از رسالت مصرع موزوں شدیم
از رسالت درجھان تکوین ما
از رسالت دین ما آئین ما
از رسالت صد ھزار یک است
جزو ما ازجزو مالا ینفک است
آں کہ شان اوست یھدی من یرید
از رسالت حلقہ گرد ما کشید
حلقہ ملت محیط افزاستے
مرکز او وادی بطحا ستے
ماز حکم نسبت او ملتیم
اہل عالم راپیام رحمتیم
ازمیان بحر او خیزیم ما

مثل موج از هم نمریز یم ما

اتش در حرز دیوار حرم

نعره زن مانند شیراں در اجم

معني حرنم کني تحقیق اگر

بنگری بادیده صدیق اگر

قوت قلب و جگر گردد نبی

از خدا محبوب تر گردد نبی

قلب مومن راکتابش قوت است

حکمتش حبل والورید ملت است

دا منش از دست دادن مردن است

چون گل از باد خزان افسردن است

زندگی قوم از دم اویافت است

این سحر از آفتابش تافت است

فرد از حق ملت ازوے زنده است

از شعاع مهر او تابنده است۱۳۰:۱۰۱

ژباړه:

د افلو پریبنیدونکی ابراهیم د خدای خلیل دی
چې بې په سمه لاره پلوه ونبیانو ته دلیل دی
خدای به تل وی دا خلیل بې یوه نخبنه د قدرت وه
او ارمان دده په زړه کبنې د یوبنه پټن ملت وه

دواړه سترګې ی تل روانې نه يې خوب نه يې آرام وه
چې طهر بتې راغلو د الله ځنې پيغام وه
ده زموږ دخير د پاره ورانه شاړه کړه آباده
ده طواف ته د قامونو د خدای خونه کړه بيناده
چې اخر د تب علينا بوتې شولو سترګې سترګې
زما زموږ د سپرلی باد کړو باغ د ګولو سترګې سترګې
پاک الله ته وه منظوره جوړه يې غونډه ستا زما کړه
چې يې جوړ د ملت نن کړو رسالت يې ورته ساه کړه
وو دينا کښې خواره توری نه مطلب نه آوازونه
رسالت داسې يو ځان کړو لکه وی مصرع موزونه
يو وجود شو په جهان کښې د تکوين له رسالته
زموږ دين له رسالته هم آئين له رسالته
رسالت کړو لکه موتې صد هزار وو که بې شمار وو
کړو يې موږه پرله پوری که بيل بيل وو که تارتار وو
هغه ذات چې مهربان دی يهدی من يريد يې شان دی
کړو ويره د رسالت يې له موږ تاو چې نګهبان دی
دغه غونډه د ملت تل غزوی دا ګنړه خپله
دی مرکز يې په مکه کښې نه بيليږی له بورجله
رسالت پوری تړلی نو ياديږو په ملت موږ
نورو خلقو د دنيا ته لکه زيری د رحمت موږ

عظیم بحر رسالت دی لکه موج له بحره خیږو
هری خواته څو غزیږونه خوریږو نه بیلیږو
د رسول امت دننه پناه ځای د حرم تل کښنی
د تکبیر کوی غږونه لکه وی مزی ځنګل کښنی
که لوستو ته سی د تورو د صدیق نظر پیدا کړې
په معنی پسی که یی خانه د تحقیق وزر پیدا کړې
نو نبی به هله تاته لوی قوت د زړه ځیګرشی
درته خوږ به شی له خدایه نبی داسی د زړه سرشی
د مومن د زړه د پاره د نبی کتاب قوت دی
او حکمت یی دی شهرګ چی ژوندی ځنی ملت دی
که لمن یی موږه پریږدو بس نو مرګ به زموږ داوی
لکه باد چی د خزان کا دچمن ګلونه سړاوی
قام موندلی که ژوندون دی دا راوړی پیغمبر دی
که څه تود زموږ سحر دی نو دا تاو د دغه نمر دی
پلوشو د دغه نمر ته مونږه پریښنو ځلندی یو
پیداویښت د یو الله وو ده راغونډه کړو نو ژوندی یو
٤٨:٧٠

# پیام مشرق

پیام مشرق د حضرت علامه مشهور منظوم فارسی اثر دے چی لومړی وار په ۱۹۲۳ء کښې چاپ شوی وو. دوه واره نور هم د حضرت علامه په ژوندکښې په ۱۹۲٤ء کښې چاپ شو. زما په مخ کښې یی د نولسم اډیشن نسخه پرته چی تر دغه وخته د پیام مشرق اته دیرش زره نسخې چاپ شوی دغه شمیره یی فقط د شیخ غلام علي اینډسنز د خپرونکی موسسې ده. دنوور ادارو له خوا چی څومره واره په څومره څومره شمیره چاپ شوی هغه ددی شمیرې علاوه ده.

په پیام مشرق کښې څه دی د مشرق دغه ځلاند لمرو مشرق ته د خپل فکر کوسی وړانګی د پیام په ژبه وړاندی کړی د عالم اسلام ددغه ستر حکیم د خواره واره ځپلی ملت دپاره د بیارغونی اونشاة الثانیه د پاره کوم پیغام وړاندی کړ. د پښتو څخه د اقبال څومره توقع وه چی د پیام مشرق انتساب یی د لوی غښتلی زړور او مترقی پښتانه پاچا غازی امان الله خان په نوم وکړ. په لومړنی انتسابی یو اتیا بیتونو کښې یی و غازی امان الله خان ته څه اندیښنې درلودې. دغه او یو شمیر نوری پوښتنی او د هغو ځوابونه ځان ته جدا بحث دی. که ما دخپل لیک د لوری ملونی نه راونیولی نو به په سوونو څه چی په زرونو پاڼړی به توری شي. هغه د قاضی ملا عبدالسلام اڅکزی(مړ ۱۹۷٤ء) خبره ده۔

ضروری حرفونه وایم
آس پر لنډه کوڅه بیایم

زما ومخ ته دا وخت د پیام مشرق پښتو منظومه ژباړه پرته ده چې شیرمحمد مینوش کړې وه. اواقبال اکادمی پاکستان د پښتو اکیډیمی پیښور په وساطت لومړی ځل په نومبر ۱۹۶۳ء کښې او دویم ځل په جنوری ۱۹۸۳ء کې چاپ کړې کتاب ۲۶٤ مخونه لری څورلس مخه د مولانا عبدالقادر صاحب پیژندګلو او څوارلس مخونه د اقبال د خپلی دیباچې ژباړه ده.

مینوش صاحب په دغه ژباړه کښې خو را زیات زیارګاللی دی. ترخپله وسه یې په ژباړه کښې د ښنو ښنو سوچه پښتو تورو په استعمال سره دخپلې ژباړی پسول ورزیات کړی.ترډیره حده په دغه هڅه بریالی شوی.

لږ ځیر شی د اقبال واصل فارسی متن او د هغه پښنو ژباړی ته

پیش کش بحضور اعلحضرت امیرامان اللہ خان
فرمانروائے دولت مستقلہ افغانستان خلداللہ ملکہ واجلا لہ

پیش کش په حضور کښې د اعلحضرت امیرامان الله خان خان دافغانستان دمستقل دولت فرمانروائے خلد الله ملکه واجلاله

اے امیر کامگار اے شہر یار
نو جوان و مثل پیراں پختہ کار

چشم تو از پرد گیا محرم است
دل میان سینہ دات جام جم است
عزم تو پائیدہ چون کھسار تو
حزم تو آسان کند دشوار تو
ہمت تو چوں خیال من بلند
ملت صد پارہ راشیرازہ بند
ہدید از شاہنشہاں داری بسے
لعل ویاقوت گراں داری بسے
اے امیر ابن امیر ابن امیر
ہدیہ از بے نواے ہم پذیر
تامرا رمز حیات آموختند
آتشے درپیکرم افروختند
یک نواے سینہ تاب آوردہ ام
عشق راعہد شباب آور دہ ام
پیر مغرب شاعرالمانوی
آں قتیل شیوہ ہائے پہلوی
بست نقش شاھدان شوخ وشنگ
داد مشرق را سلامے از فرنگ
درجوابش گفتہ ام پیغام شرق
ماہ تا بے رتختم برشام شرق

تا شناسائے خودم خود بین نیم
باتو گویم او کہ بود ومن کیم۱۳۱:۱۶

ژباړه:

اے امیره اے کامیابه شهر یاره
په ځوانی کښی د بوډا هسی هوښیاره
ستا نظر د هر یو راز وینم محرم
په سینه کښی دی زړګی دی جام دجم
اراده دی پائنده لکه دغر
هره ګرانه کړی په پوهه باندی سحر
ستا همت زما دخیال رنګی بلند
ددانه وانه ملت کاندی پیوند
دی درکړی پادشاهانو پشکیشونه
بی بهاله یاقوت خښته خښیته لعلونه
اے امیره اے په پلار نیکه امیره
کړه قبوله دا تحفه ته له فقیره
چی په رازی د ژوند کړمه خبردار
که په تن یی راله پوری یوا نګار
یو آوازی دا سینه کړه نورانی
چی په عشق باندی یی راوسته ځوانی

د یورپ پیر چې شاعر دی جرمنی
چې عاشق دی پوخ د ژبې پهلوی
ده د مستو معشوقو جوړ کړو بیان
کړو مشرق نه یې سلام هسې عیان
د مشرق نه یې ما او کړلو ځواب
چې مابنام له د مشرق شولو ماهتاب
چې د ځان نه خبریم نه یم خودبین
اوس کوه د حقیقت موته یقین۲:۷۱

## گل نخستین

هنوز ہم نفسے در چمن نمی بینم
بہار می رسدو من گل نخستینم
بہ آبجونگرم خویش رانظارہ کنم
باین بہانہ مگر روے دیگرے بینم
بخامہ کہ خط زندگی رقم زدہ است
نوشتہ اندپیامے بہ برگ رنگینم
دلم بہ دوش ونگاہم بہ عبرت امروز
شہید جلوہ فردا وتازہ آئینم
زتیرہ خاک دمیدم قبائے گل بستم
وگرنہ اختر واماندہ زپروینم۱۳۱:۸۳

وړوسبی ګل

لاتراوسه نه لرم چمن کښې یار
زه یې ګل یمه وړوسبې راځی بهار
د ولی اوبو کښې ګورمه خپل مخ ته
که روزی سی شی په دې د چا دیدار
د ژوند لیک یې چې په کوم قلم دی کړی
په هغې په ساپیغام لیکلی یار
د پرون سره سی زړه دی سترګی نن ته
د فردا مینی سی نوی که کردار
چې زرغون شومه د خاورو شومه ګل
هغه ستوری د پروین یم نه یم بل۷۱:۹۵

مراز دیدهٔ بینا شکایت د گراست
که چوں بجلوه در آئی حجاب من نظراست
به نوریاں زمن پابه گل پیامے گوے
حذر زمشت غبار که خوشتین نگر است
نواز نیم وبه بزم بهار می سوزیم
شر ربه مشت پر ماز نالهٔ سحراست
زخود رمیده چه داندنوائے من زکجاست
چهاں او دگراست د جهاں من د گراست

مثال لالہ فتادم بگو شۂ چمنے
مرا زتیز نگا ہے نشانہ بر جگراست
بہ کیش زندہ دلان زندگی جفا طلبی است
سفر بکعبہ نکردم کہ راہ بے خطر است
ھزار انجمن آراستندو بر چیدند
دریں سراچہ کہ روشن زمشعل قمراست۱۳۱:۱۴۷

ژباړه:

د خپلو روغو سترګو نه زما دغه ګیله ده
چې لرې ته پرده کړې نو پرده سې شي نظر
زما خاورې د لوریه نوریانو ته دا وایه
ددې خود دارو خاورو نه په کار دی تل حذر
بهار کښې مدام سوزمه په سوز غزلې وایم
بدن سې ډک له اوره په ژړا دی د سحر
د ځانه بې خبر سې د ژړانه څه خبر دی
جهان د هغه بل دی او زما دی بل ډګر
په شانې د لالا یمه د باغ یوه ګوشه کښې
یو غشې دنظر سې دی ښخ شوی په ځیګر
په دین دژندو دلو عمل سختې زندګی ده
نه ځم څکه کعبې ته دی بې خوفه یې سفر

بیشماره جرګې جوړی کړې اوبیایې زرخورې کړی
په دې فانی دنیا چې دی روښانه پری قمر۱۷۲:۷۱

# زبور عجم

زبور عجم لومړی وار په جون ۱۹۲۷ء کښې چاپ شو او تر ۱۹۸۹ء پوری د شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور د خوا دیارلس واره چاپ شوی او دنسخو تعداد تر اوویشتو زرو پوری رسیږی. زبورعجم د حضرت علامه هغه فارسی شعری اثر دے په کوم کښې چې ده د خپلو افکارو د ترویج او پرمختګ د پاره ګړندی هڅی کړی دی.

په دغه کتاب کښې د اقبال عالی عرفانی افکار دده مابعد اطبعیاتی نظریه او دده مشهوری فلسفې خودی په باب دقیقی نکتې په ګوته شوی دی . پرته له دې زبور عجم د اقبال د وحدت الوجود او نورو تصوفی نظریاتو په باب خورا غنی څرګندوی کړی دی.

ددغه کتاب پښتو ژباړه سید محمد تقویم الحق کاکا خیل کړی چې اقبال آکادمی د پښور یونیورسټی د پښتو آکیډیمی په وساطت یی چاپ کړی ده. ددغی ژباړه لومړی چاپ په ۱۹۶۱ء کښې ترسره شو اودویم په ۱۹۸۳ء کی راوواتی۔

د زبور عجم د دغی ژباړی دیباچه پخپله ژباړه تقویم الحق کاکا خیل په اته مخه لیکلی او پیژندګلوی یی په یولس مخه کښې مولانا عبدالقادر صاحب لیکلی او اجمل خټک په درومخونو کښې

یو ښو خبری لیکلی.

مولانا عبدالقادر صاحب په پیژندګلوکی د اقبال آکادمی د هغه وخت دکالخوا یه ممتاز حسین سره د اقبالیاتو د منظومو ژباړو دعمل و سرته د رسیدلو بیخی لوړی معلومات رایو ځای کړی. چی په پښتو شاعری کښنی په څه ډول موږ د اقبال د کلام خپلی ژبی ته اړولو تابیا وکړه. دغه ژباړه ځای په ځای طبعزاده معلوميږی او ژباړونکی د اقبال په کلام کښنی داسی ډوب شوی دی چی پر ژباړه یی د سړی داصل تخلیقی کلام خیال کیږی دغه رازی د هنری ښکلا سره سره د اقبال د فکر د بحر څخه معنوی ګوهر هم رابرسیره کړی. مثلاً د پښتو په معروف قافیه ''هسی'' کښنی یو شمیر کلاسیکو شاعرانو غزلی لیکی. تقویم الحق صاحب د اقبال یوه قافیه ''چنین'' په ''هسی'' را ژباړلی او ډیر خوندی په کړی چی د سړی د ژباړه خیال نه پر ارځی. لږ ورته ځیر شی.

فصل بہا راین چنین بانگ ہزار این چنین
چہرہ کشا غزل سرا بادہ بیا رایں چنین
اشک چکیدہ ام ببین ہم بہ نگاہ خودنگر
ریز بہ نیسان من برق وشرار ایں چنین
باد بہارلی بگوے بخیال من برد
وادی ودشت رادھد نقش ونگار ایں چنین

زادۂ باغ وراغ را از نفسم طرادتے
درچمن توز یستم باگل وخار ایں چنین
عالم آب و خاک رابر محک دلم بسائے
روشن وتا خویش راگیر عیار ایں چنین
دل بکسے نباختہ بادو جہان نساختم
من بحضور تورسم روز شمار ایں چنین
فاختہ کیں صفیر نالہ من شنید وگفت
کس نہ سرود درچمن نغمہ دیار ایں چنین ۱۳۲ : ۱۸

ژباړه:

رنګ رنګ د بلبلو نغمې فصل بهار هسی
لرکړ پرده وایه غزل ورک کړه خما رهسی
خپلو مستو سترګو او زما اوښکو ته ګوره
او وره زما په زړګی برف وشرار هسی
اوویاه سپرلی ته چی زما په خیال پسی شی
اونولی په نمر په سمه نقش ونګار هسی
غر په سمه هر شنکی زما په اوښکو لوند دی
خپل سی کړل وتاد چمن هر ګل وخار هسی
داد خاورو ختو جهان سم زما زړه کړه
خپل تیاره رنړا پیل کړه زما په اختیار هسی

زړه له هر چا ځانته له دوو کونو بې نیازه
در به په محشر شم ستا حضور نه تیار هسی
زړو بلبل د ما په نغمو مست په باغ کښنی اووې
هیچا په چمن کښنی کړی ته دی چغار هسی
۱٦:۷۲

د انقلاب دمشهور شعرد ژباړی په وخت بنائی چی ژباړونکی دی خسته شوی وی ځکه چی ډیر خواری یی دلاسه نه ده شوې هغه قافې هغه الفاظ.

خواجه ازخون رگ مزدور ساز د لعل ناب
از جفائے ده خدایان کشت دهقانان خواب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

وینی د مزدور ورکړه ولاله ته لعل ناب
ظلم د مالک کړو د دهقانی پټی خراب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

شیخ شهر ازرشته تسبیح صدمومن بدام
کافران ساده دل رابرهمن زنار تاب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

شیخ اوږدو تسپو کښنی بنکار کوی مسلمانان
ګیر کړو برهمن ساده کافر د ترک په تاب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

میرد سلطان نردبازو کعبتین شان د غل
جان محکومان زتن بردند ومحکوماں بخواب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

میرو سلطان دواړه جوارګر دانه بې غله ده
روح له غلامانو تښتوی او دوی په خواب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

واعظ اندر مسجد وفرزند او در مدرسه
آں بہ پیری کودکے ایں پیردر عہد شباب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

شيخ په جماعت کښې دی او ځوی په مدرسه کښې
دی بوډا ماشوم هغه زړو وخت کښې د شباب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

اے مسلماناں فغان ازفتنہ ہائے علم وفن
ہرمن اندر جہان ارزاں ویزدان دیریاب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

تښته مسلمانه له فتنو د علم وفن
ډیر دی شیطانان په دې دنیا او رب نایاب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

شوخی باطل نگر اندر کمین حق نشست
شپر از کوری شبخونے زند بر آفتاب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

ګوره کلیسا کښې یې عیسی په دار اخته کړو
یوړو د کعبې نه مصطفی ام الکتاب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

من درون شیشه هائے عصر حاضر دیده ام
آنچناں زهرے که ازوے مارها درپیچ وتاب
انقلاب انقلاب اے انقلاب

ماد دغې د هر په ښیښو کښې ځلیدلی
زهر چې ماران دی ترې نه ګله په پیچ وتاب
انقلاب انقلاب اې انقلاب

ګله ضیعفانو گاه نیروے پلنگاں دهند
شعله شاید بروں آید زما فانوس حباب
انقلاب انقلاب اے انقلاب ۱۳۲ : ۹۶

کله ضعیفانو ته ځواب پلنګ ورکړی
کله لمبې خیزی له فانوسه د حیات
انقلاب انقلاب اې انقلاب ۷۲:۸۵

په پښتو کښې د زبور عجم یوه بله ژباړه شیر محمد منیوش
سرحوم هم کړې ده چې تراوسه نه ده چاپ شوې۔ ٤٥٠:٦٢

# جاوید نامه

جاوید نامه د اقبال هغه په زړه پوری شعری اثر دے چی اقبال ته یی په نړیوالو ادبیاتو کښنی لوړ مقام ور وباخښنه. او اقبال یی د تل د پاره په ادبیاتو کښنی جاودان کړو.

جاوید نامه څه ده او مطالب یی څه دی اقبال د خپل فکری یون ددغه پړاو حال په کومو کیفیاتو کی لیکلی . د روح د دریاب ګوهر د معنویت د تل ملغلرے د هنر د دریاب دغه غوټه شوی ا و باز څومره په ښکلی انداز رابرسره کړی چی په دغه توګه یی خپلو افکارو ته تل پاته دوام وربخښلی . استغفرالله زه د جاوید نامې په مقام پوهه یم؟ زه خو په خپل علمی قامت خبریم د جاوید نامې په وړاندی زما سویه څه ده چی پروکاږم زه خوتش د جاوید نامې د منظومی پښتو ژباړی په باب لنډه خونډی رڼاکوم.

جاوید نامه لومړی ځل په ۱۹۳۲ء کښنی چاپ شوې او تر اګست ۱۹۸٦ء پوری یولس واره چاپ شوې او تر اتلس زره زیاتی نسخی یی چاپ شوی دی.

پښتو ژباړه یی امیر حمزه شنیواری کړی د اقبال آکادمی له خوا د پښتو اکیډیمی پیښنوړ یونیورسټی په مرسته په لومړی ځل په جولائی ۱۹٦۷ء او دویمی ځل په جنوری ۱۹۸۳ء چاپ شوې . د جاوید نامې په اسرار و رموز د پوهیدلو دپاره دمولانا عبدالقادر صاحب د خوا درنه علمی پیژندګلو چاپ شوې ده. چی رشتیا هم د

مولانا عبدالقادر د اقبال پېژندی يو ډير لوی ثبوت دی. مولانا په خورا عالمانه بصيرت استدال او ډوبه مطالعه سره خپله دغه د ۲٦ مخمونو پيژندګلوکښنلې ده. امير حمزه خان شنيواری هم د جاويد نامې په ژباړه کښې ډير شواخون ګاللی دی د پښتو سوچه خوندورتوری يې ډير په ښکلی اندازد اقبال فکر د معنويت په لاړپيلی دی. ځای په ځای د محاورو په استعمال د خپلې دغې ژباړې هنری ښکلا ته د بقا دوام وربخښلی دی. په ځنو ځايونو کښې يې شايد چې چاره نه وه. نوی د اقبال تراکيب هم د ده د اصل متن په خير په کار اچولی دی. چې د عامو لوستونکو د پاره کله ناکله د ستونزی باعث جوړيږی. خو البته د لوستوو ګړو د پاره ښه اثرات اچوی.

لږ ځير شی د عطار د پر فلک باندی د جلال الدين بلخی رومی رهبری ده اقبال په پسې دی د شرق د ستر زيرمه خوار د پان اسلامزم د موسس سيد جمال الدين افغانی او سعيد حليم پاشاد روحونو سره ملاقات کوی. افغانی داسی وای.

زنده رود از خاکدان ما بگوے
از زمین و اسمان ما بگوے
خاکي وچوں قدسیاں روشن بصر
از مسلمان بده ما راخبر

ژباړه:

وایه زنده روده څه زموږه له خاکدانه
وایه څه خو ته زموږ له زمکی له اسمانه
خاوروه یې خو ستا د فرشتو غوندی نظر دی
څه دی هم راوړی د مسلم ملت خبر دی

زنده رود

در ضمیر ملت گیتی شکن
دیده ام آویزش دین و وطن
روح در تن مرده از ضعف یقین
ناامید از قوت دین مبین
ترک و ایراں وعرب مست فرنگ
ہر کسے را در گلو شست فرنگ
مشرق از سلطانی مغرب خراب
اشتراک ازدیں وملت برده تاب

افغانی

## دین او وطن

وینم د ملت هغه ضمیر جهان شکن کښنی
جوړه ده جګړه یې په دین او په وطن کښنی
روح یې دی مړ شوی چې کمزوری یې یقین دی
هم اوس نااسیده د قوت نه دخپل دین دی

ترک دي که عرب په فیرنګي پس روان دی
پړی د فیرنګ دی ور په غاړ که ایران دی
زمول زموږ مشرق شو د مغرب له سلطنته
یوړو کیمو ېنزم خوند له دین اول ملته

افغاني

دین او وطن

لرد مغرب آں سراپا مکرو فن
اهل دیں را داد تعلیم وطن
او بفکر مرکز وتودر نفاق
بگذر از شام د فلسطین و عراق
تو اگر داری تمیز خوب و زشت
دل نه بندی باکلوخ و سنگ وخشت
چست دیں بر خاستن ازروے خاک
تاز خود اگاه گرد د جان پاک
می نگنجد آنکه گفت الله هو
درحدود ایں نظام چارسو
پرکه از خاک وبرخیزد زخاک
حیف اگر د رخاک میرد جان پاک ۱۳۳:۶۳

اوګوره شاطرته د مغرب چې لوی عیار دی
جال کښېنی د وطنې راګیر کړی هر دیندار دی

هغه دی په فکر د مرکز تا کښې نفاق دی
لرې کړه دا خیال چې دغه شام دغه عراق دی
پوی کړه ځان په دې که ته تمیز لری سپیځلی
تا په خاورو ګټو پوری زړه ولی تړلی
دین څه دی خو دا چې ځان د خاورو نه بالا کړه
روح دی د خپل ځان د معرفت سره اشنا کړه
څوک چې الله هو وای هر ګز نه حصاریږی
هغه په دی څلور ګوټه دنیا کښې نه ځائیږی
خاورو له پیدا وابنه له خاورو په هوا شی
حیف دی که سپیځلی روح په خاورو کښې فنا شی
٦٧:٧٣

د ډیر اوږده ملاقات او تفصیلی لیدنی کتنی پس سید جمال الدین افغانی و دوی ته دروسی ملت د پاره داسی پیغام ورکوی۔

منزل و مقصود قران دیگراست
رسم و آئین مسلمان دیگراست
دردل او آتش سوزنده نیست
مصطفیٰ درسینه او زنده نیست
بنده مومن زقرآن برنخورد
در ایاغ اونه مے دیدم نه درد

خود طلسم قیصر وکسری شکست
خود سر تخت ملوکیت نشست

تا نہال سلطنت قوت گرفت
دین او نقش از ملوکیت گرفت

از ملوکیت نگہ گردد دگر
عقل و ہوش ورسم وره گرد ددگر

تو کہ طرح دیگرے انداختی
دل زد ستور کہن پرداختی

ہمچو ما اسلامیاں اندر جہان
قیصریت را شکستی استخوان

تا برافروزی چراغے در ضمیر
عبرتے از سرگذشت ما بگیر

پائے خود محکم گذار اندر نبرد
گرد این لات وہبل دیگر مگرد

ملتے می خواھد این دنیائے پیر
آنکہ باشد ہم بشیر و ہم نذیر

باز می آئی سوئے اقوام شرق
بستہ ایام تو با ایام شرق

تو بجاں افگندہ سوزے دگر
در ضمیر تو شب و روزے دگر

کہنہ شد افرنگ را آئین و دیں
سوئے آن دیر کہن دیگر مبین
کردہ کار خداوندان تمام
بگذر از لا جانب الا خرام
درگذر از لا اگر جوینده
تاره اثبات گیری زنده
اے کہ می خواھی نظام عالمے
جستہ اورا اساس محکمے
داستان کنہ شتی باب باب
فکر را روشن کن از ام الکتاب
باسیہ فامان ید بیضاکہ داد
مژدہ لا قیصرو کسری کہ داد
درگذر از جلوہ ہائے رنگ رنگ
خویش را دریاب از ترک فرنگ
گرز مکر غربیاں باشی . خبر
روبہی بگذارد شیری پیشہ گیر
چیست روباہی تلاش ساز وبرگ
شیر مولا جوید آزادی ومرگ
جز بقران ضیغمی روباھی است
فقر قران اصل شاھنشاھی است

فقر قرآن اختلاط ذکر وفکر
فکر راکامل ندیدم جز بذکر
ذکر ذوق وشوق راداون ادب
کار جان است این نه کار کام ولب
خیز د ازوے شعله هاۓ سینه سوز
بامزاج تونمی ساز د هنوز
اے شهید شاید رعناۓ فکر
باتو گویم از تجلی هاۓ فکر۱۳۳:۸۰

ژباړه:

دی منزل او هم مقصود د قرآن نور څه
خو جوړ کړی خپل آئین مسلمان نور څه
اوس د زړه هغه تاو هغه اورنشته
په سینه کښی یی د پاک بنی کور نشته
مسلمان له قرآن وا نخسته ګټه
په پیاله کښی یی شراب بنکاری نه ختمه
هم یې ماته کسرای او قیصری کړه
هم یی بیا په خپله جوړه بادشاهی کړه
چی نهال د سلطنت شو کلک او شین
بیا نو رنګ له بادشاهی واخستو دین
په سبب د بادشاهی نظر بدل شو

عقل او هوش رسم او رواج او امر بدل شو
تا چی جوړ نوی نظام لره بنیاد کړو
زوړ دستور د پادشاهی دی چی برباد کړو
لکه موږ مسلمانانو یو کرت کړل
مات هډو نه تا دی قیصرت کړل
ته به بله د ضمیر تته ډیوه کړی
که عبرت د پاره څیر زموږ قصه کړی
په دې جنګ کښې دی پښې ټینګې لره شیره
ددې لات هبل نه مه چور له چاپیره
دا زړه دنیا کړی سوال چی یو ملت وی
د بشیر او د نذیرپه کښې صفت وی
بیا به ته را خپلو یې شرقی قامونه
ستا د دوی سره تړلی قسمتونه
بلی کړی تا په ځان نوی لمبې دی
ستا ضمیر کښې نوی ورځې نوی شپې دی
زوړ شودین او که آئین وو د فیرنګ
دا زړه بتخانه وینه مه یې رنګ
تا چی کار ددې خدایانو کړو تمام
کړه د "لا" نه اوس "الا" وته خرام
پریږده "لا" که په طلب کښې ګرندی یې

د اثبات په لار که ځی تل به ژوندی یی
په عالم کښی چی نظام غواړی بناغلی
څه محکوم غوندی احساس د لټولی
چی د زوړ داستان دی اووینځه هرباب
کړه د فکر روښنائی ام الکتاب
دی تور رنګو ته چا ید بیضا ورکړو
زیری چا د "لا" قیصر او کسری ورکړو
غلط مه شه دی جلوې یی رنګ په رنګ
ځان به بیا موسی که پری د ښود فیرنګ
که له مکره یی خبر د مغربیانو
مزری شی پریږدی خوی د ګیدړانو
ګیدړتوب څه دی خو ځیرمه د چشمت
شیر دخدای خوښوی مرګ او حریت
بې قرآنه که شیر ی وی رو باهی ده
قرآنی فقر اصلی شهنشاهی ده
د قرآن فقر ګډون د ذکر او فکر
فکر نه موسی تکمیل بغیر له ذکر
ذکر ذوق او شوق ته زده کړه د ادب ده
مشغله ده دا د روح نه چی د لب ده

زړه سیزونکی ترې لمبې راپورته کیږی
خو مزاج سره لاستاسو نه جوړیږی
ای د فکر په ادا مسته ملته
زده که ما د قران فکر کړه پته۸۹:۷۳

د جاوید نامې بله پښتو منظومه ژباړه شیر محمد منیوش کړې وه چې نه ده چاپ شوی.٥٤٠:٦٢

## پس چه باید کرد اے اقوام شرق مع مسافر

داقبال دغه اثر لکه څنګه چې یې د نامه څخه څرګندیږی دوی برخې لری لومړی برخه یې مثنوی پس چه باید کرد اے اقوام شرق ده. او دویمه برخه یې مثنوی مسافر ده. چې د اقبال د افغانستان د سفر منظوم حال دی.

دغه اثر لومړی ځل په ۱۹۳٦ء کښې چاپ شوی او تر ۱۹۵۸ء پوری یې د شیخ غلام علی اینډ سنز له خوا نهه واره چاپ شوی او د چاپی نسخو شمیریې تر یو دېپیتو زرو پوری رسیږی. په کتاب کښې د لومړی مثنوی سرلیکونه په دی ډول دی.

خطاب به مهر عالمتاب . حکمت کلیمی. حکمت فرعونی، لااله الا الله. فقر. مرد حُر. دراسرار شریعت. اشکے چند بر افتراق هندیان. سیاست حاضره. حرفے چند با امت عربیه. پس چه باید کرد اے اقوام شرق. در حضور رسالت ماب تر پورته ذکر شوو عنوانو لاندی اقبال د خپل عالمګیر اسلامی فکر مزی تنګ کړی دی. په

دویمه مثنوی یعنی مسافر کښې اقبال د افغانستان د سفر منظوم حال کښلی. دغه سفر حضرت علامه د نامتو عالم سید سلیمان ندوی او سر راس مسعود په ملتیا دافغانستان د پخوانی پاچا اعلحضرت محمد نادر شاه په ست په آکتوبر ۱۹۳۳ء کښې تر سره کړی وو. هغه منظومه کیفیات چې ده په کابل غزنی او قندهار کښې ویلی دی هغه یې رایو ځای کړی او خپل اثر مسافر یې ځنې ترتیب کړی په دغه مثنوی کښې دغه لاندی عنوانو نه راغلی دی.

خطاب په اقوام سرحد. مسافر واردمی شمود به شهر کابل وحاضرمی شود بحضور اعلحضرت شهید. برمزار شهنشاه بابر خلد اشیان. سفر غزنی و زیارت مزار حکیم سنائی. روح حکیم سنائی از بهشت برین جواب می دهد. برمزار سلطان محمود علیه الرحمته. مناجات. مرد شوریده. درویرانه غزنی. قندهار و زیارت خرقه مبارک. غزل. بر مزار حضرت احمد شاه بابا علیه الرحمته موسس ملت افغانیه. خطاب په بادشاه اسلام اعلحضرت محمد ظاهر شاه.

د اقبال ددغه فارسی اثر پښتو منظومه ژباړه هم سید محمد تقویم الحق کاکا خیل صاحب کړې. اواقبال آکادمی کراچی د پیښور د پښتو آکیډمی په وساطت لوسړی ځل په جون ۱۹۶۹ء کښې چاپ کړې ده. پیش لفظ یې سید رسول رسا او پلوشه یې قلندر مومند کښلې ده. ددغه ژباړی په باب د قلندر مومند نظر د احترام وړ دی. دی کاږی چې

" د ښاغلی تقویم الحق کاکا خیل دې ترجمې ته که ددې زاوېې نه وکتل شي چې دا د علامه د اهم ترین شعری د ستاویز ترجمه ده نو ځکه د ترجمې د پاره هم. هم د هغه پای د دروندوالی Sublimicy ضرورت دی کومه چې په اصل کښې ده. نو دا به هم د مترجم نه د یو ناممکن څیز مطالبه وی باید چې ګران لوستونکی د معاصرانه فکر په تاریخ کښې د علامه مقام او پښتو ژبه کښې د فلسفیانه خیالاتو د اظهار مشکلات هر وخت د نظر لاندی ساتی او هیله په داسې کولو به هغوی ددې ترجمې په قدورقیمت واقف شی په دې ترجمه کښې چې کوم څیز زیات د خوښیدو او قدرولو قابل دی هغه د مثنوی د پاره د پښتو د متبادل صنف"بدلی" بحر دی خود ښاغلی تقویم الحق کاکا خیل استعمال شوی بحر او د عامو پښتو بدلو بحر کښې د ایو فرق دی چې د پښتو عامې بدلی عام طور سره دولس سیلابیز بحر کښې لیکلی شي. او دا مثنوی یوولس سیلابیز مصرعو کښې لیکلی شوی ده. اګر چې ځای په ځای په کښې دولس سیلابیز مصرعے هم شته. ددې مشکلات یو علاج زما په خیال کښې دا هم کید شي چې کوم ځای کښې د قافیې مشکل مخې له راځي. هلته که دولس سیلاب نه پس یو حرف علت زیات کړی شي. نو د مصرعې وزن د عامو بدلو وزن سره یو کیدے شي.

ځنو ځنو ځایونو کښې ترجمه د پښتو محاوری سره داسې سمون خوری چې د ترجمې نه زیات طبعزاد او تخلیق ښکاری. ددی

وجه د مترجم دفنکارانه صلاحیت نه علاوه د اهم کیدے شی چی اول خو د فارسی او پښتو تر منځه ډیری محاوری او الفاظ مشترک دی. او دویم د اهم چی اقبال بنیادی طور سره د ژبی نه بلکه د خیال شاعر دی او د داسی شاعر ته چی مترجم د پاره ډیر مشکلات نه پیدا کول سیوا د هغو مقامونو نه چی خیالات په کښی د مترجم د ژبی د اولس او د فکر او پوهی نه اوچت وی او ځکه زه هیله لرم چی ګران لوستونکی به دغو مقامونو کښی د مترجم د مشکلاتو خیال وساتی" ج-د

په دغه ژباړه کښی داصل برعکس لومړی د مسافر مثنوی راغلی او وروسته د پس چه باید کرد اے اقوام مشرق مثنوی راغلی ده.

حضرت علامه اقبال په عزنی کښی د حکیم سنائی پر مزار ولاړ دی۔ د هغه ولوړ عرفانی روحانی شخصیت ته خیل احترام په دې ډول څرګندوی..

از نواز شهائے سلطان شهید
صبح و شام صبح وشام روز عید
نکته سنج خاوراں هندی فقیر
مهمان خسرو کیواں سریر
تاز شهر خسروی کردم سفر
شد سفر بر من سبک تراز حضر

سینہ بکشادم باں بادے کہ پار
لالہ رست از فیض او در کوہسار

آہ غزنی آں حریم علم وفن
مرغزار شیر مرداں کہن

دولت محمود را زیبا عروس
از حنا بندان او دانائے طوس

خفتہ خاکش حکیم غزنوی
از نوائے او دل مرداں قوی

آں حکیم غیب آن صاحب مقام
ترک جوش رومی از ذکرش تمام

من زپیدا او زپنہاں در سرور
ہر دو راسرمایہ از ذوق حضور

او نقاب از چہرہ ایمان کشود
فکر من تقدیر مومن وانمود

ہر دو را از حکمت قرآن سبق
او زحق گوید من از مردان حق

در فضائے مرقد او سوختم
تا متاع نالۂ اندو ختم

گفتم اے بنیندہ اسرار جہاں
بر تو روشن این جہاں وآں جہاں

عصر ما وارفتہ آب و گل است
اهل حق رامشکل اندر مشکل است
مومن از افرنگیاں دید آنچہ دید
فتنہ ہا اندر حرم آمد پدید
تا نگاہ اوادب ازدل نخورد
چشم او راجلوہ افرنگ برد
اے حکیم غیب امام عارفان
پختہ از فیض تو خام عارفان
آنچہ اندر پردہ غیب است گوے
بو کہ آب رفتہ باز آید بجوے۱۳۴: ۶۶ـ۶۷

ژباړه:

د شهید سلطان له مهره له نظر
شپه او ورځ مې شپه او ورځ ده دا ختر
د مشرق نکته شناس هنري فقیر
اومیلمه دشهنشاه کیوان سریر
ترهغې چې د شاهي بناره روان شوم
په سفرکښې د حضرت نه زیات شادان شوم
توکولې بې لاله وو په بیدیا
زړه مې پرانیست هغه باد ته چې پخوا

آه غزني هغه د علم وفن ورشو
مرغرار دشه مردانو پخوانو
بنکلی ناوی دمحمود د اقتدار
چې طوسي حکیم کوو ورته سنګار
پروت یې خاورو کښې حکیم غزنوی
په نغمو یې د ځوانانو زړه قوی
پوی په پوتو او خاوند د مرتبو
چې په ذکرې روسي نه مړیدو
زه ځرګند نه دی د پیټ نه په سرور دی
او د دواړو سرمایه ذوق حضور دی
د ایمان له مخه ده لر کو نقاب
او زما فکر تقدیر کړو بې حجاب
دواړه اخلو د قرآنه یو سبق
دی د حق بیان کړی زه د مرد حق
تیرسی یې کړو په خبر درد وسوز وسولی
چې سی و ګنلو یو سوړ اسویلی
ماوی اې چې ته پټ راز وینی د ځان
تاته بنکاری دا جهان هغه جهان
زما عصر ورک مین په آب و ګل دی
اهل حقوته پیبنې شوی لوی مشکل دی

فیرنګیانو په مومن اوکړی کانې
په حرم کښې راڅرګندې شوې فتنې
چې نظر ادب د زړه وانه خستو
سترګې بونړی د فرنګ مستوجلوو
اې په پټو پوهه اې امام د عارفانو
ستا په فیض پاخه شو خام د عارفانو
راڅرګند کړه پټ د غیبو په پردو
ګوندی لاړی اوبه راشي تر چینو۷٤:۱۸:۱۹

دغه مسافر چې قندهار ته راورسیږی. د دواړو کونو د سردار[۴] د خرقې زیارت کوی اود لوی قندهارد تاریخي فرهنګ او مړانی داسی ستاینه کوی.

قند هار آں کشور مینو سواد
اهل دل راخاک او خاک مراد
رنگ ها بو ها هوا ها آب ها
آب ها تابنده چوں سیماب ها
لاله ها در خلوت کهسار ها
ناله ها یخ بسته اندر نار ها
کوے آں شهر است مارکوئے دوست
ساربان برهند محل سوے دوست

می سرایم دیگر ازیاراں نجد
از نوائے نا قدرا آرم بوجد۱۲۴: ۷۵۰

ژباړه:

قندهار ښکلی وطن رنګین سواد
د هر ځائی خاوره یی خاوره د مراد
هواګانی خوشبویانی او چینې
ځلنده لکه پاره لکه اینې
له لاله وو ډک د غرونو خلوتونه
وو اورونه په اورونو یخ دننه
ددې ښار کوڅې زما دیار کوڅې
اې ساروانه تره دی خوا کجاوې
بیا به ستا یم آ نغمو یاران د نجد
چی ناقه هم په مستی شی او په وجد
۲۹:۷٤

# دریم څپرکی

## اقبال پیژندونکی پښتانه شاعران

ابوالخیر څلاند
احمد صمیم
اسرار الرحمن اسرار د طورو
حافظ خان محمد
سراج الاسلام سراج
سلطان محمد صابر
سمندر خان سمندر
سید راحت الله راحت زاخیلی
سید رسول رسا
سید عابد شاه عابد پروفیسر
سید محمد تقویم الحق کاکاخیل
سیده بشره بیګم
شیر علی خان
شیر محمد منیوش
عبدالحلیم اثر افغانی
عبدالروف رفیقی
ملا عبدالسلام اڅکزی
قیام الدین خادم
کرامت شاه فولاد
ګل باچا الفت
محمد سعید رهبر
محمد موسی شفیق
میرر حمان غازی
نقیب احمد فطرت
عبدالصمد بیوس
عبدالاکبرخان اکبر
عبدالله جان اسیر
فضل احمد غر
فضل حق شیدا
فضل رحیم ساقی

# ابوالخیر ځلاند

ابوالخیر ځلاند د پښتو معاصری شاعری یو لوی نوم دے. د جون پر اوومه نیته په ۱۹۳۹ء کی دکوټی څخه پراوه متره لیری سره غوړګی کښی وزیږیدو. لومړنی زدکړه یی په غبرګ محراب زئی کښی تر سره کړی او د لسم ټولګی څخه په ۱۹۵۸ء کښی د اسلامیه هائی سکول کوټی څخه فارغ شو. په ۱۹۶۴ء کښی یی دولسم او په ۱۹۶۵ء کښی د پښتو آنرز د پنجاب پوهتنون څخه وکړ. دولتی ماموریتونه یی هم کړی. په لومړی سر کښی په مډل سکول چشمه اچوزی کښی ښوونکی مقرر شو. بیا په ټرابل پبلسټی کښی کلرک شو بیا په خزانه آفس نوشکی او کوټه کښی د آکاونټس کلرک په حیث وټاکلی شو. ددې وروسته په محکمه تعلقات عامه کښی د پښتو مضمون لیکونکی او ورپسې د بلوچستان په صوبائی اسمبلی کښی د خبرو ژباړونکی وو د هغه پس په راډیو پاکستان کښی پروډیوسر شو. تر څو چی له هم دغه ځایه د سینیرپروډیوسر په حیث تقاعد شو۔

محترم ځلاند صاحب د شاعری پیل ۱۹۵۶ء څخه هغه محال وکړ چی دنهم ټولګی لوستونکی وو تراوسه یی یو شیمر علمی او تحقیقاتی آثار خپاره شوی دی. چی په هغو کښی خیرالدوام، د جواهر امیل ، د متلونو قصې. اووه ژبی متلونه(ناچاپه) دکسې لمرانګې دنیمی نړې فریاد،دعمرخیام څلوریځی. شامل دی.

په دغو کتابونو کې یې انګي دنیمې نړي فریاد صدراتي ادبي جائزه ګټلي او دکسي لمر یې د چاچاکریم بحش ادبي جائزی ترلاسه کړي.

ځلاند صاحب یو خوندور اقبال شناس هم دے . ده د اقبال د یو شمیر غزلو پښتو منظومه ژباړه کړې ده. پراقبال یې په پښتو نثر کښې مقالې هم کښلې دی او پرخپله شاعری باندی یې هم د اقبال د فکر او فن جوره اغیزه پرته ده.

# احمد صمیم

د افغانستان د سردم خیزی خاوری قندهار اوسیدونکی دے.

دپښتو د نامتو لیکوال حاجی عبدالغفور خروټی مشهورپه شیخ صاحب په کور کښې دقندهار ښار په اوله ناحیه کښې زیږیدلی دی.حاجی عبدالغفوردقندهار دانجمن ادبی په تاسیس کونکو غړوکی وو١٤٤٠:٣١

حضرت علاومه اقبال چی کله داعلحضرت نادرشاه شهید په بلنه په ١٩٣٣ء کښې افغانستان علمی سفر کړی وو. نو یې په قندهار کښې د انجمن ادبی د ځنو غړوسره هم لیدنه کتنه شوی وه١٤١:٣٣ ودی شی چی حاجی عبدالغفور خروټی دی هم په دوی کښې شامل وو.

صمیم صاحب د دینوی علومو سره سره د عصری علومو زدکره هم کړے ده. او د پښتو شاعرئ د قندهار مکتب فکر (School

of Thought) یو نمائیده شاعر دے. پر افغانستان باندی د روسی تیری پس پاکستان ته رامهاجر شو او په کوټه کښې یې د هجرت ناخوالی ګاللی. خو هلته یې هم خپلو علمی هلو ځلو ته دوام ورکړ.نن صبا په افغانستان کښې د کراري پس بیرته په خپل پلارنی ټاټوبی قندهار کښې اوسیږی.

صمیم صاحب لومړی رومانوی شاعری کول او د قندهار محلی سندر غاړو دده یو شمیر غزلې دموسیقی په پردو کښې ثبت کړی دی.اویو شمیر خوښوونکی لری.لیکن کله چې یې له اقباله فکری تومنه ترلاسه کړه نوی دفکر کعبه رسته شوه.اودملت بی پایانه غم ورعطا شو.

ما چې کله دده سره لومړی لیدنه کتنه په کوټه کښې وکړه نو زما دخوښې په شاعرانو کښې چې د اقبال نوم ور واخست حق حیران شو چې د دې سیمې په پښتنو شاعرانو کښې خو.ته لومړی شاعری چې ما ولیدی چې د اقبال څخه متاثر یې. ځکه چې ده لومړی دسرې رنړا خوښونکو سره مخه شوې وه ځکه دی ډیر مایوس وو او زما د یوه افاقی شاعر څخه متاثر کیدل دده د پاره د حیرانی سوب شو.

لیکن دده تر دې حیرانی زما حیران په دې خو چنده زیاته شوه چې دا سړی خو فنا في الا قبال وو د اقبال ځنی شیان یې په پښتو شعر رااړولی دی او په خبرو کښې ځای پر ځای د اقبال د شعر حوالې

د صمیم صاحب د اقبال سره د عشق ښکاره دلیلونه وه. د اقبال د عالمګیر اسلامي وحدت ارمانونو خود صمیم صاحب د سینې په سمندر کښې غورځنګونه وهل. د رومانیت ځخه سترې دغه قندهاري شاعر د مقصدیت او اسلامي اقدارو د لوړو هدفونو د معیاراتو سره اشنا څه چې ددغې لارې یو نه سترې کیدونکې لاروی دی.

ده په خپل یوه مکتوب کښې ماته نوشته کړي ووچې

" تقریبا دیرش کاله مخکښې په کندهار کښې زما یو استاد حاجي فضل محمد شیوا صاحب کندهاری داقبال "پیام مشرق"

راښکاره کړ اود "لاله طور" ځلوریځی. یی راته په سبق ولوستی اوکله کله به یی ورسره ژړل او ماته به یی . ویل چې تر غزالي " او رومي' وروسته هیڅ چا د زړه او روح په باره کښې دومره ژور حقائق نه دی مکشوف کړی لکه اقبال صاحب چې په دې باره کښې سیر کړی دی. او ما ته به یی ویل چې دا څو نه لوړ شخص دی ته دده پیروی کوه دده شیان تراوسه نه چا ویلی اونه به یی ووای. اود بشر مقدوره نه ده یعنی په قدرت کښې یی نه ده"

دغه مکتوب ښاغلی صمیم ماته پر ۱۵ اپریل ۱۹۹۷ء د کوټې ځخه کښلی وو.

صمیم صاحب کښلی دی چې فضل محمد شیوا به ماته د اقبال په باب دا شعر وایه.

تل تاثرات اخلاقی تر هر څه لوړو ګڼه
ژبه او دود قومیت واړه ترې ځوړوګڼه

صمیم صاحب وایی چې شیوا صاحب دغه بیت د اقبال ددغې رباعی په اثر کښې کښلی وو.

نه افغانیم ونی ترک و تتاریم
مسلمانیم وما ازیک شا خسار یم
تمیز رنګ وبوبر ما حرام است
که ما پرورده یک نو بهار یم

دی پرمخ لیکی چې دا ځل ما داقبال فارسی آثارو مطالعه وکړه او څه می حاصل نه کړه. دویم ځل بیا پنځلس کاله وړاندی په قندهار کښې د اقبال فارسی آثار په لاس راغله فکر می کاوه چې باید یو واری یې لا بیا ووایم ځکه چې شیوا صاحب خوشی په اقبال شیدا نه وو. دی وار می بیا داقبال آثار خورا په دقت مطالعه کړه ددې واړه تش د قرآن حقیقت او د الا اله حقانیت پر ما انکشاف وکړ نور هیڅ نه. دریم ځل چې دولس کاله وړاندی پاکستان ته رامهاجر شوم نوسی ددې واره دده فارسی او اردو آثار ټوله مطالعه کړه هله پوهه شوم چې اقبال دجمال الدین افغانی اوجلال الدین رومی مجموعه ده.

اقبال یو لوی متصوف او د رسول الله صلي الله علیه وسلم یو عاشق وو په ظاهره خوی ښیره خریل لیکن په باطن کښی بایزید وو.

صمیم د اقبال څخه ډیر زیات متاثر دی. ددې اثر په حواله ېې مکتوب کښې پر مخ راته کاږی چې یوه شپه سی اقبال په خوب ولیدے ما یو شعر ورته ووایه. ده ډاډ راکړ په تشویق او نوازش یې پر سر لاس راکښنینو نو ما ورته وییل.

د لاهور اقبال به وایې سولانا ته په روغبړ کښې
چې داهم دی زموږ همرازه په کوڅو دمعرفت کښې

ښاغلی احمد صمیم د هجرت په وخت کښې یو میاشتنی خپرونه راویسته. په دغه مجله کښې چې "ادب او معرفت" نومیده ګڼ علمی ادبی او تاریخی آثار خپریدو، د جریدې په لومړی مخ به په اول نیمائی کښې د پښتو دکلاسکو شاعرانو غوره اشعار چاپیده. او په دا دویمه خوا کښې به د فارسی اشعار وه چې په بیلا بیلو شمارو کښې یې د حکیم سنائی غزنوی سعدی شیرازی مولانا روم نظامی عروضی ګنجوسی مشاهیرو تر څنګ د اقبال غوره اشعار هم چاپیده.

ددغی جریدې پیل د ۱۳۷۷ھ ش ۱۹۹۸ء څخه شوی او ۱۵ شمارې خپرې شوی چې پا یې پراسد ۱۳۷۸ھ ش سوښتې دی.

په "ادب او معرفت" کښې هم موږ د ښاغلی احم دصمیم د اقبال شناسی غوره بیلګې لیدلای شو د ښاغلی صمیم لومړی شعری اثر "د شاعر فریاد" په ۱۳۷٦ھ ش کې خپور شو دی چې یو شمیر اشعاری پکښې رانغښتې چې شاعر د ۱۳۷۱هه ش څخه تر

۱۳۷٤هه ش پورې وئيل دي. په دغه شعري اثر کې پرځنو شعرونو د اقبال د فکر اثر له ورايه څرګندېږي.

# اسرار الرحمن اسرار د طورو

د مردان د طورو د کلي په صديق خيل محله کښې دمولانا عنايت الله مرحوم(سږ ۱۹۹۵ء) په کورکښې د پښتو دغه خوندور شاعر دڅلويښت په لسيزه کښې زيږيدلي دي.داقبال دغه عاشق د څوارلسم کولو پس د بنوونې دمقدسې فريضې سره تړلي راروان دي.

د پښتو د جديد او قديم شعراو د امتزاج يو نماينده شاعر دي. د اقبال سره د زړه دکومې ريښتونې تعلق لري. څکه څو د مشرق وغرب د مسلمانانو نا آراميو ناقراره ساتلي دي. پر اقبال باندې د بيلا بيلو مقالو په چپه ده و اقبال ته څو ځله په پښتو شعر کښې پيرزوينې هم وړاندې کړې دي. وبلې څوا ته ده پر خپله شاعرې باندې هم د اقبال اثرات مرتب شوي دي او د ملت او آفاقيت موضوعات ده د څوښې موضوعات دي په ۱۹۹۵ء کې ما ده سره په مردان کې ده په حجره کې د خپلې څيړنې د سفر په دوران کې وليدل- کله چې ما پر پښتو شاعرې باندې د علامه اقبال اثراتو په باب خپله د ايم فل مقاله ليکله. په دغه لړکښې ده سره خوندور علمي مجلس چې ده ورور د پښتو تکړه شاعر بناغلي م-ر- شفق هم پکښې شامل وو-زما دبنو علمي خاطر وځخه يوه ده. ده وييل.

"اقبال یو ستر مفکر وو. ده هغه خلق مطالعه کړی وه چی په نړیواله سطح په علمی او ادبی ځانګو کښنی مشهوره وه. خصوصا د اقبال اسلامی فکر ډیره وده کړی وه. پر پښتو باندی د دغو اثراتو پریوتل یوه فطری خبره وه. دا هغه وخت وو چی د برصغیر د نورو برخو سره پښتانه هم د انګریزانو په ضد په مبارزه بوخت وه اقبال غربی زدکړی هم کړی وې او د اسلام په باب هم درنی مطالعې کړی وې- وروسته یی دځلاصون لاره وښوول. پښتو داقبال څخه د انګریزانو څخه دخلاصون د لاری د رانه اثرات قبول کړه.۳:۱۲۱

اسرار الرحمان درې مستقل نظمونه په پښتو شعر کښنی د اقبال ته وړاندی کړی دی.

# امیر حمزه شنواری

ابوالمراداسیر حمزه شنواری په دسمبر ۱۹۰۷ء کښنی د میرباز خان په کور کښنی د خیبر د لواړګی په کلی کښنی وزیږیدی. لومړی زدکړی د کلی په مدرسو کښنی ترسره کړی وروسته د پیښور په اسلامیه کالجیټ هائی سکول کښنی داخل شو. د نهم ټولګی څخه بریالی شو چی په لسم ټولګی کښنی یی د زدکړی مربوطه لړی وشلیده. خو په زدکړه دمرګ تر ورځی اخته پاته شو.

په بیلا بیلو دولتی او غیر دولتی کارونو اخته پاته شو. په ۱۹۳۱ء کښنی د پلار د وفات پس په طریقت اخته شو. او د عبدالستار باچا مرید شو. د دغه عبدالستار باچا په امری اردو

شاعری ته شا شوه او پښتو شاعری ته یې مخه کړه. ۱۳:۶۱

په ۱۹٤۱ء کښې د پښتو د لومړی فلم "لیلي ومجنون" د بدلو او

مکالمو د پاره بمبي ته وغوښتل شو. دغه رازی لومړی اثر په ۱۹۳۷ء کښې "تجلیات محمدیه پر تصوف باندی د چاپه راوواتی.

په ۱۸ فروری ۱۹۹٤ء کښې په پیښور کښې په حق ورسیدے روح دی یې بناد وی.

زما خوش قسمتی ده چې په ژوند کښې سی دوه واره دده په خدمت کښې دحاضری نیکمرغی وموندہ.

د امیر حمزه شنواری نوم د پښتو ادبیاتو په معاصر بهیر کښې ډیر لور او ځلاند حیثیت لری. د حمزه ځخه د پښتو د نوی شاعری دور بالعموم او د پښتو جدید غزل دوربالخصوص پیل کیږی. حمزه وو چې پښتو شعری د پخوانی او کلاسیک غالب ځخه راواستی او دنوی رمز سره یې اشنا کړ. هم دغه سوب وو چې پښتنو و خپل **دغه** ستر زیرمه خوار ته د پښتو غزل د بابا خطاب ورعطا کړ.

امیر حمزه شینواری د پښتو یو خورالوړ وتلی او منلی عالم فاضل ادیب و شاعر وو. ګن شمیر کتابونه یې لیکلی او د یو جامع شخصیت خښتن وو. ځکه خو ددهٔ په ژوند کښې دده پر فن او شخصیت باندی د تحقیق د پاره یوه څیړونکی ته د پی ایچ ډی کولو

کار وسپارل شو. اوددهٔ په ژوند کښې هغه ته پي ایچ ډی ورکړل شوه. د امیر حمزه په چاپ شوو کتابونو کښې دغه کتابونه ما ته معلوم دی.
۱. ارمغان حجاز ۲. انسان او خدا ے ۳. تسخیر کائنات ٤. جاوید نامه ٥. د حجاز په لور ٦. د خوشحال خان خټک یو شعر ۷. د خیبر وژمې ۸. ژور فکرونه ۹. ژوند ۱۰. غزونې ۱۱. نوی پښتون ۱۲. نوی چپې ۱۳. یون ۱٤. پرے وینی ۱٥. کلیات ۱٦. جبر او اختیار (اردو) ۱۷. انا (اردو) ۱۸. سپیځلې ویناوی (دنهجه البالغه پښتو ژباړه)٤:۹۱

د حمزه پر کلام باندی د اقبال ډیراثرات پراته دی. ځکه چې یو خوده د اقبال د مشهورو کتابونو "ارمغان حجاز" او"جاوید نامه" منظومی پښتو ژباړۍ کړې وې ځکه نو د حمزه پرکلام باندی د اقبال اثرات لویدل یو فطری خبره وه. بل حمزه پخپله هم د عالمگیریت او آفاقیت د فلسفې قائل وو. ځکه نو حمزه په پښتو شاعری کښې د اقبالیاتو موضوعات لکه خودی ، همت، امید، مرگ او ژوند، انسان کامل ، وحدت ملت، د ژوند حقیقت، انسانیت قومیت او مذهب او پر غربی تهذیب باندی نیوکی وغیره یی ډیر په دقت سره شامل کړه.

د حمزه د همدغه افکارو پر بنیاد باندی حمزه د پښتو ادب په اقبال شناسانو کښې یو وتلی او سنلی نوم لری. په ځنو ځایونو کښې خوی شعر د اقبال څخه ماخوذ واقع شوی دی. ددې علاوه یی اقبال ته منظومی پیرزوینی هم وړاندی کړیدی. دا قبال د عالمگیر بین

اسلامی ورورولی نظریه او د سرد کوهستان د هری قبلی د جدا جدا رسمونو دبتانو په ضد هم هغه په دوی کښی وحدت غوښت دغه فکری تومنه وه چی حمزه د عالمگیر بین الافغانیت رنګ ورکړ او دغه د پراخی پښتونوالی نظریه د حمزه برخه شوه.

# حافظ خان محمد

حافظ خان محمد د پښین د خانوزی په کلی کښی په ۱۹۱٤ء کښی د عبدالرحیم پانیزی کره وزیږیدی. او د اګست پر ۱٦ نیټه په کال ۱۹۵۸ء کښی په حق ورسیدے. ۱۲۱٤:۳۷

لومړنی او ثانوی زدکړی یی په خانوزی کښی تر سره کړی دینی زدکړی یی د حافظ آدم خان قندهاری څخه ترلاسه کړی . ددی وروسته کوټی ته راغلی او کتاب فروشی یی پرانستله.

دده دغه کتاب فروشی په جنوبی پښتو نخوا کښیٔ یو ادبی مرکز بڼه غوره کړه. د شاوخوا لری پرتو سیمو عالمانو او شاعرانو دده پر دکان ناسته ولاړه سره کوله. د چمن څخه به ملاعبدالسلام اڅکزی د ګلستان د لارجور څخه به مولوی سید محمد یعقوب لاجوری د ژوب څخه مولوی رحمت الله مندوخیل د پښین څخه د هغه وخت تاند ځوان[١٦] صاحبزاده حمیدالله د پیښور څخه لمیر حمزه خان شنواری حتی د قندهار او کابل څخه به علامه عبدالحی حبیبی او داسی نور علمی شخصیات دده دکان ته سره راتلل. دلته به علمی او ادبی مجلسونه نه هر وخت تاوده وه. په دغه وخت کښی حافظ

خان محمد خپلو علمي او ادبي مصروفياتو ته هم دوام ورکړی وو. دده دکورنی کتابتون څخه ما ديو شمير ناولدو شاعرانو خطی آثار ليدلی دی. دده مطبوعه او غير مطبوعه آثاری په - دې ډول دی.

۱. غوث زمان سيرت مياں عبدالحکيم کاکړی ۲. نور ظلم پښتو ژباړه ۳. تحفه نصائح تحشيه ٤. پنج ګنج تحيشه ٥ـ الانسان ژباړه ٦ـ تاريخ الحکماء ۷ـ چمن بنظير جديد پښتو. ۸. ديوان (د ملغلرو خزانه) ۹ سم ژوند ۱۰. اسلامی ژوند ۱۱. اخلاقی احاديث ۱۲. د کسبې ګلان. ۱۳. په وطنی بوټو د امراضو علاج ۲۸۰:٦۱

دده په ديوان کښی موږ د اقبال اثرات دده پر شعر باندی په څرګند ډول سره ليدلے شو. اسلامی تهذيب، پرغربی وګړو نيوکی، دامتونو تقدير او داسی نورو موضوعاتو باندی يې د اقبال پيروی کړې ده. په خصوصيت سره ددهٔ نظم د شيطانانو لويه جرګه کښی د غزازيل فرمان د اقبال دنظم ابليس کې مجلس شوری څخه ماخوذ دی.

# سراج الاسلام سراج

مولانا سراج الاسلام سراج د نوشهرې په آکوړه خټک کښی په ۱۹۲۹ء دمولانا اميرزاده په کور کښی وزيږيدو. لومړنی زدکړی يې هم دغلته کړی او بيا يې پښتو فاضل کړی. ۱۹۹:٦۱

په محکمه تعليم کښی يې خدمتونه کړی او د تقاعد کيدو پس يې په آکوړه خټک کښی شخصي بنووڅي جوړ کړې ده. په

مئی ۱۹۹۷ء کښې ما ددغه خېرنې پر وخت دده په کور کښې دده سره ولیده او ډیر اورد علمی مجلس ئې ورسره وکړ. په دغه مجلس کې شامل عِرفان خټک او ګران ایوب اڅکزی هم راسره وه۔

په پښتو ادبیاتو کښې دسراج الاسلام سراج لویه ونډه ده خصوصیا د اقبال شناسی په اړه خو دده هلی ځلی د ستاینی وړ دی. دمنظوم عقیدت علاوه یی په یوه قطعه کښې د اقبال د زیږیدنې او مړینې دواړی سنی راوړی.۳:۱۲۲

په بیلا بیلو سیاسی موضوعاتو کښې آثار لیکلی یو شمیر کتابونه یی کتابت کړی او دده پر شعر باندی هم د اقبال اثرات شوی دی.

# سلطان محمد صابر

سلطان محمدصابر د جنوبی پښتونخوا په وتلو لیکوالو کښې شمیرل کیږی. د ژورنالیزم په ډګر کښې یی نوم ګټلی د "هیواد" کوټې او "هیواد" پیښنور موسس دی. لوی مورخ او ښه نثر نګار دی او کله کله ئې شاعری هم کوله.

د پلا رنوم یی عبدالغفور دی او نسلا موسی خیل کاکړ دی. نیکه یی ملانانو اخندنومیدی چې په اصل کښې د غزنې اوسیدونکی وو.۷۳:۹

په بلوجستان کښې چې تنګ د اذادئ څو رځنګ پیل شوی وو دصابر صاحب غورځینده شعر هم په اوج کښې وو. د اقبال د فکر

تومنه یی اخستی او دخپل شعری تولکی "د زړه غباره" کښنی دخپل شاعری د پیل کولو خبره په دې تکو کوی.

" شعرو شاعری ته زما د میلان وجه داوه چی ما په وړوکوالی کښنی د رحمان بابا دیوان چی زموږ په کورني کښنی لوستل کیدو لوستلو او په هغه ما پښتو لیک لوست هم زده کړو. بیا د څوارلس کالو په عمر کښنی اردو شاعری کښنی چی هغه وخت زه د پرائمری زده کونکی وم اول ځل ما دعلامه اقبال کتاب "بانګ درا" ولوستلو او ډیری متاثرکړم حضوصا دعلامه هغه نظم چی دشکوه جواب شکوه په نامه مشهور دی

په کال ۱۹۴۳ء کښنی چی زه له خپلو مشرانو سره د سندهـ لاړکانې ته تللی ووم د علامه کتاب "بال جبریل" ماله کویټی راوغوښتو کوم چی تراوسه د ماسره خوندی پروت دی. او تاریخونه وربان‌دی لیکلی دی. په بال جبریل کښنی د پیرروسی مرید هندی نظم سی دومره خوښ شو چی زه یی د مولانا جلال الدین روسی مثنوی ویلو ته نایل کړم له هغه وروسته بیا ما د خوشحال خان خټک شاعری ولوستلو نو ذهن سی داسی شاعری کولو ته وګرځید. چی هغه ژوندي بامقصده د اسلام په چوکاټ کښنی ملی او په ملت کښنی د اوچتو خصوصیاتو لکه ننګ و غیرت، مروت، شجاعت او دیانت جذبه او احساس او اتحادو اتفاق پیدا کولو پکار راشی لکه چی تاسو به وګوری او دنظمونو نه به اندازه ولګوی". ۹:۸:۱۳.

# سمندر خان سمندر

سمندر خان سمندر د منصور خان په کور کښې د جنوری پر لومړی نیټه په کال ۱۹۰۱ء کښې وزیږیدے. دے هم د نوشهری د بدرشو د کلی اوسیدونکی وو. په خټه سلمان خپل غلجی وو. نیکه ګان یې دقندهار څخه بدرشو ته راغلی وو. ٦٦١:٣٠

په کور باندی د بیخی لومړینو زدکړو پس یې تر څلورم ټولګی پوری زدکړی وکړی لیکن دده خو د داره طبعیت پابندی نه منله خو په هر حال تراتمه یې زدکړه وکړه.

د چپراسی په حیث یې دولتی وظیفه پیل کړه. بیا یې ټانګه چلوله. ددې پس یې د انګریزانو په ضد په مبارزه کښې برخه واخسته. د همیش خلیل په قول چې د خوشحال خان خټک ا و کاظم خان شیدا پس سمندر خان سمندر هغه لومړی شاعری دے. چا چې خپل پام و عروضی شاعر یې ته واړاوه. د عربی او فارسی مروجه عروضو کښې یې غزلی او نظمونه ولیکله.

په ۱۹٤۸ء کښې د پښتو په عالمی مشاعره کښې چې د پیښور په عجائب ګهر کښې وشوه. په متفقه ډول وده ته د ملک الشعراء خطاب ورکړل شو. او په ۱۹٤۳ء کښې په ریډیو کښې وظیفه تر لاسه کړه. ٢٥:٦١

څلویښت کاله یې دلته خدمت وکړ. پنځه پنځوس کتابونه یې ولیکل. دپاکستان د دولت د خوا څخه وده ته تمغه امتیاز او تمغه

حسن کارگردگئ ورکړل شو. ۱۱٤:٦٦

سمندر خان سمندر دجنورې پر اولسمه نیټه په کال ۱۹۹۰ء کښې په حق ورسیدے ۱۰۷:۳۸

سمندر رښتیا هم د پښتو شعر سمندر وو. په پنځه پنځوس آثارو کښې زیاتره د شاعرۍ کتابونه وه. د اقبال سره یې ډیره مینه درلوده. د اسرار خودۍ او رموز بیخودی منظومې پښتو ژباړې یې کړې وې. او زما په خیال سمندر خان سمندر چې خپل مشهور کتاب "د توحید ترنګ" چې د کلمه طیبه لااله الا الله محمدرسول الله په تفسیرې ولیکې چې د شعرونو شمیرې څلور شپېته زره بیته دی. ددې کتاب بنیادی اثر او تحریک یې د اقبال د فکر څخه اخستې دی. دا ځکه چې ده باندی دغه اثر هغه وخت ولویدی چې ده پښتو شعر کښې "اسرار خودی" او "رموز بیخودی" ژباړل.

معاصر نقاد پروفیسر نواز طاهر ودغه نکتې ته د "توحید ترنګ" په لومړینو مخونو کښې اشاره کړې ده چې دا کابرو سالکین او صوفیاو شعراو په ډول سمندر د توحید ترنګ لیکلی دی. ۱٦:۱۰

## سید راحت الله راحت زاخیلی

سید راحت الله راحت زاخیلی د سید فریح الله زوے او په ۱۳۰٤ھ ق کښې د نوشهرې تحصیل په زاخیل کلی کښې وزیږیدو. اوپه۱۳٤۲ھ کښې په حق ورسیدو.(۱۲۵۱:۳۸) دغه سنه ماته سمه

نه معلومیږی.ځکه چی د راحت صاحب د زیږیدلو او حق رسیدلو ترتیب په عیسوی سنه په دی ډول دی ۱۸۸۴ء ۲۹ مئی ۱۹۶۳ء. لومړنی زدکړی یی د خپل پلا څخه تر لاسه کړی بیا یی طبی او عربی علوم زدکړه. او په خطاطی کښنی یی هم پوره پوره لاس درلود.۱۴۹:۱۸۵

دخپل کوشنی وررو د وفات کیدو پس تر درے میاشتو پوری په دماغی ستړی اخته وو. وروسته یی د یوه فرنګی پادری لین کاستمر سره مخه وشوه. چا چی ده ته عیسوی چاپی مواد ورکړه لیکن د هغه څخه هم راحت صاحب سکون نه کړ ترلاسه. د هغه پس یی د قران کریم مطالعه په ډیر ځیر سره وکړه. تر څو چی راحت صاحب د راحت په خوند اګاه شو.

په پښتو ادبیاتو کښنی راحت صاحب بسم الله د اقبال دکلام څخه کړې دشکوه او جواب شکوه ژباړه یی په پښتو شعر کښنی وکړی له دې کبله به ده ته معاصرو پوهانو افغانی اقبال وایه.۶۱:۴

د راحت صاحب ځنی آثار په دی ډول دی.

۱. نتیجه عش(پښتو ناول) ۲.سیف الملوک (پښتو نظم) ۳. ستاره زمین ۴. سوانح انور بیګ (پښتو نظم) ۵. تاریخ افغانستان (پښتو ۶. تاریخ
بغداد (پښتو) ۷. ګلستان سعدی (پښتو ژباړه) ۸. خزان د افغان

(پښتو نظم ۹. لغات افغانی ۱۰. صرف میر ۱۱. رساله نصر ۱۲. قواعد خوشخطی(فارسی نظم) ۱۳. پښتو افسانی ۱٤. فالنامه (پښتو نظم) ۱۵. پښتو قواعد (پښتو) ١٦. تحریر قافیه ۱۷. اقوال حضرت علی(پښتو نظم) ۱۸. داغونه (پښتو نظم) ۱۹. بانګ درا (پښتو منظومه ژباړه)۱٥:٦۱

زمُوږ ته دې خبرې بیخی نه پوهیږم چې زما ومخ په پرتو کتابونو اوسنی لیکوال، پښتانه لیکوال د همیش صاحب پښتانه شعراء څلورم توک ، فرهنګ زبان وادبیات پښتو په څلورو سرو کښې د راحت صاحب سوانح او آثار په تفصیل سره راغلی دی. لیکن هیچا هم دده د "بانګ درا" د پښتو ژباړې یادونه نه ده کړې. فقط حبیب الله رفیع صاحب په "پښتو کتاب ښود" کښې نه یواځې د راحت صاحب "بانګ درا" په موږ پیژنی بلکې د شکوه او جواب شکوه مستقله یادونه یې هم کړې.۱۱٦:٤

ددغه افغانی اقبال پر شاعری باندی د اقبال د شاعری اثر کیدل یو فطری عمل دے ځکه خو موږ دده په کلام کښې ځای پر ځای د اقبال د فکر اثر له ورایه ونیو.

# سید رسول رسا

میا سید رسول رسا د اپریل پر لسمه نیټه ۱۹۱۰ء د نوښار د بدرشو په کلی کښې د میا محمد سعید په کور کښې وزیږیدو. د دوی کورنۍ د ابک خیلو نامتو روحانی کورني ده . لومړني زدکړې

یې د نوښنار په هائی سکول کښې تر سره کړې او د اعلی تعلیم د پاره اسلامیه کالج پېښتو ته ولاړ له دې ځایې یې په ۱۹۳٤ کښې بی ایس سی (B.Sc) وکړه او بیا یې د لاهور ځخه بي ټی وکړه. ١١:٦١

رسا صاحب په عملی ژوند کښې د بیلا بیلو دولتی ماموریتونو خوند کتلی وو. چې په هغو کښې د آل انډین راډیو ځخه یې راوخله. بیا په بیلا بیلو هیوادونو کښې د پاکستان په سفارت خانو کې د پریس اتاشی او د ټرائبل پبلیس او داسی نورو ځانګو پورې یې خپلې مسلکی دندی تر سره کړې.دی په آکتوبر ۱۹۹۰ء کښې په حق ورسیدو. ٣٩:١٠٨

د سیدرسول رسا ځنې آثار په دې ډول دی.

۱. د بیدیا ګلونه ۲. نوی ترنګ ۳. د قرآن پیغام ٤. باغ وراغ ٥.رنګارنګ ګلونه ٦. مفرور(ناول) ۷. شمئ (ناول) ۸. مامونی (ناول) ۹. خودکشی (ناول)[۱۰] میخانه (ناول)

رسا صاحب د پېښتو په لوړو لیکوالو او شاعرانو کښې شمیرل کیږی. ددهٔ فکر او فن د لوړو آفاقی اقدارو د پاره هر وخت هلی ځلی کولی. ده د نړیوالو ادبیاتو ژوره مطالعه درلوده. رساصاحب پخپله داخبره منلی وه چې دده پر خیالاتو باندی فلسفیانه عکس او فکری انقلاب د خارجی ژبو د مطالعو سره سره دده د شخصی مشاهدی او حساساتو له کبله پروت وو.

په دغو اثراتو کښې د اقبال د فکرو فن اثرات هم وه چې دی

یې پخپله داسې یادونه کوي.

"د پاکستان دمسلمانانو منوره یا تعلیمافته طبقه که نن د اسلام د تعلیماتو څه لږ ډیره خبره ده نو داد حکیم ملت ترجمان حقیقت ډاکټر محمد اقبال مرحوم د اشعارو په برکت.

اقبال محض یو غزل ګو یا جذباتي شاعر نه وو بلکه اقبال په هغه شاعرانو کښې دی چې ملت ته یې حیات بخش پیغام راوړی او یوه ژوندی فلسفه حیات ورته پیش کوي. دده په خپلو اشعارو کښې د اسلامي تعلیماتو د اثر د لاندې د ژوند په اکثرو پیچیده ومسائلو چې ننی دنیا نه په دې بصیرت افروز تعمیري تنقیدونه کړي دي.

اقبال په مشرق کښې د اسلام دمقدس دین هغه لوی مجدد دی چا چې مسلمانان یو ځل بیا د اسلامي روح او صحیح اسلامي تصوف د فلسفې سره اشنا کړي دي"۲۲:۳۴۹

دغه نکات وه چې له کوسو له زویه رسا د اقبال څخه متاثر وو. ځکه خو یې په خپله شاعرۍ کښې په پښتو ژبه ډیر په شد ومد سره شامل کړه. په دغو موضوعاتو کښې دغه شامل وه لکه تو جید، رسالت، قرآن، فقر، عقل وعشق، شان مومن ، اخوت ، عشق الهي، پر غرب نیوکه پرله پسې هڅه ، مړانه او سپیتانه. زندګي، عمل ، اسلام، قومیت و وطنیت تعلیمي نظام انسان او خدای او داسې نور.

په اقبالیاتي شخصیاتو کښې رسا صاحب و خوشحال خان

ختک ،شیرشاه سوری، محمودغزنوی، احمدشاه ابدالی، او سیدجمال الدین افغانی ته په شعر کښې پیرژوینې وړاندې کړی.

سید رسول رسا صاحب د اقبال زیاتره اردو او فارسي تراکیب په بیخي زیات شمیر په پښتو شعرونو کښې په کار راوړی دی. دغه تراکیب یې په خپلو شعرونو کښې داسې سکښتې دي چې د سړی د پښتو گمان پر کیږي. لکه اسیرئ فقیری، اشارات فطرت، حرف وصوت، گفتار و کردار ، جلال وجمال، خشت وسنگ، چنگ و ترنگ ، خاک وزنگ، راز ونیاز، سوز وگداز، نظریه پاکباز، سرد غازی، راز کلیم. چنگ ورباب، فقرِ بوذر، دشت سنا، آدم گری، شیشه گری، جهانِ رنگ وبو ُبد ر وحنین، طفل مکتب، زور حیدر وغیره.

هسې خود رسا صاحب پر بشپړه شاعری باندې د اقبال اثرات بیخي زیات شوی دی . لیکن دده اثر د "قرآن پیغام" په مجموعي حیثیت سره د اقبال د کلام پښتو منظومه تشریح گڼلے شو. گویا سید رسول رسا د اقپال پښتو مفسر وو. ځکه چې تر اوسه پوری د پښتو شاعری په تاریخ کښې دومره اوږ د مسدس مسلسل ٤٧٣ بنده تراوسه چا نه دی کښلی ځایې پر ځای د اقبالیاتي افکارو تومنه خرگندیږی. ددغې خبری برملا اعتراف اعلي ظرفه رسا د ' قران پیغام' د جدیدایډیش په دیباچه کښې خپله داسې کوی.

" د ابتدا عروج نه پس چې په مسلمانانو د جمود او مرگ

کوم حالت ترپیړو پوری خور وو. دا حالت د شلمی صدی په آغاز کښې خپل حد ته رسیدلی وو. پر مسلمان ملت هر خوا بې حسی، مجبوری او نا امیدی خوره وه. خو ځنی با احساسه مسلمانانو لیډرانو عالمانو، ادبیانو او شاعرانو په خپل خپل طرز کښې دملت دا پریوتی حالت په رنګ رنګ ژړلو. او مسلمانانو ته یې د مرګ د خوب نه د راپا څیدلو سبق ورکولو. سید جمال الدین افغانی په دې سلسله کښې ډیر نمایان کار کړی دی. او همدغه وجه ده چې د ننی دنیا بیدار مسلمان د سید صاحب مرحوم ددې ابتدای خدماتو ډیر قدر کوی. او دوی د مسلمانانو ددې اوسنی بیداری یو لوی قائد ګنړلی شی. د هندوپاکستان د برصغیر په شاعرانو کښې اول مولانا حالی او ورپسې ډاکټر اقبال د خپلی شاعری په زور د اودو مسلمانانو د مذهبی حس د رابیدارو کولو کوشش کړی دی. او تر یو حده پوری په خپل مقصد کښې کامیاب شوی دی. په دوی پسې نورو ډیرو شاعرانو هم د ملت دا خدمت تر خپله وسه پوری کړی دی.

چونکه ما یو داسی نظم لیکل غوښتل چې رزمیه نه وی خو د رزمیه شاعری خوند ور کښې وی. او ورسره ورسره اسلامی تعلیمات هم په شاعرانه طرز کښې پیش کړی شی. په دې وجه زما د مقصد د پاره مدس حالی او د ډاکټر اقبال کتابونه زیات مفید شول. او هم ددی نه ما ډیره استفاده کړی ده. کومو خلقو چې ددی دواړو داشعارو غرقه مطالعه کړی وی هغوی ته شاید چې د ”قرآن پیغام“

کښنې څه داسې هيڅ نوې خيال په نظر رانه شي. چې دوی ورسره د اول نه نهٔ وی بلد".۲۱:ا=ب ج

# پروفیسر سید عابد شاه عابد

پروفیسر سید عابد شاه عابد د کوټې په ښار کښنې د اګست په څوارلسمه نیټه په کال ۱۹۳۷ء کښنې د سید یار محمد په کور کښنې وزیریدی په ختمه تورخیل اسماعیل زئ سید بخاری دی. زدکړې یې د کوټې څخه ترلاسه کړې او د ایم اے کولو پس د بلوچستان د پوهنتون په پښتو څانګه کښنې د پروفیسر په حیثیت په خپله مسلکې دنده بوخت دی.

د ۱۹٥٦ء راهسې د اردو او ۱۹٥۷ء پس د پښتو شاعری کوی۱۳۷:٥۲۸. نوموړی د مخه هم دری کاله د پښتو اکاډمی کوټې صدر پاته شوے دے او اوس هم په دغه علمي دنده بوخت دی. د نیشنل فلم ایوارډ جیور غړی هم دے. او د قلم قبیله کوټې غړیتوب هم لری. ده په ۱۹۸۳ء کښنې په لاهور کښنې د اقبال په باب په دویم عالمی کانفرس کښنې د علامه اقبال او پښتو ادب په باب مقاله اورولې وه.۱۳٦:۱٤٥

په پښتو ډرامه کښنې لوی نوم لری. د بلوچستان د پښتو ادب یو وتلی نوم دے. د اقبال دُ شمیر غزلو او نظمونو منظومې ژباړې یې کړې دی. په خپله دده پر شعر باندې داقبال ژور اثرات مرتب شوی دی په دغه لړ کښنې دده یو خورا اورد نظم "هینداره" د اقبال د شکوه

او جواب شکوه په بنو کښې لیکل شو دی.۳۷:۱۰۱

## سید محمد دتقویم الحق کاکا خیل

سید محمد تقویم الحق کاکا خیل په زیارت کاکاصاحب کې د اګست په ۱۵ تاریخ ۱۹۲۷ء کښې د سید حمیم ګل په کور کښې زیږیدلی. شجره یې د شیخ رحمکار د زوی شیخ حلیم بابا پورې رسیږي.

لومړنی زدکړې یې د نصرت الاسلام په مدرسه کښې سرته رسولې . وورسته د عالي زدکړه د پاره ډیوبند ته تللی. له هغه ځایې د دویم جنګ جهاني په وخت کښې رافارغ شو. د هغه پس یې د پیښنور پوهنتون څخه ایم اے عربې د سروزرو د تمغې سره تر لاسه کړه.

په ۲۲ دسمبر ۱۹۵۲ء کښې د اسلامیاتو د پروفیسر په حیثیت دولتي وظیفه ترلاسه کړه. دصوبه سرحد په بیلا بیلو کالجونو کښې د استاد او پرنسپل په حیثیت پاته شوی. بیا پروجکیټ ډائریکټر شو۴۲:۴۱۹

ما د نومړی سره په ۱۹۹۷ء کښې په پیښنور کښې ولیدل او د اقبالیاتو خدماتو په لړ کښې سی مرکه ورسره وکړ. د تقویم الحق کاکاخیل د ګڼو علمي ادبي خدماتو برسیره نومړی د پښتو په اقبال شناسی کښې ډیر لوی نوم درولوده. د اقبالاتو منظومې ژباړې یې کړې او په ۵ مئی ۱۹۹۹ء کښې په حق ورسیدے.

# چاپ آثار

۱. زبورعجم ( د علامه اقبال د فارسي کتاب پښتو منظومه ژباړه)

۲. پس چې باید کرد " " " "

۳. مسافر " " " "

٤. مخزن تحقیق او مقدمه

٥. دیوان کامګارخان ختک دویم اشاعت (مقدمه اوتشریحات، تسنیم الحق کاکا سره په شریکه)

٦. پښتو ګرائمر (انګریزی نه پښتو ترجمه)

۷. دیوان علي خان (شرح او مقدمه)

۸. بینادی حقیقتونه

# ناچاپ

۱. تاریخ امت

۲. د پښتو ژبې اوادب تاریخ ۹۰:٦۲

# سیده بشرٰی بیګم

سیده بشرٰی بیګم د پښتو ادب د ناستو علمی کورني غښتلي پښتنه تورسرې ده. ددې پلار ابوالمعانی آزادګل کاکا خیل یو لوړ عالم دین اوغښتلي ژورنالسټ وو. ددې په چپه یو تکړه شاعر هم وو. نیکه یې میاں مظهر شاه طبیب او شاعر او ور نیکه یې مصلح

الدین وو . د دوی کورني تر حضرت شیخ رحکار صاحب پوری رسیږی.

دا په ۱۹۲۲ء کښې د نوښار په زیارت کاکا صاحب کښې وزیږیده.۱۶۴:۶۱ ددې په فکری وده کښې ددی د پلار ډیر لوی لاس وو. لومړنی زدکړې یې پر کور کړی او په اتوکلونو په عمر کښې یې قرآن کریم ووایه او نورو مذهبی کتابونو ته یې مخه کړه.۱۲۹:۲۹

دا هغه زمانه وه. چې په برصغیر پاک وهند کښې د آذادی غورځنګ و خپل اوج ته رسیدلی وو. اوداقبال د ولوله انګیزه شاعری چک چکه وه. له هم دې کبله دغه ویښه پښتنه د اقبال د فکر او فن څخه خورا زیاته متاثره شوه.

ددې پلار میا آذاد ګل چې پخپله هم ښه شاعر وو د مولانا حالي د مسدس په بڼه کښې په پښتو شعر کښې ترانه آذاد ولیکله. او په ۱۹۲۵ء کښې یې دمردان څخه افغانی رساله جاری کړه. ددغه علمی چاپیره خورا ژور اثرات سیده بشرې بیګم قبول کړه ځکه یې د پلار په صلاح به ''پښتون'' مجله کښې شعری پارچې خپریدی.۶۶:۴۹

سیده بشرې بیګم هم پر هغو موضوعاتو لیکونه وکړه چې په دغه وخت کښې د مسلمانانو د بیداری سوب جوړیده. ددې پر دغو نظمونو باندی د اقبال ډیر ژور اثرات موږ وینو لکه دعا، تلاش حق، التجا امید، شمع رسالت، باغ اسلام، هلالی نښان، قامی ترانه، ترانه

مسلم ، عشق قلب ، مزدور، مسلم، د مومن شان، پیام عمل ، درس عمل او داسی نور.

# شیرعلی خان

دغه پښتون اقبال شناس شاعر په خټه یوسفزی دی اودسوات د غوریجه نیک بی خیل اوسیدونکی دے. شعری ټولګه د "قافلی جرس" یی زما په وړاندی پروت دے. چی ۳۵۹ مخونه لری. ددې کتاب نوم د اقبال د "بانګ درا" په نسبت بنی.د کتاب په دیباجه کښی دخپل شعر پیژندګلو یی په موږ داسی کوی چی د اقبال څخه متاثر دی. ٦:٢٦

"په دی ضمن کښی چی زه د کومو شاعرانو نه متاثر شوی یم په هغوی کښی اول نمبر د اردو فلسفی شاعر ډاکټر محمد اقبال دی څه خوما د هغه د کلام منظومی ترجمې کړی دی. لیکن د ترجمې نه علامه هغه هسی هم زما په ټول کلام حاوی دے. د سرمایه دار او دمزدور یا د جاګیر دار او د غریب په منځ کښی د تفاوت متعلق ما د هغه د خیالاتو عکاسی کړی ده تر څو زه د هغه د خیال په رسولو کښی غریب عوام ته کامیابه یم دا فیصله د غریبو سا معینو په لاس کښی ده. ددې نه علاوه زما څه فقیرانه کلام چی خلق ورته عارفانه یا صوفیانه کلام وایی دا هم د اقبال مرهون منت دے . غرض دا چی زما ټول کلام د اقبال په رنګ رنګ دے. ته یی چی هر څنګه ګڼړی ستا خپل خیال او زما خپل خیال" ٢:٢٦

په دې کښې هیڅ شک نشته چې رشتیا هم شیرعلی خان د اقبال د فکر بیخی زیات اثر قبول کړے دے. په اقبالیاتي موضوعاتو مرګ او ژوند مړانه ،تقدیر، عشق،انسان، مومن، مالک او مزدرو. اتحاد، رسالت، د کائناتو تسخیر، زندګی، سرمایه داری او اسلام وغیره باندی یی دزړه د اخلاصه لیک کړی دی. چې د اقبال د فکر اوفن آئینه دار دی.

# شیر محمد منیوش

شیر محمدمینوش د صوابي تحصیل په ترلاندی کلی کښې د فروری پر ۱۷ نیټه په کال ۱۹۰۳ء کښې د ظهور الله په کور کښې وزیږیدی. لومړی زدکړه یی په کلی کښې تر سره کړی او د پنجاب پوهنتون څخه یی ایس وی ترلاسه کړه. دینی کتابونه یی پر مولانا عبدالحکیم باندی وویل.۲۱۲:۶۱ مینوش صاحب په ختمه منډن وو. اود شاعری پیل یی د لوست د زمانې څخه کړی وو. لومړی تخلص یی بسمل وو. دمردان په ''افغان'' مجله کښې یی نظمونه خوریدل. اود پښتو په تکړه شاعرانو کښې شمیرل کیدے.

داقبال د افکارو څخه ډیر متاثر وو. د همدغه ذوق اوشوق له کبله یی د اقبال زیاترو کتابونو منظومه ژباړی کړی وی. چې په هغه کښې ''پیام مشرق'' او ضرب کلیم چاپ شوی دی.۲۲۹:٤

د پورته یادشوو دوکتابونو په څیر د همیش خلیل د قوله چې منیوش صاحب د ''بانګ دار'' او ''زبورعجم'' ژباړی هم کړی

ری.۲۱۳:۳۱

مینوش صاحب د دغو ژباړو په وخت کښې خپله هم د اقبال د شعر څخه په خپل شعر کښې اثر قبول کړی وو.

دمینوش صاحب خپله شعری مجموعه تصورات مینوش نومیږی. داقبال د پورته ذکر شوو دو چاپی ژباړو او دو ناچاپه ژباړو په چپه مینوش صاحب د اقبال دبال جریل او جاوید نامه ژباړی هم په پښتو شعری کړی دی . چی تراوسه نه دی چاپ شوی. ددې علاوه مینوش صاحب د غالب د دیوان هم منظومه پشتو ژباړه کړے وه.

مینوش صاحب د اکتوبر په اتمه نیټه په کال ۱۹۷۷ء کښې په حق ورسیدو.۴۵۰:۶۲

# عبدالحلیم اثر افغانی

قاضی عبدالحیم اثر افغانی په جون ۱۹۱۰ء کښې د مردان په اسلم آباد فیروز پور کښې د قاضی سیدکریم کره زیږیدلی وو. په خته سالار زئ وو. په ''رساله سرحد'' او ''خلاصه اخبارات'' نوم اخبارونو کښې یی کار کړی . وروسته یی دمردان څخه اووه ورځنی مجله ''انصاف''جاری کړه.دقبلیزپاکستان په اسمبلی کښې د ملاکنډایجنسی دخوا ممبر منتخب شوی وو.۲۰۹:۶۱ نومړی یو شمیر درانه علمی اوادبی تصنیفات او تالیفات ادبی نړی ته یادگار پریښی دی. زیاتی مقالې یی په سمیزو مجلو کښې چاپ شوی او د علامه اقبال سره یی خصوصی تړون درلودی. ځکه خوی د

محمد نواز طائر ،مشتاق احمد مشتاق او مراد شنواری په ملیتا د علامه د بال جبریل منظومه پښتو ژباړه وکړه . ځکه نوموړ دے د پښتو اقبال شناساتو شاعرانو په قطار کښې درو.

نوموړی په ۸ دسمبر ۱۹۸۷ء په حق ورسیدو. روح دی یې ښاد وی. د ښاغلی اثر افغانی چاپ شوی آثار په دې ډول دی.

۱. تیر هیر شاعران ۲. تذکره سید افغانی ۳. سیرة‌النبی ﷺ رهبر عالم (اردو) ٤. روحانی تړون رابطه ٥. زمور مجاهدین. ٦. سیرة پاک رسول ۷. سبی ۸. بلوچی نقوش ۹. د قائداعظم دژوند قیصه ۱۰. پانینی ۱۱. میا وسیم ۱۲. پښتو ادب ۱۳. بال جبریل (منظومه ترجمه)

د اثر افغانی ناچاپه آثار په دې ډول دی.

۱. پشتی ۲. پشتون ۳. پښتونخوا ٤. گندارا ٥. مری ٦. بلوچ ۷. ادار ۸. دتاریخی نومونو پس منظر ۹. خټک ۱۰. تاریخ سمه ۱۱. دردی ۱۲. ارک زي ۱۳. آفریدی ۱٤. مومند ۱٥. وزیری ۱٦. اړمړ ۱۷. برکی ۱۸. گدون ۱۹. تاریخ سوات ۲۰. باجوړ ۲۱. تزکره ۲۲. پټه خزانه زما په نظر کښې ۲۳. عبدالرحمان بابا ۲٤. تاریخچه یوسفزی ۲٥. افغان مورخین ۲٦. وحدت الوجود ۲۷. دپښتو ژبی عوامی ادب ۲۸. موسوی سادات ۲۹. محمد گیسو دراز ۳۰. مشوانۍ ۳۱. سالار غازی ۳۲. افغان ۳۳. نوې تاریخی مطالعه د علم اصول تاریخ په رڼا کښې ۳٤. د پښتو تاریخ ۳٥. شیخ متی ۳٦. درې نومونه

۳۷. دپښتین ستانه دار ۳۸. ترین سادات. ۳۹. سادات افاغنه ٤۰. په سرحد او قبایل کښې داسلام رنړا ٤۱. پښتو تفسیرونه ٤۲. د اولیا افغانستان اجمالی تذکره ٤۳. منطق افکار(شعری مجموعه) ٤٤. زماخطونه ٤٥. روحی ادب وغیره.۵۰۲:٦۳

# عبدالروف رفیقی

دلته د یوې نکتې وضاحت ډیر ضروری ګڼم چې په ۱۹۹۷ء کښې چې په اسلام آباد کښې ما ایم فل کاوه نو د علامه اقبال اوپن یونیورسټی په تحقیقی ورکشاپ کښې چې کله ما پر پښتو شعر باندې د اقبال د اثراتو باندې د څیړنې د عزم څرګندونه وکړه نو خدای بخښلی استاد ډکتور صاحب رحیم بخش شاهین وخندل چې هغه وخت د شعبه اقبالیات مشر هم وو ویل یې چې پر دغه موضوع خوبه دتحقیق په وخت کښې زیاتره دخپلې شاعرۍ حوالې ورکړې. ما به ډیره عاجزی جواب ورکړ چې د رفیقی پر اقبال شناسی باندې خوبه راروان نسلونه څیړنې کوی. لیکن زما څیړنه به ددې په چپه وی. لهذا دلته ما بیخی خپلې حوالې نه دی شاملې کړی. البته د علمی دیانت په وړاندې د اقبال پیژندونکو پښتنو شاعرانو په قطار کښې ځان نه درول د ځان سر زیاتے ګڼم. فقط پر خپل ژوند لیک اکتفا کوم ځکه چې نوری څیړنې به نور خلق کوی که خدای کول. نوم مې عبدالروف تخلص رفیقی د پلار نوم مې حاجی مددخان دے په خټه اڅکزی د بنوونځی د ریکارډ مطابق مې د زیږیدی نیټه اوکال شپږم

اګست ۱۹۶۸ء دے. د چمن په ښار کښې زیږیدلی یم. تر دولسمه سی لوست په چمن کښې کړی دلته سی ځنې فارسي او عربي کتابونه هم وويل. بیا کوټې ته راغلم په ۱۹۹۰ء کښې سی د بلوچستان پوهنتون څخه ایم ایس سی نباتات وکړه. په دغه وخت کښې د راډيو تیلیویژن د بیلا بیل پروګرامونو د لیکلو او وړولو په وجه علمي تسکین سره سره مالي استفاده هم تر لاسه کول. بیا سی په اسلامیات او پښتو ادبیاتو کښې هم ایم اے وکړې.

۱۹۹۰ء کښې په الائیډ بینک کښې د افسر په حیثیت وټاکلی شوم چې ترننه سی دغه ماموریت په مخه اخستی دے. په ۱۹۹۷ء کښې په درست هیواد کښې د غوره کارکردګی پر بنیاد د بینک له خوا د حج مبارک سفر ته ولیږل شوم. چاپي آثار سی په دې ډول دي.

۱. د کوږک ستوری د بلوچستان ایالت ږغوره کتاب ادبی جائزه ګټونکی

۲. دملا قلندر ګلدسته (خیړنه)

۳. دملا جانان د حج احکام (خیړنه)

٤. پښتو شرحی (خیړنه)

٥. د څرک په څار (شعری ټولګه) دپاکستان د دولت د خوا د کشمیر ادبي جائزه ګټونکی

٦. د میرعلی دیوان (خیړنه) د بلوچستان د ګورنر ایالتي ادبی جائزی

ګټونکی

۷. له سپوږمي سره خواله (د ویمه شعری ټولګه)

۸. اقبال ته دپښتو شاعرانو پیرزوینی

## دغه کتابونه سی تر چاپ لاندی دی

۱. شیر وشکر خیړنه

۲. ذین البیان خیړنه

۳. کلیات جانان کاکړ قندهاری خیړنه

٤. الفنامه خیړنه

٥. ستر اقبال ټولونه او خیړنه

٦. سیر اقبال شناسی در افغانستان (فارسی)

۷. اقبال او پښتو شاعری خیړنه

## ناچاپ آثار سی په دی ډول دی

۱. اقبال اور پشتو شاعری (اردو تحقیق)

۲. پشتونوں کی فارسی شاعری (اردو)

۳. د افغانستان سیل (ژباړه)

٤. د افغانستان نومیالی٥ـ ٦.٧. ٨. ټوکونه

٥. د عبدالحکیم شیدا دیوان

د اقبال سره ډیر د پخوا څخه تعلق لرم. د کالج د زماني څخه سی پر اقبال مقالي چاپ شوی دی. پنځه سی مستقل کتابونه په اردو پښتو او فارسی کښنی پر اقبال لیکلی دی. او دا وخت دکتورا "په

افغانستان کښنې د اقبال شناسی روایت"باندی خیړنه په وروستی مرحلو کښنې ده.

# ملا عبدالسلام اڅکزی

ملا عبدالحکم اڅکزی د ملا خبش په کور کښنې په ۱۳۰۰ه ق کښنې وزیږیدی او په ۱۳۹٤ هه ق مطابق ۲٦ جنوری ۱۹۷٤ء کښنې په ښناخه شاله باغ چمن کښنې په حق ورسیدے.۳۸:۳۲۵ ۱

په ښنین او قندهار کښنې یی دینی او علمی زدکړی تر لاسه کړی. د گلستان په عنایت الله کاریز کښنې یی درس ورکاوه. ددې پس د کوړک د غره په مینځ کښنې د شیلا باغ څخه د شمال ولور ته پرپنځه میله باندی د ښناخه په شله کښنې میشت شودار۱۳۳٦هه ق ۱۹۱۷ء خبره ده.۲۵۰:۷

د ښناخه په شله کښنې دآذادي اوبیداری مین دغه بلبل تر مرګه د آذادی او استقلال ترانې ویلې په آثارو او تالیفاتو کښنې یی "سوسن چمن" طلب مذهب اوزردانه درشامل دی چی ټوله یی چاپ شوی دی.۱۰:۲۰٦

د ښنتو ددغه انقلابی شاعر د استقلال نغمو او ترانو دانګریزی حکومت پر سرور درد کړی وو. هغه و خت ده د تاج برطانیه په ضد مسلمانان د آذادی په لور راوپارول خصوصا د جنوبی ښنتونخوا په دنګو هسکو غرونو کښنې یی د صداقت د صدا انګازې تراوسه پوری اوریدل کیږی.

دده شاعری نه یواځې په کوټه اوپښنین کښې مشهوره وه بلکې په قندهار کې هم ډېر شهرت درلود. ده اقبال هم ډیر ښه پیژاندی. دده زوئ ملا شمس طالع اڅکزی د ملا عبدالسلام اڅکزی او اقبال په باب خپل یو یاداښت داسې لیکلی دی.۳۲۳:٤:٥

"یو سړی ورته وویل چې ستا د علامہ اقبال په یاره کښې څه خیال دے"

ده ورته وویل چې که چیرې د آنحضرت ﷺ وروسته د نبوت دروازه خلاصه وای نو اقبال به دالله پاک رسول وائی"۱۵۳:۳۳

ښاغلي شمس طالع اڅکزی په خپل یوه مکتوب کښې دملاعبدالسلام اواقبال دفکر په اړه خپل یو بیت داسې رالیږلی دی.

ستا پر مشکو دحیرته اقبال وش کو
په لحد خونه کښې وژړل په ناره ۲:۱۱۹

ښاغلی شمس طالع داقبال د ملت اسلامیه د بیا راپاڅیدلو غم د ځان بولی او ځان د قام په غم داسې غمجن بولی.

نه به زهٔ د قام درغم لاندی ولاړشم
نه به بیا پرپنجاب و ژاړی اقبال بل

خبره د ملا عبدالسلام اڅکزی او اقبال د فکری تعلق روانه وه. اقبال دخپل مشهور اثر پیام مشرق تړون د هغه وخت د سترافغان نوسیالی پاچا غازی امان الله خان د نامه سره کړی وو او

لومړنی یو اتیا بیتونه یې د غازی په ستاینه او ویاړنه کښنې لیکلی همدغه شان قاضي ملا عبدالسلام اخند هم مشهور شعری اثر "سوسن چمن" د غازی امان الله خان په نوم لیکلی دی.

پرغازی امان الله عبدالسلامه

کتاب نه دی کښنلی بل شاعر بیتا۳۵:۷

فرنګیانو چې دحریت استقلال او آذادی په باب د علامه عبدالسلام دغه کتاب ولیدے پر صورتویی لمبې بلی شوې په ۱۳۵٤ هجری کی یی "سوسن چمن" ضبط کړ او ملا صاحب یی زندانی کړ.۹:۱۰۷

ددې کتاب دویم ایډیشن په ۱۳۸٤ هـ کښنی بیا چاپ شو.۱۷:۱۲۱

ګویا غازی امان الله خان د ملا عبدالسلام اواقبال د دواړو خوښ شخصیت وو اودواړو د ملت نجات دهنده بالی. ددې په چپه ملا عبدالسلام په سوسن چمن کښنی د عالمګیر اسلامی وورولی کاهبنت بنکاره کړی. پر توحید ، اتحاد، آذاي ا ومړانه باندی یی زور ورکړی دی.

# عبدالصمد بیوس

عبدالصمد بیوس د قندهار ولایت د سپین بولدک داولسوالی د کدني د مرغې دی. د پلار نوم یی عبدالروف خان وو. دی په ختمه علیزی اخکزی دی. لومړنی زدکړی اود عربی د فارسی علوم یی په خپل کلی کښنی سرته رسولی . بیا د سپن بولدک په

بنونځي کښې شامل شوی. د دې وروسته یې د خپل وخت د علمي ځانګو قندهار څخه د علم تنده پوره کړی.

په افغانستان کښې د روسي تیري پس په عملي توګه په جهاد اخته وو. ځکه چې د لوست د وخته څخه یې لا د اسلامي سیاست سره فکري تړون وده کړی تر څو چې روسان د افغانستان څخه په شرمناکه تګ په شکست اوماتي لری شیو. او په افغانستان کښې کورني جګړه پیل شوه . نو ملا عبدالصمد بیوس د ګوشه نشینی ژوند اختیار کړ. او نن صبا د چمن په بنار کښې د ژوندانه ورځې وشپې په علمي بصیرت او تدبیرانه مشاهداتو تر سره کوی.

د پښتو خورا غښتلی شاعر دی. د اقبال څخه خورا متاثر دی. خصوصا د اقبال د عالمګیر اسلامي آفاقي فلسفې خورا زیات شیدای دے. ددغې خیړنې په وخت یې د اقبال د خودی او بیخودی په طرز باندی یو شمیر اشعار رالیږلی. چې ځای پر ځای حوالې ورته شوی دی.

تر اوسه کوم منظوم چاپي اثر نه لری. خو شعری پنګه یې تر څو شعری تولګو زیاته ده چې د علمي استدلالي اوادبي پسول پسوللی او چت مقام لری.

# عبدالغنی شهاب

عبدالغنی یې نوم شهاب یې تخلص دی د پښنین د سب تحصیل کاریزات د خانوزی دکلي اوسیدونکی دے. هم هغه خانوزی

چې د پټې خزانې د سیندوکې علامه عبدالعلی اخوندزاده او دکسې د ګلان حافظ خان محمد او غښتلی علم دوست محمد عظیم پائنزی کلی دی دلته د علم او زدکړی ډیوې بلې شوی دی او دځنومحلی روایاتو له مخې د علامه عبدالعلی یو زوی داقبال هم صنفی هم پاته شوی وو.

عبدالغنی شهاب دا وخت د تعلیم د محکمې څه تقاعد شوی او په خپله زمینداری اخته دے. زما د خانوزی د ماموریت په وخت کښې دده سره د اقبال پرفکر او فلسفه باندی ژور علمی بحثونه کیده. اسلامی سیاست او علم او ادب دده خاص مضامین دی. د ډیره وخته شاعری کوی. په اقبال پیژندنه کښې خپله ونډه لری. داقبال د شکوه او جواب شکوه پښتو منظومی ژباړی کړی دی. اوپه مجموعی توګه یی پر شعر باندی د اقبال اثرات له روایه څرګندیږی.

# عبدالاکبر خان اکبر

عبدالاکبرخان اکبر د چارسدې د عمرزی په کلی کښې په کال ۱۹۰۰ء کښې د عبد القادر خان په کور کښې وزیږیدو. لومړنی زدکړه یی په خپل کلی کښې ترلاسه کړی بیا اسلامیه کالج پیښور ته ولاړ. په عملی سیاست کښې یی برخه اخستل پیل کړه. په ۱۹۱۹ء کښې یی دزدکړی لړی وشلیده. په ۱۹۲۰ء کښې یی هجرت وکړ افغانستان ته ولاړ. له هغه ځایه روس ته ولاړ. د یوه کال پس وطن ته بیرته راغلی او دانجمن اصلاح الافاغنه صدر وټاکلی شو. د

سیاسي هلو ځلو له کبله ځو ځو واره بندی شو. په خداي خدمتګار تحریک کښې یې بشپړه حصه واخسته. د همدغه سیاسی سټیج څخه یې د پښتو تاریخي ډرامې تربور، تعلیم جدید، تهذیب جدید ، جونګړه او کاروان روان دی وړاندی کړی.۱۲۹:٦١

اکبر صاحب د پښتو د انقلابی شاعری د اول صف شاعر وو. ددغو باغیانه فکرونو له کبله یې د قید او بند سنړی ګاللی . لومړی شعری ټولګه یې "تراخه خواږه" په ۱۹۵۸ء کښې چاپ شوه. چې د وخت د حکومت له خوا ضبط شوه.۸۳:۲۹

په نورو مطبوعه آثارو کښې یې ادبی پنګه ، جونګړه یا مظلوم دنیا، درو سی ترکستان او افغانستان سفرنامه، روښنانیان، یا دمغلو تاریکیان او مثنوي شامل دی.

اکبر صاحب مشهور پښتون اقبال شناس وو. ولی چې په هغه زمانه کښې چې د اکبر صاحب عملی سیاست اوج ته رسیدلی وو. په همدغه وخت کښې د غلام هندوستان په فضا کښې د اقبال د استقلال د ترانو صدا وی راپورته کیدے اکبر صا حب د اقبال سره د خپل تعلق او ملاقات په اړه لیکی چې

" زه پخپله دعلامه اقبال د هلکانی نه مداح یم ما پخپله د اقبال صاحب نه ډیر څه زده کړی دی. هغه سره نژدی پاتی شوی یم. زه لا په مډل کلاس کښې وو. چې ۱۳-۱۹۱٤ء کښې مودا ترانه ویله.

سارے جہاں سے اچھا ہندوستاں ہمارا

ہم بلبلیں ہیں اس کی یہ گلستاں ہمارا

په ۱۹-۱۹۲۰ء کښې د خلافت او د عدم تعاون تحریک په ډیر زرو شور وو. مونږ یو څو هلکان محمد علي جوهر صاحب د علي ګړه نه دخلافت د تحریک او د انګریزانو سره د عدم تعاون په سلسله کښې دکار د پاره راولیګلو. مولانا حضرت موهاني صاحب هم مونږ سره وو. مونږ د "زمیندار" اخبار لاهور دفتر کښې غونډ شو ظفر علي خان، حسرت موهاني صاحب ته وفرمائیل چې بنه به داوی چې تاسي اقبال صاحب ته ورشي. او ورته عرض وکړی چې د پنجاب او سرحد څه چې په ټول هندوستان کښې مسلمانانو خصوصا او نورو خلقو عموما انګریز سره د عدم تعاون په سلسله کښې خطابونه تعلیم او نوکری پریښنودے که تاسو هم په دی سلسله کښې څه وکړل. نو تحریک ته به پری ډیره فائده ورسی. دا د اپریل ۱۹۲۰ء د میاشتنی آخری ورځې وی. علامه صاحب په انار کلی کښې د شفیع سرائے سره د بازار په بل طرف په یوی چوباره کښې اوسیدو. مونږ پنځه بجې مازیګر لس اته هلکان حسرت موهاني صاحب د احمد علي صاحب یو څو شاګردان د موچی دروازی یو څو کارکنان بالاخاني ته وروختو. علامه سره یو څو ځوانان او یو دوه زنانه هم وی مجلس ګرم وو. پیچواني چلیده حسرت موهاني بنه مقرری باک بی ویری ډری کهدرپوش انسان وو او هغه یو بنه مدلل

تقریر وکړه. د حاضرید وسنشایی ورته خرگنده کړه. علامه صاحب یوه شیبه پس په خپل بنکلی انداز کښی وفرمائیل.

"مولانا مجھے اپنے حال پر چھوڑے سیاست بڑے لوگوں کا کام ہے میرے پاس کیا ہے جو میں چھوڑ دوں"

علامه صاحب ته د سر خطاب په ۱۹۲۳ء کښی ورکړی شوی وو په دی بعضی خلقو به دا ویل چی علامه د انگریزانو نیک خواه دے حسرت موهانی څه سخت سست وویل او په هغه راواپس شو مور هیڅ پوهه نه شو چی علامه صاحب ددی تحریک په حق کښی نه وو. او که د تحریک د چلونکو سره یی نه لگیده. ولی چی دغه وخت هم په لاهور پنجاب کښی د لیډرانو په منیځ کښی پریی جنبی وو. اگر که عوامو ته څرگندی نه وی.

"په دی ورځو کښی آزادی خواه او اسلامی دوست خلقو به د مولانا حالی مسدس ډیر په شوق لوسته. دی ورځو کښی علامه د شکوه جواب شکوه نوسی نظمونو شهرت ووماته پخپله ډیره حصه یاده وه"

داقبال سره دعبدالاکبرخان اکبر مینه رشتیونی وه. ددی رشتیونولی ثبوت دادے چی دده د ژوند اخرنی مضمون هم په اقبال وو چی ده د پیښور د پښتو اکادمی دمجلی "پښتو" د خصوصی اقبال نمبر د پاره لیکلی وو. دا نمبر د اقبال د زیږیدنی د سلمی کلیزی د دستورو په لړ کښی په نومبر ۱۹۷۷ء کښی چاپ شو. د مضمون د

سرخط لاندی د میاشتنی پښتو اداری دا نوټ د غور وړ دی.

"ژوند څومره بی ثباته دی افسوس چی پرون ژوندی وو هغه نن مور کښی نشته. د علامه اقبال نمبر د پاره دامضمون عبدالاکبر خان اکبر مرحوم زموږ په بلنه لیکلی. او لږی ورځی کیږی چی خپله یی تشریف راوړی وو. موږ د خان بابا د ژوند دا آخری مضمون خپلو گرانو لوستونکو ته ډیر په ویاړ پیش کوو. (اداره)۱۱۰:۳۱

په دغه مضمون کښی اکبر صاحب د اقبال د شخصیت په اړه د خپلو شخصی یاد داښتونو په چپه دحضرت علامه د همه گیر شخصیت دبیلا بیلو اړوخونو سرسره سره دده پر فن او فکر هم غږیدلی دی.

عبدالاکبر خان اکبر صاحب داکتوبر پر لوولسمه نیټه ۱۹۷۷ء کښی په حق ورسیدی. ۸:۱۱۰

# عبدالله جان اسیر

عبدالله جان اسیر د مردان د ضلعې د صوابی په زیده کښی د مقرب خان په کور کښی په کال ۱۹۱۰ء کښی وزیږیدی. لومړنی زدکړی یی دلته تر سره کړی. ۲۰۳:۶۱

ددی پس دپیښور په اسلامیه کالجیټ هائی سکول کښی داخل شو. ۵۹:۲۹

په لسم جماعت کښی په انګریزی کښی د ناکامي له کبله یی د زدکړی لړی وشلیده. په کښی په ۱۹۳۰ء کی په خدای خدمت

ګار تحریک کښنی شامل شو. په ۱۹۳۱ء کښنی په مسلم لیګ سرحد کښنی شامل شو. د ۱۹۳۳ء څخه تر ۱۹۵۷ء پوری په بیلا بیلو دولتی ماموریتو کښنی خدمات تر سره کړه. اسیر صاحب په ۱۳ نومبر ۱۹۷۸ء په حق ورسیدی.۴۰:ز

ددهٔ مطبوعه آثار په دې ډول دی.

۱. درس عبرت (ډرامه) ۲. د سپرلی ګل ۳. د زړه قطری

۴. محمد عربی ۵. بال جبریل ( منظومه ژباړه)

په غیر مطبوعه آثارو کښنی د درس عمل، امیر علی تګ او ذکر حبیب وغیره شامل دی. اسیر صاحب د اقبال بیخی زیات معتقد وو. دوی نه یواځی د اقبال د "بال جبریل" منظومه پښتو ژباړه کړی . بلکه د اقبال د یو شمیر نورو نظمونو ژباړی هم کړی. کوم چی ددهٔ په مجموعه "دزړه قطری" کښنی شامل دی په ځنو کښنی خوی لیکلی چی دا د اقبال د فلانی نظم ژباړه ده او په ځنو ځایونو کښنی یی تش د ماخذ په لیکلو اکتفا کړی ده.

په مجموعی حیثیت د اسیرصاحب پر شاعری باندی د اقبال د فکر اثرات دی. داقبال په ډول یی مکالمې لیکلی. او د اقبال پر ورته موضوعاتو یی لیکنی کړی. د اقبال د "شکوه او جواب شکوه" په طرز باندی یی په پښتو کښنی دملت پر ځپلی حالاتو باندی ډیر زړه راکښونکی نظمونه لیکلی دی.

مولانا عبدالقادر صاحب د اسیر صاحب دکتاب د زړه قطری

په دیباچه کښي کاږي:

"لنډه دا ده چي اسیر صاحب د اقبال د اثر لاندی په دې خپل تصنیف کښي ډیر ښه قابل خیالات جمع کړی دی. نظر انتخاب کښي یې ښه وسعت ساتلی. د عبدالرحمن بابا رنګ هم پکښي شته او د اقبال د شکوې یوه ښه نمونه ده او که د اسیر قلم همدغه رنګ چلیږي. او د طبعیت تیزی او د زماني شکایت سره خپل مینځ کښي تیزه کیږدی نو زما یقین دے چي اسیر به نه صرف اقبال په پښتو ژبه کښي راژوندی کړی بلکه د نورو ژبو او ملکونو ښه کتابونه او شعراء به دعامو پښتنو د مطالعي او پیژندګلو قابل کړی"

# فضل احمد غر

فضل احمد غردمحمدعبدالله صحرائي په کور کښي د مردان په سرو ډیرو کښي په ۱۸۹۹ء کښي وزیږیدو.۱۲۲۵:۳۷ دلاهور په باغبانپوره کښي لوسړی او ثانوی زدکړی تر سره کړی بیا حیدر آباد دکن ته ولاړ. هلته یې ډیره زیاته پښتو او فارسي شاعری وکړه. په ۱۹۴۷ء کښي د هندوستان دبیلتون په وخت دده دیوان چي اتیا زره شعرونه (فارسي اوپښتو) یې درلوده وسوزول شو.۴۳:ج غر صاحب لوسړئي په پښتو کښي افغان او په اردو کښي کوهی تخلص لیکی.

غر صاحب په ۱۹۶۵ء کښي په حق ږوسیدی.۳۳۳:۶۲ د لاهور څخه د آګي په لوری دتلونکی مسافر چي مخ یې حیدرآباد

دکن ته شو نو هلته یی هم د اقبال د "بانگ درا" غږ واوریدی. ځکه خوی پر شعر د اقبال اثرات پریوتل. ځای پرځای یی د ملت اسلامیه د نشاة الثانیه ترانی ولیکلی. د هغه وخت د اسلامی نوسیالیو ستانیه یی په شعر کښنی وکړه. او حتیٰ چی داقبال سره یی اړیکی هم درلودی.

" ویلی شی چی غرصاحب د پښتو په شان کښنی په پښتنی تهذیب او تمدن یوه قصیده وییلی وه. چی د شاعر د ادبی شهکاررونو نه یو شهکار گنړلی شی. دغه قصیده مرحوم علامه اقبال ته اورولی وه. او ښاغلی علامه دز کر شوی ، قصید یی په انگریزی ترجمه کښنی په خپل لاس تصحیح هم کړی وه"

غر صاحب د اقبال په شان پر غازی امان الله خان باندی مین وو. محترم همیش خلیل صاحب غازی امان الله خان په شان کښنی د غرصاحب دیوی قصیدی یادونه داسی کوی.

" په کال ۱۹۲۸ء کښنی کومِ وخت چی د افغانستان امیر غازی امان الله خان د یورپ په دوره د تللو په دوران څه وخت بمبی ته ورسیدو

نو غرصاحب چی د موصوف پحقله کومه قصیده لیکلی وه. هغوی ته یی پیش کړه.غازی امان الله خان ددغه قصیدی په اوریدلو دقصیدی د لوړ ادبی معیار اوغر صاحب د قادر الکلامی نه ډیر متاثر شو اووی وئیل.

” زهٔ پښتو ژبه او ادب د غږ صاحب حواله کوم او خپله د ملت او ملت اقتصادی حالاتو د ترقئ او بهتری د پاره به کوشیشونو پسی ځم“۴۳:د-ر-

# فضل حق شیدا

فضل حق شیدا د جون په لومړنی نیټه په ۱۹۱۰ء کښې دچارسدی دمحمود آباد په کلی کښې د عبدالصمد خان په کورکښې وزیږید. لومړنی زدکړې یې دلته تر سره کړې. ددې پس په هائی سکول نوبنار کښې داخل شو. په ۱۹۲۷ء کښې د لسم جماعت څخه دبریالیتوب پس د پیښور په اسلامیه کالج کښې داخل شو. ددغه ځای په علمی ماحول کښې شیدا صاحب په زړه پوری ونډه واخسته. د کالج د"خیبر" میګزین د اردو او پښتو څانګو مدیر وو. د بزم السنه شرقیه صدر شو. او دوه واره دخیبر یونین صدر وټاکل شو. په ۱۹۳۲ء کښې یې بی اے وکړه. او په ۱۹۳۵ء کښې یې د لاهور څخه بی ټی وکړه. ددې پس یې په ایم اے فارسی کښې دپنجاب په درست پوهنتون کښې د لومړنی بریالتوب له کبله دناصرالدین او ډوائر تمغه ترلاسه کړه.

د پښتو اردو او فارسی دغه لیکوال تر څه وخته دسرحد د تعلیم په محکه کښې ماموریت وکړ. ددې پس دمحکمه اطلاعات د پنځلس

ورځنی انفارمیشن د اردو څانګې ایډیټر وو. ۱۹۴۶ء کښې د فیډرل

پبلک سروس کمیشن له خوا د آلا انډیا راډیو د پریس لیژن وټاکلی شو. تر یو څه وخته په ډیلی کښې وو. بیا پیښور ته راتبدیل شو. په ۱۹۴۸ء کښې یې ماموریت ته استعفی ورکړه او په عملی سیاست کښې یې برخه واخسته.

په ۱۹۵۲ء کښې دصوبه سرحد له خوا د پاکستان د امن کمیټی صدر وټاکلی شو. او په پکنګ امن کانفرس کښې یې د پاکستاني استازي په حیث د چین دروه وکړه. ددې پس دپیښور ډویژن د اطلاعاتو ډایکټر جوړ شو.۳۲:۶۱

فضل حق شیدا هم د نورو ځوانانو په ډول د انګریزانو په ضد مبارزی ته دوام ورکړ. د آذادی د غورځنګ د پاره یې په عمومی او په مسلمانانو کښې یې د ځان پیژندی د پاره خصوصی ترانی ولیکلی. دده پر درسته شاعری باندی مونږ په حقه سره د اقبال ژور اثرات وینو. ددغی خبری یادونه او د اقبال د فکر ستاینه پخپله دے د خپل شعری ټولګی "اسویلی"(دویم چاپ جون ۱۹۶۲ء لاهور) په دیباچه کښې داسې کوی.

" په مدرسه او کالج کښې مازیاته مطالعه د علامه اقبال اومولانا ظفر علی خان کړی ده. پښتو کښې محمد اکبر خادم د وطن په مینه مست کړی وم. تیرو دیرشو کالو کښې چې ماهر څه ویلی او لیکلی دی. ددې نوسیالی شاعرانو د اثر د لاندی دی. اګرکه څه هم یو مذهبی خاندان کښې پیدا ووم. او خدائے رسول او قرآن سره مې

سینه خپلی مور راپیدا کړی وه ولی داقبال کلام زه نور هم مذهب ته نزدی او او دمغربی تهذیب ته بیزار کړم. هم ددهٔ سندرو زه د غلامی د خوبه راویښ کړی او د آذادئ نوی ژوند سره یی اشنا کړی یم. ظفر علی خان او خادم ما کښی د انګریزانو خلاف جذبه پیدا کړه. اوماته یی یو داسی اوچت نصب العین اوښوو . چی د وړوکوالی اوپستی باوجودی حاصلول زما د پاره د فخر باعث وو. ما په اورنګ زیب عالمګیر ، احمد شاه ابدالی، تیپوسلطان، جمال الدین افغانی، زاغلول پاشا، امان الله خان ،مولانا محمد علی ، مصطفی کمال، نادرشاه، اقبال ، جمیله، پیر مانکی او لومبا په دی وجه نظمونه نه دی لیکلی چی ثوک........٤٤،٤

دعبدالاکبرخان آکبر په چپه فضل حق شیدا هم هغه بختور پښتون شاعر ووچا چی په ژوند کښی د حضرت علامه اقبال سره لیدلی وو. ده ددغه ملاقات حال یی دفقیر سید وحید الدین ته ویلی او هغه دخپلو شخصی یادداشتونو په مجموعه ''انجمن''کښی خپور کړی دی. شیدا صاحب چی فقیر وحیدالدین ته دغه قیصه کوی هغه وخت دی په کراچی کښی د مغربی پاکستان د اطلاعاتو د څانګی ډائریکټر وو. دے وای چی

دا دمئی ۱۹۳۵ء خبره ده علامه اقبال هغه وخت د سیکلوو روږ په کورکښی اوسیدے. د صوبه سرحد څخه مونږ شلور لوستونکی پخپله فضل حق شیدا ، عبدالمجید خان (دضلع هزاری

چې وروسته دپیبنور د تعلیم د ښانګی ډائریکټر وو) عبدالواحد خان ( د ریاست دیر اوسیدونکی چې وروسته د دیر کالج پرنسپل شو) او فیض الله خان (چې د کوهاټ اوسیدونکی وو او وروتسه فوج کښې د کرنل د عهدې څخه ریټائر شو) د حضرت علامه سره دلیدلو دپاره ورغلو هغه وخت دغه ځلور سره د لاهور د سنټرل ټرینګ کالج لوستونکی وه. سحر وختی دحضرت علامه کور ته ورغلو لومړی یې دحضرت علامه د پخوانی خدمتګار علی بخش سره لیده کاته وکړه. علی بخش ته وویل شوه چې ورشه و علامه صاحب ته خبرو ورکړه. چې دسرجد ځلور لوستونکی ستا سرهِ لیدل غواړی هغه چې بیرته راغلی چې لږ ودریږی. انتظار وکړی علامه صاحب به موږغواړی . موږ دباندې کښناستو. یولس دقیقې پس حضرت علامه اوغوښتو. شیداصاحب وای موږ چې کوم وطاق ته دننه ورغلو. حق حیران پاته شو د کمرې سازسامان د عبرت یوه مرقع وه. زړه خیری شوی دری آواره وه. صوفه سیټ زوړ او شکیدلی وو. په کونج کښې علامه صاحب پر یوه پلنګ باندې غځیدلے پروت وو. مخ ته یې چلم پروت وو. زه حیران ځکه شوم چې هغه څوک چې د شهرت اوازی یې په جهان تللی دی. څومره قلندرانه او فقیرانه ژوند تیر وی.علامه پر موږ بږغ کړه۔

” تاسی پښتانه لوستونکی یاست زه په غبږ روغیږ درسره کوږ غواړم“

د بستری څخه یې د راپورته کیدلو هڅه وکړه خو دده وناروغی او ځپلتوب ته چې مونږ وکاته د نه راپورته کیدو خواست مو ځنې وکړ. زمونږ په ډیر خواست دی وبالښته ته راپورته شو. اومونږ پرچوکیانو کښیناستو د اوږده رنځ او ناروغی باوجود د علامه پر څیره باندی یو خاص ډول ځلا معلومیده چې مونږ په اطمینان تعبیر کړه. مونږ د څلوروسره وځوانانو سویه تیمه وه. ددومره عظیم انسان په مخ کښنی مونږ دسپن وهلو همت نه شوکولے . تر څو چې علامه بږغ کړه.

متاسفانه چې تاسو لس پنځلس دقیقی انتظار وایستلی ما دپوهنتون د استحان د ایم اے فارسی پرچې کتلی" ددی پس علامه وبالښت ته څنګ ولګو او وی ویل چې

" د پښتنو په لیدلو زه ډیر خوشحاله کیږم دغه قام د اسلام ډیرخدمت کړے دے. او زه هیله کوم چې پر مخ به هم د اسلام د عظمت ا وسرلوړی د پاره دهیڅ ډول قرباني څخه نتمه نه وکړی.

بناغلیو د نړي یو شمیر قامونه دکمال عروج ته رسیدلی اوبیایی زوال کړی او نن چې تاسوکوم پر مخ تلل قامونه وینی هغه هم مخ پر زوال دی. لیکن دپښتنو د تاریخ څخه داسی بریښنی لکه دا قام چې تراوسه دوړکتوب په حالت کښنی وی. کرار کرا به لویږی او هغه وخت ډیر ژور راتلونکی دی چې دغه قام به بشپړه ځوانیږی. خدایے دی وکړی چې ددغه قام دشباب حالت هم زه ووینم. زه چې

دکوم آزاد اسلامی هیواد چرت وهم هیله لرم چی پښتانه به دخپلو پخوانیو اسلامی روایاتو په ورانلدی دغه. هیواد په جوړولو کښنی ډیر کومک وکړی"

موږ ځلور سره د حضرت علامه دخبرو څخه ډیر متاثر شو. ددهٔ د خولی رواتلی یو یوټکی زموږ پر زړونو نقش شو. بیا پر تعلیمی هلو ځلو سره ورېیدو. شیدا وای چی ما علامه صاحب ته وویل چی ما پر تایو نظم لیکلے دے. که اجازه وکړی او زه یې درته واورم. علامه د سرپه بنوریدلو سره د نظم د اورولو شفقت وکړ.

دشیدا صاحب دنظم ځنی برخې په دی ډول دی.

لیلائے وطن کا یہی شکوہ ہے زبان پر
گیسوے پریشان کے لئے شانہ نہیں ہے
ہے عہد نوی پاس ترے ہے مئے کہنہ
پر بادۂ نو سے ترا پیمانہ نہیں ہے
بیکاروں کی محفل میں پیام اپنا بنا مت
یہ درس عمل ہے کوئی افسانہ نہیں ہے
ظلمت کدۂ ہند میں ایک شمع جلا کر
تو نے غلطی کی کوئی پروانہ نہیں ہے

شیدا وای داد ځوانی دکم فهمی او ناتجربه کاري زمانه وه چی اوس هم فکرکوم ډیر شرمنده شم چی د دومره لوی نړیوال

شاعر فلسفي په مخ کښې ما ښنګه خپل شعرونه وويل. شيدا وايي چې ما شعرونه وئيل پرعلامهٔ د يو درانه استغراق کيفيت . . خور شو او سترګې يې پټې کړې. په يوه نه زور فکر کښې ورک شو. دغه حالت ځو دقيقې دوام وکړ موږ کرار کرار يويو د کمرې څخه په داسې انداز اووتو چې حضرت علامه زموږ په راوتلو خبر هم نه شو"٤٢:٣٧:١٤٤

د شيدا صاحب پر خپله شاعرۍ باندې د اقبال داثراتو خبره ډاکټر اقبال نسيم خټک هم کړې ده.٦٢:٥٣ شيدا صاحب په مارچ ١٩٨٤ء کښې په حق ورسيدے روح دې ښاد وی٢١:١٠٦

## فضل رحيم ساقي

فضل رحيم ساقي د عبدالغفور خان په کورکښې دهشنغر په وردګه بانډه کښې په کال ١٩٠٤ء کښې وزيږيد. په ختيه محمدزي وو. لومړنې ديني زدکړې يې کړې خو دعصري زدکړو څخه محروم پاته شو.

ساقي صاحب قامي شاعرۍ په ١٩٢٧ کښې پيل کړه. لومړی په انجمن اصلاح الافاغنه کښې وو بيا په کانګرس کښې شامل شو. په ١٩٣٢ء کښې بندی شو. پاوکم دوه کاله پس خوشې شي. په ١٩٤٨ء کښې بيا بندی شو. چې په ١٩٥٣ء کښې بيا له زندانه خوشې شو.

د ساقي صاحب لومړی مجموعه "ډک جام" په ١٩٥٧ء

کېښنې له چاپه راووته. ۱۲۵:٦١

ددې پس یې "نیم جام" چاپ شو. په نیم جام کېښنې د ساقي صاحب پر شعر د اقبال اثرات تر سترګو کېږي. مړانه ، سخت کوشي، خودي، مرد کامل ،تقدير ،قرآن او غافل افغان رنګ یو شمير داسې موضوعاتي نظمونه لري چې په فکري لحاظ د اقبال سره تړلي ښکاري.

فضل ساقي صاحب دنومبر په لومړۍ نیمه په ۱۹۹٤ء په حق ورسیدو ۲۰۷:٦٢

# قلندر اڅکزی

قلندر اڅکزی د قندهار ولایت د سپین بولدک دا ولسوالۍ په کونچي کېښنې دفتح محمد اردوزئ نصرت زی اڅکزي کره په کال ۱۳۸۱ هه ش کېښنې وزیږیدو. ۱۰٦۳:۳۱

لومړني زدکړې یې دقندهار په شاوخوا کېښنې ترلاسه کړې بیا یې په چمن پښنین او کوته کې په بیلا بیلو مدرسو کېښنې د علم تنده ماته کړې. ترڅو چې دغې تندې دهندوستان وبهوپال اوبیابې ډیلي ته ورساوی. ۱٤۲۸:۳۸۔

لیکن ژوند لاس ورایله کړه. قلندر چې د مصر الازهر په لور کړه اندیښنه درلوده تر څو ددې چنې څخه د علم تنده سړه کړی چې په ۱۹۳۳ء ۱۳۱۱ هه ش ۱۳۵۱ هه ق کېښنې مرګ ورته ودریدې. ۲۰:

قلندر مرحوم د پښتو او فارسي یو تکړه شاعر وو. پر څنو کتابونو

نوي شرحې هم کښلې دي. او يو څو رسالې يې هم تاليف کړې دي.۱۶۳:۳۱

څنګه چې ده په ډيلي کښې پوره پوره کړې نو دده بشپړه کلام هم هلته د هغه ځای شومه شو. څه شيان چې ما سره راټول کړه هغه سې د "ګلدستې" په نامه د پښتو اکادمۍ کوټې څخه راچاپ کړ. د شاعرۍ د بشپړه تاثر څخه د اقبال اثرات څرګنديږي. البته لکه څنګه چې اقبال دخپل مشهور اثر پيام مشرق تړون د افغانستان د غازي امان الله خان په نوم کړی وو. همدغه شان ملا قلندر هم خپل يو اورد نظم د غازي موصوف په ستاينه کښې ليکلی وو چې په ګلدستهٔ کې چاپ شوی دی. څکه چې داقبال او ملا قلندر علاوه هم خلقو غازي امان الله خان د هندنجات د هنده بالي چې د انګريزانو ظلم او ستم څخه بس دغه يو شخصيت دی چې مسلمانان خلاصولی شي. څو قرآني اشارات "لن اتراني" د قرآن شريف د متن د اقبال او ملا . . . قلندر په شعر کښې په مشترک ډول راغلي چې حوالې ورته شوی دي.

# قيام الدين خادم

مولانا قيام الدين خادم د ملا حسام الدين په کور کښې د افغانستان د ننګرهار ولايت په کامه کښې په کال ۱۳۲۵ھ کښې زوېږيدلی .او په کال ۱۳۹۹ھ ق شوال المکرم مطابق ٥ سنبله ۱۳۵۸ھ ش ۲۱ اګست ۱۹۷۹ په دوشنبه دکابل په علي آباد روغتون

کښنې په حق ورسيدے. او په صبا په خپله پلارنۍ اديره کښنې په کامه کښنې وسپارل شو.۱۵۹۷:۳۸۔

د خادم صاحب شمير په هغو څو نوميالیو کښنې کيږی چې دپښتوادبياتو افختار بلل کيږی.د پښتو ادبياتو عناصر خمسه عبدالخي حبيبی، عبدالروف بينوا، صديق الله رشيتن ،قيام الدين او ګل باچا الفت بلل کيږی ستاسی پام راګرځوو دبناغلی زلمی هيواد مل صاحب ودغه ليک ته چې د خادم صاحب وعلمی او ادبی ژوند ته لنډه کتنه پکی شوې ده.

"علوم دينی وکتب نظم ونثر پارسی و پشتو رادر اغوش فاميل فراگرفت وبعد به مدارس ديگر متعلقه روی آورد وهمچنان جهت کسب دانش مروج (سپار ديار ديگر شد درمدارس نيم قاره هند علوم مروج راخواندوپس ازپانزده سال رنج سفرها و مسافرت دوباره زادگاهش عود کرد درسال ۱۳۰۴ھ ش دريک مکتب ابتدائی کامه سمت معلّمی يافت بعد ازاں بحيثيت عضوانجمن ادبی قندهار عضو پشتو تولنه مديريکی ازديپارتمنت هائی اين موسسه معاون اين موسسه وهمچنان بحيثيت مدير اخبار "زيری" مجلّه کابل وروزنامه هائی طلوع افغان. اصلاح. هيواد، اتحاد مشرقی ايفائی وظيفه کرده.۔۔۔"

مدتی درسنائی افغانستان بحيثيت سناتور خدمت کرد. سالهائی اخيرش رادر منزل صرف مطالعه وتاليف آثار سيدی ميکرد. استاد خادم بشمين ازپنجاه سال عمرش راصرف خدمت به دانش وفرهنگ وتربيه اولادوطن کرد.... صدها مقالهٔ نشبت ودها کتاب ورساله ترجمه وتاليف کرد. درمجالس علمی ملّی وبين المللی شرکت نمودوبه پاری از

کشورہائی منطقہ بصورت رسمی مسافرتہا نمود. بزبانہائی پشتو وپارسی سرودہائی پرداختہ یا

ئی از خود بہ یادگار گذاشت..۱۵۰ :۲۴۲۔

پښتانه شعرا دده ۳۳ مطبوعه اور ۲۳ غیر مطبوعه کتابو نه په

موږ پېژندلی دی چی د خادم صاحب په علمی صلاحیت او

بصیرت باندی د لالت ورکوی.۱۶۰۳:۳۸

ولی چی خادم صاحب د زدکری او درس وتدریس په لړ

کښنی د پیښور په لواړګی (د امیر حمزه شنواری او ناظر شنواری

کلی) کښنی داسی تر دروکلونو پوری پاته شوی وو. ځکه په اردو ښه

پوهیدی. او په فارسی کښنی خو یی د مخه لا شاعری کوله. لهذا په

اقبال پیژندنه کښنی هیڅ هم خنډ ده ته نه شو جوړ. او دده پر شاعری

باندی داقبال اثرات لویدل شروع شوه. خدای بخښلی د عبدالروف

بینوا په دی لړ کښنی وای.

"دده فلسفی افکار کله د علامه اقبال د افکار و رنګ

اختسی. کله د رابندراناتهه ټیګور د مضمون فلسفی بڼه ته ورته

وی. خو په دواړو لارو کښنی د افغان تفکر طرز هم نه هیر وی. او د

خپل محیط او ماحول اقتصا او تلقی هم په نظر کښنی

نیسی"۲۹۱:۲۹

پر شعری د اقبال اثرات د اقبال د فکر سره د بیخی زیات

نزدیکت دلیل دی ځکه خو یی اقبال ته منظوم خراج تحسین هم

پیش کړی وی. او د اقبال د لوړ شان ستائینه یی کړی ده. دغه نظم په

اصل کی د اقبال ویر نه ده چی د اقبال د مرګ په اوومه ورځ ده په کابل کښنی په رابللی تعزیتی سیمنارکی اورولی وو۔ خادم صاحب د اقبال په ژوندکی لا د اقبال د اشعارو منظومه پښتو ژباړه پیل کړی چی نمونه یی په مجله کابل کی چاپ شوې ده۔

# کرامت شاه فولاد

کرامت شاه فولاد په ۲۱ اپریل ۱۹۲۵ء کښنی د حاجی محمد شاه په کور کښنی د پړانګ په کلی کښنی وزیږیدی. په کوشنوالی یی د پلار سایه د سره څخه لیری شوه څکه یی د زدکړی سلسله پر مخه نه شوائی بوتلے. په خدای خدمتګار تحریک یی برخه واخسته. په ۱۹٤۲ء کښنی چی کله کانګرس په صوبه سرحد کښنی د انګریزانو په ضد د سول نافرمانی تحریک پیل کړی نو فولاد صاحب هم تر دوکلونو زندانی شو. ددې پس په اکتوبر ۱۹٤۷ء کښنی بیا د سیاسی هلو څلو له کبله تر دوکلونو زندانی شو.۱٤۸:٦۱

په چاپی شعری ټولګه "سمسور ګلونه" کښنی د اقبال د فکره څخه متاثر دی. یو شمیر نظمونه یی د اقبال په اسلوب کښنی نوشته کړی او د اقبال وخوبنو نومیالیو احمد شاه ابدالی، سلطان محمودغزنوی، شیرشاه سوری، طارق بن زیاد ستاینی یی په شعر کښنی کړی. په شعر کښنی د مړانی جدوجهد، او غیرت او خود داری موضوعات غالب دے.

کرامت الله فولاد صاحب په ۲٤ دسمبر ۱۹۹۵ء په حق سیدے .۳۵۸:٦۲

# ګل پاچا الفت

ګل پاچا الفت د لغمان په عزیز خان کڅ کښې د میر سعید پاچا ولد فقیر پادشاه په کور کښې په کال ۱۲۸۸هه ش کښې وزیږیدے. په خته سید وو او په ۲۸ قوس ۱۳۵٦هه ش ۱۸ دسمبر ۱۹۷۷ء په حق ورسیدے. په خپل پلارنی ادیره عزیز خان کڅ منصور کلی د کابل جلال آباد د لوی لاری پر ختګ وجنوبی خواته و خاورو ته وسپارل شو.۱٥٦٦:۳۸

علمی زدکړی په غیر رسمی توګه ترلاسه کړی متد اول علوم صرف نحو منطق تفسیر حدیث معانی بیان یی د ننګرهار او کابل د نامتو استادانو څخه وویل.۹۱:۲۹۔

سر محقق زلمی هیواد مل ددهٔ د دولتی او غیر دولتی خدمتونو لنډه جائزه داسی اخستی ده.

" به سال ۱۳۱٤ه ش در اداره اخبار "انیس" بحیثیت کاتب داخل کار شد ازیں سال تا او اخر سال ۱۳٤۸ه ش بحیثیت مدیر وریس وزیر عفو پارلیمان و استاد پوهنتون ایضان وظیفه کرد تادم مرګ با قلم وکتاب سروکار داشت . منیوست و مسرود. درتمام دوران حیات علمی اش بیش ازسی کتاب ورساله تالیف نمود وصد ها مقاله نبشت..

الفت شخصیت ملی اجتماعی و علمی دوران معاصر کشو رما بود شعر زیبا مسیرود ونثر شیوامی نبشت نارسایی هائی

جامعه وکاستی هائی معاشره را استادانه انتقاد میکرد وی مطالعه درادب تاریخ کشور داشت وباتحقیق نیز علاقمند بود بزبانهائی پشتو پارسی وعربی منیوشت وهم ترجمه میکرد. با رخدادهای سیاسی کشور علاقه فراوان داشت بدون شک الفت راباسیت بحث استاد سخن دوره معاصر پزیرفت. ۲۲۲:۱۵۰

الفت صاحب مشهور اقبال سناس هم وو. پر اقبالیاتي موضوعاتو لکه ملت مملکت ، فرد وملت انسان، علم و دانائی او داسی نور باندی یی اشعارلیکلی. ددې علاوه یی د اقبال پر وفات باندی په پښتو شعر یوه اوږده شعری ویر نه لیکلی چی خورا ژور درد اودروند غم پکی انځور شوی چی ادبی نړی ته د اقبال په وفات رسیدلی وو. دغه ویرنه ده د اقبال د مرګ په اوومه ورځ په کابل کښی په تعزیتی سیمنارکی اورولی وه۔

# محمد سعید رهبر

محمد سعید رهبر د سجید ګل په کورکښی په لاچي کندی شرع خیل کوهاټ کښی پر۳ ستمبر ۱۹۵۷ء زیږیدل دی. ۱۸۶:۶۲

د لاچی کوهاټ دغه ځوان شاعر د اقبال د افکارو څخه خورا زیات متاثر دی. رهبر د اقبال د ملت اسلامیه درد په ډیر شدت سره قبول کړی. داقبال په ډول کله پر کشمیر باندی اوښکی بهیوی اوکله د آسیا پر تقدیر ژاړی چی غربیانو دادرکوره ځنی جوړه کړی ده. کله په کلکته کښی پر نسلی کرکو باندی قلم پورته کوی. اوکله د لندن

استعماری قوتونه غندی. غرض د اقبال په خیر په عرب وعجم کښې پرروالنو حالاتو باندی لیکل کوی.

داسلامی افکارو اوعقائدو دغه شیدا شاعر داقبال دفکر همنوادی او داقبال آفاقی نظریات یې په مطبوعه کتاب "توره او قلم"کښې په اب و تاب ځلیږی.۲۵:۱۲

# محمد موسی شفیق

محمد موسی شفیق د افغانستان په پایه تخت کابل کښې د مولوی محمد ابراهیم کاموی په کور کښې په ۱۳۰۸ھ ش کښې وزیږیدے. پلارنی وطن یې دننګرهار کامه ده.

لومړنی زدکړه یې په کامه اوکابل کښې تر سره کړی بیا د ننګرهار په نجم المدارس کښې داخل شو. دوه کاله پس دکابل په عربی دارالعلوم کښې داخل شو. اود هغه ځایه مولوی فارغ شو. په شاہی دربار کښې په دارالتحریر کښې مقرر شو. بیا د وزرات تعلیم له خوا دنورو زدکړو دپاره مصر ته ولیږل شو. د هغه ځایه یې د زدکړو دبشپړتوب پس و امریکا ته مخه وکړه. دغه راز د درالعلوم کابل مصر اوامریکا د بیلا بیلو اداروڅخه د سندونو د ترلاسه کولو پس وطن ته راستون شو.۷۷۰:۳۰

په وزارت قانون و عدلیه کښې د ماموریت په چپه یې د حقوقو او سیاسی علومو په پوهنځی کښې بین المللی حقوق او مقاسیوی حقوق هم شاګردانو ته وایه. له دغه ځایه یې پر بیلا بیل

رتبو باندی ترفع اختسیه تر څو چې د افغانستان وزیر او بیا صدر اعظم جوړ شو.

د افغانستان د شاهی کورنی سره چې ځنی اختلافات هم درلودل. د داود خان په وخت کښې یو ځل زندانی شوی هم وو. او په جیل کښې یې یو تفسیر نوشته کړی وو.٦:٥٥

تر څو چې د افغانستان دغه نوسیالی زوی د افغانستان د خونی انقلاب پس په ۱۹۷۸ء کښې بیا جیل ته واستول شو په قول د خلیل الله چې دکارمل په وخت کښې بیا دجنرال رتبې ته رسیدلی چې ده د کابل پر هوائی ډگر باندی محمدموسی شفیق پر سر باندی په گولی ووشتی او شهد شو.۱۷:٥٥

شفیق په پښتو او فارسی کښې پو شمیر مقالې لیکلی چې دافغانستان په مجلو او ورځپانو کښې خپرې شوې. د لوست په وخت کښې یې مقالی زیاتره ادبی وی او په ځوانی کښې یې په مقالاتو باندی دحقوق سیاسی او بین المللی چارو موضوعاتو غالب وه. شفیق یو تکړه شاعرهم وو. او د اقبال ځنی اثرات یې قبول کړی وه. لکه توحید ، خودی وبیخودی،تقلید، عمل ،آرزو او داسی نور یو شمیر دقیق موضوعات چې په هغه کښې د شفیق پر فکر اقبال د فکر اثرات څرگندیږی.

# میر رحمان غازی

میر رحمان غازی دصوبه سرحد په پیرپائی کښې دمحمدخان په کور کښې دجولائی د میاشتې پر دیارلسمه نیټه په کال ۱۹۰۵ء کښې وزیږیدو. په ختمه بابړ وو. دګریجویشن (خورلسم) پس په ۱۹۲۸ء کښې د تعلیم په محکمه کښې په دولتي وظیفه بوخت شو.۱۷۰:۶۱

غازی صاحب دپښتو یو وتلی اومنلی شاعر وو. ده په خپل کتاب د "غازی سندره" کښې داقبال د شکوه او جواب شکوه په اسلوب کښې داقبال په څیر یو اوږد نظم لیکلی دی. چې د " امید صبا" نومیږی په کوم کښې چې ده د مسلمانانو د خوندور ماضی او دروان څپلتوب پر علتونو او اسبابو باندی په تفصیل سره رڼا اچولی ده. ددې په څېه یې دمسلمانانو د نشاة الثانیه او تجدید حیات د پاره پر بیلا بیلو موضوعاتو باندی لیکلی دی. لکه انقلاب ، شاهین، آرزو، ثقافت، مسلمان، فلسفه حیات خودی او توحید، په دغو اشعارو کښې د اقبال اثرات دمیررحمان غازی پر فکر باندی د جوړی اغیزی سره څرګندیږی.۴۶:۰۱

# نقیب احمد فطرت

ښاغلی نقیب احمد فطرت د ښائسته سوات د شانګلا پار دکوټکی په سمیه کښې دمولوی ګل فروش په کور کښې په ۲۲ جون

۱۹٤٥ء کښې وزیږیدے. لومړنی زدکړی یې پر کور ترلاسه کړی اود اعلی تعلیم دپاره یې د صوبه سرحد د لویو لویو مدرسو خاوری چڼلی دی . اردو انزر او د فاضل اسلامیات کولو پس یې د جامعه اشرفیه لاهور څخه د دینی علومو د بریالتیوب سند ترلاسه کړ.

د سوات دغه شاعر دخپل مذهبی او دینی طبیعت له کبله داقبال دفکر وفن څخه ډیر متاثر دی. داقبالیاتی موضوعاتو سره سره یې د اقبال ځنې تراکیب لکه عشق بلال، سوز سلمان، مرد مومن وغیره په خلاص موټ په کار اچولی دی. ولی چې پخپله هم د تعلیم د محکمې سره تړلی دی. ځکه یې په خپله شعری ټولګه "کشمالی" کښې د اقبال د تعلیمی نظریاتو په اثر کښې پر موجوده نظام تعلیم نیوکی کړی اود دطفل مکتب څخه یې د تړلو هیلو ژوره جائزه اخستی ده.

# څلورم څپرکی

## (اقبال ته پښتو شعری پیرزونی)

اقبال : اسرار د طورو
اقبال: پروفیسر رحمت الله درد
اقبال: عبدالله جان اسیر
اقبال: ماصل خان آتش
علامه اقبال : فضل حق شیدا
علامه اقبال: عبدالله جان اسیر
علامه اقبال: داور خان داود
علامه اقبال : محمداسلام ارمانی
علامه اقبال: ضا الدین لاجوری
علامه اقبال: رحیم شاه رحیم
علامه اقبال : رحیم شاه رحیم
علامه اقبال: مهابت خان
علامه اقبال : مجبور سورانی
اقبال ته : محمد نواز طائر
اقبال ته : عبیدالله
اقبال ته خطاب:شیرمحمد منیوش
اقبال ته خطاب: شیر محمد مینوش
اقبال ته خطاب: قیام الدین خادم
اقبال ته خطاب : اسرار د طورو
اقبال ته خطاب : عبدالباری اسیر
علامه اقبال ته نزرانه: بریګیډیر علامه اقبال ته سلام:
صادق الله خان
فضل الرحمن صابر
اقبال زنده باد: سید صفدر علی اقباله بختوره: اسرا ر د طورو
شاه صفدر
دا اقبال: رحمت الله رحمت
شاعر مشرق : طاهر کلاچوی
د اقبال د پیغام :چنګاری عرب خان
عرب

شاعر مشرق ته: محمد قاسم بنوی	د شاعر مشرق په نوم: قمر راهی

د اقبال په یاد کښې: عبدالحلیم اثر	د اقبال ویر گل باچا الفت

افغانی	د مومن اقبال: حیران ختک

د علامه اقبال پر تصویر:	د اسرافیل شپلي:

حمزه شنواری	عبدالستار عارف ختک

سره گلونه:	یوه بله ډالي:

عبدالستار عارف ختک	عبدالستار عارف ختک

اقبال د خوشحال په زمکه:	د عالم ارواح سیل:

سراج الاسلام سراج	عبدالروف رفیقی

فراق: سید رسول رسا	شاعران: شیر علیخان

نوی پیام په ډاکټراقبال پسی:	تیکور اواقبال: سید رسول رسا

سید رسول رسا

د اقبال ستوری: حبیب الله رفیع	حال او اقبال: عبدالروف شاه

قطعه: علي محمد	قطعه: عبیدالله سید

# اقبال

## اسرار دطورو

اقباله قلندره ستادفکر نه قربان
سبق دی راته وښود خودی اود ایمان
اقباله ته یو ستورے د اقبال وے د مسلم
بیدار دے په حکمت کړو د غفلت نه مسلمان
آزاو وے که هر څو وے غلامئ کښی د انګریز
د بوئ هسے پریشانه هم په ګل کښی بندیوان
اقباله ستا په زړه کښی محبت وو دانسان
حکیمه په حکمت کښی دی هم روح وو د قرآن
شاعره تخیل کښی دی رفعت وو داسمان
افکارو کښی خیالاتو کښی جذباتو کښی طوفان
نغمو کښی ترانو کښی فسانے دحقیقت
کلام کښی تقدس دی غمازی کړی د عرفان
دنیا د مظلومانو انتظار کړی د مومن
چی راشی او بدل کړی د خورانو بندیوان
تر اوسه لا غلام د غلامانو دے انسان
اقباله ضرورت دے د شپیلئ د اسرافیل
ارواح په مقبرو کښی دی ژوندون ته په لړزان
راپاسه چی تر اوسه مسلمان دے لا زبون

عرب دے که مصرے دے که ترکے دے که افغان
لا نشته د دنیا په مسلمان کښې اتحاد
تر اوسه پرے حملے دی د افواجو د الحاد
الله مه کا امت د محمد به شی برباد
سبق د اخوت د شجاعت کا ورته یاد
شبکوره دے بے کوره دے اقباله مسلمان
رنړا ترے فریبیانو چرته یوړه د قرآن
تیارو کښې تورو شپو کښې دے بے نامه بے نشان
په یو پسے په بل پسے د ړوند هسے روان
تاوے چې د فطرت د مقاصد دے نګهبان
زلمے چې د صحرا دے که شاهین دکوهستان
شهباز د کوهستان ته خپل وطن لکه نیران
مجنون ته جهنم د زمانے شو بیابان
تاهم کړے نغمے وے پښتنو ته داقبال
اقباله قدردانه د شیرشاه او خوشحال خان
بابا د پښتنو اوړے ګوګل کښے دے ارمان
دا واړه قبائل د پښتنو دی شی یو ځان
صحرا د لیونو به شی زلمو ته ګلستان
راغونډ که شی مرکز دهدایت ته مسلمان
هم دوی به قیادت کړی په دنیا کښې د انسان

هم دوی به د اقوامو ددینا وی امامان
مضبوطه که منګل کړی په احکامو د قران
بیا ګوره چی نسکور به شی قارون دے که هامان
اقباله ستا پیغام دے د ایمان او د اسلام
د مینے محبت د پیرزونے د آکرام
داسن چراغونه ددنیا په هر مقام
اسلام څه دے عزت دے محبت دے د انسان
اقبال څکه اقبال دے چی مجنون دے د قرآن
اقبال څکه اقبال دے چی مفتون دے د قرآن

۱۳۶-۱۳۵:۰۱۱

## اقبال

پروفیسر رحمت الله درد

د راتلونکی صباون دی پلوشه وو
په خزان کښی دسپرلی تازه وږمه وو
د روښانه مستقبل ښکلی تصویر وو
په تیارو کښی د رڼا کلی سفیر وو
د یقین او د رجا خوږه نغمه وو
په وسعت کښی دفضا خوره وره وو
یو چراغ وو چی په څول کښی بلیدلو
د ژړګی له ډیره سوزه لوګیدلو

یو شاعر هم همنوا د جبرائیل وو
د انسان د رفعتونو روڼ دلیل وو
د جنون له عظمونو باخبر وو
هم د عقل په کوځو کښې معتبر وو
بې قراره ژړګې نه پریښو دقرار ته
درده تاب یې چار اوړی نه شو چغارته
بلبلانو ی له قفس ځنی ویزار کړل
د تیارو د کلی ملک یې بیدار کړل
د مشرق په افق ځلنده هلال وو
دایشیا د ژمکې فخر وو اقبال وو۲٤٦:۱۱۰

## علامه اقبال

سید ضیا الدین لاجوری

اقبال هغه اقبال دی پرې دنیا فخر کوی
په علم وکمال یې هر دانا فخر کوی
ځای کړی سمندردفصاحت وو په کوزه کښې
په پورته ژور خیال یې هره خوا فخر کوی
پخته نازک خیال یې وه مثال د تشبیاتو
بل ستوری د اقبال دی پرې بریښنا فخر کوی
روښانه یې اقبال وو په تقدیر کښې دقسمت
دا خپل وپریدی واړه پرې رشتیا فخر کوی

د مندو سر لوړی ده د زامنو له کماله
د ښنور زلمو پر سر باندی هما فخر کوی
غاور چی په رشتیا وې د وطن د آزادئ
ژوندی یی پس له مرګه په ثنا فخر کوی
فلاسفر وو مفکر بلکه شاعر وو د مشرق
نو ځکی په ستائینه علما فخر کوی
کیدلی یی تعریف نه شی زما په ګونګه ژبه
روسي و افغانی یی په وینا فخر کوی
قلم زما د فکر به نوولی شی خاموش
ضیا الدین په شعر ښښی په تا فخر کوی۱۱:۴۳

## اقبال

عبدالله جان اسیر

په خودے ښښی چی اوچت وه تر اسمانه
تصور ښښی رسنده تر لا مکان
بے خودے ښښی ناخبره له خپل ځان
او ګیلے به ئے کولے له یزدان
چی به کله شو په خود شو به حیران
دګیلو جواب به ئے اوکړه هغه آن
د جبرئیل په رنګه سائے په طلب وه
چی ښکاره کاندے رازونه پټ پنهان

نه صاحب د مال دولت نه افلاطون
پاک باطن وو لکه ستورے د اسمان
د رومی په شان همه له سوزه ډک
شاعر څه د حقیقت وو ترجمان
مسلمان لره پیغام د وروړلے وو
د دړد سنو د دړدونو وو درمان
وئیل د نیل نه د کاشغر پورے د۵ یووی
مسلمان بے شکه رور دمسلمان
د صوفیانو په مجلس کښې سم صوفی وو
بلا نوش وو په مجلس کښې د رندان
په جامه دفقیر ئے کښې یو بادشاه وو
عالم څه چې نیازیدل به بادشاهان
دا صفت سے داقبال اوکړو اسیره
خوسی ژوندوے زه به ئے یمه ثنا خوان۲۷:۹۶

## اقبال

بناغلی ماصل آتش

اقبال عظیم شاعر دے د ادب د باغ مالیار دے
اقبال د ملت سترگے دی مشال د حق دلار دے
اقبال دتخیل په بام وچت کړے رفتار دے
اقبال ومسلمان د اخوت علمبردرا دے

اقبال د تصوف او د ادب یوه آینـــه ده
په زړه کښې ئې پرته د علم لویه خزینه ده
د زړه نه یې وتلې د شعرونو سمندر دے
دنیا نه یې تاو کړے دخیالونو سمندر دے
هروخت ئې په سینه کښې په موجونو سمندر دے
روان ئې په تیزئ کښې د فکرونو سمندر دے
اقبال په خپل کلام کښې حقیقت څرګند وی
انسان ته د انسان قدروقیمت څرګند وی
اقبال لکه شاهین پورته په پام کوی الوت
په پرو دخودی په لوړمقام کوی الوت
لمون کښې د رڼرا په تور ماښام کوی الوت
په لویه حوصله دخپل مرام کوم الوت
اقبال د ننګ مشال دے تورتمونه غوڅوی
په سپینو پلوشو د تیرو زړونه غوڅوی
د علم په رڼرا کښې جهانونه یې کېچ کړی
په تیز نظر د سترګو وسعتونه یې کېچ کړی
د فکر په لوړ والی اسمانونه یې کېچ کړی
د ذهن په غورزنګ سمندرونه یې کېچ کړی
اقبال وائي انسان ته چې دا زمکه اسمان ستا دی
اقبال وائي انسان ته چې هر څه د جهان ستا دی

اقبال په حقیقت کښې پخپل قام باندې مئین دے
زاریږی له قرآنه په اسلام باندې مئین دے
ضمیر ئے غیرتی په ننګ ونام باندې مئین دے
د پاکے رورولی په خوږ نظام باندې مئین دے
اقبال د زړه په وینو چراغونه بلوی
تیروته د ژوندون د زړه داغونه بلوی
اقبال دښکلی ژوند په حقیقت باندے پوهیږی
اقبال په پاکه سینه محبت باندې پوهیږی
اقبال د خپلے خاورے په قیمت باندې پوهیږی
اقبال لکه د ستوری په جهان کښې نمایان دے
اقبال خواږه ملګرو مصور د پاکستان دے
په ستنړے د قلم باندې لعلونه یې پیرلی
ادب د ناوی غاړے ته هارونه ئې پیرلی
د حسن د باغچې خائسته ګلونه یې پیرلی
د مینے د شعرونو امیلونه ئې پیرلی
په داسې هنرمند دماصل خان آتش سلام دے
په زړه کښې د هر چا چې ئې شانه احترام دے
۲۳۷-۲۳۶:۱۱۰

# علامه اقبال

فضل حق شیدا

ستا د قلم د ژبی کومه چی صدا اوخته
هغه د ټول مجلس د زړونو مدعا اوخته
د هندوستان ظلمت کده کښې شمع بله دې کړه
پتنګ خو یو نشته دی څه درنه خطا اوخته
تا چی سیلاب ګڼړه هغه ووبې حسابه سراب
تا پری د باغ ګمان کوو هغه صحرا اوخته
لکه خوشبو دی د باغ ګټ ته نظر اورسید
دا پټه سترګه د غوټی ډیره بینا اوخته
تا دملت لوټ شوی مال پسی تلاش کوه تل
غله دی په کور کښې شوه پیدا ورسره غلا اوخته
هم ستا په شوراوده منځ لارکښې قافله ویښه شوه
چی یی "درا" ګڼړله ستا هغه ژړا اوخته
او دی ښائیلو د تیرو شوو قافلو ګردونه
دوړه د پښنو په کښې زموږ در همنا اوخته
د نن تیرو کښې لتوو به روڼ پرون دی زموږ
د فقیرانو کند کښې توره د با چا اوخته
ته دافق نه د مشرق لکه د لمر ښکاره شوی
توره تیاره د رنړاګانو ابتدا اوخته

تا د خودی او دخدای منځ کښې فاصله کمه کړه
ژوند ابدی شو فنا اصل کښې بقا اوخته
ماتو چپو د ډوبیدونکی بیړی لا ډاډه کړی
هره چپه دطوفانونو نا خدا اوخته
مړوته تا د اسرافیل غوندی شپیلي وهله
مړی ژوندی نه شو خو ساه د مسیحا اوخته
۱۷٤:٤٤

## د اسرافیل شپېلی

پروفیسر کریم ناشاد

په دی پوهیږم چې کفار به سر راپورته نه کړی
خو دومره ده که یوه چغه دحیدر راغله
غټې طاقتونه به کلیم ددنیا ولړزیږی
که آوازه د مومنانو د لښکر راغله
دغه یو موټی مسلمان په دښمن څه اونه کړل
چې ورغوټه شو لکه ورځ چې د محشر راغله
ای د دنیا مسلمه دا چې په تا اوسول کیږی
ستا مشرانو کښې کمی د یوه رهبر راغله
چاته اقبال چې به شپېلي د اسرافیل وهله
نا شاده پښنه ورته بیا لوبه په سر راغله
۱٤۱:٤٤

# علامه اقبال

عبدالله جان اسیر

دکلونو پس ته چرته څوک پیدا شي
چې مشکل به د پریوتي قوم اسان شي
ګڼې په صفت د دنیا واړه دانا یان وینم
ستا په مدحو سر زه دهر ژبي شاعران وینم
دا ستا په خوشه چینو کښې د هرملک ادبیان وینم
وایمه رشتیا دحقیقت دې ترجمان وینم
شاعر مشرق یې که شاعر د کل جهان یې
ته په حقیقت کښې ترجمان دهر انسان یې
کله خو ګیلې کړې ګیلمن شي د سبحان نه
بیا خپله جواب کړې شي خفه د مسلمان نه
کله له رومي اخلې سبق کله سلمان نه
کله به پښتو ورسې چې سوال نه کړې له یزدان نه
ته دمسلمان د پاره صور د اسرافیل شولې
قبر دې بنکلوم چې ته دملت "بال جبریل" شولې
یا دمولا تراوسه پورې ستا هغه پیغام دې
څکه قافلې ته مو منزل اوس په یوه ګام دې
نیل نه ترکا شغر پورې اوچت نوم د اسلام دې
یو مسلمان بل مسلمان ورورته لاس په نام دې

ستا د خوب تعبیر دی چی جوړ شوی پاکستان دی
دی برصغیر کښی آذاد شوی مسلمان دی۸:۱۰٤

## اقبال ته

عبیدالله

وړاندی کومه لوی شاعر ته د الفت ګلونه
هغه اقبال ته ډیر د مینی محبت ګلونه
هغه شاعر د پاکستان وو اومعمار دوطن
ور وړم په لاس کښی دوطن د حقیقت ګلونه
چی په تیارو کښی یی ډیوې د آذادی بلی کړی
مرد میدان ته په ور وړمه د عزت ګلونه
چی بی پیغام د آزادئ او بیداري راکړلو
هغه عظیم شاعر ته وړمه د عظمت ګلونه
نور به تاته اې شاعره څه تحفه در وړمه
ماپه شمله کی دی تومبلی دغیرت ګلونه
٤٥:١١٦

## قطعه

عبیدالله

هغه مشر مشر نه دی تور کودی دی
د عمل سبق چی نه راکړی پردی دی

چې د قام د پاره سر شي هغه ژوند وي
ځکه وايو په وياړ اقبال ژوندی دی۴۴:۱۱۶

# علامه اقبال

ډاکټر خان داور

په تندی مو د ایشیا د عظمت خال يې
اې اقباله ته مو ستوری د اقبال يې
سمندر کښې دتورتم د نور څپه يې
د شعور په تورو شپو کښې روڼ سحر يې
د مغرب تیاری چې هم وی پرې روښانه
د مشرق نه راختلی هغه لمرې
که ویلی دی خپل ځان ته قلندر دی
خو په اصل کښې بادشاه د بحر وبر يې
که وینا دی هر څو ډکه د تاثیر ده
فلسفه دی د ایشیا د رنځ آکسیر ده
لکه باز د وزر لاندی دی دنیا ده
قابو کړې دی په فکر شاو خواده
دی نظر نه دی ویستلی اسمانونه
که په ذهین دی خوره درسته ایشیا ده
انتها دی که ''رموز د بیخودی'' ده
ابتدا يې دوینا ''بانګ درا'' ده

چی دی ذهین کبنی فکرونه د غورځنګ دی
په هر رنګ کبنی دی رنګونه رنګ په رنګ دی
تفکر دی هر تفریق نه بی نیاز دے
تا ته یو دی که محمود دی که ایاز دے
چی یی سیوری د وزر لکه هما دے
علامت د فلسفی دی هغه بازدے
دا سبب د تخیل دی الوت دے
چی خور شوی په جهان کبنی دی اواز دے
سجده ریزیِ دی لوی دی عاجزئ ته
کتی نه شه ستا خودي او بیخودی ته
۳۳-۳۲:۱۰۵

## قطعه

علی محمد

حد چی دنظر دی پلوشی وینم
بلی پر هر لوری زه ډیوی وینم
راکړله اقبال د بیداري جذبه
چوړی په خپل قام کبنی ولولی وینم
٤٤:١١٦

# علامه اقبال

محمد اسلام ارسانی

څوک دخپل زړه په وینو رنګ ګل وچمن له ورکړي
څوک د قلم په ژبه وینې خپل وطن له ورکړي
څوک په تیروو د غلامۍ کښې لار موندلې نه شي
څوک د رڼړا مشال په لاس کښې هر یو تن له ورکړي
څوک ځان دمال وزرتابع کړي په ژوندون کښې ورک شي
څوک دوطن په سر سري وینې خپل کفن له ورکړي
په داسې لوړو حوصلو داسې جذبو مې سلام
په داسې عزم داسې لوړو حوصلومې سلام
چې په انسان کښې د وجود یوه جذبه پیدا کړي
چې په رګونو کښې دهر چا ولوله پیدا کړي
لکه چپې د اباسین چې بیرته نه جاروزي
چې په رګونو کښې دهر چا ولوله پیدا کړي
چې بیا سرونه د هسک غرونو ورته خم شي
څوک چې په ځان کښې داسې توان او حوصله پیدا کړي
ورنه به ستوري د اسمان د رڼړا لاري بنایي
د چا چې ذهین شي روښانه یوه شعله پیدا کړي
په داسې لوړو حوصلو داسې جذبو مې سلام
په داسې عزم داسې لوړو حوصلوی سلام

دغه مقصد د فن بنکلا ده داقبال شاعری
هیچری نشته په یو ځای کښې ددی سیال شاعری
چې دمغرب په دود دستوری خپل اوبنکی توی کړی
خوږو سلګرو دی ته وایی د کمال شاعری
شاعر هغه وی چې په قام کښې بیداری پیدا کړی
چې قام کړی ډوب هغه ته وایی دو بال شاعری
اقبال اقبال و مفکر وو لوی شاعر وو د قام
هغه وه کړی بنه په فکرو په خیال شاعری
په داسی فن داسی فنکار باندی سلام وایمه
په داسی عزم د دلدار باندی سلام وایمه
هغه دخدایه ګیله کړی خو ځواب یی لرو
وو ډیر ناتوانه خو په ځان کښې دغه توان یی لرو
وړه سینه کښې یی لوی زړه لرو دمینی نه ډک
د علم لویه سرچینه وه یو دریاب یی لرو
لوی فلسفی وو دخودی په اسرار بنه پوهیدو
کلک مسلمان وو پوخ ایمان یی په کتاب لرو
په خپل ځان نه وو د بل غم به یی همیش شړلو
دغه اقبال وو علامه چې لوی خطاب یی لرو
په داسی فن داسی فنکار باندی سلام وایمه
په داسی عزم د دلدار باندی سلام وایمه۴۲:۱۱۶

# علامه اقبال

بناغلے رحیم شاه رحیم

ساقي غائب کاسے نسکورے ډیوے سړے وے پرتے
د هند په شاړه میکده کښې انګو لا جوړه وه
ژوندون خسته وو حسرتونه وو دژوند ملګری
افراتفری وه بې چینی یوه غوغا جوړه وه
زړونه راډک وو خو چا اوښکے څڅولے نه شوے
ناساپه تر شو د ژړا یوه شیبه جوړه شوه
دسکاڼړ ماښام د یو ګټ پیر دشفق سره سرونه
د صباون د سترګے سپینه پلوشه جوړه شوه
چمن تالا ګلونه سړاوی ، مالیار یو هم نه وو
دے کښې یو سوے بلبل راغے چی ئے شور ګډ کړو
روحونه سړه ووژوندون نوم وو تش د ساه اخستلو
سړو ایرو کښې یو بڅری عظیم اور ګډ کړو
رباب تهوتے ، تارونه سست، مطربان غلی ناست وو
یو ناله ګر د سوز نه ډک د ژړا ساز او چیړو
کاروان خور وور وو جرس مات رهبران تول اوده وو
یو رهنما و خپل منزل ته د تګ راز اوچیړو
د هندوستان په بت کده کښې یو زلزول جوړ شو
یو مجاهد چغه د الله اکبر اوویسته

قوم سره موتے یو آواز لکه سرود شولو بیا
د غاصبانو جنازه ئے پخپل سر اوویسته
چې مسلمان له ئے د ځانله ملک غوښته وکړه
دغه خیرخواه دغه محسن وو د ملت اقبال
روح دړدونکو ترانو ئے هندوستان ویښ کړو
یوه نعره وه او یو زیرے دحریت اقبال۱۱۰:۱۸۴-۱۸۵

# علامه اقبال

رحیم شاه رحیم

د ژوند په سمندر کښې دغو سره اشنا وو
دا څوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو
یو راز ئے د ژوندون په همه خلقو حویدا کړو
ملاح ئے د طوفان د سمندر سره اشنا کړو
خپل قوم ئے د ثری ځنے اوچت ثریا کړو
دحال اود ماضی د بدو ښو سره اشنا وو
دا څوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو
بے لاری قافله ئے د منزل په لور روان کړه
کشتی ئے په دریاب کښې د طوفان نه په امان کړه
د ظلم بت کده ئے په بل مخ د هندوستان کړه
مداح د پښتنو وو د پښتو سره اشنا وو
دا څوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو

بلبل ته د قفس د "نالے" چل ئے اوښودلو
شاهين ته په فضا کښې الوتل ئے اوښودلو
ازغو سره د ګل غوندې خندل ئے اوښودلو
پرواز ئے د اسمان د تيارکو سره اشنا وو
دا خوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو

مسلم چې وو دځان نه دنصيب نه خبر دار
ده قوم کړو د فراز اودنشيب نه خبردار
مشرق ئے د مغرب کړو د تهذيب نه خبردار
لاريبه د يورپ د ميخانو سره اشنا وو
دا خوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو

احساس د بيدارئ ئے په اوده قوم کښې پيدا کړو
انجام د غلامۍ ئے ورته ښه تبينا کړو
جرس د آزادئ يې دهر چا غوږ کښې شنوا کړو
پتنګ غوندې په شمع سوزيدو سره اشنا وو
دا خوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو

فقير چې وو دلګير هغه تقديرئے کړو بدل
اړخ چې د حالاتو د تصوير ئے کړو بدل
ده خواب اوليدو موږه په تعبير ئے کړو بدل
د قوم دمقدر د فيصلو سره اشنا وو
دا خوک وو چې د وخت د تقاضو سره اشنا وو

حکیم وو د امت روح ئے آزاد وطن غلام وو
جرس وو دحریت چی هم خودی دده پیغام وو
نباض وو دفطرت چی هر کلام دده الهام وو
د روح د لړزونکو ترانو سره اشنا وو
داڅوک وو چی دوخت دتقاضو سره اشنا وو
۱۵-۱٤:۱۰۹

# علامه اقبال

بناغلے مهابت خان

د مسلمان د خوږ وطن د آزادئ شاعره
حق و باطل کښې د تمیز او جدائی شاعره
پریوتے قام د کړو اوچت دترانو په آواز
ستا دے احسان په مونږ عظیم ای دخودئ شاعره
په تاخ کښې پروت قرآن دے بیا کړو مسلمان مخکښې
وے فکرمند د مسلمان په بربادی شاعره
پریوتے توره دی دے قام ته بیا په لاس کی ورکړه
تاکړو آزاد تول مسلمان د غلامئ شاعره
ته مفکر هم فلسفی هم ئے حکیم الامت
د اوده قام د ترقئ او بیدارئ شاعره
"بانګ درا" "ضرب کلیم" "بال جبریل" چی ګورم
سبق پرے اخلم د غیرت او سوکالئ شاعره

زه یوسف زے دے ځان شمیرم په عاشقانو کښے تل
زما په وینه کښې ستا مینه لیونۍ شاعره۱۱۰:۱۴٤

# اقبال ته

محمد نواز طائر

که دا غداره سینه چاکه دریدی وه
بے مزے د سپرلی واړه رنګینی وه
کج خیال وه کج فکری وه کج روی وه
څۀ وو سم چې دنیا ورانه د زړګی وه
د زړه سترګے دنیاګۍ په هنګامو کښې
نور څۀ نه وو په هر لور نا امیدی وه
غوغا جوړه د مغرب په میکدو کښے
د مشرق په خرابات کښې خاموشی وه
باکوته یا صومعه یا خرابه وه
ورسره چې د خاور دلبستګی وه
نه د ځان نه دجهان نه څوک خبر وو
د غفلت د میو داسې بے خودی وه
نه طلب د ژوندانه وو نه ستیز وو
مجبوری سره د رنګ وابستګی وه
لاروی دخپل منزل نه خبر نه وو
چې د بل په اختیار یون وو بے وسی وه

هر سړی د دفرار لاره نیولے
دهر چا په طبع راسته محکومی وه
په ژوندون د غلامئ آموخته شوی
بے اساسه بے بنیاده زندګی وه
د هیچا په زړه کښې اور د احساس نه وو
د یخوا اخوا ښکته پورته محرومی وه
آزادی او استقلال بے معنی شوی
دا سودا خوشے سودا د لیونی وه
وبلبل د ګل قصے د زلفو ولونه
د یار شونډے زنخ لیچے شاعری وه
داسی حال کښی ستا پیغام "بانګ درا" شو
اے اقباله ستا وینا روغه راستی وه
په "اسرارو" په "رموزو" خبرداره
ستا نغمه په عجمی ساز حجازی وه
تول مشرق چی په آواز ئے راپیدا شو
وه شپلي د اسرافیل که ستا خودی وه
۱۰۴:۱۱۰

# اقبال ته خطاب

شیر محمد منیوش

چې زړه سي د غمونو د دنیا نه اوېرېږي
همت سي دعمل د کشمکش نه اوبګنیږي
د خوفه سي زړګی به داسي قسم له شي غلے
په هیخ وجه کولو د حرکت ته نه جوړیږي
د ژوند د هنګامو سره کونکے د کشتي زړه
یارئ ته د ژوندون د سوز وساز نه تیاریږي
په لاره چې دژوند څمه ګودر رانه خطا شي
زما هډو رهبر دغه ساعت نه پیدا کیږي
په دام چې شاهانو د جادو سي حرص ګیر کړي
او رو د آزادئ ترے نه بالکل نه معلوېږي
شراب دسیاست سي دیورپ چې کړي بیخوده
د دین د مصطفیٰ ﷺ لاره بیا ماته نه بنکاریږي
یوه یره د مرګی سي په جذباتو راخوره شي
د ژوند سے په زړګی کښني ولولے نه راویښنیږي
شي مات مې هسے زړه چې داحساس هډو نوم نه وي
څه ذوق پکښنے بیا هم د شاعرئ نه پاتي کیږي
زړګی دذوق وشوق داسي رنګ له بینوا شي
د حسن د کمال پړے څه اثر نه ظاهریږي

په مئیو په سازونو سرودونو په باغونو
د غم زړلے زړه هډو بالکل نه هوسیږی
ډاډه سی په کلام دے شی زړګی لکه الهام
"اقبالہ" حقه دا ده چی صاحب یی د پیغام۱۰:۸٤

## اقبال ته خطاب

شیر محمد منیوش

ته اقباله نه شاعر وے نه واعظ وے نه خطیب وے
د انسان د مرضونو مسیحا غوندی طبیب وے
داقلمِ دی قلمِ نه وو دموسی هغه ثعبان وو
چی مدام تري خطره کښې دفرعون سره هامان وو
د خودئ پیغام دی څه وو خو پیغام د جبرائیل وو
سرکشالو له آواز دی لکه صور د اسرافیل وو
که مکان دی په ناسوت وو په لاهوت کښې دی پرواز وو
هر آواز دی د اثر نه د سروش هغه آواز وو
که ونیا دی که عمل دی دواړه رمز د کتاب وو
مقابل دی په دی وجه تمام عمر لا جواب وو
چی بنیادی ورله ایښی د آدم د احترام وے
ستاخودی په حقیقت کی د عرفان اوچت مقام دے
تا په شوق رشیدی پوهه دا قسم له بشر کړه
چی د ذوق له بندګی د حقیقت نه دی خبر کړه

د "مشرق پيام" دی څه وو زلزله وه د افکارو
تا ړانده روغ په رنجو کړه د "رموزو د اسرارو"
ستا د راز نوی ګلش دا يو نيوی ګلستان دی
د مکتب کرامات نه دی بلندی ته د عرفان دی
ته د ورڅخه شوی تير خو د دننه رازدی ووېی
راز دی بيا هم پاتی راز که په عجب انداز دی ووی
د "درا" په "بانګ" دی بيا قوم د غفلت د خوبه ويښ کړه
تا ددين دښمن له "عمر" د "کليم" په ضرب تريخ کړه
د "عجم زبور" دی ووے پری بيدار دی عجميان کړه
هم عرب دی ويښ له خوبه د "حجاز" په "ارمغان" کړه
په بينا کښې د سينې دی زړه يو طور د محبت وو
زندګی دی سرتريا يه پو سرور و محبت وو٥٢:٩٩

## علامه اقبال

مجبور سوړاتی

داودو خلقو بيداره ونيکمه
د سمی لاری قوم ته ښوونکيه
د بهارونو په ښکلا مسته
هم په رڼړا دی آزادي مسته
ليدلی دی خوب کښې تل بهارونه
دخپلواکی هم خواږه خوندونه

چې تا په خوب کښې مدام لیدلې
هغه په اوښبنه مورږو موندلو
مور پوره کړې دی تا ارمان دی
خو تا ونه لیدی دا مو ارمان دی
ته شوی د مور نه جداي وخته
ستا جدای ده مور لره سخته
مور که ګټلی ځان له هیواد دی
ستا تخیل یې سنګ بنیاد دی
دتا وجود وو د رحمت سیوری
ته وې زموږه د اقبال ستوری۱۰۱۰:۱۸

# اقبال ته خطاب

ښاغلی مولانا خادم

څنګه په مشرق نن د رنړا او تیاری جنګ دی
ولې د فلک ګریوان به وینو باندی رنګ دی
غلی په طلسم د تیاری دی هر بلبل د باغ
زړه د هر انسان لکه غوټی له غمه تنګ دی
نشته دی نغمی دزر کوچیری په راغونو کښی
ته دچا په غوږ کښی دنیسم درباب شرنګ دی
لکه بی اسرې چې هر یو ژاړی پټ له ځان سره
ستورو د مشرق هر یو پری ایښی د بل څنګ دی

ډوب په آه و اوه کښې لمر خاته دی سر ترپایه اوس
پروت د مشرق هر زړه باندی دا د بار دتیارې زنګ دی
ځکه چې لویدلی د مشرق لمر د اقبال دی
خړ ،اسمان د فن و دا ادب او دکمال دی
ای اقباله ستا په غم کښې ژاړی مسلمان ټول
چین تر شام وروسه ترکیه هندو افغان ټول
ته تمامی عمر ژړیدلی د امت په غم
ځکه دی قومونه ستا په تلو باندی ګریان ټول
سراوی لاله زار دی د خلیل تازه په اوښنو کړو
مه وچوه سترګی چیری وچ نشی ګلان دی
بیادی هیر سبق امت یاد په زیرو زور کړلو
ودی ښوده دوی ته محکمات د ښه قرآن ټول
پیټی وو درانه او منزلګاه لری بیحده وه
ستاسو و نغمو ښه دمه لودی که کاروان ټول
پاتی چې سید شبلی حالی څخه ولاړه کښې
تا همه بارونه کړه اوچت په یو ځان ټول
مخکښې لرمنزل دی چې ئی پری نه رسیدی په لار کښې
داسی لار بلدی هیڅوک نشته په قطار کښې
تا چې مخ کړو پټ او په خندا لاړی مولی لره
اوس به نور هبر دخودي څوک شی ایشیا لره

پورته د کوشش په نغمه سترې د تقدیر کړه
دا قدرت درکړی دی خاوند یوازی تا لره
نن له بغاوت د عقله ویره په حرم کښنی ده
جنګ د ولایت د عشقه فوج که دی بلا لره
شعر فلسفه تاریخ دی ګډ کړه په حکمت سره
جوړه دی نسخه کړه ترینه ملت بیضا لره
اي د ژوند حکیمه زړه دی ډک و د بشر په غم
تا پیام راوړی تماسی واړه دنیا لرم
شرق وغرب دی مخکښنی د یوې منډې میدان وو
څکه دی نظر تل په حصار د کهکشان وو۳۹:۶۳–۶٤

## اقبال ته خطاب

اسرار لرحمان اسرار د طورو

ته په روسی په غزالی او په حسین وې مین
ته په غازیانو د احدا او د حنین وې مین
ته په غخموار ته په سردار د ثقلین وې مین
ته په محبوب د کائنات که د کونین وې مین
ته هم په دوی مین وی مونږه هم په دا مین یو
دغه سبب دی چی اقباله مونږ په تامین یو
ستا محبت لکه خوشحال ختمک د ننګ سره دی
تا سره غم د خپل اولس لکه ملنګ سره دی

جنګ دی ظالم سره جابر سره نهنګ سره دی
زړه دی ترلی د غازی د توری شرنګ سره دی
زړه دی صفادی ځکه مونږ درته صفا ښکاریږو
بلا خونه یی چی به مونږ درته بلا ښکاریږو
ته مسلمان ته بیا سبق د صداقت اوښایه
ورته میوې د غزمیت د شجاعت اوښایه
رساه زلمو ته د اسلافو کرامت اوښایه
زوال ځپولو ته خپل شان خپل شرافت اوښایه
یا ماله خپله مینه راکه خپل زبان راکا
سوز د بلال چی په کښي دی هغه الحان راکا
اول به وچیرم د سمی د کوهسار پښتانه
چی رابیدار کړم په اسلام باندی نثار پښتانه
لکه محمود د رسالت په شمع زار پښتانه
لکه شیر شاه د هر چنګیز سترګو کښی خار پښتانه
دا چی کفارورته به مینه د اسلام رسوی
چی تنده غړوته د پاکی مینی جام رسوی
بیا داتک نه پوری تلل دی چی پنجاب ته رسم
اقباله ستا او د داتا د مینی باب ته رسم
په دې چمن کښی په دا لاره انقلاب ته رسم
ځمه لاهور ته د عوامو احتساب ته رسم

دوی ته شیرینی ترانی به د حجاز یادوم
بیا د اقبال او دورمی سوزوګداز یادوم
مخ کښنې په ولاړ شو په یو ځای د بتهانی وطن ته
د محمدبن قاسم غوندی غازی وطن ته
د مستانه وقلندر د شهبازی وطن ته
هم د سندهی عبیدالله انقلابی وطن ته
دوی ته به وایو کنجی راکړی چی مرام ته رسو
کنی نو د رنګ دی که ساعت دی خپل انجام ته رسو
په لمدو سترګو په جوګو به شانهانوله ځم
د میدانونو نه د غرونو باتوارنو له ځم
د رورولی سوغات په لاس کښنې بلو چانو له ځم
مسلمانانو غیرتیانو له نرانو له ځم
وسلی راواخلی چی دبنمن د ننګ ونام پسی ځو
چی کربلا ته د حسین په انتقام پسی ځو
اقباله بیا به دی نړی ته داپیغام رسوو
دا مو ارمان دی چی دنیا ته به اسلام رسوو
هر یو انسان ته به د پاکی سینی جام رسوو
د حق آذان په شرق وغرب ته صبح وشام رسوو
اول ددی نه په خپل کور کښنې ورورولی په کار ده
مینه په کار ده قربانی او قام پالی په کار ده۶۵:۱۱۸

# اقباله بختوره

اسرار د طورو

پښتون د ننګ اود پښتو اود غیرت نښان دی
ټول تاریخونه پرې ګواه دی
عالمان او فاضلان یې منی
ساده باده
صفا بې رویه بې ریادی پښتون
څه بې بها دی پښتون
په آزادی په باندی مین دی
غلامی نه منی
خدمت کوی خو سلامی نه منی
ټوله دنیا په دی ګواه ده
د سیالکوټ فقیره
اې د خودي امیره
ته نظر بازی حق شناس د یمن لال پیژنی
تا هم صفت د پښتنو کړی دی
تا هم عزت د غرخنو کړی دی
تا د محمود بت شکنی ته سلامونه وکړل
تا د شیرشاه نکته دانی ته سلامونه وکړل
تا د خوشحال دپت خراج ومانی

تا د سید جمال الدین دفکر راج ومانی

تا د پښتون پاکیزه فکر ته

اخلاقوته کردرا ته سلامونه وکړل

دا د تاریخ لاره بابونه دی فقیر اقباله

اې قلندره د خودی په دام اسیر اقباله

خو ته قسم دی بختوری

چی د اټک نه چیری پوری

بل جهان کښنی اوسی

شکر اوباسه چی پختون نه یی پنجاب کښنی اوسی

په آب و تاب کښنی اوسی

دا پښتانه خوخپل محسن مدام په کاڼو ولی

چرته خو راشه اګوره ته

خوشحال خان له راشه

عظیم انسان له راشه

درته پخپله به ګویا شی څه وفات خونه دی

ژوندی افغان جادو بیان شیرین زبان له راشه

چی پښتنو ورسره څه کړی وو

دی خود توری د قلم او د زبان خاوند وو

د یو جهان خاوند وو

صوفی رحمان له راشه

شکر بیان غیب اللسان له راشِه
دا پیبنور پری ولی اور وو
سر تور ملنګ فخر افغان له راشه
د آزادي مرد میدان له راشه
بناغلی ځوان له راشه
اقباله ته خو بختوری د تندی خاوندی
شکر وباسه چې پختون نه یې پنجاب کښې اوسې
په آب وتاب کښې اوسې ۱۱۸:۴۰

# اقبال ته خطاب

عبدالباری اسیر

| | |
|---|---|
| ستا هر شعر یو ملغلره | اې اقباله بختوره |
| هم پر شرعه برابره | سمه ستاهره خبره |
| ته طبیب وې | ته قریب وې خوش نصیب وې |
| د عظمت تاج دی پر سره | اې اقباله بختوره |
| ته عاشق وی | ته صادق وی ته لائق وی |
| د اسلام لویه شاعره | اې اقباله بختوره |
| ستا مصرعې | لری معنې ماولوستې |
| په دقت په بنه هنره | اې اقبال بختوره |
| ستا وینا | پردې دینا کوی رنړا |
| په آواز کښې دی اثره | اې اقباله بختوره |

ستا خدمت ورډ عزت په هر ساعت
چې اسیر کړمه نظره اې اقبال بختوره ۱۱٦:٤٤

# علامه اقبال ته نذرانه

بریګیډیر صادق الله خان

لويه شاعره ستا عظمت ته سلام
لويه شاعره ستا غيرت ته سلام
لويه شاعره ستا عزت ته سلام
ستا انسانيت ستا شرافت ته سلام

ته د مشرق د اميدونو ستورے
ته دمشرق دپاک خوبونو ستورے

ستا په حقله کښې حيوانات جمادات
ستا تخيل کښې محصور پروت کائنات
د ستا تلقين کښې د ايمان دے اثبات
دنيا نه خلاص او مافيها نه نجات

آسمان او زمکه ستا په مټی او لاس
د ستا نظر د ټول حدونو نه خلاص

ته دانسان دنيک کارونو صدا
ته دانسان د ګناهونو ندا
ته د قدرت د جبرو قهر پړکا
ته دقدرت د پاکے مينے ادا

ته د انسان د نیکو بدو عکاس
ته د قدرت د قهرو سینے احساس

ته د یتیم په ژړا اوچے اوښکے
د نوے کنډے ګرسے چپے اوښکے
ته د ماشوم د بے بسی سرے اوښکے
ته دخادو د پښیمانی دوے اوښکے

د انسانیت غمونه تا خوړلی
تل انسانیت د پاره تا ژړلی

کله خوشحال د ژوندی قوم په خندا
کله دردمند د ژوبل قوم په ژړا
کله قدرت سره ګیله او جګړا
کله خادم په زمکے پروت په سجدا

په یونظر د تور او سپین لیدلی
په رنګا رنګ ګلونه تا پیرلی

د جنت ګله ستا بهار دے سدا
دا انسانیت په تاقربان او فدا
ته ابتدا د میینی ته انتها
مخ د فنا مینه به ستا وی بقا

رنړا د ستا مولار راونه اوسه
ستا پاکه مینه مو په زړونو اوسه

د تخیل حدود په تا شو تمام
پردے شوے چاک بے پرده واړه نظام
د ستورو لرے ډیر وچت ستا مقام
ته پاک الله سره بے باک په کلام
دا څه یو نوے رشته جوړه شوله
د انسانیت رتبه څه نوره شوله
قوم ژوبل پروت په تیرو ورک مسیحا
لرے ظلمات کړه،کړه تیارو کښې رنړا
شه لا علاجه قوم ته نوے دوا
دے سخت پریوتی قوم ته جوړ شه اسسا
په گرداب نختی کشتی اے نا خدا
د قوم ژوندون ته شه ته لاس په دعا
دے قوم خپل ځان سره څه نه دی کړی
د بل ژړا پورے دوی تل خندلی
د ورور په وینو ئے خپل لاس ونیزلی
غوښنو د ور ور ته گښړی نیولی
خیټه ددے ورور په غوښنو سړه
تنده ددے ورور په وینو سړه
ملک ټول برباد کړو دی دخپله لاسه
اسلام کړو خرخ دے کړی پیسه لا لاسه

خپله به سور بل غورزوی له آسه
نن یو د پاسه ، صبا بل د پاسه

ورک شو قدرونه چی وو تا جوړ کړی
پروت کتابونه دی چینجو خوړلی

د دنیاګی په آس دا سور الوځی
دبے شرمئی پټئ په سترګو ګرځی
ربه دا پریږدی دا په غل تیروځی
حلاله نه خوری په حرام پریوځی

روح مکدر او زندګی بو یونه
ستا شاهین مړ قجیر اوس ناست په ونه

یو قدم مخکښنی دوه په روستو راځی
نن یو قانون سبا په بل به راشی
نن یو غدار صبا به بل شی باغی
کوم دے باغی هرڅه دا ګوره یاغی

په خپل وقار دوئ خپل ایمان ورکړے
بل غورزولے او خپل ځان جوړ کړے

هغه دا خوری چی وی د نه خوړلو
هغه دا ښبنی چی وی د نه د ښبنلو
هغه د اوی چی وی د نه وئیلو
هغه دا کئی ، چی وی د نه کولو

بل چې پې مرې د اقوام په هغه پائی
یم حق حیران ، چې د اقوام څنګه پائی

عالم ګمراه پریوت مرداره پسې
ادیب ذلیل او خوار په خپل بې بسې
حاکم محکوم لکه یو ړوند بل پسې
توري ځلیږي اصلیت کښنې پسې

په خوند غرېږي ، تش د خاوروسنګی
هر څه چې ښکاري ، داد بوسو ګټی

رنړا مو پریښنوه په تیارو کښنې روان
لاس مو پریښنودی، بیله بیله پریشان
بې اعتبارې ده، ډیره ویره لړزان
منزل مونښته بې منزله روان

ښکلې جنت نه مو دوزخ جوړ کړې
ډیر پاک ژوندون نه مو علت جوړ کړې

ضمیر بې حسه خړې سترګې په تلو
کردار رنځور بس د دوه نیمو ګړو
شرافت ژوبل په ، ژړا په سلګو
انسانیت خوړ په وینو سور په اینړو
جنت دی پریږده، رب د پاره راشه
مریض ډیر سخت دې، په تلواره راشه ۲۲۶:۲۲۳:۱۱۰

# علامه اقبال ته سلام

فضل الرحمن صابر

عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لیاقت ته سلام
تا اوده قوم کړو رابیدار ستا قیادت ته سلام
سلام سلام اے قاسی مشره ستا عظمت ته سلام
اقباله ستا دے تصور او بصیرت ته سلام
ستا دخیالاتو او جذباتو نه لوګے شم
تل به تا سلام کوم ستا سیاست ته سلام
په دوه لاسی ستا دوطن بنکلی خدمت ته سلام
عظیم انسانه ستا همت نه ځارستا لیاقت ته سلام
اقباله ستا په تصور خو پاکستان جوړ شو
مرد د مومنه ستا همت باندی بوستان جوړ شو
حساس بیدار شو د هر یو سړئے راپورته کړلو
ستا د شعرونو په جذباتو دا جهان جوړ شو
ستا نه لوګے ستا نه قربان ستا فراست ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لیاقت ته سلام
تا هندوستان کښی خومره بنکلے انقلاب راوستو
په غیر غمازو دی ناساپه لوئے سیلاب راوستو
غم نه خلاص دی کړو مسلم د تصور په وجه
په غدارنو د وطن دی یو عذاب راوستو

ستا صداقت ته سے سلام ستا لوړ همت ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لیاقت ته سلام
تاپه توحید او رسالت باندی ایمان لرلو
ځکه ژور نظر کښې تل تا پاکستان لرلو
تا یو صحیح معاشره عدل اونصاف غوښتلو
ځکه جدا د تصور کښې ګلستان لرلو
ستا دا احسان به زه هیر نکړم ستا محنت ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لیاقت ته سلام
تاخو پخپله ووئیلی هندوستان زموږ دے
موږ بلبلان ددے وطن یو ګلستان زموږ دے
موږ حق پرست یو د باطل سره جنګیږو به تل
بیا مو حساس دے بیدار شوے داجهان زموږ دے
ستا د وطن سره دی دے ښکلی الفت ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لیاقت ته سلام
ستا په اخلاص او ننګ غیرت مو ګلستان جوړ شو
ستا د "آخوب" تعبیر پوره شو پاکستان جوړ شو
د مسلمان وجود چې وکړے غزونے بیدار
ټول رایو ځائے شو کفرستان کښې نورستان جوړ شو
ننګیالیه د وطن ستا شخصیت ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لیاقت ته سلام

ته آزادي باندي سين وے آزادي دي غوښتنه
په دے وطن کښې مسلمان له خوشحالي دي غوښتنه
ډوبه کشتي دي رابهر،کړه دګرداب نه زمونږ
د ستر عزم لوئے ښبنتنه خپلواکي د غوښتنه
ته وې رهبر د قافلے ستا محبت ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لياقت ته سلام
څه توره غوندې شپه وه څه پرسان خونه وو
چرته رهبر د قافلے د مسلمان خو نه وو
د غمازيانو به تل ښبنے د مظلومانو وينے
په دے ګلشن کښې د وطن چرته باغبابان خونه وو
په تا به تل فخر کوم ستا شجاعت ته سلام
عظیم انسانه ستا نه ځار ستا لياقت ته
سلام۱۶۷:۱۱۰

# اقبال زنده باد

سید صفدر علی شاه صفدر

تولہ سیمه کښې چاپيره يو تور تم وو
غلامی وه لاچاری وه ژوند يو غم وو
سیمه تولہ ګډه وډه او لت پت وه
خونه ورانه د انسان د شرافت وه

ناګهانه په تیارو کښې نور پیدا شه
شپه شوه تیره د تیرې سحر پیدا شه
توره شپه کښې منور قمر پیدا شه
ړندې سترګې شوې بینا نظر پیدا شه
فضل وشه چې په قام د ذوالجلال
هم خوشحال په کښې پیدا شه هم اقبال
چې پرې فضل دخالق دو سراشه
داسې وخت کښې دې آواز "بانګ درا" شه
چې له حده تیره ظلم د غلیم شه
داسې وخت کښې ستا آواز "ضرب کلیم" شه
ده وې ستا غرض طاوس ورباب نه دې
توره غشې دې نغمه ومضراب نه دې
ده وې پاخه د ژوندون هنر پیدا که
یو حرم د یو آستان یو در پیدا که
د خودې په میو نابو ځان سرشار که
د ګفتار غازې به یې خو ځان کردار که
ځان که خلاص د پیرنګیانو دنیرنګ نه
دا وطن دې که ختن د لوی اورنګ نه
ته شاهین یې لامکان کښې دې مکان دې
حد دې نشته خو بس یو چې دا مکان دې

نن وطن د آزادي په جام سرشار دی
خزان تیر شه اوس پرې دور د بهار دی
د خدای شکر چی آذاد دی دا هیواد
صفدر وایی اے اقباله زنده باد۱۱۷:۷۹-۸۰

## د اقبال پیغام

ایم مرتاض

راځی په صبحدم کښی آواز عرش برین نه
شو ورک درنه ځنګ بیا ستا هغه جوهر ادراک
شو ولے بیا اوس ستا هغه غشے د تحقیق
کړو ولے دے نه تا بیا د ستورو جګر چاک
د ظاهر و باطن د خلافت وے ته حقدار
شوے ولے، ته بیا داسے د ډیران خس و خاشاک
دا شمس و قمر ستوری نه دی ستا ولے محکوم
ستا ولے د نظر نه بیا رپیږی نه افلاک
تر اوسه دے بدن کښی وینه ګورم کړی دوران
لیکن شته نه ګرمی پکښے نه آه دور بے باک
روښانه دی بشک خو جهان بین نشی کیدے
هردودکښی کومو سترګو چی وی پروت نه نظر پاک
۳۳:۸۷

# دا اقبال

رحمت الله رحمت

ددې اولس جمال و دا اقبال
یو ستوری د کمال و دا اقبال
د تکبیر نعرې یې اوس هم جهان اوری
دا عجب رنګه بلال و دا اقبال
یادونه یې تازه دی لا اوس نور هم تازه کیږی
هر کله جواب د هر یو سوال و دا اقبال
ومونږ ته یې سبق د اتفاق دی راپریښنی
ملال زمونږ په حال و دا اقبال
رحمت یې کوم هنر او کوم صفت به درته وایم
هم ستوری هم هلال وو د اقبال

# د اقبال د پیغام چنګارے

عرب خان عرب

سرتیټ سترګے مے پټے شونډے تپ له احترامه
په پټو سترګو ګورمه ګردش ته د ایام
روان دے وخت په روستو سپوږمی ستوری پسی
راختے په اسمان دے نمرخئی محکښنے ګوری پسی

ته چپ شه په نقشه د دنیا بله نمونه ده
نظام بدل، قانون بدل، بدله زمانه ده
انسان د بل انسانی دلاسه ژاړی غمګین ګیردی
دنفس اودشیطان جال کښی انخښتے خدائے ترې هیر دی
معنی د وفا بله ،مینے بله ، رضا بله
صفا سوداګری ده دچا یو شان د چا بله
انسان مشت وګیروان دے مسلمان مشت وګیروان
دے دومره په شا کیږی خومره مخکښے چی روان
په ده کښی نه خودی نه تدبر نه تفکر شته
څه هیڅ څه سرپیتوب والله نه یی پښے شته نه ئے سر شته
دا ځکه چی دده نه هیره خپله عقیده ده
دا بل نه چی مو تازه دے دهٔ پرے ایښے سجده ده
پیغام د اقبال بیا په ما چونګارے لګوی
ما خامخا مسکے کړی بیا مے پټ پټ ژړوی۲۷۶:۱۱۰

## شاعر مشرق

طاهر کلاچوی

اے د لوړ فکر خښتنه ستا کلام دے که الهام دے
څنګه وستایم مقام ستا ډیر بلند دا ستا مقام دے
ستا عظیمے شاعرئ ته وربخښلے خدائے دوام دے

اے د علم سمندره ته قابل داحترام ئے

اے خود داره سخنوره ته قابل د احترام ئے

د خودی سبق دی راکړه کړو خبر له خپل مقام تا

چی بې هوشه هم په هوش کړی راعطا کړه هغه جام تا

له سودو پریوتے قوم دی دوباره کړه په قیام تا

اے بے باکه قلندره ته قابل د احترام ئے

اے خود داره سخنوره ته قابل د احترام ئے

په تیاره د نومیدی کښې تا مشال د امید راکړه

او آشنا دی مسلمان له خپل عظمته ښخه بیا کړه

اوشعور دخپلواکی او آزادي مونږ کښې پیدا کړه

پخته کاره مدبره ته قابل د احترام ئے

اے خود دراه سخنوره تا قابل د احترام ئے

دمشرق غریبه خاوره ستا په قوم پورے یادیږی

او ددے وطن وګړی ستا په ذات باندے نازیږی

ستا په شانے مفکر خوله پیړونه پسه ژیږی

باریک بینه دیده وره ته قابل د احترام ئے

اے خود دراه سخنوره ته قابل د احترام ئے

ستا هر تکے په دروند توب کښې همالے نه وزن دار دے

ستا غزل دے اوکه نظم د ادب د ناوے هار دے

هر تخلیق اوهر تصنیف دے ستا بیمثله شاهکار دے

اے عظیمه مفکره ته قابل د احترام ئے
اے خود دراه سخنوره ته قابل د احترام ئے
تا دګوشی مملکت خوب چی لیدلے وو ربښتیا شو
اوتیارے د غلامی شوے دړے وړی رونړ صباشو
سونړکښی بیا دخپل وقار او دعظمت احساس پیدا شو
خوشحال اوسے اے رهبره ته قابل د احترام ئے
اے خود دراه سخنوره تا قابل د احترام ئے
۱۱۰:۱۶۵-۱۶۶

## شاعر مشرق ته

محمد قاسم (بنوی)

د مشرق عظیم شاعره، د اسلام لوئے مفکره
تعلیمات ستا افاقی وو په نړئ کښی بے نظیره
ته غمخوار د مسلمان وے هم خوا خوږے دانسان وے
تاوے هریوکس دی ګرځی په دنیا کښی باضمیره
د غفلت په خوب اوده مسلمانان دی رابیدار کړه
دمجاز په رنګ کښے تاله حقیقت نه خبردار کړه
تا د عشق د محبت سبق له سرنه بیا ور زده کړه
دملت خواره وګړی د راجمع په قرار کړه
تاربښتیا سره د فرد زړه کښی ملی شعور پیدا که
په کښی ورو ورو په حکمت دی اسلامی شعور پید اکه

مسلمان ته دی دا اوے امامت د تا منصب دے
په دے چل دی ورسره هم سیاسی شعور پیدا که
تاکه یوه لوری ته پیش کړو تصور د بیل وطن هم
ورسره مسلمانان د ټول اګاه کړل له دښمن هم
د انګریز اود هندو مکرو فریب باندے ښه پوه وی
نو د پیشه نظریه کړه ابادی د خپل چمن هم
کرامت دی تا کلام وو په صفاتو دی ستائیمه
ته حکیم ئے د امت په دے سبب دی یادومه
څوک به وائی چی څه وائی دهر چا خپلے خولے دی
زه قاسم اقباله تا دقام عظیم محسن ګڼړمه ۲۴۲:۱۱۰

## د شاعر مشرق په نوم

قمر راهی

تا دمشرق په شاعرئ کښی نوے خوند پیدا که
دے مړغیجنو مړسپنو کښی دی ژوند پیدا که
تا د المان په فلسفیانو خاورے واړه ولے
مرد مومن فوق البشر ته دی یوبند پیدا که
د افریقے په توره سیمه د ایشیا په لمن
توره تیاره وه چی خوره وه ددنیا په لمن
کړه دی د فکر مشالونه طوفانانو کښی بل
ته که ستی شوے خو ساتله د رڼا په لمن

ستا د افکارو حریت وو چې پرې سوبز راویښ شو
تا چې مرام راته په ګوته که نوموبز سیخ شو
بیا سو انګټے دحالاتو سره واچولے
دے کښې هم خوند وو که هر څو راته وختونه تریخ شو
تا د مجبور اودمحکم اولس بختونه ویش کړه
تا د بے وسو او بے د ستو خلقو زړونه ویش کړه
د بے خودۍ په خوب اوده دؤ په خودۍ اونمائل
هر کجلاه او شهر یار ته ئے ځانونه ویش کړه
تا یو کمزورے شان سیړے د سلیمان همدوش که
تا اوړے تږے هر دهقان د هر یو خان همدوش که
نن به زبون ووخو تا زیرے د صبا ورکوو
هر یو وګړے دمشرق دی د اسمان همدوش که
دامے وطن ښکلے وطن ستا د خوبونو تعبیر
چې د خیبر نه تر سلهټه د اولس دے جاګیر
لږ که نیمګړے دے په دے دؤسامراجیان خبر شی
زړده چې اور واخلی لمبه شی سور ویتنام شی کشمیر
بیا د مشرق دشاعر روح به څه خوشحال غوندی شی
بیا به وطن مے سر بلند دسیالو سیال غوندی شی
١٦١:١٦٠:١١٠

# د اقبال په یادکښې

عبدالحلیم اثر افغانی

په معنی کښې د وفا چې رنګینې دی
سر جوشی د سینے هوسره پخوانی دی
کائنات د زره متاع د یونظر دے
په نظر کښې ے د سینے کامرانی دی
سترګے سترګو ته څه وائی زره شی پوهه
راز دسینے وته څوسره اسانۍ دی
د ساقی هر یو نظر د سیو کیف دے
میکده ده که د زړونو ودانۍ دی
اعبتار ے حقیقت شو له مجازه
د اشنا په مخ ئے ورکے پریشانی دی
دروسی په ساز نغمے شوے نوی پورته
نوے ترنګ چې اقبال ورکړ ساروانۍ دی
د "احمد زنده پیر" نوے آهنګ دے
داقبال نغمے په طرز افغانۍ دی
د رحمان بابا په څیر نغمے د بزم
خواږے د رزم ئے ان خوشحال خانۍ دی
د آثر د زره د پاره غزا اوشوه
اشنا کړے دنظر مهربانۍ دی

راغلم لاهور ته چې لاهور اوینم
د اقبال زړه او روح لانور اووینم
اقباله راغے ترلاهوره اثر
د "لا" او "ز" تر منیځ له "هو" نه خبر
د لا نه پس هو معنی څه لری
"هو" که "لا" شی بیا دنیا څه لری
راغلم چې د "لا" او "زړه" لار جوړه کړو
"هو" ته یوه لاره په ریبار جوړه کړو
اقباله رازدلته معنی لټوی
سترګے سے زړه ساری اشنا لټوی
دخیال دنیا سے نګهتونه لری
څولئ څولئ د یار یادونه لری
اے په روح ګلډه له روح ډډه څه وی
طور او طوبی څه وی الګډه څه وی
اقباله مینه دا احساس د څه دے
په مینے ، مینه التباس د څه دے
وړ چې دیاد دی هغه یاد دی زما
ویړ چې هر خوسره په هیواد دی زما
ته افغانی پیژنی خوشحال پیژنے
روښانه ستورے د صبا پیژنے

ستا شاهین ناست دے په منګل د خوشحال
نظر ئے تیز او توانا پروبال
په تا سلام هم په روسی سے سلام
ستا په جمال افغانی سے سلام
د بینوا اثر یادونه دی دا
خاورو دپښنوله رفعتونه دی دا ۱۱۲:۹۵-۹٦

## د مومن اقبال

حیران خټک

تیاری د غلامئ خورې ورې وی په هر لور
مسلم په ټول جهان کی وو د هر چا د پیغور
سامراج پرې مسلط ونه یی سپین لیدل نه تور
ناڅا په په دې مځکه یو مشال او ځلیدو
اقبال د مومن ویښ شو چی اقبال اوځلیدو
ریښتونی مسلمان یو فلسفی عظیم رهبر وو
تړلی په سود زیان نه وملګرو قلندر وو
د زړونو په تخت ناست ویوبې تاجه سکندر وو
ښښتن د زور فکر او کمال او ځلیدو
ورمه د پسرلی وه چی خواره شوه په ګلشن
نغمه د بیداری وه چی ویښ کړو انجمن
پیغام د خودی شولو فرنګ وته کفن

آذان کی د مومن روح د بلال او ځلیدو
اقبال د مومن ویښ شو چی اقبال او ځلیدو
ادراک یی د ځآن اوموند د خودئ په فلسفه کی
آذان یی د حق اوکړو د یورپ په بت کده کی
خپل خدای ته په سلګو شو په مسجد د قرطبه کی
مغرب ته په مشرق کی دا خپل سیال شولو پیدا
کاروان یی دملت د ورک منزل په لور روان شونو پیدا
رهزن د قافلی یی لاروی ته نمایان کړو
حیرانه مسلمان یی پوه په قدر د خپل ځان کړو
په شان کښنی د مومن بیا زړو جلال او ځلیدو
اقبال د مومن ویښ شو چی اقبال اوځلیدو
(اباسین پیښور نومبر ۱۹۹۰ء ص ۸)

## داقبال ویر

ګل باچا الفت

د ادب په ماڼری ولویده غدئ نن
د اقبال د سره پریوته خولي نن
نن په مشرق د مصیبت بلا راغلی
د ادب په باغ پڼړ وشوه ژلي نن
فلک بیا پر زړونو ګښښنوه داغونه
بیا هر چا په زړه حوږلی ده ګولی نن

په سرور د زماني به هضم نه شي
چې له دې غمه چا کړی ده سړی نن
د اقبال غم رپوی نن هغه زړونه
چې به ځان په ځای ولاړ وه لکه غرونه
اقبال څوک وو فلیسوف وو نازک خیال
د ادب سرمایه تولو ده مال
تیز قلم یې لکه توپ اوتیره توره
مقابل کښې یې هیڅ نه وو سپرو ډال
زمانه به په هیڅ طور پیدا کړی
د ادب په مملکت کښې ده سیال
دخپل قرن په جبین باندې یې کښینبود
د تفضیل او سرلوړی بنه بنکلی خال
ددنیا په سرای کښې دې نه ځائیدلو
له ناکامه یې قصدوکه د وتلو
اقبال ولاړ و نیابې پاتې ده غوږو کښې
محبت داقبال شته دخلقو زړو کښې
داقبال د غږ اثر دې پاتې شوی
دهرملک او هر وطن بیدار مغزو کښې
اقبال مړه زړونه په خپل آواز ژوندی کړه
څوک شمیرلی شي اقبال په جم د مړوکښې

اقبال موږ ته ښه غزا د روح پرې ایښی
په ښائسته ښائسته نظمو خوږو نغمو کښې
ربه ته یې جنتونه په نصیب کړې
واړه سعی ته مقبول د دې ادیب کړې۳۹:۶۶

(ددغه شعر پاتې دوی برخې دکابل مجلې (سئ جون ۱۹۳۸
څخه اخستل شوی دی) رفیقی

# د علامه اقبال په تصویر

حمزه شنواری

تخیل مې دخودئ ګلونه سپړ ده
رنګینو یې زیاتوه د مخ جمال
زما فکر په ورشو د حکمتونو
راپیدا کړې ښکلې سترګې د غزال
دفطرت تاوده ساړه په اتحاد شول
شوه د ذهن کار خانه په اعتدال
د ضمیر ساز کښې آهنګ نوی پیدا شو
شوې سندرې دفطرت په اتصال
سخن وره شوه زما دفکر ژبه
ښکلو لوته یې راغی استدلال
پټ جهان په هرظاهر کښې راعیان شو
معنوی جهان شو ماته یو تمثال

کم فهمی سی دخودی چپولاهو کړه
حال دسیند او حباب اوو ې انفعال
انفعال او اتصال باقاعده شول
هر اجمال شولو تفصیل تفصیل اجمال
د فطرت جمال سی پورته یو حجاب کړ
بنه سی ولیده جلوه دخپل جلال
زما ستر ګو د سرحد دنظر بنی نه
لیدل اوکړه تر اوسطه تر دنبال
زه حیران وم چی د ازه د څه نه څه شوم
د ناقص په یو لحظه کښنی دا کمال
په اسمان د معانی کښنی پرواز هسی
هسی زغاست یی په عالم کښنی د مثال
په دې فکر کی وم ناست په یو هو تل کښنی
ما کاوه له خپله ځانه هسی سوال
انتقاد د معانی و زما لور نه
که کا ته سی مخا مخ له یو دیوال
هله پوه شومه چی فکر سی راغونډ کړ
یو تصویر و په دیوال کښنی داقبال۶۲:۳۹

# سره ګلونه

عبدالستار عارف ختک

هغه اقبال چې په سینه کښې یې ایمان ځلیدو
هغه اقبال چې پورته لمر پر ټول جهان ځلیدو
هغه اقبال چې لکه ستوری د اسمان ځلیدو
زه هم شاعر یم وپاک روح ته یې سلام کوم
و لوړو ګلګو ارادوته یې سلام کوم
هغه اقبال چې په نبی خیر الابرار مین وو
په مرسلانو کښې بهتر او په تاجدار مین وو
هغه اقبال چې دنبیانو په سردار مین وو
هغه اقبال چې داسلام په نوم یې سر ورکوو
هغه اقبال چې د خپل قام په نوم یې سرورکوو
ډاکټر اقبال چې دا تصور د پاکستان پیش کړی
دایې په حیثیت د یو رشتونی مسلمان پیش کړی
ټولونه مخ کښې یې خپل مال پیش کړی ځان پیش کړی
د اقبال خوبنه وه چې دا وطن یتیم نه شی
چرته په بیلو بیلو برخو کښې تقسیم نه شی
خو چې زموږ وار پری راغلی ملک ټکړې ټکړې شو
لویه حجره وه خو افسوس چې اوس حجرې حجرې شو
داقبال ښکلی تصور وو چې حصې حصې شو

روح یی زهیر مه شه تر خو چی مسلمان ژوندی وو
دا سی ایمان دی چی به بنکلی پاکستان ژوندی وی
لیدلی خوب یی خدای رشتیا کړو خو اقبال نشته
آئین هم جوړ شو نور په دی کښی قیل وقال نشته
قام یو آواز شو مخالف دهیچا خیال نشته
نور د سرو وینو حاجت پاته نه شو مینه غواړی
دغه قیصی دا کشالی خبره سپینه غواړی
دا پاکستان د مسلمان د قرباني نخښنه ده
دا ستا زما دمقدس رورولی نخښنه ده
دا داقبال د قائداعظم د خوشحالی نخښنه ده
پنځه ویشت کاله پس اصلي جمیوریت راغلی
چی په عوامو د عوامو حکومت راغلی
زما ملګرو شاعرانو ادیبانو واوری
ای د وطن وړو زړو واوری ځوانانو واوری
تاسو ته وایم په رشتیا پاکستانیانو واوری
راځی چی یو شو سره ګلونه د اقبال قبر ته
په پښتنو کښی دعارف نیکه خوشحال قبرته
۲۳–۲۲:۱۰۲

# يوه بله ډالۍ

عبدالستار عارف

ما د ستر اقبال د فلسفې نه سبق واخستو
ما د ستر اقبال دتجربې نه سبق واخستو
ما يې كوټلې عقيدې نه سبق واخستو
ما څه چې دنيا يې د جذبې نه سبق واخستو
د اعظيم انسان د چا نه پټ نه دى پټيرى نا
دا په ملک مين په قام مين د چا هيريږى نا
دا منم چې مرى د فن خاوند خو فنكارى نه مرى
نه مرى نه مرى دردېدلى شاعرى نه مرى
د قام شهيد نه مرى او يا يې شاعرى نه مرى
نه خاسته خو يو نه دځوان مرى او خود دارى نه مرى
دا ټول صفتونه د اقبال دى اقبال مړ نه دى
زيرى سى دربانډى يې ملګرو خوشحال مړ نه دى
يې د لاهور پاكې خاورى څومره بختوره يې
زهرى دښمن ته او دوستانو ته شكره يې
زړه د پاكستان يې دا خو ځكه دومره غوره يې
زه په تا مين يم د بترونه بتره يې
زار د شاليمار نه سپلې شم دا پسوړونه
پروت سى دبابا پكښې لوګى شم دا پسوړړونه

هغه د قام سترګی دقام روح او ترجمان چی وو
هغه مقرر او مصور د پاکستان چی وو
هغه مبلغ هغه رشتونی مسلمان چی وو
هغه پاک عاشق د محمد آخر زمان چی وو
نشته دلته نشته نه به راشی نه راتللی شی
بیا هم د دنیا د ټولو برخو کښی ستایلی شی
دا دقام سالار به تل ژوندی په دې جهان وی یاد
تل به په تاریخ کښی دغه لعل د بدخشان وی یاد
پورته په دنیا به لکه ستوری اسمان وی یاد
ښکلی نوبهار به د ادب د ګلستان وی یاد
زه عارف خټک ورته ډالی د سروګلونو وړم
ډک زړه یی قرار ته دنیمګرو ارمانو نو وړم۷۳:۱۱۰

# اقبال د خوشحال په زمکه

سراج الاسلام سراج

په حکمت ئے د قرآن چی بهره مند کړو
خدائے اقبال په خو خو شانه سر بلند کړو
که ګوئټې وو که نطشے وو، که لانور وو
په خبرو ئے د هر یوه رشخند کړو
قتلمے ئے ورته سازے کړے دقندو
د اوربشو په ډوډی چی به چا شخوند کړو

د خرد بندونه ئې وشلول په عشق کښې
افلاطون د زمانې ئې فکر مند کړو
د بناپیرک غوندې چې خوبښ وو په تیاره کښې
حقیقت د رڼرائې ئې پرېږ څرګند کړو
نوې فکر نوې خیال ئې راپیدا کړو
هر یو فرد ئې د ملت پرې ارجمند کړو
فلسفه ئې دمغرب د پیسې نه کړه
مشرقي تهذیب ئې دروندتر غره الوند کړو
ټول ملت وو بې احساسه لکه مړې
ده پیدا په کښې بیا روح او نوې ژوند کړو
قافله په لار کښې لوټ تالا ترغه وه
بیا یې کله د منزل په لور چلند کړو
یا مزرې لکه چا اونیوو په مکر
لاس وپښنو نه ئې ترلې بیا ئې بند کړو
غلامي کښې غلام زهروته قند وائې
ده خبر دغه غلام په دغه قند کړو
د رومي او د رازي د راز راز دار وو
خوب ئې کله د پرئیو په مړوند کړو
میر حسن کیمیا نظر نه څوک خبر وو
دا استاذ ئې لکه نمر هسې ځلند کړو

دا اثر دے د قابلو استاذانو
چې شاګرد ئے شکرلب او شکر خندکړو
د کاروان د زیان احساس ورسره مل شو
خپل فریاد ئے په شکوه کې بند په بند کړو
دا احساس وو دا خودی وه داپښتو وه
د غیرت تاوونو وریت لکه سپیند کړو
ورک کاروان ته ئے لارسمه د منزل کړه
هسے نه چې په خبرو ئے خورسند کړو
سم ئے اوے دا مرض ، دائے دارو دی
هسے نه چې صرف یې وعظ یا ئے پندکړو
د درد مند زړه آواز اورسیدو زړه ته
قوم راویښ شو خپل حالت ئے ناپسند کړو
لا خو داسے چې ډانده کانړه شلیا و
یا دشمن له ویرے ور ځان پسے بند کړو
ده غوښتل چې اوبه پیلے یئ دی بیل شي
بخمل کله چا شړی سره پیوند کړو
د ملت بنیاد په دین دے وطن نه دے
دے خبرے دغه وخت کښې څومره خوند کړو
یوه ورځې څه خبره داسے اوشوه
ملامت ئے مهتم پرې د دیوبند کړو

چی د پاک وطن وجود شو رابرسیره
په بهارت کښنی دم بخود ئے هری چند کړو
مسلمان لکه مزرے د بنده خلاص شو
ځان ببر ئے له اوله په سل چند کړو
دشاهین بچی چی اوختل په بره
دبهارت چتو الوت د سره بند کړو
اقبال نشته خو شاهین ئے حق ادا کړو
سیالکوټ ئے قادسیه او نهاوند کړو
هغه توره زنګ وهلی بیا تیره وه
چی صفت ئے دوست دشمن به د ګزند کړو
داسبق د میکاولی خانه خراب وو
چی لیوانو راته ځان لکه ګو سفند کړو
لکه خال دمه جبین د مخه روان شی
داسی ورک ئے بخارا او سمرقند کړو
شاعر داسے ادیب داسے عالم داسے
هم ئے ژبه هم ملت ئے خپل شته مند کړو
قلندر قلندری وکړه په حقه
بدناموسه نه کچکول اونه ئے کند کړو
زنانوو ته فاطمه ئے کړه رهبره
نارینوو ته د حسین ئے خوی پسند کړو

ددهٔ سینه د هغو زلمو سره وه
چا گذار چې به په ستورو خپل کمند کړو
که هر څو سے عقیدت وهی موجونه
خو آخر دغه سیلاب سے قلمبند کړو
رشیتا داده چې اقبال د خوشحال سیال وو
دغے دواړو سراج دادے هنر مند کړو
۱۱۰:۲۰۳-۲۰٤

## د عالم ارواح سیل د علامه اقبال سر دملاقات

عبدالروف رفیقی

(رفیقی)

په هندی ادب سلام سی د اقبال کړ
په یوه ساه سی ورته تیر توله أحوال کړ
سا ویل زیری کیمیونیزم نیمه خواشو
ویل خوارسه شی دا 'بل' دی هم فنا شو
بیا یو مست شوردتکبیر د کوکو مبنلی
دی روان دکوه قاف د څوکو مبنلی
په کریملین کبنی وکعبې ته اقتداده
وا شنگتن ته پېنه شوی هم سودا ده
د فارس خلیج اخته په موج خیزی دی
بیا دعشق مسلک جاری د شیرازی دی

ستا غافل افغان دی بیا بیداره شوی
دتاریخ په افتخار جراره شوی
دافغان د توری بربښ بیا جهان ولید
خپل وبل بی عشق ومنه ایمان ولید
دآسیا د زړه طوفان دی اورته شوی
دخودی څښتن ملت راپورته شوی
جهانګیر او جهان بین یی صفتونه
قربان کړی راحتونه زحمتونه
ستا ''پیام'' دی همه ''شرق'' را ژوندی کړی
''ارمغان'' دی دی ''حجاز'' ګړندی کړی
ستا اسرار د ''خودی'' زمونږ پر زړو تحریر دی
ستا ''رموز دبیخودی'' د رنځ اکسیر دی
اې د شرق حکیمه اې دا نا درازه
څوک خبر دی ستا دفکر له پروازه
راته وایه څه پیغام ملت له ور وړم
څه وینا وی فرمودات امت له ور وړم

(اقبال)

دحرم پاسباني ته په یوه خوله شی
له رود دنیله تر کا شغره سره مله شی

دنژاد وینی وژبی بتان مات کړی
ورک دزړونو سه اثږدلات منات کړی
هندیان ترکان افغان ایرانیان یودی
چی دا ټوله په ایمان وقرآن یو دی
ګام دلویشت با چی ځان محدودول دی
همه بحر وبر په عشق آباد ول دی
دامت تقدیر تسبخر د کائنات دی
چی مومن دی زیرمه خواره د لوی ذات دی
راعطا یی یوه نسخه د پاک قرآن کړه
ویل څه اوس ټولواکبنی پردرست جهان کړه
دملت غم وویل چی درځه بس دی
خبرتیا ددې سفر دی د هر کس دی
اګاهی ورکړه په رمز د ژوندې پوه کړه
دعرفان و دتوحید په خوندی پوه کړه۳۲:۱۰۵-۱۰۷

# فراق

## په ډاکټر اقبال پیسے

سیدرسول رسا

نه به ستوری درخشان وو نه به دازمکه اسمان وو
نه ګرسی به د آفتاب وه نه به داسحر ماښام وو

نه به رزم نه به بزم نه شهو دنه به شاید وو
نه ګرمی به دمحفل وه نه به دا آغاز انجام وو
نه به بحر نه موجونه نه هوا نه طوفانو نه
نه نسیم به خوشګوار وو نه به دا ګل او ګلفام وو
نه به غرونه نه باغونه نه دشتونه نه ګلونه
نه به دا رنګ محفلونه نه به دا سجود قیام وو
نه ګرمی به دمحفل وه نه ساقی نه به شراب وو
نه به دا آهنګ وچنګ وو نه به داباده وجام وو
نه به طمع د جنت وه نه به یره د دوزخ وه
نه به دا خاکی انسان وو نه به دا کلام ولام وو
نه به عشق ونه به حسن نه مجنون نه به لیلا وه
نه به ګل نه به بلبل وو نه به دا دانه اودام وو
د ژوندون بازار به سوړوو ژوند به خپله د ژوند سوړوو
نه به داسی شور غوغا وه نه به دا طوفان هنګام وو
ننداري دا د فراق دی هنګامې داد فراق دی
چی څه وینی چی څه اوری کرشمې داد فراق دی
د ژوندون ژوندون فراق دی د قدرت مضمون فراق دی
د عشق راز جنون فراق دی اندرون بیرون فراق دی
٢٠:٤٣–٤٤

# شاعران

## شیر علی خان

دا یو حمید دی بل خوشحال نامیږی
عبدالرحمن دی بل اقبال نامیږی
کلام د دواړو د سوزونو ډک دی
لری چی څه جلال جمال نامیږی
مینه او رحم دی سبق د ټولو
چی مینه رحم لری سیا نامیږی
اقبال ددې وخته اګاه وو پوره
څکه خودی شاعرحال نامیږی
خودی بی وای چی څان وپیژنه
د شاهین واری بی مثال نامیږی
اندازه نشته د طاقت د مومن
بنه بدلوی بی چی زوال نامیږی
مزدور خبر نه دی کوی سرمایه
چی دمزدوره سره چال نامیږی
شیره سبق بی ساله بنه را کوی
چرته بی پیژنم چی سوال نامیږی۳۱٦:۳٦

# نوی پیام

## په ډاکټر اقبال پیسے

سید رسول رسا

کتل په بل شان زده کړه ګرمیدل په بل شان زده کړه
پتنګه ته په شمع سوزیدل په بل شان زده کړه
نخرې د تا زړې شوې دګلونو نه خوبنیږی
اې مست د سحر باده ګډیدل په بل شان زده کړه
زاړه عاشقان ستا دی بیا په ستا شی باور وکړه
جانانه په مجلس کښې خندیدل په بل شان زده کړه

که غواړې چې ته ځای شی د ګلونو په چمن کښې
کبله په دی باغ کښې تړکیدل په بل شان زده کړه
بلبل به ستا نه زار بیا په سل وار شی فکر مکړه
اې سور د ګلاب ګله خندیل په به شان زده کړه
دګل الفت به لاړ شی دا غزو سره به نه وی
بلبله د ګل خوا کښې چغیدل په به شان زده کړه
تنزی غره کښې ډیر دی ستا خوراک دی بس بیساره
اې سپن کته شهبازه مړیدل په به شان زده کړه
نظر به په تا اوشی د کرم د یار د لوری
خو ته د یار په غم کښې ژړیدل په به شان زده کړه

مقتل دیار تیار دی وار به راشی ستا د قتل

اې زړه د یار په توره قتلیدل په بل شان زده کړه

بیا ستا سره تازه به تلی مینه د آشنا شی

په تال د تورو زلفو ځنګیدل په به شان زده کړه

دخدای زمکه هم ستا ده شین آسمان ستوری هم ستا دی

اې توری د څوان لاس کی پرقیدل په به شان زده کړه

۱۳۲-۱۳۱:۲۰

## ټیګور او اقبال

سید رسول رسا

## ټیګور

شعر دستا څه دی خو یو جنګ دی مردانه

جنګ د دنیا سرته چا رسولی فرزانه

پرېږده دا دتیغ او دسنان خوشی خبری

راشه چی دی بوزم بل جهان ته مستانه

باغ شته شین چمن شته سره ګلونه سپین رودونه

ولی بیا ته ګرځی آواره په زمانه

زه اوته ساقی شراب اوجام کشتی کښنی ناسته

چنګ رباب شپلی او نوی نوی ترانه

وخت د نوبهار د نماز دیګر زیړی ګردونه
مست او یخ بادونه د یار غیږ مو استانه
سندکښی په کشتی کښی د څپو مینځ کښی سیلونه
پاس په سر قطار دمرغابو دانه دانه
عکس د شفق سپینو اوبوکښی سور ځلیږی
موږ ته به ګډیږی په چم چم یو جانانه
اوس به مهی توپ کړی کله هلته کله دلته
چار چا پیره ګرځی توته کرکی مستانه
دا جنت له تانه خبر نه یم چا پټ کړی
چاته سرګردان کړی اې شاعره دیوانه
ډیر عمر دی تیر کړو دمذهب جنون کښی وایه
څه حاصل دی بیا موند په حرم په بتخانه
یار شته جو ټیبار شته د سیند منځ کښتی راونه
مئی میخوار ساقی شته څه دی کم په میخانه
ځان ته دجهان نه او ته به دواړه کښنیو
څښنو به شرابونه تشووبه پیمانه
پریږده د جهاد او دشمنی عبث خبری
مئی د شاعر ژوند دی چی اوس ونه کړی بهانه
سرته چارسوئی ددینا ستړی کارونه
عشق او بنکلی یار زموږه کار دی رندانه

لاس به په لاس ګرځو موږ د هنر بنګلی چمن کښی
دا زموږ وطن دی موږ به اوس خپل وطن کښی

## اقبال

څه عجیب حیات دی څه دی ژوند دی څه دی خیال دی
څومره ډیر نازک دی تخیل او قیل وقال دی
پټی سترګی اوسی ته د هند په میکده کښی
هند داستا وطن دی خبر نه په څه حال دی
خیال کښی دی آباد کړل جنتونه شنه باغونه
لال چی څه ته وایی اې شاعره کوتی لال دی
ژوند افسانه نه ده حقیقت دی زړه بینا کړه
چارچاپیره ګوره مری ملک دی ګیر په جال دی
هند یو ادیره ده دیر بشمیاره په کښی مړی
دا حال د ژوندون دی چی د مړوی څه احوال دی
دا مړی به څوک دمرګ دخوب نه رابیدار کړی
روح د ژوند به څوک په کښی پوکی د چا مجال دی
زه اوته چی دواړه ورنه ځان ګوښ کښی کښنینو
څوک به ددی ختی لوښی جوړ کړی څوکولال دی
مړی تا اوده کړل په سرود جنتی شعر
ستا داشعر نشه ده په نشه وطن پامال دی

ستورو ، سره اوسی دخاکی جهان نه لری
ته سره شراب دی د ساقی دمخ جمال دی
زه دژوند جهاد کښی سرګردان یم پریشان یم
زه په هجر خوښ یم ستا مراد ژوند کښی وصال دی
دا زما ارمان دی چی د هند مړی ژوندی شوی
بیا په دې چمن کښی ښاد او شاد د هنر بندی شوی
نه یوازی هند بندی په جال دی دفرنګ
ټول جهان یورپ په خپله شمع کړو پتنګ
دا مادی تهذیب بے شکه لوی آفت لعنت دی
دی تهذیب ګیرکړی درست جهان دی په رنګ رنګ
پاک روحانی ژوند د پاک مذهب دنیا هیر کړی
هر سړی نشه کښی مست تګی لنګری کښی بلګ
هر ځای میخانه ده سره شراب دی نې وچنګ دی
ترنګ دی درباب مجلس نیولی نوی رنګ
زه په زړه بیدار ورته هنر د جهاد ښایمه
دوی راپوری خاندی غوږ می نه ږدی په آهنګ
زه "بانګ درا" یم په دا دور کښی قافلې ته
زه "ضرب کلیم" یم زمانې سره په جنګ
زه "بال جبریل" یم د رحمت وحی دنیا ته
شعر زما توره زما ژبه تیز خدنګ

زۀ یو بی نیازه قلندر یم ډوب خودی کښنی
پټ پناه بادشاه یم خو جهان ته یم ملنګ
سر په چټک نه وهم د کانړو لعل وباسم
دا سی فلسفه ده دحیات دا سی دی چنګ
دا زما پیام دی هم مشرق ته هم مغرب ته
مات به کړم اثین ددې قچر تهذیب په سنګ
زۀ د هند به زنانه وطن کښنی سړ دیم
توره دخودی زما په لاس کښنی کوی شرنګ
ته هغی روباه هندوته وایه اې تیګوره
هیڅ چی بی د فریب دوړاندی زور دی د پلنګ
ژوند کښنی مردی زده کړه دمردئ تور په لاس کړه
ای چی پان په خوله کړی پښنې کړی ګیری په سپن لنګ
بیا زما او ستا یاری به جوړه شی جهان کښنی
دواړه به بیا ګرزو د خوار هند په ګلستان کښنی۱۹:۷:۷۵

## اقبال ستوری

حبیب الله رفیع

چی روحی جلال دی بیا موندله جلاله
چی فکری جمال دی واخېست له جماله
چی دی نبض د ملت زده کړله خوشاله
(نو) د اقبال ستوری دی وځلید اقباله

# دآسیا زړه

دا نظم ما دافغانانو د ستر دوست او پاکستان دملي شاعر علامه محمد اقبال ددی شعر په رنړاکښی ویلی وو.

آسیا یک پیکر آب وگل است
ملت افغان دران پیکر دل است

او دهم دوی پاک روح ته یی اهدا کوم
له غور څنګه یی لویدلی وینه نه ده
په دنیا کښی چی وی زړه نو همدا زړه دی
د آسیا د ژوندون مزی پری تړلی
د افغان ښکلی هیواد د آیسا زړه دی
لا تر اوسه هیچا نه دی لړزولی
په دې زړه کښی د غیرت وینه چلیږی
نه له چا څخه داریږی نه لړزیږی
د غیرت میدان چی وینی لامستیږی
د پردود ککرو دانی دل شوی
.اوړه شوی دی په دی زړه اسیا کښی
چی راغلی بیرته نه دی څنی تللی
دانی هم روغی پاتیږی په آسیا کښی
"آسیاتش کالبوت د خاوړو اوبودی"
خو دا زړه دی وربخښلی چی یی ساه ده

د خپلواک ژوندون نعمت بی پری پیرزوکړ
په ربنتیا چی په دی زړه ژوندی آسیا ده ۷:۱۱۳

# جمال او اقبال

عبدالروف شاه هاتف

د جمال "من" جلالی دے
د اقبال "من" جلالی دے
د جمال "تن" ابدالی دے
د اقبال "تن" ابدالی دے
په "آفاق" کښنی حرکت غواړی
په "انفس" کښنی حرکت غواړی
پتنګان دا د اسلام دی
عاشقان دا د اسلام دی
د جمال ژوند لامقام دی
د اقبال ژوند لامقان دے
د یو فکر "لازمان" دی
د بل ذکر "لازمان" دی
دوی آزاد یمین یسارنه
دوی آزاد دلیل ونهارنه
افغانی "نه افغانی" دے
نه اقبال هندوستانی دے

دجمال موضوع انسان دے
داقبال موضوع انسان دے
دجمال مضمون توحید دے
داقبال مضمون توحید دے
دجمال قدر انسانی دے
داقبال قدر · انسانی دے
لاملوک د دوی ایمان دے
لاملوک د دوی ایقان دے
داسلام عظمت دوی غواړی
دانسان رفعت دوی غواړی
دتوحید مرکز دوی غواړی
دتنویر مرکز دوی غواړی
عرش نه پورته د دوی بازدے
عرش نه پورته د دوی ساز دے
دعطار هم دا آواز دے
دړومی هم دغه راز دے
هاتف هغه جلال غواړی
چې جمال نه اقبال غواړی١١١:٣٤

# پنځم څپرکی

## حوالې او ماخذات

### پښتو ادب


۱. القران الحکیم

۲. اشرف مفتون ، سکوندارۍ ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور سنه نه لري

۳.جعفر حسین، نظریات، حمدیه بریس پښیور، ۱۹۵۵ء

٤. حبیب الله رفیع، پښتو کتاب ښود، وزرات اطلاعات وکلتور کابل۱۳۵٦ھ ش.

۵.حمزه شینواری، غزونې، اداره اشاعت سرحد پیښور، ۱۹۵٦ء

٦.حمیدالله صاحبزاده، اوښکې او ملغلرې، پښتو ادبي بورډ کوټه، ۱۹۹۲ء.

۷. حمیدالله صاحبزاده ، پښتانه نومیالیان پښتو اکیډیمي کوټه، ۱۹۷٤ء

۸.خان محمد حافظ، دیوان حافظ خان محمد، بلوچستان بکډپو مسجد روډ کوټه ۱۹۸۵ء

۹. خان محمد حافظ، د کسي ګلان، بلوچستان بکډپو مسجدروډ کوټه ۱۹۸۹ء

۱۰ . رحیم شاه رحیم، واورینی خوکی ، جواد پریس پیښور ۱۹۸٦ء
۱۱ . زلمی هیواد مل ، بیدیانی ګلونه، دافغانستان د علومو اکادمی
کابل ۱۳٦۲ هـ ش
۱۲ . سعید رهبر، توره او قلم، فرهنګ جهاد پیښور ۱۹۹۱ء
۱۳ . سلطان محمد صابر، د زړه غبار ، اداره هیواد پیښور ۱۹۹۱ء
۱٤ . سلیمان لائق، یادونه او درسندونه ، وزارت اطلاعات، وکلتور
کابل ۱۳۵۷هه ش
۱۵ . سلیمان لائق، چونغر، طبع دوم پښتو ټولنه کابل ۱۳٦۱ه ش
۱٦ . سمندر خان سمندر، د توحید ترنګ جلد ٦، پښتو اکیډیمی
پیښور ۱۹۸٦ء.
۱۷ . سیال کاکړ پروفیسر، پښتانه لیکوال جلد اول، پښتو ادبی دنیا
کوټه، ۱۹۷٤ء
۱۸ . سید راحت زاخیلی، داغونه، منظور عام پریس پیښور ۱۹٦۱ء
۱۹ . سید رسول رسا، د بېدیا ګلونه، اداره اشاعت سرحد پیښور سن
نه لری
۲۰ . سید رسول رسا، باغ وراغ، یونیورسټی، بک ایجنسی پیښور،
۱۹٦۳ء
۲۱ . سیدرسول رسا، دقران پیغام، یونیورسټی، بک ایجنسی پیښور
نه لری.
۲۲ . سید رسول رسا، رنګا رنګ ګلونه، یونیورسټی، بک ایجنسی

پیښور سنه لری.
۲۳. سید شمس الدین مجروح، منتخب شعرونه، پښتو ټولنه کابل ۱۳۳۷ه ش.
۲٤. سیده بشری بیګم، زیری، یونیورسټی، بک ایجنسی پیښور ۱۹۵٦ء.
۲۵. شفیق العالم معزوریار، تاتمول، یونائټیډ پریس کوټه ۱۹۹۵ء
۲٦. شیر علی خان، د د قافلې جرس، غنی سنز پرنټرز سن او مقام نه لری.
۲۷. عبدالباری غیرت، بنکلی اشعار، بالاماني پیښور ۱۳٦۳ هه ش
۲۸. عبدالروف بینوا، د افغانستان نومیالی جلد ٤، وزارت طلاعات وکلتور کابل ۱۳٦۰ هه ش
۲۹. عبدالروف بینوا، اوسنی لیکوال جلد اول، دولتی مطبع کابل ۱۳٤۰ هه ش
۳۰. عبدالروف بینوا اوسنی لیکوال جلد دوم، دولتی مطبع کابل ۱۳٤۱ هه ش.
۳۱. عبدالروف بینوا اوسنی لیکوال جلد دریم، دولتی مبطع کابل ۱۳٤۲ هه ش.
۳۲. عبدلروف رفیقی، د خرک په څار، حبیبی آکادمی چمن ۱۹۹۷ء
۳۳. عبدالروف رفیقی، وګوړک ستوری، بزم ادب چمن ۱۹۸۷ء؟
۳٤. عبدالروف رفیقی، د قلندر ګلدسته، پښتو اکادمی کوټه ۱۹۹۱ء.

۳۵. عبدالسلام اخکزی ملا، سوسن چمن، اسلامیه پریس کوټه دویم چاپ سن نه لری.

۳٦. عبدالسلام اخکزی ملا طلب مذهب، یونائټیډ پریس کوټه دویم چاپ ۱۹۹۷ء.

۳۷. عبدالله بختانی خدمتګار، پښتانه شعراء څلورم جلد، د افغانستان د علومو اکادمی کابل ۱۳۵۷هه ش

۳۸.عبدالله بختانی خدمتګار،پښتانه شعراء پنځم جلد، دافغانستان د علومو اکادمی کابل ۱۳۷۱هه ش.

۳۹.عبدالله بختانی خدمتګار،پښتانه د علامه اقبال په نظرکښنی، پښتو ټولنه کابل ۱۳۳۵هه ش

٤۰. عبدالله جان اسیر، د زړه قطرې، یونیورسټی بک ایجنسی پیښنور، ۱۹۵٦ء.

٤۱. عبدالمالک فدا، د یوان فدا، یونیورسټی بک ایجنسی پیښنور، ۱۹۵۷ء.

٤۲. فرمان مسافر اخونزاده، ځلنده ستوری، مکتبه اباسین هشنغر چارسده، ۱۹۸٤ء.

٤۳. فضل احمد غر، د غره ګلونه، تحقیق وڅیړنه د همیش خلیل، پښتو ادبی مرکز سرائے نورنګ بنوں ۱۹۹۱ء.

٤٤.فضل حق شیداء اسویلی، یونیورسټی بک ایجنسی پیښنور، ۱۹٦۳ء.

۴۵. فضل رحیم ساقی، نیم جام یونیورسټی بک ایجنسي پېښور، سن نه لري.

۴۶. فضل کریم ناشاد، پیلی ملغلري، جدون پریس پېښور طبع دوم ۱۹۸۴ء.

۴۷. قاسم بنوی پروفیسر، ادبي ګلدسته جلد اول، پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ، بنوں ۱۹۸۳ء.

۴۸. کبریٰ مظهري، پښتنې لیکوالې او شاعرانې جلد اول، دافغانستان د علومو اکادمۍ کابل ۱۳۶۶ هه ش

۴۹. کرامت شاه فولاد، سمسور ګلونه، رحمن نیوز ایجنسي پېښور ۱۹۶۱ء.

۵۰. ګل باچالفت، د زړه وینا. پښتو ټولنه کابل ۱۳۴۱ هه ش

۵۱. ګل خان حیرت، ګلدره، احمد برادرس پریس کراچي ۱۹۹۵ء

۵۲. محمد اقبال نسیم خټک، دردانې، تاج کتبخانه قصه خوانی بازار پېښور، ۱۹۸۵ء.

۵۳. محمد ولي زلمي، د کندهار مشاهیر حبیب الله صحاف ارګ بازار کندهار طبع دوم، ۱۳۶۸ه ش.

۵۴. محمد موسی شفیق، پیغام، فرهنګ جهاد پېښور ۱۳۶۷ هه ش.

۵۵. مفلس دراني، ساختني، سرحد پښتو ادبي ټولنه پېښور ۱۹۸۷ء

۵۶. میر رحمن غازي، د سپرلي نغمه، رحمن نیوز ایجنسي پېښور سن نه لري.

۵۷. میر رحمن غازی، رغازی سندره، یونیورستی بک ایجنسی، پیښور۱۹۵۷ء
۵۸. نصر الله فظ، تاترې، د قومونو او قبائلو وزارت کابل ۱۳٦٦ هه ش
۵۹. نقیب احمد فطرت، کشمالې، سوات ادبي بورډ مینګوره ۱۹۸۷ء.
٦۰. همیش خلیل، پښتانه لیکوال، پبلک ارټ پریس پیښور، ۱۹۷۸ء
٦۱. همیش خلیل، د قلم خاوندان، پیښتو اکیډیمي پیښور، ۱۹۹۹ء

## د اقبالیاتو پښتو منظومې ژباړې
### (اردو)

٦۲. بانګ درا، سیدراحت زاخیلي، اقبال اکادمي کراچي په وساطت دپښتو اکادمي پیښور، ۱۹٦۳ء.
٦۳. بال جبریل، پلوشې، عبدالله جان اسیر، انجمن پریس کراچي سن نه لرې.
٦٤. بال جبریل، قاضي عبدالحلیم اثر، اقبال اکادمي په وساطت دپښتو اکادمي پیښور ۱۹٦۷ء
٦۵. ضرب کلیم .شیر محمد مینوش، یونیورستي ایجنسي پیښور، سن نه لرې.
٦٦. ضرب کلیم، سیدمحمد تقویم الحق کاکا خیل، اقبال اکادمي

کراچی په وساطت د پښتو اکادمی پېښیور، ۱۹٦۷ء.
٦۷. ارمغان حجاز، امیر حمزه شنواری، اقبال آکادمی به وساطت دپښتواکادمی پیښنور، ۱۹٦٤ء.

## (فارسی)

٦۸.اسرار خودی، سمندر خان سمندر، پاکستان پبلکیشنز کراچی، ۱۹٥٤ء حدود.
٦۹.رموز بیخودی، شیر محمد مینوش، اقبال آکادمی پاکستان پبلیکیشنز کراچی ۱۹٥۲ء حدود
۷۰. پیام مشرق، شیر محمد منیوش ، اقبال آکادمی لاهور په وساطت د پښتو اکادمی پیښنور طبع دوم ۱۹۸۳ء
۷۱. زبور عجم، سیدمحمد تقویم الحق کاکا خیل، اقبال آکادمی لاهور په وساطت دپښتو اکادمی پیښنور طبع دوم ۱۹۸۳ء.
۷۲. جاوید نامه، امیر حمزه شنواری، اقبال آکادمی کراچی، په وساطت د پښتو اکادمی پیښنور ۱۹۹۷ء.
۷۳: پس چه بائد کرد اقوام مشرق مع مسافر، سیدمحمد تقویم الحق کاکا خیل، اقبال کادمی کراچی په وساطت د پښتو اکادمی پیښنور ۱۹٤۹ء.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷۴. | میاشتنی، اباسین | کراچي | فروری ۱۹۵۵ء. |
| ۷۵. | میاشتنی، اباسین | کراچي | فروری ۱۹۵۶ء |
| ۷۶. | میاشتنی، اباسین | کراچي | اپریل ۱۹۵۶ء. |
| ۷۷. | میاشتنی، اباسین | کراچي | ستمبر ۱۹۵۶ء |
| ۷۸. | میاشتنی، اباسین | کراچي | مئی ۱۹۵۷ء. |
| ۷۹. | میاشتنی، اباسین | کراچي | اپریل ۱۹۵۸ء |
| ۸۰. | میاشتنی، اباسین | کراچي | جولائی ۱۹۵۸ء |
| ۸۱. | میاشتنی، اباسین | کراچي | جنوری ۱۹۵۹ء |
| ۸۲. | میاشتنی، اباسین | کراچي | مئی ۱۹۶۰ء |
| ۸۳. | میاشتنی، اباسین | کراچي | اګست ۱۹۶۰ء |
| ۸۴. | میاشتنی، اباسین | کراچي | فروری ۱۹۶۱ء |
| ۸۵. | میاشتنی، اباسین | کراچي | مارچ ۱۹۶۱ء |
| ۸۶. | میاشتنی، اباسین | کراچي | اپریل ۱۹۶۱ء. |
| ۸۷. | میاشتنی، اباسین | کراچي | ستمبر ۱۹۶۱ء. |
| ۸۸. | میاشتنی، اباسین | کراچي | آکتوبر ۱۹۶۱ء. |
| ۸۹. | میاشتنی، اباسین | کراچي | اپریل ۱۹۶۲ء. |
| ۹۰. | میاشتنی، اباسین | کراچي | اګست ۱۹۶۲ء. |
| ۹۱. | میاشتنی، اباسین | کراچي | ستمبر ۱۹۶۲ء. |
| ۹۲. | میاشتنی، اباسین | کراچي | آکتوبر ۱۹۶۳ء. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹۳. | میاشتنی، اباسین | کراچی | فروری ۱۹٦٤ء. |
| ۹٤. | میاشتنی، اباسین | کراچی | جولائی ۱۹٦٤ء. |
| ۹۵. | میاشتنی، اباسین | کراچی | آکتوبر ۱۹٦٤ء. |
| ۹٦.(ب) | میاشتنی،اباسین | کراچی | اپریل ۱۹۷۵ء. |
| ۹۷. | میاشتنی، اولس | کوته | اپریل ۱۹٦۲ء. |
| ۹۸. | میاشتنی، اولس | کوته | اپریل، ۱۹٦٤ء. |
| ۹۹. | میاشتنی، اولس | کوته | فروری ۱۹٦٦ء. |
| ۱۰۰. | میاشتنی، اولس | کوته | اپریل، ۱۹٦۸ء. |
| ۱۰۱. | میاشتنی، اولس | کوته | جنوری ۱۹۷۳ء. |
| ۱۰۲. | میاشتنی، اولس | کوته | اپریل، ۱۹۷۳ء. |
| ۱۰۳. | میاشتنی، اولس | کوته | فرروی ۱۹۷٤ء. |
| ۱۰٤. | میاشتنی، اولس | کوته | اپریل، ۱۹۷٤ء. |
| ۱۰۵. | میاشتنی، اولس | کوته | جولائی ۱۹۷۷ء. |
| ۱۰٦. | میاشتنی، اولس | کوته | مارچ ۱۹۸٤ء. |
| ۱۰۷. | میاشتنی، اولس | کوته | جنوری فروری ۱۹۹۰ء. |
| ۱۰۸. | میاشتنی، اولس | کوته | آکتوبر، ۱۹۹۰ء. |
| ۱۰۹. | میاشتنی، اولس | کوته | اپریل مئی، ۱۹۹۱ء. |
| ۱۱۰. | میاشتنی، پښتو | پیښور | آکتوبر نومبر ۱۹۷۷ء. |
| ۱۱۱. | میاشتنی، پښتو | پیښور | مارچ اپریل، ۱۹۷۸ء. |
| ۱۱۲. | میاشتنی، پښتو | پیښور | نومبردسمبر ۱۹۷۸ء. |

۱۱۳.  میاشتنی، پښتو    پیښور    دسمبر، ۱۹۸۲ء.

۱۱٤.  میاشتنی، پلوشه    کراچی    جون، ۱۹۹۰ء.

## میګزین

۱۱۵. الریحان، ګورنمنټ سائنس کالج کوټه، ۸۷–۱۹۸٦ء

۱۱٦. رګ سنګ. ګورنمنټ کالج لورالائی، ۱۹۷۷ء.

۱۱۷. خیبر، اسلامیه کالج پیښور ۱۹۸۰ء

## خطی آثار

۱۱۸. اسرار الرحمن اسرار، غیر مطبوعه پښتو شعی ټولګه

۱۱۹. شمس طالع اڅکزی "ښائستې واوسطې" منظوم پښتو مکتوبات

## انټرویوز

۱۲۰. شمس طالع اڅکزی

۱۲۱. اسرار الرحمن اسرار

۱۲۲. سراج الاسلام سراج

## مکتوبات

۱۲۳. احمد صمیم، د خیرونکی په نوم

۱۲٤. عبدالصمد بیوس د خیرونکی په نوم

# کلام اقبال

اقبال ډاکټر علامه محمد اقبال،کلیات اردو اشاعت سوم

۱۹۷۷ء شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور(الف ارو اثار) په دغو کلیاتو

کښې د موجودو ټولګیو حوالیاتي شمیره.

۱۲۵. بانګ درا

۱۲۶. بال جبریل

۱۲۷. ضرب کلیم

۱۲۸.ارمغان حجاز

(ب) فارسي اثار:کلیات فارسي شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور

اشاعت ششم فروری ۱۹۹۰ء په دغو کلیاتو کښې د موجو دو

ټولګلیو حوالیاتي شمیره.

۱۸۹.اسرار خودی

۱۳۰. رموز بیخودی

۱۳۱. پیام مشرق

۱۳۲. زبور عجم

۱۳۳ـ جاوید نامه

۱۳۴. مثنوی پس چه باید کرد اقوام شرق مع مسافر

۱۳۵. ارمغان حجاز فارسی

## اردو کتابونه

۱۳۶. انعام الحق کوثر ڈاکٹر، علامه اقبال اوبلوچستان، علامه اقبال اوپن یونیورسٹی اسلام آباد ۱۹۸۶ء.

۱۳۷. عبدالباری اسیر، روشن اگتے ہاتھ، سعد پبلی کشینز کوئٹہ ۱۹۹۱ء.

۱۳۸. عبدالرحمٰن طارق، جوہر اقبال، قومی کتب خانہ لاہور ۱۹۵۳ء.

۱۳۹. سلیم اختر ڈاکٹر، اقبالیات کے نقوش، اقبال اکادمی پاکستان لاہور ۱۹۷۷ء

۱۴۰. سید ابولحسن علی ندوی، نقوش اقبال، مجلس نشریات اسلام کراچی بار چہارم ۱۹۷۶ء.

۱۴۱. سید سلیمان ندوی، سیر افغانستان، شیخ غلام علی اینڈ سنز لاہور سن ندارد

۱۴۲. محمد عظیم ملک، عکس اقبال، مکتبہ میری لائبریری لاہور ۱۹۷۵ء.

۱۴۳. نذر محمد چویدری، احکام القران، شیخ غلام علی اینڈ سنز لاہور ۱۹۸۵ء.

۱۴۴. وحید الدین فقیر سید. انجمن، لائن ارٹ پریس کراچی بار اول اپریل ۱۹۶۶ء

۱۴۵. یوسف حسین خان ڈاکٹر، روح اقبال، مکتبہ جامعہ دہلی جولائی ۱۹۶۱ء

## اردو مجلې

۱۴۶. جوہر خصوصی شمارہ یادگار علامہ اقبال، مکتبہ جامعہ دہلی بار دوم ۱۹۴۰ء.

۱۴۷. نقوش نیرنگ خیال، ادارہ فروع اردو لاہور نومبر ۱۹۷۷ء

۱۴۸. نقوش-۲-اقبال نمبر، ادارہ فروغ اورد، لاہور دسمبر ۱۹۷۷ء

## فارسي کتابونه

۱۴۹. زلمے هیوادمل، فرهنگ زبان وادبیات پشتو جلد اول، مطبع دولتی کابل ۱۳۵۶ھ ش

۱۵۰. زلمے هیوادمل، فرهنگ زبان وادبیات پشتو جلد دوم مطبع دولتی کابل ۱۳۶۵ھ ش